لوړو زده کړو وزارت
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه
علمي چارو معاونیت
نشراتو آمریت
د علمي مجلې مدیریت

# التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

## په دې ګڼه کې لولئ!


- اسلام کې د ښځو او سړيو د حقوقو او مسولیتونو څېړنه
- د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټورتوب د کویډ ۱۹ اغېزې
- په انلاین سوداګرۍ کې د افلاس لاملونه (ننګرهار)
- د اسلامي شریعت او افغانستان د قوانینو له نظره پټ کشفي اقدامات
- په سیاسي ډګر کې د خوشحال خان متضاد فکر
- د افغانۍ بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې



د تاسیس کال: ۱۴۰۱ ل
ننګرهار-افغانستان
شپږ میاشتنۍ خپرونه، د۱۴۰۱ ل کال-لومړۍ ګڼه



التقوی علمي مجله
التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه
د ۱۴۰۱ ل کال-لومړۍ ګڼه


Ministry of Higher Education
Al-Taqwa Insitute of Higher Education
VC Academic Affairs
Publication Department

# Al-Taqwa Journal of Social Sciences

**In this issue:**


- A Study on the rights and responsibilities of women and ...
- The impacts of Covid-19 on the profitability of small and ...
- Factors of Bankruptcy in Online Business (Nangarhar)
- Covert Investigative measures in accordance with Sharia ...
- The contradictive-thought of Khushal Khan in Politics
- Factors of instability of the Afghani Currency and...



Year of Establishment: 2022
Nangarhar - Afghanistan
Six-month, First Edition of 2022
Volume No: 01 - Issue No: 01

بسم الله الرحمن الرحيم

لوړو زده کړو وزارت

التقوی د لوړو زده کړو موسسه

علمي چارو معاونیت

نشراتو امریت

د علمي مجلې مدیریت

# التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده کړو موسسې علمي او څېړنيزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

د ۱۴۰۱ ل کال لومړۍ ګڼه

# التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده کړو موسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنی خپرونه

**د امتیاز خاوند**
التقوی د لوړو زده کړو موسسه

**مسؤل مدیر**
پوهنوال منګل شېرزاد

**د تصحیح مدیر**
حبیب‌الله لوراند

**د توزیع مدیر**
شکرالله شینواری



**تحریر هیئت**

- دوکتور عبدالوهاب حسام
- دوکتور حمدالله کاکړ
- دوکتور هلمند بختانی
- دوکتور اظهارالحق عزیز
- پوهاند فرمان الله هیله مند
- پوهاند شاه ولي خان
- پوهنوال منګل شېرزاد

**کتنپلاوی**

- پوهنوال معروف شاه شینواری
- پوهنوال محمد ایمل حقمل
- عرفان الله ستانکزی



**د چاپ تیراژ: ۵۰۰ ټوکه**

**چاپ ځای: زکریا ګر افیکس، جلال آباد**

**کلنی ګډون:**

- **ننګرهار: ۳۰۰ افغانی**
- **ولایات: ۶۰۰ افغانی**
- **بهرني هېوادونه: ۱۰۰ امریکایي ډالر**

**د یوې ګڼې بیه: ۱۲۰ افغانی**

**استادانو لپاره: ۸۰ افغانی**

**محصلینو لپاره: ۵۰ افغانی**

**همکارو ادارو لپاره: ۱۰۰ افغانی**



**اړیکو شمېرې: 077323368/0783287788**

**ایمیل ادرس: magazine@altaqwa.edu.af**

**پته: عربانو ګولایي، دویمه ناحیه، جلال اباد ښار، ننګرهار- افغانستان.**

# لیکلړ


| سرلیکونه | مخگڼه |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| اسلام کې د ښځو او سړیو د حقوقو او مسوولیتونو څېړنه<br>محمد عمران دولتزی | ۳ |
| د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټورتوب د کوید ۱۹ اغېزې<br>الفت‌الله کوټوال او وحید صافي | ۲۶ |
| په انلاین سوداګرۍ کې د افلاس لاملونه (ننګرهار)<br>وحید صافي | ۴۸ |
| د اسلامي شریعت او افغانستان د قوانینو له نظره پټ ...<br>پوهنوال محفوظ الله عارفي | ۷۱ |
| په سیاسي ډګر کې د خوشحال خان متضاد فکر<br>حبیب الله لوراند | ۱۱۴ |
| د افغانۍ بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې<br>عبدالحمید سیرت | ۱۳۱ |
| د اسلامي او مروجې بانکدارۍ ترمنځ توپیرونه<br>پوهنمل نورانور فاروقي | ۱۶۰ |
| په اسلامي هېوادونو کې د وضعي قوانینو اطاعت<br>پوهاند احمدګل واثق | ۱۸۸ |
| د کامن لا حقوقي نظام کې د حقوقي قواعدو په ایجاد کې ...<br>پوهنوال محمد ایمل حقمل | ۲۲۰ |
| په کاروبار د معلوماتي تکنالوژۍ اغېزې | ۲۴۷ |

| | |
|---|---|
| حیات الله اشنا او وحید صافی | |
| د رهبرۍ ځانګړتیاوو تیوري او په عمل کې ترې ګټه اخیستنه<br>پوهنمل محمد عرفان قریشي | ۲۶۵ |
| د ښځو د حقوقو مقایسه د اسلام او لویدیځ...<br>نقیب الله مطمین | ۲۸۰ |

# سریزه

ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ. (سورت القلم، ایت: ۱)

ژباړه: نون، قسم دی په قلم او په هغه څه چې دوي يې ليکي.
امام غزالي ( رحمة الله(ج) عليه ) وايي: ( څلور ډوله فنون د انسان فطري اړتياوې ګڼل کيږي او له هغې څخه پرته د دې دنيا نظام نه چلیږي:

۱- زراعت د خوراک لپاره.

۲- بناء او تعمير د کور لپاره.

۳- حياء کول د کاليو لپاره .

۴- سياست د نظم او نسق لپاره .

د دې نظريې له مخې د انساني ټولنو بقاء او دوام په زراعت، ساینس، صنعت، ټکنالوژۍ او نظم پورې تړلی دی (که چېرته په بشري ژوند کې زراعت، ساينس، صنعت، ټکنالوژي او نظم وجود ونه لري، نو پايښت او استقرار يې ستونزمن او حتی ناممکن ګرځي ) چې د ذکر شوو ټولو چارو تحقق د علم په ذريعه صورت موندلای شي نو له دې څخه معلومیږي چې علم د يوې ټولنې د بقاء، پرمختګ، سوکالۍ او ابادۍ بنسټ دی له دې علاوه علم په يوه ټولنه کې د نظم، امن، ثبات او په خپل ځان باندې د تکيه کولو او د نورو له احتياج څخه د ژغورلو اساس تشکيلوي.

په افغانستان کې د موجوده ستونزو د حل يوازينۍ کيلي او حللاره دا ده چې ځوانان (ورونه او خويندې) په مختلفو برخو کې علم حاصل او په خپله ټاکلې رشته کې ځان د تخصص او کمال حد ته و رسوي ځکه يوازې د علم په ذريعه موږ کولای شو چې

د ټولنې ستونزې تشخیص، اړتیاوې یې تامین کړو او په دې ترتیب ګران هېواد افغانستان د مترقي هېوادونو په قطار کې ودرو.

د پورته توضیحاتو له مخې د یوې ټولنې پرمختګ مستقیماً د علومو د پرمختګ او د علومو پرمختګ مستقیماً د علمي څېړنو سره اړیکې لري، یعنې څېړنې د بشریت د پرمختګ یوه عمده او بنسټیز دلیل دی، د یوې سروې له مخې د ۲۰ شلمې پېړۍ د دویمې نیمایي د علومو پرمختګ له دې څخه پخوا د ټولې مخکنۍ زمانې له پرمختګ سره معادل دی او د دې کار یوازینی دلیل دقیقې او مستندې څېړنې دي ځکه د څېړنو په ذریعه پخواني علوم انکشاف کوي او نوي علوم ایجادېږي.

علمي بنسټونه ( پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسات ) د محصلینو د روزنې تر څنګ مکلف دي چې د علمي څېړنو له لارې د ټولنې ستونزې او اړتیاوې تشخیص او د استراتېژیو، پالیسیو او طرحو په شکل ورته معقولې او مناسبې حللارې ومومئ؛ د همدې اصل په رعایت التقوی د لوړو زده کړو موسسې د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه د یوې علمي او څېړنیزې مجلې ( التقوی علمي مجلې ) په عنوان جواز واخیست، څو د دې موسسې د علمي کادر غړي پکې خپلې څېړنې او لیکنې نشر ته وسپاري او ټولنه ورڅخه مستفیده شي.
د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه د جواز له اخیستلو وروسته د دې مجلې لومړۍ ګڼه د ۱۲ علمي او څېړنیزو مقالو په لرلو چاپ ته وسپارل شوه، زموږ هیله دا ده چې په دې ګڼه کې نشر شوې مقالې به ستاسو علمي ستونزې حل او تنده به مو خړوبه کړي.

درنښت

اداره

**محمد عمران دولتزی**
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه
لارښود استاد: دوکتور حمدالله کاکړ

# اسلام کې د ښځو او سړیو د حقوقو او مسولیتونو څېړنه

**لنډیز**

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده. وبعد؛
(...وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ) سورت النحل ایت ۸۹

اسلام یو جامع دین او کامل نظام دی چې هر څه یې په واقعیت ولاړ دي د فرد او ټولنی توازن پکې مراعت شوی. په عدل، انصاف، انساني کرامت او عزت کې ښځې او سړي توپیر نه لري،اسلام کې دښځې حقوق په داسې معیار ښودل شوي چې بل هیڅ نظام کې ساری نه لري. اسلام څومره د انصاف دین دی ښځو ته یې څومره لوړ مقام ورکړی، دښځې په اړه یې څومره سپارښتنې کړي، ښځه هغه لومړۍ ښوونکې ده چې نسلونه روزي او دټولنې په جوړښت کې مهم رول لري، ښځه یوه مورده چې د پښو لاندې یې جنت دی او له هغې سره ښېګڼه دجنت لاره ده، ښځه یوه میرمن ده چې سکون، ترحم او دوستي ګرځول شوې ده. ( ۱: ۱۶ / ۴۶۱) ښځه یوه لور او خور ده چې په پالنه یې مور او پلار د رسول ﷺ سره یو ځای جنت ته داخلیږي. (۲: ۱۴۸/۷)رقم (۱۸۳۷)

رسول ﷺ وایي غوره له تاسې هغه دي چې خپل اهل ته غوره وي او زه له تاسې څخه هغه څوک یم چې خپل اهل ته غوره یم، د ښځو عزت چې کوم سړی کوي هغه عزتمند دی او توهین چې کوي هغه بیلارې دی. (۳: ۴۸/۱۰)

ډېر خلك د ښځو د حقوقو په اړه پوهه نه لري، د همدې نا پوهۍ له وجې د ښمنانو ته زمینه برابره شوې چې خپل شوم اهداف پلي کړي، په دې موضوع کې د ښځې او سړي له حقوقو او مسولیتونو څخه یادونه شوې، په اسلام کې د ښځو حقوق د نارینو په پرتله زیات ښودل شوي دي، د غه موضوع د عامو خلکو د پوهاوي او د غرب د ناوړه اهدافو د مخنیوي په خاطر مهمه بولم، موضوع د یو لنډیز او سریزې سربېره په دوه مبحثونو کې ترتیب شوې چې هر مبحث یې ځانګړي موضوعات لري، په پای کې پایله، مناقشه، مراجع ترتیب او ذکر شوي دي.

**کلیدي کلمې**: قرآن کریم، حدیث، د ښځې او سړي حقوق، مسولیتونه.

**سریزه**

د اسلام مقدس دین کې د انسانانو د حقوقو او مسولیتونو په اړه په پوره ډول لارښونې را لیږل شوي چې نر او ښځه پکې توپیر نه لري او دانسانیت اړونده ضروریاتو کې یو ډول شمېرل شوي دي، د نر او ښځې د حقوقو او مسولیتونو برابروالی په ډاګه کوي لکه د ژوند، خوراك او څښاك، امانت سپارل، ریښتیاویل، د نظر حفاظت، د عورت حفاظت دا ټول هغه حقوق او مسولیتونه دي چې نر او ښځه پکې توپیر نه لري .

البته ځینې توپیرونه چې د سړي او ښځې ترمنځ لیدل کېږي لکه د نفقې، جامې، مسکن حق چې یواځې په سړي لازم شوی دی، دا د جسمي جوړښت له مخې توپیر دی، چې د نر د پیدایښت موخه جلا ده او د ښځې د پیدایښت موخه جلا ده چې هغه تولد او تناسل دی.

ځینې نور توپیرونه هم اسلامي شریعت د ښځو په طرف کې ځانګړي کړي دي لکه حجاب، له محرم پرته سفر نه کول، مسجد ته نه تلل، د خاوند له اجازې پرته له کوره

نه وتل، دغه ټول هغه د اسلامي شريعت لارښوونې دي چې دښځې د عزت او عفت ساتلو په خاطر اسلامي شريعت رامنځته کړي دي له دې پرته اسلامي شريعت د نر او ښځې ترمنځ د برابروالي بلنه ورکړې ده.

## د موضوع اهمیت

اسلامي امت په عام ډول او زموږ مظلوم ملت په ځانګړي ډول د غرب په دامونو کې راګېر دي او د بې لارۍ لپاره يې هر ډول دسيسې  په کار اچولې ديو چې يو يې د ښځو دحقوقو په نوم، ښځې له حياء، عزت او دين څخه خلاصول دي او ځينې نورو بيا د دين، عرف او عادت په نوم دښځې مشروع حقوق او برابروالی له پامه غورځولی دی. په دغه څېړنه کې د ښځو د هغه حقوقو يادونه کيږي، چې دغربي مبلغينو له پيداکېدو وړاندې اسلام تعين کړي، عرف او عادت په وړاندې مردود دي. دغه موضوع زه اړينه بولم ځکه، چې د ښځو له مشروع حقوقو  او مساواتو څخه يادونه کوي او له بل لورې د دښمنانو دسيسو ته مسلمان متوجه کوي.

## د ليکنې موخه

د اسلام له نظره د ښځو حقوقو او مساوات بيانول او د دې څېړنې په طرز کې  دا په ډاګه کول چې د ښځې له حقوقو او مساوات  څخه د دين دښمنان نور اهداف لري.

## تېرو ليکنو ته کتنه

د ښځې حقوقو، ازادۍ، حيثت او ارزښت په اړه له مختلفو اړخونو په مختلفو ژبو ليکنې شوې دي. لکه(حقوق المر اة فی ضوء الکتاب والسنة) د مرزوق زهراني ليکنه.(المراة فی الاسلام ) د/ فوزان ليکنه. (اهتمام الاسلام بالمراة ) دعبدالرحمن

قصاص ليکنه. (اساليب العلمانين فی تغريب المراة) د دکتور بشربن فهد البشر ليکنه (المراة فی الاسلام) د محمدغزالی ليکنه...
زما د ليکنې توپير په دې کې دی چې دغه ليکنه په مورنۍ ژبه (پښتو) تر سر شوې ده چې په دې حالاتو کې يې خپل ملت او بالخصوص مسلمانو ښځو ته گټوره بولم.

## مواد

دغه څېړنه د قران او حديثو نصوصو په رڼا کې دښځو له حقوقو او مساوات څخه يادونه کوي او د ضرورت پرمهال به د علماؤ ويناوې په کې ذکر کېږي، په دې موضوع کې تر يوحده هڅه شوې، ترڅو روښانه شي، چې اسلام کې له سړيو سره د ښځې مساوات په کومه اندازه رامنځته شوی دی.

## کړنلاره

د غه ليکنه سربيره په يو لنډيز او سريزې په دوه مبحثونوکې رانغښتل شوې، چې لومړی مبحث (ښځه په سابقه اديانو او نظامو کې، ښځه د عربو جاهلي دورکې، ښځه په اسلام کې) دوهم مبحث (د ښځو او سړيو حقوق او مساوات، هغه احکام چې يواځې سړی پرې مکلف دی، هغه احکام چې يواځې ښځو پورې تړاو لري) مشتمل دی، له دې پرته پايله، مناقشه، واړنديزونه او ماخذونه هم په کې ذکر شوي.

## لومړی مبحث

دې مبحث کې دا ښودل شوي چې د انساني څانگړتياو له مخې ښځه انسان دی سړي سره کوم توپير نه لري، د ښځې وضعيت له اسلام وړاندې په وضعي نظامونو کې په کوم ډول و، الله(ج) تعالی فرمايي:

{یَا أَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّکُمُ الَّذِي خَلَقَکُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً کَثِیراً وَنِسَاءً ...} (سورت النساء، ایت ۱)

**ژباړه:** ای خلکو و وېرېږئ له خپل رب څخه چې تاسې يې پیدا کړي یاست، له یو نفس څخه چې له همدې نفس يې پیدا کړې د هغه جوړه، بیا خپاره کړي له دې دواړو څخه ډېر انسانان سړي او هم ښځې.

که له اسلام وړاندې د ښځې حالت ته ځير شو او بيا په اسلام کې د ښځې حالت ته متوجه شو، دا به په ډاګه شي چې يواځې د اسلام دين دی چې د ښځې د حقوقو ساتنه کوي.

**د ښځې حالت له اسلام وړاندې**

**پخواني مصري نظام کې**

په فروعوني دوره کې هم ښځو لره لوی مقام و چې په تېرو دورو کې يې نه درلود، په پرېکړو او حکومونو کې پوره واک ورکړل شوی و، دکور په اداره او د خاوند په انتخاب کې يې پوره اختيار لاره، د خپل کور د ضرورتونو په خاطر يې دسړيو په څېر هر ډول کارونو کې ونډه درلوده، هغه بتان چې د عبادت لپاره يې جوړکړي و د ښځو په څېر مجسمې هم پکې وې، چې دا يو ډول حق ګڼل کېده او ويل به يې چې جنت کې به ښځه د سړي سره يو ځای وي، د دې ټولو حقوقو سره دا خبره هم مروجه وه چې هر کال به يې نيل ته يوه ناوې قرباني ورکوله چې د دوي له نظره دغه هم د ښځو لپاره يو مقام و. (۴:نيټ)

## هندي نظام کې

پخواني هند کې ښځو ته دسړیو سره مساوي حقوق ورکړ شوی و، د ژوند په ټولو برخو کې لکه تعلیم، تربیه، د بلوغ مرحله کې، ازدواج، په ازدواج کې اختیار، کسب ،کار او داسې نورو اموراتو کې یې له سړی سره توپیر نه و، البته په وروستیو دورو کې بیا ښځې له ډېرو حقوقو بې برخې وې. (۵: نیټ )

## چیني نظام کې

په چیني نظام کې ښځې له زیاتو حقوقو بې برخې وې، له مختلفو زور زیاتیو سره لاس او ګریوان وې، له واده وروسته ټوله شتمني دخاوند وه، د هیڅ ډول شتمنۍ واک یې نه درلود، دخاوند له وفات وروسته یې بل سړي سره نکاح نه شوه کولی ښځو ته دیو وحشي حیوان په نظر کتل کېدل. (٦: ۲/ ۱۰۹)

## ښځه په لروغونو ادیانو کې

## نصرانیت کې

مسیحي دین کې ښځې او سړي د یو جسد په څېر شمېرل کېدل، چې یو پر بل یې هیڅ ډول غوراوی نه درلود، په ټولو حقوقو واجباتو کې سړي د ښځو سره مساوي بلل کېدل ښځو ته طلاق ورکول، له یوې زیاتو ښځو سره نکاح حرامه بلل کېده (په مسیحي مذهب کې د ښځو په ازدواج کې کوم ځانګړی معیار نه وه یو سړي کولی شو چې څومره ښځې یې چې زړه وغواړي په نکاح بې کړي البته ( ۱۸۹۰م ) کال پورې کلیساوې په همدې نظر وې، خو له دې وروسته د کلیساو په نظرکې تغیر راغی او د یوې ښځې په ازدواج یې ټینګار وکړ، ان تر دې چې غرب له کلیساو متاثر شو او

د يوې ښځې په ازدواج يې قانونا اعتراف وکړ، ولی کومې مذهبی ډلې تر نن ورځې هم د ښځو په تعدد اعتراف کوي لکه: المورمونية).(۷/ نيټ)

## د عربو جاهلي دور کې

د عربو په جاهلي دور کې ښځې دسړيو په واک کې وې، اولاد به چې کله پيداشو د پلار تابع به و مور يې کوم واک او صلاحيت يې نه درلود، داسې خلک و چې د ولړې له وجې يې خپلې لورګانې ژوندۍ خښولې، پلار اولاد ته هر ډول سزا ورکولی شوه، ښځو به د کورونو په سر سره بيرغونه درولي و د فحشاء لپاره به هڅول کيدې ... له دې سره ځينې حقوق يې هم درلودل لکه: تجارت، د خاوند انتخاب ان تر دې چې په ځينو ځايو کې واک ټول ښخو سره و، لکه د يمن ملکه بلقيس.(۸: ۱۰/ ۲۰۰)

## ښځه په اسلام کې

اسلام ښځو ته لوړ مقام او عزت ورکړی، حقوق يې په داسې ډول رامنځته شوي چې سابقه نظامو کې يې ساری نه ليدل کيږي، مالي برخه کې د ميراث، تجارت، ملکيت او تصرف حقوق ورکړل شوي. دې حقوقو سره ښځې له نفقې، مسکن او جامې معاف کړی شوې، هر څه يې د خاوند په غاړه لازم کړي، په معنوي برخه کې ښځې ته ځانګړي حقوق ورکړل شوي لکه: د تعليم او تعلم حق، بلکې د تعليم حق په ديني برخه کې فرض عين ګرځېدلی، په شرعي نصوصو کې ډېر احاديث د اصحابو له خولې نقل شوي، دافتاء په برخه کې لوی اعتبار لري، د مشورې او نظر په برخه کې پوره ونډه ورکړل شوې ده، لکه رسول (ص) چې ام سلمه رضي الله(ج) عنها ته په مشورو کې ونډه ورکړې وه. په حقوقو او واجباتو کې توپير نه شته د الله(ج)

تعالی په وړاندې ترې یو ډول پوښتنه کېږي، اخروي ژوند کې توپیر نه لري، الله(ج) تعالی فرمایي:

(مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ). ( سورت النحل، ایت ۹۷)

**ژباړه:** هرڅوك چې ښه عمل وکړي، که هغه نارینه وي اوکه ښځه، په دې شرط چې مؤمن وي، پر هغه به موږ په دنیا کې سپېڅلی ژوند تېر کړو(اخرت کې به) دغسې خلکو ته د هغو اجر د هغوی له عملونو ډېر ښه ورکړو او محمد (ص) دښځو او سړیو ترمنځ مساوات په شرعي اموراتو کې په دې لفظ سره بیان کړی:(إنَّما هنَّ شقائقُ الرِّجالِ) (۹: ۱۸۹/۱) رقم ۱۰۵)

حدیث کې دسړي او ښځې ترمنځ برابروالی مطلب دی په شرعي احکامو کې پرته له ځینې مواردو څخه چې هغه موارد معلوم دي، دا هم د هغه توپیرنو له مخی چې په جوړښت کې یې لري.

د ازدواج په اختیارکې حق د سړي په څېر ده، د ضرورت په وخت تفریق، عقد، فسخې اختیار، د تصرفاتو اختیار لکه بیعه، شراء، هدیه ... د سړیو په څېر لري، البته هغه څه چې حرام گرځول شوي د ښځې په حق کې لکه د اجنبي سړیو سره اختلاط ، بې محرم سفر...دا ټول د ښځې دعزت اوکرامت په خاطر دی،اسلام د نا محرمه ښځو اوسړیو ترمنځ لرېوالی لازم گرځولی حتی په لمانځه کې یې د ښځو صفو نه له سړیو وروسته گرځولی، رسول الله(ج)(ص) فرمایي:(خيرُ صفوفِ الرجالِ أولُها ، وشرُّها آخرُها، وخيرُ صفوفِ النساءِ آخرُها، وشرُّها أولُها). (۱۰: ۴۳۵/۱) رقم ۲۲۴ )

بهتر د صفونو د سړيو لومړی دی او شر د صفونه وروستی دی، غوره د ښځو د صفونو وروستی دی، شر د صفونو لومړی دی، داځکه چې څومر دسړيو او ښځو ترمنځ نزديکت زياتيږي فتنې را ولاړيږي، اسلام د ښځو جسمي حالت ته په کتو سره ،له خوراک، څښاک، نفقې مسکن، جامې او نورو مصارفو خلاصه کړې، ټول تکاليف يې د سړي په غاړه گرځولي دي له واده وړاندې ټول تکاليف د پلار په غاړه وي، له واده وروسته ټول تکاليف د خاوند په غاړه وي. په عباداتو کې دښځې حالاتو ته په کتو سره ،ځينې حالاتو کې ترې يو شمېر عبادات ساقط شوي دي لکه د حيض ،نفاس په مرحله کې ،د لمانځه، روژې ساقطيدل، د عزت له مخې د ښځې حقوق په مجرد عقد د نکاح سره ثابتيږي لکه مهر، ميراث د ابرو ساتلو په خاطر يې د اتهام پر وخت حد قذف تعين شوی، څوک يې چې د عزت ساتلو په دفاع کې قتل شي شهيد دی، دغه ټولې خبرې دښځې په اعزاز دلالت کوي چې اسلام ورکړی دی.

**دويم مبحث: د ښځې او سړي حقوق او مسؤليتونه**

**د ژوند په حق کې مساوات**

سړي او ښځې دواړو ته يو ډول د ژوند حق ثابت دی، قتل الله(ج) حرام گرځولی دی، مگر په حق سره، په دې حرمت کې مسلمان، غير مسلمان، سړی او ښځه يو برابر دي:

(وَلاَ تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ). (سورت الانعام، ايت ۱۵۱)

**ژباړه** : مه وژنئ هغه نفس چې الله(ج) تعالی حرام کړی، مگر په حق سره يعنې قصاص که پرې لازم وي .

البته د مسلمان قتل خو ډېره لویه خبره ده لکه الله(ج)(ج) چې فرمايي: (وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلاَّ خَطأً). (سورت النساء، ایت ۹۲)

**ژباړه:** نه دي مناسب هیڅ مؤمن ته چې قتل کړي یومؤمن مگر په خطا سره.

د سړیو او ښځو تر منځ هیڅ توپیر نشته، قاتل سړی وي که ښځه، مقتول سړی وي که ښځه د تجاوز او ظلم پر وخت يې سزا یو ډول ده، قصاص د دواړو په وړاندې یو ډول حکم دی، اخروي، دنیاوي وعیداتو کې سره هیڅ توپیر نه لري، رسول الله(ج) (ص) فرمايي: څوك چې ځان زندیکړي په اور دجهنم کې به ځان زندی کوي، څوك چې خپل ځان دنیا کې په چاړه ووهي اور د جهنم کې به ځان په چړو وهي (الذي يخنق نفسه يخنقها في النار، والذي يطعنها يطعنها في النار). (۱۱: ۹۶/۲) رقم ۱۳۶۵)

**د ضروریاتو په حق کې مساوات**

اسلام د سړیو او ښځو تر منځ د ژوند په ضروریاتو کې برابر والی کړی لکه: مسکن، مرکب، زینت، خوراك، څښاك او داسې نور ... الله(ج) تعالی د انسان د ضروریاتو په اړه وايي: (قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِيَ لِلَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ...). (سورت الاعراف، ایت ۳۲)

**ژباړه:** ای محمده ص! دوي ته وواېه چا د الله(ج) هغه ښکلا حرامه کړېده چې هغه د خپلو بندگانو له پاره راویستلې وه او چا د خدای (ج) ښبل شوي پاك شیان منع کړل ؟ وواېه، دا ټول شیان د دنیا په ژوندانه کې هم د ایمان راوړونکو له پاره دي او د اخرت په ورځ خو به یوازې د همدوي له پاره وي .

په د نیا کې له نعمتونو څخه په استفادیې کې سړي او ښځې یو برابر دي، البته اخروي نعمتونه خاص مومنانو لپاره دي لکه په ایت کې چې راغلی (خالصة یوم القیامة) بل له برابروالي څخه دسړیو او ښځو ترمنځ په خوب او راحت کې برا بروالی دی، چې دایو لوی نعمت دی، د الله(ج) (ج) له طرفه په ټولو مخلوقاتو، په ځانګړي ډول په انسانانو کې لکه چې وایي (وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا). (سورت النباء، ایت ۹)

د ژوند له ضروریاتو څخه سکون، محبت، ترحم، چې د سړیو او ښځو توپیر پکې نه شته.

**په انساني کرامت کې مساوات**

په ټولو اسماني د ینونو کې چې انبیاو علیه السلام د الله(ج) له طرفه راوړي د ښځو عزت بیان شویدی، لکه قرآنکریم چې مورډ ته د مریم د مور حکایت کوي:
(إِذْ قَالَتِ امْرَأَةُ عِمْرَانَ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ). ( سورت ال عمران، ایت ۳۵)

**ژباړه:** (الله(ج) هغه وخت اورېدل )کله چې د عمران ښځې ویل چې" زما پروردګاره! زه دا ازّاد اولاد چې زما په ګیډه کې دی ستا له پاره نذر کوم، هغه به همدا ستا کارونو ته وقف وي زما دا سوغات قبول کړه ، ته اورېدونکی او پوهېدونکی یې.

{فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَى وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ}. (سورت ال عمران، ایت ۳۶)

**ژباړه:** بیا چې کله یې هغه ماشوم وزېږاوه، نو هغې وویل" زما پروردګاره! زما خو لور زېږېدلې ده په داسې حال کې چې الله(ج) ښه پوه دی په هغه څه چې زېږیدلی دی

او هلك د نجلۍ غوندې نه وي هر څه چې ده، ما د هغې نوم مریم ایښی دی او زه هغې او د هغې راتلونکي زوزات ته د رټل شوي شیطان له شر څخه ستا پناه غواړم د الله(ج) لوی اعزاز او اکرام د عمران دښځې داو چې د هغې نذر یې په ښه طریقه قبول کړ (فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ...). (سورت ال عمران، ایت ۳۷)

**ژباړه:**په پای کې د هغې رب هغه نجلۍ په خوښۍ سره قبوله کړه الله تعالی بي بي مریم له اوږدې قصې او اکرام چې له ولادت وړاندې وروسته یې درلود، په لنډ ډول خلاصه کوو،چې د ښځو اکرام ترینه په ډاګه معلوم دی :

**لومړی:** اکرام او اعزاز چې الله(ج) ورکړی و هغه په ټولو ښځو د خپلې زمانې غوره والی و.

**دویم:** اکرام چې الله(ج) بي بي مریم ته ورکړی دملایکو سره خبرې دي، چې لدې وروسته هیڅ ښځې سره ندي شوي.

**دریم:** زېری دی بي بي مریم ته په اولاد سره چې هیڅ ښځې ته ندی شوی.

**څلورم:** بي بي مریم ته د هغې څوی مبارك گرځول شوی چې د اولاد اکرام د مور اکرام دی. په زیاتو ځایوکې ښځو او سړیو ته یو ډول اعزاز ورکړل شوی او په ځینو ځایونو کې په ځانگړي ډول د ښځو اعزاز بیان شوی دی.

## کار او کسب کې مساوات

اسلام د کار او کسب په اړه ټینگار کړی، ثواب او عذاب یې د کار او کسب د مشروعیت او عدم مشروعیت پورې تړلی دی. {لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا}. (سورت النساء ایت ۳۲ )

**ژباړه:** د نارينه و برخه د هغو له کسب سره سمه او د ښځو برخه د هغو له کسب سره سمه ده هو، له الله(ج) څخه د هغه د فضل دعاګانې غواړئ په دې کې شك نشته چې الله(ج) په هرڅه پوه دی.

د کسب کار پسې له کور وتل د شرعي اصولو مطابق ممانعت نه لري، په دې اړه د شعيب عليه السلام او موسی عليه السلام له قصی ښه درک کولی شو، چې قرآنکريم يې قصه په روښانه ټکو بيان کړې ده (وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لاَ نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ، فَسَقَى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّى إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ (٢٤) فَجَاءَتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاءٍ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا). (سورت القصص، ايت ٢٣-٢٥ )

**ژباړه:** کله چې هغه د مدين څاته ورسېده نو ويې مېندل (ويې ليدل) چې ډېر خلك خپل څاروي اوبه کوي او له هغو نه بېلې يوې خواته دوه ښځې خپل څاروي ايساروي موسی له دغو ښځونه پوښتنه وکړه، تاسې ووايئ څنګه انديښمنې يئ ؟ هغوی وويل موږ خپلو څارويوته اوبه نشو ورکولی، ترڅو پورې چې دغه شپانه خپل څاروي بونه څي او زموږ پلار ډېر زيات سپين ږيری سړی دی. (د دې په اورېدلو سره) موسی (ع) د هغو څاروي اوبه کړل، بيا يوه سيوري ځای ته لاړ او ويې ويل: پروردګاره! هره ښېګنه چې تا پرما نازله کړې زه هغې ته اړيم(لږ وخت وروسته) له هغو دو وښځو څخه يوه په حيا سره ده ته راغله او ويې ويل، زما پلار تا غواړي، ترڅو تا چې زموږ لپاره څارويوته اوبه ورکړېدي د هغه اجر درکړي. له قصې دا په ډاګه کېږي چې د ښځو وتل کار لپاره د ضر ورت په اسا س جواز لري.

**شرعي نکاح کې مساوات**

نکاح د ښځې او سړي یوه فطري غوښتنه ده او الله تعالی فرمایي: (فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ). (سورت النساء، ایت: ۳)

همدارنګه نبي خپل امت د نکاح په لور هڅولی: (یا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج). (۱۲: ۱۲/ ۵۳۷) رقم ۵۰۶۵)

د رسول الله(ص) په دې وینا کې سړیو او ښځو دواړو ته امر شوی او دغه حق دواړو ته یو ډول ورکړل شوی.

**د اختیار حق مساوات**

د ښې او ډاډمنې کورنۍ د جوړښت په خاطر هر یو سړي او ښځې ته یې اختیار ورکړی چې نبي کریم(ص) فرمایي: (تخیّروا لنطفکم فانکحوا الأکفاء وانکحوا إلیهم). (۱۳: ۱۳۳/۷)

په اسلامي فقهې کې د کفأت یادونه شوې چې ورسره د تقوی او زهد په اړه هم کاملا توجه شوی، انتخاب له لومړي سره لویې اغېزې لري، سړي او ښځې دواړو ته پکاره ده چې ښه انتخاب وکړي لکه: رسول الله(ص) چې فرمایي:(إذا خطب إلیکم من ترضون دینه وخلقه فزوجوه، إلا تفعلوا تکن فتنة في الأرضِ وفساد عریض ). (۱۴: (۳۹۴/۳) رقم ۱۰۸۴)

**ژباړه:** کله چې تاسې ته داسې چا خطبه وکړه چې تاسې یې له دینداری څخه راضی اوسئ په نکاح یې ورکړئ او که داسې ونه کړئ، لویه فتنه او پریمانه فساد به په ځمکه کې رامنځته شي. داختیار په اړه رسول الله(ص) بېرته د هغې خاوند مغیث په اړه وایي: که خپل خاوند ته دې رجوع کړې وای ښه به وه ځکه هغه ستا داولاد پلار

دی، هغې وویل یارسول الله(ص) ایا ته راته امرکوې؟ نبی کریم وویل نه بلکې زه سفارش کونکی یم، هغې وویل زه هغه ته اړتیا نه لرم ) رسول الله(ص) هغه د نکاح په دوام مجبوره نه کړه.

## مسؤلیتونو کې مساوات

ښځه او سړی په مساوي ډول په شرعي امورو مکلف دي، لکه ایمان په الله(ج)، په ملایکو، په کتابونو، په رسولانو، په ورځ د اخرت، د اسلام د ارکانو قایمول.

## اجر او ثواب کې مساوات

هر نفس چې په دنیا کې کوم عمل تر سره کوي د قیامت په ورځ به یې بدله ګوري چې په دې اړه سړي او ښځې سره کوم توپیر نه لري. قرآن کریم کې الله(ج) فرمایي:(مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ). (سورت النحل ایت ۹۷)

**ژباړه:** هرڅوك چې ښه عمل وکړي، که هغه نارینه وي او که ښځه، چې موْمن وي پر هغه به موږ په دنیا کې سپیڅلی ژوند تېرکړو ( اخرت کې به) د هغوی د عملونو ډېره ښه بدله ورکړو.

## حدودو کې مساوات

اسلام د نر او ښځې تر منځ په حدودو کې برابر والی کړی دی الله(ج) فرمایي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى ... (سورت البفره ، ایت ۱۷۹)

**ژباړه:** ای موْمنانو ! ستاسې له پاره د قتل په دعواوو کې د قصاص حکم لیکل شویدی که اصیل قاتل وي له هماغه اصیل نه دې بدله واخیستله شي او که غلام قاتل وي، نو هماغه غلام دې ووژل شي، که ښځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې نه دې قصاص واخستل شي جمهور علماء په دې نظر دي چې سړی په ښځه او ښځه په سړي قتل کولی شي، چې دا واقعیت ته نژدې ده، ځکه مقصد له حدودو څخه د وینو ساتل دی که د ښځو قصاص له سړي وانه خیستل شي، د ښځو د نفسونو تلف رامنځته کېږي چې له جاهلي دور په میراث راپاتې عمل دی لکه: د ښځې په بدل کې د سړي نه قصاص کول...

## شورا کې مساوات

شورا د اسلام له اصولو یوه مهم اصل دی چې په اړه یې تاکید شوی نبی کریم(ص) ښځو سره په سیاسي او حربي چارو کې مشورې کولې، دحدیبې دصلحې مرحله کې نبی کریم ام سلمی رضی الله عنها ته ورغی او مشوره یې ورسره وکړه د صحابو د احرام د نه ماتولو په اړه، ام سلمی رضی عنها ورته وویل ای د الله(ج) نبي که ستا خوښه وي پرته لدې له چا سره خبرې وکړې خلکو ته ور ووځه، خپله اوښه حلاله کړه او سر خریونکي راوغواړه رسول الله (ص) همداسې وکړل، د رسول الله(ص) عمل چې کله صحابو ولیده، هغوی هم همداسې عمل وکړ، اوښې حلالې کړې یو د بل سرونه یې وخریل.

## امر بالمعروف کې مساوات

کله چې د یو عاقل په رایه او نظر باندې مصالح رامنځته کېږي، حق لري چې د خپل نظر اظهار وکړي لکه قرآن کریم کې چې دې خبرې ته اشاره شوې{وَالْمُؤْمِنُونَ

وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ }. (سورت التوبه، ایت ۷۱)

**ژباړه:** موْمنان نارینه او موْمنانې ښځې، دا ټول د یو بل دوستان دي، په ښو چارو امر او له بدیو نه منع کوي. امر بالمعروف او نهی عن المنکر چې یو شرعي وجوبي امر دی، سړي او ښځې پکې شریکان دي، ځکه دا یو عبادت دی چې له سړیو او ښځو دواړو غوښتل شوی دی، نبي کریم(ص) فرمايي:(من رأى منكم منكرا فليغيره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه، وذلك أضعف الإيمان). (۳۵۳/۱۵:۲ رقم ۱۸۱۹ ) چا چې یو منکر کار ولیده په لاس دې منعه کړي او که په لاس یې وسه نه وه په خوله دې منعه کړي او که د خولې، وینا وسه یې نه وه په زړه کې دې بد وګڼي او داسې سړی د ډېر ضعیف ایمان خاوند دی.

## زده کړه کې مساوات

د اسلام مبارك دین د زده کړې په برخه کې پوره توجه کړې، د انسان دنیاوي او اخروي کامیابي د علم پورې تړلی ده، له همدې وجې قرآن کریم کې الله(ج) فرمايي:(هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الأَلْبَابِ}. (الزمر ، ایت ۹)

ایا برابر دي هغه کسان چې علم لري او هغه چې علم نه لري، په دې خبر پند اخلي هغه کسان چې عقل لري او نبي فرمايي: (من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين). (۱۶: ۳۱۲/۳)

د قرآن او حدیث لاربښونې سړي او ښځې دواړه ته شاملې دي توپیر نه لري، د قرآن او حدیث ټینګار، سپاربښتنې د ګټورو علومو (طب، هندسه، ریاضیات، شرعي علوم)

د حصول په اړه سړي او ښځې دواړو ته دي، پرته له کوم توپیر، البته حدیث کې یوائې د فقې یادونه په دې اساس شوې، چې په دیني او دنیاوي لحاظ غوره علم دی ، ښځې ته د اړتیا په صورت کې د ټولو علومو زده کړه پکار ده. البته د ښځې د ازادئ او حقوقو په نوم چې نن کوم شعار پورته کیږي، د ښځې دبې عزتئ پرته نور څه پکې نه لیدل کیږي، ځوکځ چې له اسلام پرته په بل دین کې عزت لټوی الله(ج) به یې گمراه کړی لکه نبی کریم (ص) چې فرمايي: (ومن ابتغى الهدى في غيره أضله الله). (١٧: ۵/ ١٧٢) رقم ٢٩٠٢)

## نورو ته زده کړو کې مساوات

لکه څنگه چې اسلام ټینگار کړی، چې خپله زده کړه وکړئ، همداسې نوروته د زده کړې ټینگار یې هم کړی دی، پرته له دې چې سړي او ښځې پکې توپیر ولري، البته کله چې ښځې بیگانه سړیو ته تعلیم ورکوي او یا ورڅخه تعلیم کوي، لازمه ده چې د پردې تر شا تر سره شي امام ذهبي وايي: (وقد سمعنا من عدة نسوة وما رأيتهن) چې همدا ډول تعلیم او تعلم د اسلامي شریعت غوښتنه ده، د حجاب مراعت کولو سره د ښځو عفت او کرامت خوندي ساتل کیږي او د شیطانانو له دسیسو په امن کیږي. البته ځینې توپیرونه چې شتون لري د سړیو او ښځو جوړښت ته په کتو سره رامنځته شوي.

## د ښځو ځانگړي حقوق او احکام

١- نفقه، مهر، مسکن، لباس، عدالت) هغه ځانگړي احکام دي چې قرآنکریم یې یاونه کړې او په سړیو لازم شوي دي: (لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ). (الطلاق، ایت ٧)

۲- زینت، حجاب، د وریښمو او سرو زرو استعمال یوازې ښځو لپاره مشروع دی (وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ..). (سورت النور، ایت ۳۱)

او نبي کریم(ص) د وریښمو د استعمال په اړه فرمايي:(إنَّ هَذينِ حرامٌ على ذُكورِ أمَّتي). (۱۸/ (۸۹/۴)

دغه حق یوازې ښځو ته ثابت دی. ځینې داسې ځانګړي مسؤلتونه شته چې ښځو سره پکې نرمي شوې او ترې خلاصې دي لکه :

۳- جهاد، مسجد کې حاضرېدل، د ښځينه مریضۍ پروخت عبادت، لوی او وړوکی امامت) هغه مکلفیتونه دي، چې یوازې سړیو پورې تړاو لري. له عائیشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې مانبي (ص) ته وویلي یا رسول الله هل على النساء جهاد ؟ فقال :جهاد لا قتال فيه الحج والعمرة. (۱۹/ ۲/ ۹۲۰)

او همدارنګه په کورکې د لمانځه په اړه وايي: صلاة المرأة في بيتها أفضل من صلاتها في حجرتها، وصلاتها في مخدعها أفضل من صلاتها في بيتها.(۲۰/ ۱/۱۵۶)

او د مریضۍ په وخت د لمانځه پرېښودلو په اړه نبي ﷺ فاطمې بنت أبي حبيش ته وايي: إذا أقبلت الحيضة فدعي الصلاة.(۲۱/ ۱/ ۱۱۴)

دا هغه تکلیفي احکام دي چې ښځې ترې معاف دي.

۴- د عدة لزوم، د خاوند اطاعت،کور کې قرار او داسې نور... هغه ځانګړي احکام دي چې یوازې ښځه پرې مکلفه ده .

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ). (سورت البقره، ایت ۲۲۸)

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا). (سورت البقره، ایت ۲۳۴)

**پایلې**

په دې لیکنه کې لاندې پایلو ته رسیدلی یم :

- اسلام یو جامع نظام دی چې هراخیزه لارښوونې پکې شتون لري.
- د ښځې حقوقو او مساواتو ته په قرآن او حدیث کې زیاته پام لرنه شوې.
- د ښځې مساوات نارې چې کوم خلك وهي نور اهداف لري.
- اسلام د ښځې او سړي ترمنځ توپیر ندی کړی یو ډول کرامت ورکړل شوی دی.
- د ښځې او سړي توپیر د ښځې د عزت ساتلو او فزیکي جوړښت له مخې دی.

**مناقشه**

که په واقعیت سره وګورو چې په قرآنکریم او احادیثو کې دښځو کوم حقوقو بیان شوي،د ښځې کرامت او عزت ته پکې پوره پاملرنه شوې، چې هیڅ نظام کې یې ساری نه لیدل کیږي، په کومو برخو کې چې ښځو ته ځانګړي حقوق ورکړ شوي هغه دهغوی یا جسمي جوړښت ته په کتو ځانګړي شوي او یا د هغې د عزت او کرامت د ساتلو په خاطر ځانګړي شوي، شرق او غرب چې کومې دعوې کوي د ښځو د حقوق، له دوکې او خپلو خواهشاتو پوره کولو پرته نورې هیڅ موخې نه لري، اسلام دی چې د ښځې او سړي په اړه یې له عدل کار اخیستی او په هره برخه کې یې

د تجاوز مخه نيولې ده، د ښځې ټول حقوق په اسلامي شريعت کې خوندي دي، وضعي نظامونه دي چې يو طرفه د مساوات او حقوقو غوښتنه کوي.

**وړانديزونه**

- د ښځو حقوقو او مساوات په اړه زياتو ليکنو ته اړتيا ده، ترڅو عام امت او په ځانګړي ډول ښځې په دې وپوهيږي چې د دوي حوق او مساوات په اسلام کې شته دي.
- علماو، دعاة او ښوونکو ته پکار دي چې د وعظ او تدريسي ليکنو له لارې عام خلك د ښځو په حقوقو وپوهوي او دغرب دتبليغاتو مخه ونيسي .
- مسلمانې ښځې ته پکار دي چې خپل حقوق داسلام له نظره وپيژني، چې دښځې عزت او کرامت پکې خوندي دی او د غرب په دروغجنو تبليغاتو ونه غوليږي.

**ماخذونه**

قرانکريم
١- كنز العمال فی سنن الاقوال والافعال تاليف: علاء الدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان (المتوفى: ٩٧٥هـ) تحقيق: بكري حياني - ناشر: مؤسسة الرسالة الطبعة: الطبعة الخامسة، ١٤٠١هـ/١٩٨١م
٢- ترمذی تاليف: محمد بن عيسى (المتوفى: ٢٧٩هـ) -تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر (جـ ١، ٢) ومحمد فؤاد عبد الباقي (جـ ٣) وإبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر الشريف (جـ ٤، ٥) ناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي – مصر طبعة: الثانية، ١٣٩٥ هـ - ١٩٧٥ م

٣- مجمع الزوائد ومنبع الفوائد للحافظ نور الدين علي بن أبي بكر الهيثمي المتوفي سنة ٨٠٧ -بتحرير الحافظين الجليلين : العراقي وابن جحر -جميع الحقوق محفوظة ١٤٠٨ هـ . - ١٩٨٨ م بيروت – لبنان

٤- "Women in Ancient Egypt". *Ancient History Encyclopedia.* *مؤرشف من الأصل في ٣٠ يوليو ٢٠١٩* .اطلع عليه بتاريخ ٠٤ نوفمبر ٢٠١٩. ٢/٩/٢٠٢١

٥- Comments to Ashtadhyayi 3.3.21 and 4.1.14 by Patanja ٢/٩/٢٠٢١

٦- المطهري، مرتضى، الإسلام و إيران، ٢/٩/٢٠٢١

٧- "Marriage، Global Anabaptist Mennonite Encyclopedia، مؤرشف من الأصل في ٢٧ يونيو ٢٠١٢.

٨- المفصل فى تاريخ العرب قبل الإسلام –مؤلف: الدكتور جواد علي (المتوفى: ١٤٠٨هـ)- ناشر: دار الساقي - طبعة: الرابعة ١٤٢٢هـ/ ٢٠٠١م

٩-الترمذی (١٨٩/١) رقم ١٠٥

١٠ترمذی (٤٣٥/١) رقم ٢٢٤

١١صحيح البخاري - مؤلف: محمد بن إسماعيل أبو عبدالله(ج) البخاري الجعفي المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر الناشر: دار طوق النجاة ،الطبعة: الأولى، ١٤٢٢هـ

١٢صحيح بخاری .

١٣سنن البيهقی الكبرىتاليف : أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي ،الناشر : مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد ، الطبعة : الطبعة الأولى ـ ١٣٤٤ هـ

١٤ترمذی .

15الجمع بين الصحيحين (٣٥٣/٢) رقم ١٨١٩
١٦-الجمع بين الصحيحين (٣١٢/٣) رقم
١٧-سنن ترمذی
١٨-أبو داود او امام نووی دمسلم په شرح کې د علماو اجماع رانقل کړی (٣٢/١۴)
١٩-ابن ماجه
٢٠-ابوداود
٢١-ابوداود

**الفت‌الله کوټوال او وحید صافی**
اقتصاد پوهنځی، مالي څانګه
لارښود استاد: عرفان الله ستانکزی

# د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټورتوب د کویډ ۱۹ اغېزې

**لنډیز**
په نړۍ کې کویډ ۱۹ ډېرې روغتیایي ستونزې رامنځته کړي په داسې حال کې چې په نړیوال اقتصاد باندې یې ډېرې اغېزې رامنځته کړي او په دې توګه د روغتیا نړیوال سازمان هم نړیوال بیړنی حالت اعلان کړی ؤ. د کویډ ۱۹ دا منفي اغېزې په ځانګړې توګه په لږو پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو د سوداګرۍ سکتورونو کې خورا مهم دی. له همدې امله، اوسنۍ څېړنه کې هڅه شوې، څو په افغانستان او په ځانګړې توګه ننګرهار کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په فعالیت باندې د کویډ ۱۹ اغېزې و څېړل شي، بله موخه یې داده چې د کویډ ۱۹ اغېزو د کمېدو لپاره د کاروبارونو خاوندان له کومو لارو چارو څخه کار واخلي تر څو کوچني او منځني کاروبارونه ډېر تاواني نشي. د ا چې تراوسه دغه څېړنه په ننګرهار کې چا نه ده ترسره کړې د کویډ ۱۹ د مخه او د وبا په منځ کې په کوچنیو او متوسطو کاروبارونو کې به توپیرونه به روښانه کړي.

نوموړې څېړنه یوه تشریحي او کمي څېړنه ده د نوموړې څېړنې د اهدافو د ترلاسه کولو په موخه به له دوهم لاس کمي معلوماتو څخه استفاده وشي چې نوموړي معلومات به د ننګرهار ولایت د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د مالي صورت حسابونو څخه ترلاسه شي. د موضوع نتایجو د لا ښه روڼتیا لپاره له کمي څېړنې میتودونو له جملې څخه مقایسوي کمي څېړنې(Causal-Comparative) په مرسته د مالي

صورت حسابونو د تحلیل تخنیکونو په اساس تحلیل او هرې برخې د تحلیل نتایج په تشریحي بڼه آرایه شوي.

له همدې امله، دا څرګنده ده چې کویډ ۱۹ په افغانستان کې د ایس ایم اي ایس فعالیت باندې کېدای شي، مثبتې یا منفي اغېزې کړې وي. په دې توګه، اوسنۍ څېړنه د ایس ایم اي ایس د بیا راڅرګندیدو لپاره د فعالو پالیسیو پلي کولو وړاندېز کوي په داسې حال کې چې ایس ایم اي ایس باید پخپله د کویډ ۱۹وبا سره مبارزه جوړه کړي. دا څېړنه به د کاروبار خاوندانو ته د ورته وبا سره د مجادلې لارې روښانه کړي. د پورته څېړنې څېړنیزو موخو لاسته راوړو په موخه دڅېړنې د موضوع اهمیت ته په کتو او تېرو څېړنوته په کتنې، څېړنه او د تحلیلونو پایلې دا څرګندوي چې کویډ ۱۹ ویروس اغېزې کېدای شي د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټې باندې منفي یا مثبته اغېزه کړې وي او همدارنګه څېړنې ښایي چې ځینو لاملونو، ستراتیژیو(لکه انلاین خرڅلاو) او تګلارو په متې کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د کوید ۱۹ اغېزو ته مثبت لوری ورکړي وي.

**کلیدي ټکي**: کویډ ۱۹ ایس ایم اي ایس، د کوچنیو او منځني کاروبارونو ګټورتوب.

**سریزه**

کوچني او منځني کاروبارونه د هېواد په اقتصادي وده او پرمختګ کې اغېزناک رول لوبوي. په ځانګړي ډول په اوسنیو وختونو کې چې دولت نه شي کولای په هره برخه کې پانګونه وکړي او د خلکو لپاره د کاروبار زمینه برابره کړي، نو د کوچنیو کاروبارونو رول ورځ په ورځ ډېرېږي.

کوچني او منځني کاروبارونه د هېواد ګڼ شمېر وګړو له پاره د کاروبار زمینه جوړوي. د ملي اقتصاد موخو ته د رسېدو لپاره مهم ګڼل کېږي. کوچني او منځني کاروبارونه د نړۍ ډېرو هېوادونو ته په پوره کچه د اړتیا وړ لاسته راوړنې او چوپړ تیاوې وړاندې کوي او د یو ځانګړي اهمیت څخه برخمن دي. دا چې افغانستان یو پرمختیایې هېواد دی او د ډېر وخت راهیسې جنګونو او نورو ستونزو له امله دهېواد د اقتصاد ډول ډول برخې تاواني شوي دي چې د نوموړو برخو له ډلې څخه یې یوه مهمه برخه کوچني او منځني کاروبارونه دي.

د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د کوید ۱۹وبا له امله نړۍ کې د بیړني حالت خبر ورکړی و. کوید ۱۹د ۲۰۱۹ په وروستیو وختونو کې د چین په ووهان کې راڅرګند شو او په ټوله نړۍ کې خپور شو چې په انسانانو یې وژونکې اغېزې رامنځته کړ. کوید ۱۹د نړۍ په ټولو هېوادونو اغېزې کړي او ډېری هېوادونو د دننه او بهر د سفر بندیزونه لګولی و په داسې حال کې چې ځینو هېوادونو کې پرې بندیز لږول شوی و.

په ځانګړې توګه، مالي او عملیاتي فعالیت دواړه کم شوي وو په داسې حال کې چې د کرونا ویرس پرمهال د هغه حالت په پرتله چې کرونا په نړۍ کې نه وه، په کاربارونو کې نوښتونه ډېر شوی و په ځانګړې توګه د ایس ایم اي ایس په فعالیت منفي اغېزه هغه وخت ډېرېږي کله چې د کوید ۱۹اغېزې ډېرې شي.

په پایله کې، کوید ۱۹ د روغتیا ویجاړونکو اغېزو سربېره انفرادي اقتصاد او نړیوال اقتصاد دواړه یې ډېر تاواني کړي. په حقیقت کې، راګا (۲۰۲۰) روښانه کړه چې په ۲۰۰۳ کې د ډېر تنفسي سنډروم (SARS) نړیوال تولید ۵۰ ملیارده راټیټ شو، د اوسنۍ وبا اقتصادي لګښت د هر ډول تاریخي وبا په پرتله خورا لوړ او د آسیا پراختیایي بانک (۲۰۲۰) اټکل کړی و چې نړیوال تولید ممکن له ۳۴۷ ملیارد ډالرو

څخه ۷ مليارد ډالرو ته يا د نړيوال ناخالص کورني محصول چې ډې پی ۴٪ څخه ۱٪ ته راښکته شي د پيسو نړيوال وجهي صندوق (ای ايم ايف ) د رپورټ له مخې د کرونا په پايله کې نړۍ ته تر نهه ټريليون ډالر په اندازه تاوان واوښت.

په نړيوال توليد کې کويډ ۱۹ لړوالی د انفرادي هېوادونو څخه هم څرګندېږي او په ځانګړې توګه د لږو پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو پر اقتصاد يې منفي اغېزه کړې ده.. افغانستان د يو پرمختلونکي هېواد په توګه چې د جنوبي آسيا په سيمه کې پروت دی، لومړی د ۲۰۲۰په مارچ کې په هېوادونو کې پر ګرځېدا نيمه يا بېخي محدوديتونه کېښودل شو همدارنګه په ملي او نړيوالو سفرونو هم بنديزونه ولګېدل. له همدې امله، د افغانستان ټول اقتصاد اغېزمن شوی او په ځانګړې توګه د سوداګرۍ سکتور باندې يې اغېزې خورا ډېرې وې.

په افغانستان کې د وبا مخنيوي چارو، په شمول د پولو تړل او د لويو ښارونو بندېدل د دې لامل شوو چې:

- د توليدي اقتصادي فعاليتونو او لښګت له پاره يې لوی خنډونه رامنځته کړل.
- په وارداتو کې خنډونه د دې لامل شو چې د ژوند د تېرولو اړينو توکو نرخونه لوړ شي او دې سره انفلاسيون رامنځته شو.
- په سرحدي برخو کې د خنډونو له امله صادرات لږ شو.
- په پيسو باندې منفي اغېزې.
- د افغانستان په دننه کې يې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو په ګټو هم اغېزه وکړه.

ایس ایم اي ایس د ډېرو هېوادونو د اقتصادي ودې د یو مهم ماشین په توګه پېژندل شوی. په ځانګړې توګه ایس ایم اي ایس د کاري فرصتونو په رامنځته کولو سره د اوزګارتیا کچه راټیټوي په داسې حال کې چې کورنی عاید ډېر وي چې په ټولنه کې د بې وزلۍ کچه او نابرابري لږ وي. سربېره پردې، د ناخالص کورني تولید (جي ډي پي) لپاره د ایس ایم اي ایس نیغ په نیغه ارزښت په ډېری مخ پر ودې هېوادونو کې اړین دي په داسې حال کې چې ایس ایم اي ایس د نړیوال ارزښت لړۍ (چې وي سي) سره تړلي د بهرنیو اسعارو د راوتلو لپاره حساب کوي څېړنه لکه Hofer & Bygrave (1992)، Hyrsky (1999)، Bennet & Dann (2000) او Dzisi (2008)

په پرله پسې ډول ویلي شو چې د سوداګرۍ مهارتونه د ایس ایم اي ایس بریالیتوب لپاره اړین دي. په ځانګړې توګه، ګارټینر (۱۹۸۵)، واندهرورف او برش (۱۹۸۹) او شومپیټر (۱۹۳۹) هم ټینګار کړی وو چې د سوداګرۍ مهارتونه لکه نوښت، د تاوان د لرې کولو وړتیا او د شتمنۍ رامینځته کولو وړتیا د اس ایم اي ایس چلوونکي دي.

د ایس ایم اي ایس تعریف او ویشلو کولو معیارونه په ټولو هېوادونو کې د کارول شویو اړخونو او بنسټونو له مخې توپیر لري. په ځانګړې توګه، په متحده ایالاتو (USA) کې، ایس ایم اي ایس په سکټورونو کې لکه تولید، سوداګري او عمده پلور، کان کیندنې او د تیلو را ویستل باید په ترتیب سره د ۵۰۰، ۱۰۰ او ۱۵۰۰ څخه کم کارګران ولري.(وارډ، ۲۰۱۸).

په مقابل کې، کاناډا څلور ډوله ایس ایم اي ایس پېژندلي دي لکه ډېرې کوچنی یا مایکرو، کوچنی، منځنی او ستر د کارګرانو شمېر پر بنسټ لکه مایکرو (۱-۴)، کوچني (۵-۹۹)، منځنی (۱۰۰-۴۹۹) او ستر (نور) د ۵۰۰ څخه ډېر) (د کاناډا صنعت، ۲۰۱۷). د سریلانکا د صنعت او سوداګرۍ وزارت په وینا. (۲۰۰۲)، سریلانکا د ایس

ایم اي ایس سکټور په دریو کټګوریو مایکرو ،کوچنۍ او منځنیو ویشلي دي، مایکرو کې ۱-۱۰ کوچنۍ ۱۱-۵۰ منځنۍ ۵۱-۳۰۰ کې کاریګر وي .

په افغانستان کې د ای ایس ایم ایې ډي کوچنیو او منځنیو کاربارونو د پرمختیا اداري دغه ډول کاروبارونه په دریو کټګوریو مایکرو یا ډېر کوچني، کوچني او منځنیو وېشلي دي. مایکرو یا ډېر کوچني هغه کاروبارونه دي چې تر لسو پورې کارکوونکي او شتمني یا کلنی عاید یې تر سلو زرو افغانیو پورې ورسېږي. کوچني کاروبارونه هغه دي چې د کارکوونکو شمېر یې د ۱۱ څخه تر ۵۰ پورې وي او شتمي یا کلنی عاید یې تر دریو میلیونو افغانیو پورې وي او منځني کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چې د کارکوونکو شمیر یې د ۵۱ څخه تر ۳۰۰ پورې وي اوشتمني یا کلنې عاید یې تر پنځلس ملیونو پورې ورسیږي.

### د څېړنې موخه

دڅېړنې موخې په لاندې ډول دي:

- د دې څېړنې بنسټیزه موخه په ننګرهار کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټورتوب باندې د کویډ ۱۹اغېزې پېژندل دي.
- بله موخه یې داده چې وبا د اغېزو د لرېدلو یا له منځه وړلو لپاره د کاروبار خاوندانو لخوا ترسره شویو هڅو پېژندل، چې د کاروبار خاوندان په کې بریالي شوي او د کوید ۱۹ اغېزې یې لرې کړې وي.

### د څېړنې پوښتنې

1. کویډ ۱۹ د کوچنیو او منځنیوکاروبارونو په ګټورتوب څه اغېزه لري؟
2. کویډ ۱۹ د اغېزو په وړاندې کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د ګټې خوندي کولو لازمې لارې چارې کومې دي؟

## د څېړنې اهمیت

کوید ۱۹ داسې یوه پېښه وه چې ډېرو هېوادونو په اقتصاد یې ژوره اغېزه وکړه افغانستان هم د دغو منفي اقتصادي اغېزو بې برخې نه وو. د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د کاروبار خاوندان په دې پوه شي چې د کوید ۱۹ په پایله کې د دوي د کاروبارونو په ګټورتوب څومره اغېزه شوې ده او د دغې اغېزې د لږولو لپاره کومې لارې چارې ډېرې اغېز کوونکي دي. د دې څېړنې بل اهمیت دادی چې په نوموړې موضوع په ننګرهار کې مخکې څېړنه نه ده ترسره شوې، نو د کاروبار خاوندان کولی شي چې د دې څېړنې د پایلو څخه په راتلونکي کې کار واخیستل شي او ځان د دغسې وبا لپاره تیارکړي، ترڅو کوچني او منځني کاروبارونه ډېر تاواني نه شي.

## د څېړنې تګلاره (میتودولوژي)

په عمومي ډول اقتصادي څېړنې عموماً د کمي او کیفي اړخونو له مخې څېړل کېږي ،د پورته څېړنې څېړنیزه موخه لاسته راوړو د څېړنې د موضوع اهمیت ته په کتو موضوع د پایلو لا ښه روښتیا لپاره له کمي څېړنې میتودنو له ډلې څخه پرتلیزې کمي څېړنو(Causal-Comparative) په مرسته بانکي حسابونو د تحلیلي تخنیکونو له مخې تحلیل او دهرې برخې د تحلیل پایلې په تشریحي بڼه لیکم. د نوموړې څېړنې د ترسره کولو لپاره له دویم لاس معلوماتو څخه کار واخیستل شي. د یادې څېړنې نفوس د ننګرهار ولایت ټول کوچني او منځنۍ کاروبارونه دي، چې د سوداګرۍ او صنایعو خونې د ۱۳۹۸ زکال د معلوماتو له مخې څرګند او لیکل شوي، له دې امله ( Krejcie او Morgan ) د جدول له مخې زموږ د څېړنې د نمونې اندازه (۲۲) تولیدي کاروبارونه دي چې په عملي ډول په ننګرهار ولایت کې کار کوي لري او خلکو ته جنسونه او چوپړ تیاوې ترسره کوي. همدارنګه د بېلګې ټاکنه د شونې

تګلارې (Probability Method) له مخې د تصادفي بېلګې اخیستې ( Random Sampling) په ډول ترسره شوې، ترڅو وکولی شو د دیټا Normality او Homogeneity فرضیو په اړوند د تحلیل په وخت کې له ستونزو سره مخ نه شو. (دڅېړنو د نفوسو او بېلګې جدول مل شو). په دغه څېړنه کې کوید ۱۹ ازاد متحول او د کوچنیو او منځنیو کاروبارنو ګټورتوب تړلی متحول دی.

**پخوانیو لیکنو ته کتنه**

کله چې د څېړنې موضوع وټاکل شي موخې او څېړنیزه پوښتنه باید روښانه شي. نو څېړونکي په دویم پړاو کې د همدې موضوع په اړه د نورو لیکوالانو لیکنې او اندونه را اخلي. د پخوانیو لیکنو لوستل د څېړونکي سره مرسته کوي، چې ایا دغه موضوع د دې وړ ده چې څېړنه پرې وشي او که، نو غواړو ټولو هغو لیکنو ته یو ځغلنده نظر واچوو چې زموږ د څېړنې د موضوع په اړه په نورو ډول ډول سیمو کې ترسره شوي. او د هغو له پایلو څخه د موضوع دلا ښه کولو لپاره کار واخلو. همدارنګه غواړو په دې برخه کې د څېړنې ګیپ(خالیګاه) څخه هم یادونه وکړو.

په ۲۰۲۰ کال کې په مالیزیا هېواد کې The Covid-19 Pandemic Impaction of Industries Performance: An Explorative Study of Indonesian Companies تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره شوې ده. د دې څېړنې موخه داده چې د کوید ۱۹ اغېزې د کمپنیو په چارو باندې وڅېړي. دغه څېړنه د Case Study په څېر کیفي بڼه لري په دغه څېړنه کې د تصدیو۷ تنه لوړ مدیران په پام کې نیول شوي دي. د باور کچې له پاره د نوموړو ۷ تنو څخه مو د مرکې په څېر پوښتنې کړې او معلومات مو ځنې اخیستي دي، ترڅو یوه ښه پایله تر لاسه کړو. د دې څېړنې پایله دا ښیي چې کوید ۱۹ د نوموړي هېواد په کاروباري کمپنیو په ډېره پیمانه اغېزه کړې.

د نوموړي هېواد د کمپنيو د اومو موادو لږوالی، د خرڅلاو لږ والی، د توليد په کچه کې لږوالی، د غوښتوونکو په فرمايشنو کې لږوالی، همدا رنګه د نوموړي هېواد جنسونو په لېږلو کې د ستونزو سره مخ کېدل، د کمپنيو د کاريګرو د کار وېشل يعنی په ورځ کې دوه وخته د کاريګرو کار کول دکمپنيو د کاريګرو په معاشونو کې د ډېروالي سبب کېدل. څېړونکي وايي چې د کويډ ۱۹ د پايلو په پام کې نيولو سره د مليزيا هېواد په کاروباري تصدئ په لويه کچه اغېزه کړې.

په ۲۰۲۰ زکال کې په مليزيا هېواد کې The Impact of Corona Virus (Covid 19) on E Business in Malaysia ترسرليک لاندې څېړنه په پوټرا پوهنتون کې تر سره شوه. د دې څېړنې موخه په مليزيا هېواد کې د کويډ ۱۹ اغېزې په برېښنايي سوداګرئ باندې څېړي، نوموړي څېړونکي وايي چې د کويډ ۱۹ يوه تاواني ناروغي ده چې د هېواد وګړو ژوند يې په وېره کې اچولی دی او د هېواد اقتصادي پراختيا يې تر اغېزلاندې کړې ده. چې په دې سره د هېواد ټول کاروبارونه يې تر اغېز لاندې کړي دي. په کاروبارونو کې برېښنايي سوداګري هم شته. د دې حالت له مخې غټو پرچون پلرونکو خپل ګودامونه د يو څه وخت لپاره تړلي وو. او کوچنيو او منځنيو پرچون خرڅوونکو د دې حالت سره د مبارزې په خاطر خپل ګودامونه ونه تړل. له ډېرو تاوانونو سره مخ شول، خو برېښنايي کاروبارونو د چېن هېواد په توليدي سامانونو باور درلود. کله چې په چېن هېواد کې کويډ ۱۹ ناروغي خپره شوه، له دې سره د چېن هېواد سامانونه بند شول. او د مليزيا هېواد په برېښنايي کاروبارونو يې اغېزه وکړه نو پايله دا شي چې د چېن هېواد څخه ډېر توليدات راتلل خو دلته صادراتو او وارداتو شتون نه و. ځکه چې په چېن کې کويډ ۱۹ ډېره په تيزئ خپريدله او نورو هېوادونو د چېن په صادراتو او وارداتو بنديز ولګولو، نو له دې سره څېړونکي دې پايلې ته

ورسېده چې کويډ ۱۹ د مليزيا بريښنايي سوداګري اغېزمنه کړې ده. همدا رنګه د دوي د خرڅلاو او ګټې دلړوالي لامل وګرځېده. څېړنې وښودله چې د کويډ ۱۹ د مليزيا هېواد په بريښنايي سوداګرۍ په ډېره کچه اغېزه کړې.

په ۲۰۲۰ ز کال کې په چين کې عارف ډاکټر ابوبکر عبدالحميد له خوا دې سرليک لاندې د چين د توريزم په صنعت باندې د کرونا ويروس (کوويډ ۱۹) اغېزې څېړنې ترسره کړې، په دې څېړنه کې د چين هېواد په ګرځنده تصديو باندې د کويډ ۱۹ اغېزې وڅېړلې. په دې څېړنه کې د دويم لاس شمېرنو څخه استفاده وشوه. په دې څېړنه کې معلومات د نورو څېړنو تيرو ليکنو، مقالو، تيزس او نورو څخه راټول شوي دي. په دې څېړنه کې شمېرنو راټولو له پاره د دويمي لاس د تېرو شمېرو معلومات د تېرو ليکنو په وسيله ټول شوي دي. څېړنه کې دولتي معلومات چې د کويډ ۱۹ اړوند دي ورڅخه کار اخيستل شوی دی. په نوموړي هېواد کې د شمېرنې د څېړل شوې شمېرې په وسيله په ګرځندو تصديود کويډ ۱۹ اغېزې معلومې کړې دي. د دې څېړنې د پايلې څخه ځرګنده شوه چې کويډ ۱۹ په ټوله نړۍ اغېزه کړې ده. د دې خپلواکې تاواني ناورغۍ څخه د چين هېوادد وګړو څخه د نورې نړۍ هېوادونو ويره وه چې دغه ناروغي را نه وړي. د دې ويرې له وجهې نړيوالوسياحت کوونکو د چين هېواد دسياحت څخه ډډه وکړه او د نوموړي هېواد په وګړو يې نورې نړۍ ته په تګ بنديز ولږيده او د دې ناروغۍ په تيزۍ سره خپريدو له مخې د چين هېواد د وګړو ژوند يې له عادي حالت څخه راوګرځوو. د دې ناروغۍ د کنټرول لپاره د چين په هوايي شرکتونو په کورنيو او بهرنيوالوتونو بنديزونه ولګول د دې بنديز له مخې د چين هېواد ګرځنده تصدۍ تر اغېز لاندې شوی. دغه ويروس د چين هېواد اقتصاد ډېر وخت لپاره اغېزمن کړ او له دې سره د نوموړي هېواد ګرځنده تصدي هم د ډېر وخت لپاره

اغېزمه شوې او د نوموړې تصدیو ګټو د لړوالي لامل هم شوې ده. همدارنګه د دوي د ټکټونو د رانیولو څخه خلکو ډډه وکړه او د دوي د ټکټونو د خرڅلاو د لږوالي لامل شو. څېړونکي وايي چې د کویډ۱۹ د چین په هېواد کې رامنځته شوه، نو ډېرى هېوادونو د چین هېواد سره خپل صادرات او واردات بند کړل او د دوي صادرات او واردات اغېزمن شول همدارنګه څېړونکي وايي چې د دوي واردات او صادرات په ډېره پیمانه لږ شول.

په ۲۰۲۰ کال کې په هند هېواد کې (د هندي توریزم صنعت او کویډ ۱۹) سرلیک لاندې څېړنه (پی ایچ ډي څېړونکي) له خوا د هند د پنجاب پوهنتون کې ترسره شوه. نوموړي څېړونکي وايي په نړۍ کې ډېرو هېوادونو ګرځنده تصدۍ د اقتصاد ملا د تیر ځای لري. ګرځېدل د عوایدو ډېروالى او د بهرنیو اسعارو د بدلیدو ستره وسیله ده. څېړونکي وايي زموږ په هېواد کې ځای ګرځندویه ډول ډول نه دي، خو ګرځندویه ویش د دې هېواد د (جي ډي پي) یوه ستره برخه جوړوي. هغه برخه وال چې د دې ګرځنده تصدیو سره اړیکې لري. د هغوي لپاره ډېره اغېزمنه ده. څېړونکي وايي سیاحت کول په ټوله نړۍ کې یواځینې سکتور دی چې د کویډ ۱۹ له مخې ډېر اغېزمن شوی دی. کله چې کویډ ۱۹ د معمول په څېر په ټوله نړۍ کې خپور شو، نو د وګړو ژوند د تاوان سره مخ شو او دغه د کرونا څپه په هند کې څرګنده شوه او د هند په هوټلونو او ګرځنده تصدیو یې اغېز وکړي، د ټولې نړۍ ګرځنده سکتور یې تر اغېز لاندې کړ. هند په نړۍ کې ۷ اووم هېواد دی چې د ګرځنده تصدیو څخه د کال په پای کې میلینونو ګرځندویانو څخه پیسې ترلاسه کوي او د هند د(جي دي پي) یو ستره برخه جوړوي د دې څېړنې پایله دا وه چې د کویډ ۱۹ خپرېدل د هند په هېواد کې هوټلونو ته د ورتګ او هوایي الوتونو ټکټو اخستلو څخه خلکو ډډه وکړه ځکه

چې دغه اداري ډېرې په تاوان کې وې، نو له دې سره څېړونکي وايي د هند هېواد ګرځنده تصدی تر اغېزلاندې شوي. همدا رنګه د دوي د ګرځنده تصدیو په خرڅلاو، ګرځنده تصدیو په ګټه یانې د ګرځنده تصدیو په ګټه او خرڅلاو کې د لړوالی لامل شوي دي.

ډبلیو بارتیک او نورو په ۲۰۲۰ کې ومونډله چې په کوچنیو سوداګریو باندې د کرونا ویروس ناروغي۲۰۱۹ ز(کویډ ۱۹) اغېزې وکتل شي، دوي د ۵،۸۰۰ څخه ډېرو کوچنیو سوداګریو یوه څېړنه د مارچ ۴ څخه د ۲۰۲۰ د اپریل تر ۲۸ پورې ترسره کړه. ډېری موضوعاګانې راڅرګندې شوې، د بحران د رامنځته کېدو سره سم په ډېرو هېوادونو کې ډول ډول بندیزونه کېښودل .

دویم، د بندېدو خطر په منفي ډول د بحران د هیله لرونکي اوږدوالي سره تړاو درلود. سربیره پر دې، سوداګری د کویډ ۱۹ پورې اړوند ګډوډېدو اټکلي مودې په اړه په پراخه کچه ډول ډول باورونه درلودل.

دریم، ډېری کوچني کاروبارونه له مالي پلوه کمزوري دي، منځنی سوداګري چې له ۱۰،۰۰۰ډالرو څخه ډېر میاشتني لګښتونه لري د څېړنې په وخت کې یوازې د ۲ اونی نغدې پیسې په لاس کې وې.

څلورم، ډېری سوداګر پلان لري چې د کرونا ویروس مرستې، ملاتړ او اقتصادي امنیت (کاریس) قانون له لارې اوږدمهال وغواړي. په هرډول، پروګرام ته د لاسرسي په اړه ډېری اټکل شوې ستونزې، لکه اداري ستونزې او د وړتیا رامنځته کولو ستونزې. د تجربوي بدلونونو په کارولو سره، موږ د پورونو پر بنسټ د پروګرامونو په پرتله د پورونو لپاره د اخیستلو نرخونه او د سوداګری انعطاف اغېزې هم ارزو.

پایلې وړاندېز کوي چې د وبا له پیل څخه یواځې څو اونۍ وروسته او د کرونا ویروس مرستې، ریلیف او اقتصادي امنیت (کاریس) قانون له لارې د دولتي مرستې شتون دمخه د کوچنۍ سوداګرۍ ترمینځ د پراخه بې ځایه کېدو لامل شوی و.

روچن ډي اونور .۲۰۲۱ کې دا څرګنده کړې چې په ایس ایم اي ایس باندې د کوید ۱۹بندیزونه لنډې مودې لپاره او منځنۍ مودې لپاره اغېزه، په چین کې د مخکنۍ څېړنې شوي لوی ایس ایم اي بیلګې سره د تلیفون مرکو دوه څپو له مخې ترسره شوې.

د کوید ۱۹ خپرېدل او په پایله کې قرنطین ایس ایم اي ایس ته خورا ډېر تاوان اړولی، د لوژستیکې بلاکونو ستونزو، د کارګرانو کمښت او د غوښتني کمښت له امله، د ۲۰۲۰ ایس ایم اي ایس ۸۰٪ په فبروري کې د مرکو د لومړۍ څپې په وخت کې په لږوخت لپاره وتړل شول. په کوید ۱۹کې له مینځه وړلو وروسته، چارواکو په لویه کچه د اپریل په میاشت کې دقرنطین بندیزونه لږ کړل.

په پایله کې، ډېری ایس ایم اي ایس د مې په میاشت کې د دویم پړاو څېړونې په وخت کې بیا پرانیستل شوي. په هرصورت، ډېری شرکتونه، په ځانګړې توګه صادراتي شرکتونه، په لومړني توګه د لږې غوښتني له امله په ډېر لږ ظرفیت کې روان و. سربېره پردې، شاوخوا ۱۹٪ شامل شوي تصدۍ او ۲۵٪ پخپله ګومارل شوي سوداګرۍ د څېړنې د دوو څپو ترمنځ د تل له پاره وتړل شوې.

څېړنه د ادبیاتو بیاکتنې موندنو له مخې څلور اړخیز فکتورونه (سوداګریز فکتورونه، تخنیکې وړتیا، چاپېریال او د لګښتي ارادې) وړاندېز کوي ترڅو د ګرځنده تادیاتو غوره کولو ننګونو باندې پوه شي. یو پوښتنلیک د ګډونوالو څخه د معلوماتو غوښتلو

لپاره ډیزاین شوی. موندنې څرګندوي چې د سوداګرۍ لامل، په چېن کې د ایس ایم اي ایس تخنیکې وړتیاوې او چاپیریال په مثبت ډول د ګرځنده تادیاتو واک باندې اغېزه کوي. د لګوونکو اراده د ګرځنده تادیې په واک کې نیږدې هیڅ اغېزه نلري. د کوید ۱۹دورې اټکلي اغېزې هم څېړل کېږي.

اینګیداو. (۲۰۲۲). وویل چې، په عمده توګه د دې څېړنې موخه مخ پر ودې هېوادونو، په ځانګړې توګه په ایتوپیا کې د کورونا ویروس د ناروغۍ پرمهال د کوچنې سوداګرۍ ننګونو ښودل دي. په میتودولوژیک ډول، څېړنې د روښانه څېړنې ډیزاین وروسته د ثانوي معلوماتو تحلیل ځای په ځای کړی. برسېره پردې، دا څېړنه د کیفیت او کمېتي څېړنې له لارې ترسره شوې. د ثانوي معلوماتود تحلیل پایلې ښیي چې ډېری کوچني او لوی کاروبارونه دې ننګونو سره مخ دي او د کورونا ویرس دا بې ساري بحران په نړۍ کې د ډېری سوداګرۍ لپاره ویجاړتیا رامینځته کړې او د لږ عاید، دندې له لاسه ورکولو او د ژوند په سستېدو او د بازار موندنې ضعیف فعالیت سره ژوندي پاتې کېدل ننګونکي دي ان د آرام سر او د دوي سوداګرۍ ژوندي ساتل ستونزمن دي. د دې سوداګرۍ د ملاتړ لپاره، دولت باید د شتمنو خلکو او نورو نا دولتي موسسو سره په مرستي ډول ډول میکانیزمونه وکاروي. سربیره پردې، د کوچنۍ سوداګرۍ خاوندان باید هیلي اداره کړي او د دې کرونا ویرس ویره کې د کارمندانو ، وړاندي کوونکو ، بانکونو او پیرودونکو سره اړیکه ونیسي. د لګښتونو لږول د دوي کارمندانو ته د دوي د مالي چارو په اړه بیرته وي او بازار موندنه وساتی ، د دوي محصول وړاندې کولو لپاره ډول ډول بدیلونه وکاروی ، او له بحران څخه روغ رمټ شي.

لومړی انځور د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د مالي حسابونو د تحلیل لنډه پایله

| ګڼه | د کاروبار نوم | کال | ګټورتوب (ROA) | ګټورتوب (ROE) | Year | ګټورتوب (ROA) | ګټورتوب (ROE) | په نسبت کې تغیر (٪) | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د کویډ ۱۹ نه مخکې دوره (1398) | | | د کویډ ۱۹ په دوران کې (1399) | | ROA | ROE |
| 1 | هارون درویش تولیدي شرکت | 1398 | 0.029 | 0.03 | 1399 | -0.026 | -0.025 | 5.5 | 5.5 |
| ۲ | ادریس سهیل الکوزی د وینځوونکو توکو تولیدي شرکت | 1398 | 0.037 | 0.038 | 1399 | -0.002 | -0.002 | 3.9 | 4 |
| 3 | الفجراسپغولو تولید او بسته بندی شرکت | 1398 | 0.043 | 0.044 | 1399 | 0.02 | 0.021 | 2.3 | 2.27 |
| 4 | افتخار افغان وینځوونکو توکو تولیدی شرکت | 1398 | 0.023 | 0.024 | 1399 | 0 | 0 | 2.3 | 2.4 |
| 5 | افغان چمن د یخ جوړولو او ایسکریم تولیدي شرکت | 1398 | 0.012 | 0.014 | 1399 | -0.075 | -0.08 | 8.7 | 22 |
| 6 | شرکت مرغداري افغان دوست | 1398 | 0.009 | 0.009 | 1399 | 0 | 0 | 0.9 | 0.9 |
| 7 | امان امن د وینځوونکو توکو تولیدي شرکت | 1398 | 0.073 | 0.074 | 1399 | 0.004 | 0.005 | 6.9 | 6.9 |
| 8 | جاوید ریاض د خوراکي توکو تولیدي شرکت | 1398 | 0.022 | 0.023 | 1399 | 0.007 | 0.008 | 1.5 | 1.5 |
| 9 | حاجي مراد شینواري خرادی تخنیکي انجنیرینګ شرکت | 1398 | 0.007 | 0.007 | 1399 | 0.003 | 0.003 | 0.4 | 0.4 |
| 10 | خالد لزیزد غیر الکولي مشروباتو بسته بندي خوراکي توکو تولیدي شرکت | 1398 | 0.014 | 0.014 | 1399 | 0.002 | 0.002 | 1.2 | 1.2 |
| 11 | بیروج تعمیراتي رنګ تولیدي شرکت | 1398 | 0.058 | 0.058 | 1399 | 0 | 0 | 5.8 | 5.8 |
| 12 | زاهد اکرم د تعمیراتي رنګونو تولیدی شرکت | 1398 | 0.038 | 0.038 | 1399 | 0.014 | 0.013 | 2.4 | 2.5 |
| 13 | ودیر د زراعتي تخمونو تولید شرکت | 1398 | 0.048 | 0.05 | 1399 | 0.029 | 0.032 | 1.9 | 1.8 |
| 14 | شمشاد رحمن سنګ مرمر تولیدي شرکت | 1398 | 0.055 | 0.055 | 1399 | 0.023 | 0.024 | 3.2 | 3.1 |
| 15 | عرفان ستیل میل تولیدي شرکت | 1398 | 0.032 | 0.033 | 1399 | 0.02 | 0.021 | 1.2 | 1.2 |
| 16 | قدرت د ایودین مالګي تولیدي شرکت | 1398 | 0.038 | 0.039 | 1399 | 0.022 | 0.023 | 1.6 | 1.6 |
| 17 | کوهستاني پلاستیکي توکو تولیدي فابریکه | 1398 | 0.009 | 0.0091 | 1399 | 0.001 | 0.006 | 0.8 | 0.31 |
| 18 | مردان ابزار د وینځوونکو تولیدي شرکت | 1398 | 0.029 | 0.03 | 1399 | 0.026 | 0.025 | 0.3 | 0.5 |
| 19 | د وحدت افغان د غیرالکولي مشروباتو او بسته بندي خوراکي توکو تولیدي شرکت | 1398 | 0.0091 | 0.0092 | 1399 | 0.0053 | 0.0054 | 0.38 | 0.38 |
| 20 | ودیرساختمانی شرکت | 1398 | 0.046 | 0.059 | 1399 | 0.022 | 0.028 | 2.4 | 3.1 |
| 21 | فرید احسان خوراکي توکو تولیدي شرکت | 1398 | 0.051 | 0.064 | 1399 | 0.028 | 0.036 | 2.3 | 2.8 |
| 22 | مقدس ستیل ملز لمیتډ | 1398 | 0.037 | 0.0037 | 1399 | 0.022 | 0.022 | 3.5 | 0.15 |

**مناقشه**

څرنګه چې د څېړنې موخه  د  کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټورتوب باندې د کویډ ۱۹ داغېزوڅېړنه ده نوموخه ته د رسیدو په موخه چې د غوره  شویو کوچنیو او منځنیو کاروبارونو څخه راټول شوي معلومات د مالي نسبتونو له ډلې څخه د دګټورتیا نسبتونو په له مخې د تحلیل او د تفسیر پایلې لنډیز را څرګندوي چې د کویډ ۱۹ څخه د مخه په ننګرهار ولایت کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د شتمنیو په له مخې د ګټورتوب تر ټولو ټیټه اندازه ۰،۰۰۹او تر ټولو لوړه اندازه ۰۷۳.۰ ده او د کویډ ۱۹ د مخه پانګې له مخې د ګټورتوب تر ټولو ټیټه اندازه  ۰۰۹۱.۰  او تر ټولو لوړه اندازه ۰۷۴.۰. همدا رنګه د څېړنې په تحلیل کې د کویډ ۱۹ په دوران کې د شتمنیو له مخې د ګټورتوب تر ټولو ټیټه اندازه (۰۷۵.۰ ) او د ګټورتوب تر ټولو لوړه اندازه ۰۲٦.۰ ده. همدا رنګه د کویډ ۱۹ په دوران کې د پانګې په اساس د ګټورتوب تر ټولو ټیټه اندازه (۰۲۵.۰) او تر ټولو لوړه اندازه ۰۳٦.۰ ده، نو که چېرې ترسره شوې څېړنه د

نورو څېړنو یعنې هغه څېړنې چې موږ د هغوي د تېرو لیکنو څخه کار اخیستل شوی پرتله کړو، نو لومړی څېړنه په ۲۰۲۰ کال کې په چین هېواد (دچین په ګرځندویه صنعت باندي د کویډ ۱۹ اغېزي) تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره شوه. نوموړي څېړنې پایله دا ده چې کویډ ۱۹ ددوي په ګرځندویه تصدیو باندې په ډېره کم اغېزه کړی همدارنګه زموږ څېړنې هم دا وښودله چې د ننګرهار ولایت تولیدي کاروبارونه د کویډ ۱۹ له مخې په ډېره کم اغېزمنې شوي دي او همدارنګه د چین په هېواد کې د کویډ ۱۹ د ګرځندویه تصدیو د ټکټونو په خرڅلاو باندې هم اغېزه کړې وه او د دوي د ټکټونو د خرڅلاود لړوالي سبب شوی و. که موږ خپلې څېړنې ته وګورو نو زموږ څېړنې هم دا وښودله چې کویډ ۱۹ د ننګرهار ولایت د تولیدي تصدیو د خرڅلاو د لړوالي لامل شوی دی. د چین په هېواد کې د ګرځندویه تصدیو باندې کومه څېړنه ترسره شوې ده هلته هم د کویډ ۱۹ له مخې د دوي د ګټې د لړوالی لامل شوی دی او زموږ څېړنې هم دا وښودله چې د ننګرهار ولایت د تولیدي تصدیو په ګټه هم کویډ ۱۹ اغېزه کړې او د تصدیو د ګټې لړوالي لامل شوی دی.

همدارنګه د ملیزیا په هېواد کې The Impact of Covid-19 on E Commerce in Malaysia سرلیک لاندې څېړنه ترسره شوې ده. نوله دې څېړنې سره غواړم چې ترسره شوې څېړنه پرتله کړم. نو د نوموړی څېړنې پایله دا ده چې د ملیزیا هېواد بریښنایي سوداګري د اخیستونکي د لړوالی لامل شوې ده همدارنګه زموږ څېړنې هم دا وښودله چې د کویډ ۱۹ د ننګرهار ولایت د تولیدي کاروبارونو د اخیستوونکو د لړوالي لامل شوی دی . په ملیزیا هېواد کې چې په بریښنایي سوداګرۍ باندې کومه څېړنه ترسره شوې ده هغې کې هم ښودل شوي چې کویډ ۱۹ د دوي بریښنایي سوداګرۍ د خرڅلاو لړوالي لامل شوی د ی.

همدارنګه که د هند هېواد څېړنې ته وګورو کومه چې (د هند ګرځندویه صنعت او کوید ۱۹) ترسرلیک لاندې ترسره شوې ده هلته هم په خرڅلاو او ګټه کې لړوالی راغلی و زموږ څېړنې پایله هم دا ښایي چې کوید ۱۹ د تولیدي تصدیو د خرڅلاو او ګټې د لړوالي لامل شوی دی.

همدارنګه په اندونیزیا هېواد کې The Covid-19 Pandemic Impaction on Industries Performance: An Explorative Study of Indonesian Companies ترسرلیک لاندې څېړنه سره شوې ده . نوموړې څېړنه ښیي چې د اندونیزیا هېواد کاروباري کمپنیو په خرڅلاو باندې کوید ۱۹ اغېزه کړې ده او د دوي د خرڅلاو د لړوالي لامل شوی دی او که موږ خپلې څېړنې ته وګورو نو زموږ څېړنه هم ښیي چې ننګرهار ولایت د تولیدي تصدیو په خرڅلاو یې هم اغېزه کړې ده. همدارنګه نوموړې څېړنه ښیي چې د اندونیزیا هېواد د کاروبارونو په تولید، اخیستوونکو او کاریګرو باندې کوید۱۹ اغېزه کړې او په ډېره پیمانه یې لړوالی کړی ، همدارنګه زموږ څېړنې هم وښودله چې کوید ۱۹ د ننګرهار ولایت د تولیدي تصدیو په تولید، اخیستوونکو او کاریګرو باندې هم اغېزه کړې ده چې کابو پایله یې یو شان ده.

**پایله**

دغه څېړنه دکوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټورتوب د کوید ۱۹ اغېزې څېړي. د کوچنیو او منځنیو کاربارونو د ګټورتوب په اړه اړین معلومات د نوموړو کاروبارونو د بانکي حسابونو څخه ترلاسه شوي او بیا د کوید ۱۹ اغېزې د نوموړو کاربارونو په ګټورتوب د څېړلو لپاره د ګټورتوب نسبتونه د یوې وسیلي په توګه کارول شوي د ګټورتوب د نسبتونو د تحلیل په پایله کې مو ځینې مهمې پایلې وموندلې، لومړی دا

چې کوید ۱۹ د تولیدي کوچنیو او منځنیو کاروبارونو تولیدي پروسه ټکنی کړې ده چې نیغ په نیغه د تولیداتو د بازار غوښتنې سره تړاو ساتي.

له دې امله ویلی شو چې کوید ۱۹ د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ګټه هم اغېزمنه کړې ده چې د څېړنیزې شمېرې د تحلیل څخه دغه اغېزې ډېرې منفي دي یعنې په ډېره کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د ګټې د لږوالي سبب شوی دی. همدارنګه څېړنې څرګنده کړه چې د کوید ۱۹ ناروغۍ په دوران کې د کاروبارونو پرمختګ هم په ټپه ولاړ و دغه پرمختګ هم مالي او هم غیر نا مالي اړخونو ته نوتی شي.

کوید ۱۹ ناروغي دتولیدي تصدیو په خرڅلاو کې د لږوالي لامل شوی دی او د دوي خرڅلاو یې هم تر اغېزې لاندې کړی دی.

کوید ۱۹ د تولیدي کاروبارونو د کاریګرو د لږوالي لامل هم شوی دی او همدارنګه د تصدیو صادراتو د لږوالي سبب هم شوی دی. همدا رنګه د عوایدو د لږوالي له امله د کاروبار خاوندان دېته اړشوي چې د کاروبارونو د عملیاتي لګښتونو د پوره کېدلو لپاره کاروبار ته ډېری خپله پانګه راوړي، ترڅو کاروبار د بندېدو مخنیوی وشي. په دغه څېړنه کې د کاروبارونو د بانکي حسابونود تحلیل څخه څرګندېږي چې د کوید ۱۹ د مخه د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د شتمنیو له مخې ګټورتوب او پانګې له مخې ګټورتوب کچه ډېره ده، مګر د کوید ۱۹ په دوران کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د شتمنیو له مخې ګټورتوب او د پانګې له مخې ګټورتوب کچه لږه ده.

که چېرې د منځنیو او کوچنیو کاروبارونو د بانکي حسابونو څېړنې ته وګورو نو ویلی شوی چې د کاروبارونو Return on Assets او Return on Equity د کوید ۱۹

په جریان کې لږ دي، خو کله چې کوید ۱۹ نه و نو دغه دواړه نسبتونه ډېر دي او که چېرې د کوید ۱۹ د مخه او د کوید ۱۹ په جریان کې د نسبتونو د څېړنې څخه د نسبت بدلون ته وګورو، نو ویلی شوچې بدلون یې منفي دی، مانا دا چې د کوید ۱۹ په جریان کې ګټورتوب لږ شوی دی.

**وړاندیزونه**

د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د بانکي حســابونو د څېړني په پایله کې د نوموړو کاروبارونو د ودې او پرمختیا له‌پاره لاندې وړاندیزونه لرو:

1. دا چې کوید ۱۹ په کوچنیو او منځنیو کاروبارونو باندې په ټوله نړۍ کې منفي اغېزه کړې په ځانګړي ډول په تولید یې (پرته له طبي) منفي اغېزه کړې همدارنګه ګورو چې ننګرهار ولایت کې هم کوید ۱۹ د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټورتوب منفي اغېزه کړې، نو د افغانســتان دولت باید په کوچنیو او منځنیو کاروبارونو باندې مالیات کم کړي، ترڅو دوي وکولی شي چې خپلې تولیدي چارې جاري وساتي.
2. په دغه څېړنه کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د بانکي حسـابونو له څېړنې څخه معلومه شــوه چې د کوید ۱۹ په جریان کې د نوموړو کاروبارونو ګټورتوب کم شوی دی، نو د افغانستان دولت باید په دغسې حالتونو کې د کاربارونو ملاتړ وکړي.
3. دا چې کوید ۱۹ او دېته ورته افتونو کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په فعالیت منفي اغېزه کړې، نو دغســې حالتونو کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو خاوندانو ته په کار ده چې نوره پانګه هم ولري، ترڅو د نه خرڅلاو یا لږ خرڅلاو په وخت کې د کاروبارونو عملیاتي لګښتونه پوره کړي.

4. لکه څرنګه چې پوهیږو د کو یډ ۱۹ او دېته ورته ناروغیو په دوران کې سرحدونه بندېږي، نو د افغانستان دولت ته په کار دي چې په دغسې حالتونو کې تولیدي کاروبارونو ته اومه موادو تهیه د هېواد په داخل کې برابر وکړي ترڅو د سرحداتو د بندېدو په صورت کې دوي تاواني نه شي.
5. د افغانســتان دولت ته په کار ده چې تولیدي کاروبارونو ته داســې امکانات برابر کړي، ترڅو د دغسې بحران څخه په امن کې شي.
6. د افغانســتان دولت دې د کوچنیو اومنځنیو کاروبارونو د هڅولو له پاره د کورنیو تولیداتود پیرودلو او پلورلو زمینه هم په کور دننه او هم په بهر کې چمتو کړي، څو د نوموړو کاروبارونو عواید او ګټه ډېره شي او په دغســې بحراني حالاتو کې ترې کار واخیستل شي.

**اخځلیکونه**


۱- اقتصاد جهان در معرض خطر، مؤسسه عالی پژوهش تأمین اجتماعی، سال ۱۳۹۸ هـ ش، تهران.
۲- حبیبي، عنایت.( ۲۰۱۶ز).د کوچنیو او منځنیو کاروبارونوپه وړاندې ستونزې اوحل لارې: ننګرهار، مومند خپروندیه ټولنه.
۳- دصنایعو او تجارت وزارت .(۲۰۱۵ز). داقتصادي ودې او پرمختګ لپاره اقتصادي پالیسیانې.
۴- سروش، عبدالکریم.(۱۳۹۵). دغریبۍ او بېکارۍ په لړوالي کې دکوچنیو او منځنیو کاروبارونو رول.
۵- شعل، مجیب.(۱۳۹۲ز). په افغانستان کې دکوچنیو او منځنیو کاروبارونو وده او منطقوي تجارت ،کابل: AREU

٦- شیرازي، حبیب .(۱۳۹۰ز). د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو رول د ایران په اقتصاد بانديې، ایران.

7-Abdullah، M. H. (2021). SMEs' Development in Afghanistan: Issues and New Management Perspectives. *Management*، *9*(4)، 295-333.

8-Aftab، R.، Naveed، M.، & Hanif، S. (2021). An analysis of Covid-19 implications for SMEs in Pakistan. *Journal of Chinese Economic and Foreign Trade Studies*.

9-Gourinchas، P. O.، Kalemli-Özcan، Ş.، Penciakova، V.، & Sander، N. (2021، May). COVID-19 and Small-and Medium-Sized Enterprises: A 2021" Time Bomb".

10-In *AEA Papers and Proceedings* (Vol. 111، pp. 282-86).

Gourinchas، P. O.، Kalemli-Özcan، Ş.، Penciakova، V.، & Sander، N. (2021، May). COVID-19 and Small-and Medium-Sized Enterprises: A 2021" Time Bomb".

11-In *AEA Papers and Proceedings* (Vol. 111، pp. 282-86).

Haroon، M.، & e Haq، N. (2017). *Challenges and Opportunities of Small and Medium Enterprises (SMEs) Operations in Afghanistan* (Doctoral dissertation).

12-Otache، I. (2020). The effects of the Covid-19 Pandemic on the Nigeria's economy and possible coping strategies. Asian Journal of Social Sciences and Management Studies، 7(3)، 173-179.

13- Sun، T.، Zhang، W. W.، Dinca، M. S.، & Raza، M. (2021). Determining the impact of Covid-19 on the business norms and performance of SMEs in China. *Economic Research-Ekonomska Istraživanja*، 1-20.

14- Sun، Y.، Zeng، X.، Zhao، H.، Simkins، B.، & Cui، X. (2022). The impact of COVID-19 on SMEs in China: Textual analysis and empirical evidence. *Finance Research Letters*، *45*، 102211.

15- Warsame، A. A. (2020). The impacts of COVID 19 on small and medium enterprises. *European Journal of Business and Management*، *12*(25)، 96-106.

**وحید صا فی**
اقتصاد پوهنځی، مالي څانګه
لارښود استاد: عرفان الله ستانکزی

# په انلاین سوداګرۍ کې د افلاس لاملونه (ننګرهار)


## لنډیز

انلاین تجارت (Online Trading) یوه نړیواله پدیده ده چې د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې سرته رسیږي او لکه څرنګه چې په تېره لسیزه کې افغانستان د چټک پرمختګ شاهد و نو دې تجارت افغانستان ته هم سرایت وکړ.

دا چې دا تجارت نظر نورو ته ظاهراً ډېر ساده او آسانه ښکاري، نو په لومړي سر کې يې د زیاتو خلکو توجه جلب کړه او په ننګرهار کې زیاتې سرمایه ګذارۍ صورت په کې نیولی. په انلاین مارکېټ کې د مختلفو اسعارو، اسهامو او اجناسو پیر او پلور تر سره کیږي، خو د اسعارو (Forex) مارکېټ يې عموماً د زیاتو معاملاتو شاهد وي. څرنګه چې دغه مالي مارکېټ په نړۍ کې تر ټولو زیات سیالیت درلودونکی مارکېټ دی او هره ورځ پکې په بیلیونو معاملات سرته رسیږي، نو ځکه خو یو ډېر بې ثباته مارکېټ بلل کیږي، چې دې چارې په مارکېټ کې زیات فرصتونه او تر څنګ يې زیات خطرات زیږولي دي. په عمومي ډول په ننګرهار کې د دغه تجارت کاروباریان خوښ ندي او اکثراً د تاوان سره پکې مخ کیږي، نو هغه ننګرهار میشته انلاین تجارت کوونکي چې د دې کاروبار څخه ناخوښه او یا هم تاواني دي به و پوښتۍ چې د دوي د ناخوښۍ او تاواني کېدو عوامل څه دي او ولې دوي په دې مارکېټ کې ځانونه ناکام بولي، تر څو د څېړنې هدف ته ورسیږو او هغه عوامل په ګوته کړو چې خلک د تاوان سره مخ کوي.

**کلیدي کلمات**: انلاین تجارت، تاواني کېدل، ننګرهار، Forex، Broker، Commodity Market.

**سریزه**

انلاین تجارت په ساده الفاظو سره عبارت دی د شتمنیو رانیول او خرڅول د هغه مالي اداراتو په واسطې سره چې د انټرنیټي اساس درلودونکې وي.

په دې بازار کې ډول ډول شتمنۍ شته چې عبارت دي له قیمتي فلزاتو، اسعارو، اسهامو، اجناسو، قیمتي اوراقو او داسې نورو څخه، پاتې دې نه وي چې د دې بازار هره شتمني ځان ته خاص (Platform) جوړښت لري.(35، 1) څرنګه چې پورته اشاره شوې چې د انلاین تجارت بازار ډېر پراخ او لوی دی، نو موږ هم نظر خپلې جامعې ته په دې بازار کې د اسعارو او اجناسو اړوند انلاین تجارت کې د خلکو له افلاس سره مخ کېدلوعوامل تر څېړنې لاندې نیسو.

انلاین د اسعارو بازار چې FX،forex او یاهم Spot FX ورته ویل کېږي د نړۍ تر ټولو لوی ترین د اسعارو نړیوال انټرنیټي بازار دی چې په تقریبي لحاظ سره روزمره د 5.3 تریلیونه امریکایي ډالرو په حجم سره معاملات په کې ترسره کېږي.(35، 1)

په انلاین تجارتي بازار کې د اسعارو د معاملاتو حجم نسبت د اسهام، قیمتي اوراقو او نورو شتمنیو درې چنده زیات دی، نو په همدې خاطر نسبت نورو شتمنیو ته په اسعارو کې ګټه او تاوان هم زیات دی.

نظر نورو مالي مارکېټونو ته لکه د نیویارک د اسهامو بازار چې مرکزي فزیکي موقیعت درلودونکی دی د FOREX مارکېټ نه فزیکي او نه هم مرکزي موقیعت لري.(35، 2)

د FOREX مارکېټ یو بین البانکي (Interbank) مارکېټ دی، څکه نو په دې بازار کې ټول معاملات په الکترونیکي یا هم انټرنیټي طریقې سره د بانکي شبکو په واسطه سره 24 ساعته پر مخ وړل کیږي.

دغه مارکېټ په هفته کې پنځه ورځې د دوشنبې څخه بیا د جمعې تر ورځې پورې 24 ساعته فعالیت لري.

تر 1990 م کال تر وروستیو پورې په دې مارکېټ کې یوازې لویوسرمایه دارانو چې تقریباً د لسو څخه تر پنځوس میلیونه امریکایي ډالرو پورې سرمایه درلوده کولای شول چې په دې مارکېټ کې فعالیت وکړي، مګر نن په دې مارکېټ کې د فعالیت شرایط دومره اسانه شوي دي چې د نړۍ په هرګوټ کې یو کس د انټرنیټ، کمپیوټر یاهم موبایل اولږې سرمایې په لرلو سره فعالیت کولای شي.1)،(35

شکل 1 : د لویو مارکیټونو د فعالیت وخت




Source: forex trading 15 minute turbocourse ultimate collection، breaking the biggest forex myth

په FOREX مارکېټ کې ټول معاملات په مختلفو وختونو کې د څلورو مرکزونو په واسطې سره چې هغه عبارت دي د نیویارك،توکیو، سیډني او لندن څخه چې 24 ساعته پر مخ وړل کیږي.

په FOREX مارکېټ کې د زیاتو هېوادونو پیسې تبادله کېږي مګر د ځینو مشهورو هېوادونو پیسې نظر د معاملاتو حجم ته په کتلو سره نسبتا زیاتې تبادله کېږي چې عبارت دي له:(1:35).

شکل ۲ په forex مارکېټ کې د مختلفو اسعارو د معاملاتو حجم




Source: BIS TRIENNIAL SURVEY 2007

په FOREX مارکېټ کې د اسعارو د تبادلې پر محال کمیشن نشته او نه هم د رانیونکي او خرڅونکي ترمینځ منځګړی شخص وجود نه لري.

په دې مارکېټ کې د عامو اشخاصو علاوه کمپنۍ، بانکونه او نور مالي ادارات هم د پیسو اړوند تبادله کوي چې دا د اسعارو په مارکېټ کې د نرخونو د بې ثباتۍ لامل ګرځېدلي دي.(1)،(35).

جدول 1 په FOREX مارکېټ کې د بانکونو د سهم سلنه(فیصدي).

| درجه بندي | | بانک | درجه بندي | |
|---|---|---|---|---|
| 2017 | 2016 | | 2017 | 2016 |
| 1 | 1 | CITI | 10.74% | 12.93% |
| 2 | 2 | JPMORGAN | 10.34% | 8.79% |
| 3 | 3 | UBS | 7.56& | 8.78% |
| 4 | 5 | BANK OF AMERICA MERRILL LYNCH | 6.73% | 6.41% |
| 5 | 4 | DEUTSCHE BANK | 5.68% | 7.88% |
| 6 | 8 | HSBC | 4.99% | 4.57% |
| 7 | 6 | BARCLAYS | 4.69% | 5.68% |
| 8 | 7 | GOLDEN SACHS | 4.43% | 4.66% |
| 9 | 15 | STANFORD CHARTERED | 4.26% | 1.82% |
| 10 | 11 | BNP PARIBAS | 4.73% | 3.06% |

source:https://www.euromoney.com/article/b1348tjhnv7h99/euromoney-fx-survey-2017-results-released

د اجناسو مارکېټ (Commodity Market) د یو خیالي او یاهم فزیکي بازار څخه عبارت دی چې اولیه اجناس په کې پلورل اوپیرل کېږي چې د نړۍ په سطحه تقریبا 50 د اجناسو مارکېټونو په 100 اولیه اجناسو کې د سرمایه ګذارۍ زمینه برابره کړې ده.(2)،(35).

په دې مارکېټ کې اجناس پر دوو خاصو برخو ویشل شوي دي:

سخت اجناس_(Hard Commodities)_: هغه اجناس دي چې د طبیعت څخه د معدن په شکل لاس ته راځي لکه سره زر، سپین زر، ربړ، تیل او داسې نور.2)،(35

نرم اجناس (Soft Commodities) : د زراعتي اجناسو او مالدارۍ څخه عبارت دي لکه جواري، اوړه، قهوه، بوره، غنم، پسونه، غوایان او داسې نور.2)،(35

د لومړي ځل لپاره انلاین تجارت په 2010 کال کې په مرکزي ولایت کابل کې رامنځته شو چې انفرادي اشخاصو د خارجي مالي ادارو (Brokerage) په واسطه ترسره کاوه او د ننګرهار ولایت هغه اشخاصو چې په انلاین تجارت کې سرمایه ګذاري کړې وه د ټیلیفون له لارې خپل معاملات سرته رسول.2)،(35

وروسته په 2016 کال کې د لومړي ځل لپاره په کابل کې او لنډه موده وروسته په ننګرهار ولایت کې ویژن مالي ادارې (Vision financial services) په فعالیت رسماً پیل وکړ، د دې ترڅنګ دغه اداره د هېواد په نورو لویو ولایاتو کې هم خپل خدمات وړاندې کوي.2)،(35

ویژن مالي اداره د سرو زر، تیلو، په ځینو اسهامو او اسعارو کې مالي خدمات وړاندې کوي او د دې ترڅنګ خلکو ته د انلاین تجارت د زده کړې کورسونه هم دائیروي.

**د څېړنې ستونزه**

دا چې دا تجارت په ظاهره ډېر اسانه ښکاري او د پیل لپاره یې لږې سرمایې ته ضرورت شته او د بې کارۍ د کچې د لوړوالي له وجهې په ننګرهار ښار کې د ډېرو

خلکو د پام وړ وګرځېده او خلکو سرمایه ګذارۍ په کې وکړې خو اکثرو یې په لنډه موده کې خپله سرمایه له لاسه ورکړه او نور یې سرمایه ګذارۍ ته زړه نه ښه کوي.
په عیني وخت کې په انلاین تجارت کې د اکثریت خلکو تاوان د سرمایه ګذارۍ اړونده منفي ذهنیت خپور کړ چې د انلاین تجارت لپاره د نوې سرمایه ګذارۍ مخه ډب شوه.

**د څېړنې موخې او سوالونه**

- په انلاین تجارت کې د اکثره خلکو د تاواني کېدو دلیل په څه کې دی ؟
- په انلاین تجارت کې کوم فکتورونه د خلکو د تاوان سبب ګرځي؟
- کوم قسمه لارې شته چې د خلکو د تاوان مخنیوی وکړي او د ګټې سبب وګرځي؟

دا هغه سوالونه دي چې زموږ د څېړنې هسته جوړوي او دې سوالونو ته باید ځواب وویل شي چې د دې سوالونو د ځواب موندلو لپاره موږ دا څېړنه سرته رسوو.

**څېړنې ته اړتیا**

دا چې فعلا په ننګرهار ولایت کې د پولي سرمایې کمښت او د دچټکې ګټې یوازینی فرصت چې عام خلک یېویني هغه د FOREX مارکېت دی مګر د زیاتو خلکو د تاوان له وجهې عام خلک زړه نه ښه کوي چې سرمایه ګذاري وکړي، نو فلهذا اړینه ده چې د خلکو د تاوان لامل پیدا شي او ترڅنګ یې د ګټې لپاره حل لاره پیدا کړل شي، څو عام خلک بیا سرمایه ګذاري وکړي.
د یو ملک پرمختګ د دوامداره سرمایه ګذارۍ سره تړلی دی، نو لازمه ده چې دا جریان کې باید خنډ پینښ نشي او هغه عوامل چې د سرمایه ګذارۍ په وړاندې د عام

ولس د روحیې د کمزورتیا لامل کېږي باید په نښه شي او معقوله حل لاره یې پیدا شي.

**د څېړنې میتود**

دغه څېړنه په انلاین تجارت کې د خلکو د افلاس سره مخ کېدلو عوامل څېړي نو فلهذا دغه یوه میداني څېړنه بلل کېږي، د دغو عواملو د پیدا کولو لپاره زموږ ډاټا(مواد) یا هم معلومات اولیه او دویمي شکل لري چې د پوهنتلیک ،کتابونو، مجلو او د مختلفو انټرنیټي سرچینو څخه مو ترلاسه کړي دي.

په دې څېړنه کې موږ نمونه د غیرې احتمالي نمونه ګیری (Non-Probability Sampling) په اساس سره ټاکلې ده چې اولیه معلومات د Snow Ball Sampling د لارې جمع کړي دي.

۳. شکل Snow ball




source:https://encryptedtbn2.gstatic.com/images?q=tbn%3aand9gcsvqw2nvdeu9qt1qkwhjb7me7cvcslpwsywluochz4vw_hrhnjk

په دې تګ لاره کې موږ د یو بر حاله انلاین تجارت کوونکي څخه د پوښتنلیک په ذریعه پوښتنې کوو او وروسته د هم دغه کس په واسطه نور د انلاین تجارت کاروباري اشخاصو په لټه کې کیږو ترڅو زموږ پوښتنو ته ځواب ووایي او د څیړنې نمونه پوره کړي، چې دغه پوښتنلیکونه زموږ اولیه معلومات جوړوي او په تحلیل کې را سره مرسته کوي.

### د څیړنې ساختمان

دغه څیړنه په عمومي ډول څلور برخې لري، چې په لومړۍ برخه کې یې د څیړنې د پیژندنې اړوند اووه فرعي موضوعات تر څیړنې لاندې نیولي دي.

- مقدمه
- د انلاین تجارت لنډه تاریخچه
- د څیړنې ستونزه
- د څیړنې موخه او سوالونه
- څیړنې ته اړتیا
- د څیړنې رویش
- د څیړنې ساختمان

دویمه لویه برخه یې د څیړنې د تیوریکي شالید څخه عبارت ده او پر لاندې څلورو موضوعاتو یې خاصه توجه کړې ده.

### تیرو څیړنو ته کتنه

د انلاین تجارت اړوند د اصطلاحاتو او مفاهیمو بیانول.

په انلاین تجارت کې د خلکو د تاواني کېدلو احصائیوي ارقام.

د څېنو مشهورو انلاین تجارت کوونکو سوانح.

دریمه لویه برخه کې د څېړنې علمي تحلیل او کړنلاره په مفصل ډول سره بیانیږي او لاندې دوه فرعي موضوعاتو ته خاصه توجه په کې شوې ده.

- د معلوماتو راټولونه
- د پوښتنلیک جوړښت

د څېړنې په څلورمه برخه د پوښتنلیک له لارې د راټولې شوې ډاټا(مواد) تحلیل او ارزونه کېږي.

او پایله باندې تمرکز کوي او د څېړونکي وړاندیزونه پکې وړاندې کېږي او همدارنګه په دې برخه کې هغه اخځلیکونه وړاندې کېږي چې په څېړنه کې ورڅخه استفاده شوې ده.

**تېرو څېړنو ته کتنه**

د :TRADING IN THE FOREIGHN EXCHANGE MARKET (FOREX) A STUDY ON PURCHASE INTENTION عنوان لاندې څېړنه په 2014 کال د MARCH په میاشت کې د مسعود نسیمي، یاشاسازم، اسفران جان، علي رضا کشورزما او فاطمې برادري لخوا د مالیزیا هېواد په کولا لامپور ښار کې ترسره شوې ده.(4)، (35)

هدف یې دا وو چې په دغه ښار کې په FOREX مارکېټ کې د خلکو پر تصامیمو باندې اغېزه لرونکي عوامل تر څېړنې لاندې ونیسي، څېړنه دا اندازه کوي چې په دې

مارکېټ کې خلک خپل تصامیم په کومه اندازه د دغو عواملو پراساس ټاکي لکه باور لرل، رسالې ویل، د انټرنیټ استعمال او د FOREX اساسي ویب سایټونه.

په دې څېړنه کې د خلکو سلوک په FOREX مارکېټ کې تر مطالعې لاندې نیول شوی دی چې څنګه خلک خپلې موجوده منابع په کار اچوي، یعني په دې مارکېټ کې خلک خپلې منابع لکه وخت او پیسې یو له بل سره څنګه ترکیب کوي.

نو دوي د ډاټا(موادو) د تحلیل څخه وروسته دې نتیجې ته ورسېدل چې اکثریت ځواب ویونکې موافق وو چې دوي د باور پر اساس په FOREX مارکېټ کې کار کوي، په دې معنی چې دوي پرخپل Broker باندې باور لري.

نو دا ښیې چې باور یو د هغو اولنیو اساسي عواملو څخه دی، چې خلک د FOREX مارکېټ خوا ته هدایت کوي، حتی داسې هم ویلای شو چې په دې مارکېټ کې د باور او د معاملاتو د سرته رسولو اړیکه مستقیمه ده.

باور په هر مارکېټ کې ځانته جلا شکل لري په دې مارکېټ کې Broker باید کوښښ وکړي چې خپلو مشتریانو ته دا ډاډ ورکړي چې دوي به انترنیتي خوندیتوب ولري او ددوي شخصي معلومات به پټ ساتل کیږي.

دا په دې معنی هر څومره چې د خلکو پر Broker باندې باور او اعتماد ډېر وي په هماغه اندازه به خلک د دې مارکېټ خوا ته لیوالتیا ښیي، د دې څخه وروسته بیا رسالې او د FOREX اساسي ویب سایټونه اهمیت لري چې باید د Broker یا هم باوري شخص لخوا په ښه توګه ارائیه شي، تر څو خلک په اسانه توګه آخذ ځنې وکړي.

Broker باید کوښښ وکړي چې خپل مشتریانو ته رسالې او د FOREX ویب سایټونو له لارې خپل معلومات په دقیق وخت کې ورسوي او باید خپل ویب سایټونه ښایسته ډیزاین کړي، ترڅو د مشتري د لیوالتیا لامل وګرځي.
دیادونې وړ ده چې د مشتري د تصمیم نیولو اړیکه د ټولو عواملو سره مستقیمه یاهم مثبته ده خو تر ټولو قوي عامل یې باور دی.4)،(35

او همدارنګه د AN EMPIRICAL STUDY ON CURRENCY VOLITALITY IN FOREIGN EXCHANGE MARKET عنوان لاندې څېړنه د VANDANA KOTAI له خوا په 2013 کال کې د نومبر په میاشت کې د هندوستان په باګونت پوهنتون کې سرته رسېدلې ده.5)،(35

په دې څېړنه کې د FOREX مارکېټ د پنځو خاصو د پیسو د جوړو (INR/USD ، JPY/USD، EUR/USD، GBP/USD،(CNY/USD اړوند بې ثباتي(Volatility) تر څېړنې لاندې نیول شوې ده، نوموړې دغه څېړنه د دریو میاشتو په موده کې په تجربوي شکل سرته رسولې ده، تر څو معلومه کړي کوم یو له دغو پنځو جوړو څخه ډېر حساس او بې ثباته دي.5)،(35

جدول 2 د ۲۰۱۳ د AUG ډاټا(موادو)

| د پیسو جوړې | اوسط | *معیاري انحراف* |
|---|---|---|
| USD/EUR | 0.751037 | *0.003389* |
| USD/GBP | 0.645063 | *0.005384* |
| USD/INR | 62.69576 | *2.193105* |
| USD/CNY | 6.122037 | *0.004689* |
| USD/JPY | 97.83369 | *0.929305* |

جدول 3 د ۲۰۱۳ د SEP ډاټا(مواد)

| د پیسو جوړې | اوسط | معیاري انحراف |
|---|---|---|
| USD/EUR | 0.748762 | *0.008173* |
| USD/GBP | 0.630342 | *0.008239* |
| USD/INR | 63.79682 | *1.587836* |
| USD/CNY | 6.120131 | *0.001366* |
| USD/JPY | 99.12011 | *0.539279* |

Source: global journal of management and business studies. ISSN 2248-9878 volume 3، number 8(2013)، pp. 897-904

د ډاټا(موادو) د مطالعې څخه وروسته دا جوته شوه چې د هندوستان د پولي واحد بې ثباتي (Volatility) په مارکېټ کې ډېره وه، که چېرې موږ د اکسټ د میاشتې ډاټا(موادو) ته وګورو معیاري انحراف يې تر 2 زیات دی نسبت نورو څلورو ته نو دا ښايي چې د هندوستان پر پولي واحد بهرني عوامل ډېر تاثیر لري. خلاصه دا چې د هندی روپۍ مارکېټ د سرمایه ګذارانو لپاره نسبت نورو مارکېټونو ته ښه فرصت وړاندې کوي څرنګه چې دا مارکېټ زیات بې ثباته او حساس دی، نو باید سرمایه ګذاران د پوره پوهې او ځیرکتیا څخه کار واخلي.

**د ارقامو تحلیل**

**د پوښتنلیک له لارې د راټولې شوې ډاټا(موادو) تحلیل او ارزونه**

لاندې موږ هغه ډاټا(مواد) مطالعه کوو، چې موږ د پوښتنلیک له لارې د تجارت کوونکو څخه لاس ته راوړې ده او د ډاټا(موادو) تحلیل او ارزونه مو د چارټو او جدولونو په شکل کې وړاندې کړې ده، ترڅو نور هم ښه واضح شوې وي.

د دې لپاره چې معلوم کړو په دغه کاروبار کې ډېر د کوم عمر لرونکي خلک فعالیت ترسره کوي، نو لاندې ډاټا(موادو) ته نظر کوو چې زموږ د پوښتنلیك لومړنی سوال جوړوي.

جدول 5 د FOREX مارکېټ د ګډونوالو د عمر طبقې




منبع : د څېړونکي په واسطه راټول شوي ارقام

څرنګه چې موږ پورته د تجارت کوونکو عمر پر درې طبقو ویشلی دی، دوه لمړنی طبقې یې ځوانان دي او آخرنی طبقه یې د پاخه عمر لرونکي کسان دي، نو د پورته ډاټا(موادو) پر اساس د 18 څخه تر 35 کالو پورې عمر لرونکي کسان په ننګرهار کې د دې مارکېټ 73 سلند سهم تشکیلوي.

دا چې په دغه کاروبار کې تحصیل ډېر زیات مهم دی، نو لازمه ده چې د تجارت کوونکو د تحصیل د کچې اړوند معلومات ولرو نو لاندې ډاټا(موادو) ته نظر کوو چې زموږ د پوښتنلیك دوهم سوال جوړوي:

جدول 6 د FOREX مارکېټ د ګډونوالو د تحصیل کچه




منبع : د څېړونکي په واسطه راټول شوي ارقام

د پورته ډاټا(موادو) څخه موږ ته معلومېږي چې یوازې 29 فیصده خلک چې په دې مارکېټ کې فعالیت کوي لوړې زده کړې یې ترسره کړي دي، 41 فیصده د عالي لیسې څخه فارغه او 30 فیصده نورو یې خپلې زده کړې یوازې تر ابتدائیه ښوونځې پورې کړي دي، نو موږ ویلای شو چې په ننګرهار ولایت کې په انلاین تجارت کې د ګډونوالو د تحصیل کچه د پام وړ کښته ده، په داسې حال کې چې په دې مارکېټ کې د تعلیم لپاره زیات ضرورت شته یا په ساده الفاظو سره ویلا ی شو چې بیدون تعلیم څخه په دې مارکېټ کې فعالیت کول د قمار حیثیت لري.

باید معلوم کړل شي چې د کومې کچې عاید لرونکي خلک عموما په دې مارکېټ کې سرمایه ګذاري کوي، نو لاندې ډاټا(موادو) ته نظر کوو چې زموږ د پوښتنلیک دریېم سوال جوړوي:

جدول 7 د FOREX مارکېټ د ګډونوالو د عايد کچه




| | 0-100$ | 250$-100$ | 250$-1000$ | تر 1000$ اضافه |
|---|---|---|---|---|
| د تجارت کوونکو میاشتنی عاید | 14% | 32% | 41% | 13% |

منبع : د څېړونکي په واسطه راټول شوي ارقام

پورته ډاټا(مواد) په ننګرهار ولایت کې د انلاین تجارت کوونکو د میاشتني عاید په اړه داسې معلومات وړاندې کوي چې 14 سلند ګډونوال په کې تر سلو ډالرو پورې میاشتني عاید لرونکي دي، 32 سلند ګډونوال يې د 100 ډالرو څخه بيا تر 250 ډالرو پورې عايد لرونکي دي، 41 سلند ګډونوال يې د 250 څخه بيا تر 1000 ډالرو پورې عايد لرونکي دي او پاتې 13 سلند ګډونوال يې تر 1000 ډالرو اضافه میاشتنی عاید لري.

دا ارزونه موږ په دې هدف ترسره کړې ده، ترڅو معلوم کړو چې کوم عايد لرونکي خلک بايد د دې مارکېټ ګډونوال واوسي، دا چې دا مارکېټ زيات بې ثباته دی، نو په همدې خاطر د زياتې سرمايې ملاتړ ته ضرورت شته ترڅو د تاوان خطر مدیریت کړي.

نو موږ ویلای شو هغه خلک چې میاشتنی عايد يې تر 250 ډالرو کم وي، نشي کولای چې په دې مارکېټ کې په خپلې حمايوي سرمايې سره د تاوان خطر کم کړي چې په ننګرهار ولایت کې 46 سلند ګډونوالو په دې مارکېټ کې خپله سرمايه د زيات خطر سره مواجه کړې ده.

د یادونې وړ ده چې زیاته حمایوي سرمایه په انلاین تجارت کې د خطر د صفر کېدلو معنی نه لري، بلکې د خطر د فیصدۍ د کمولو په معنی ده.

څرنګه چې د هر تجارت د پیل څخه مخکې د ځان ازمویل مهم دي، نو باید معلوم کړل شي چې څومره خلکو دې مارکېټ ته د داخلیدو مخکې د آزمایشي اکاونټ (DEMO ACCOUNT) څخه استفاده کړېده.

شکل 14 د آزمایشي اکاونټ د استفاده کوونکو فیصدي




منبع : د څېړونکي په واسطه راټول شوي ارقام

په دې چارټ کې معلومېږي چې 52 سلنه خلکو د دې کاروبار د پیل څخه مخکې د آزمایشي اکاونټ څخه استفاده کړې ده او 48 سلنه خلکو استفاده نه ده کړې او مستقیم یې کاروبار پیل کړی دی، چې دا یوه دپام وړ اندازه ده او د خلکو د تاواني کېدلو یو د عواملو څخه کېدای شي.

**پایله**

انلاین تجارت د ننګرهار ولایت په اقتصادي بازار کې په ډېر لنډ وخت کې ځان ته خاص ځاي پیدا کړ او د خلکو د سرمایه ګذارۍ لپاره یې پراخ فرصتونه د لږو منابعو په قربانۍ کولو سره پیدا کړي دي.

د دې مارکېټ لویوالي دا زمینه برابره کړه چې هر څوک کولاي شي چې د دې مارکېټ غړي و اوسي او په اسانۍ سره په کې فعالیت وکړي، د دې نه علاوه په دې مارکېټ کې د چټکې ګټې کولو آسانتیا خلک نور هم دې مارکېټ لور ته تشویق کړل.

خو متاسفانه د ځینو خاصو عواملو له وجهې زیات خلک په دې مارکېټ کې د افلاس کېدلو سره مخ شول چې په ننګرهار ولایت کې یې د انلاین تجارت په باب د خلکو تر منځ منفي ذهنیت خپور کړ او دغه منفي ذهنیت په دې مارکېټ کې د سرمایه ګذارۍ د کمښت سبب شو.

زموږ د څېړنې پر اساس د مختلفو منابعو څخه په استفاده څو مهم عوامل په نښه شوي دي کوم چې د خلکو په افلاس کېدلو کې یې مخکښ رول درلودلی دی.

یو له دغو فکتورونو څخه په مستقیم ډول د حقیقي اکاونټ خلاصول دي بې له دې چې د مارکېټ په اړه هر اړخیزه مطالعه وکړل شي او د اصولو او قوانینو څخه یې ځان خبر کړل شي.

دویم فکتور یې دا دی چې د آزموینې دوره نه تېروي یعنې د مطالعې او څېړنې وروسته د آزمایشي اکاونټ څخه استفاده نه کوي او ځان پر حقیقي اکاونټ آزمویي چې دې کړنې دوي له افلاس سره مخ کړي دي.

دریيم فکتور هم په دې مارکېټ کې پر احساساتو کنټرول نه درلودل دي چې خلک د افلاس سره مخ کوي.

څلورم فکتور هم دا دی چې زموږ د څېړنې پر اساس په دې مارکېټ کې 70 سلنه خلک عالي تحصیلات نه لري، نو په همدې خاطر دوي د دې مارکېټ حقیقي جوړښت نشي انځورولای.

پنځم فکتور هم دا دی چې خلک په دې مارکېټ کې کومه مشخصه ستراتیژي نه لري څرنگه چې دې مارکېت کې رقابت او سیالي له حد څخه زیاتې دي، نو باید د پرمختگ لپاره خاصه ستراتیژي و ټاکل شي.

شپږم فکتور هم دا دی چې خلک د خپلې سرمایې انډول د معاملاتو د حجم او مقدار سره نه ساتي یاهم د پیسو د مدیریت (MONEY MANAGEMENT) څخه استفاده نه کوي یعنې نظر خپلې سرمایې ته د معاملاتو د حجم او مقدار موثر ترکیب نه شي کولای چې دوي یې د سرمایې د صفر کېدلو د خطر سره مخ کړي دي.

اووم فکتور په دې مارکېټ کې حرص دی چې زیاتره اشخاص په لږ وخت کې د زیاتې گټې توقع لري او قناعت نه کوي.

اتم فکتور دا دی چې خلک د مارکېټ اساسي او تخنیکي تحلیل او څېړنه نه کوي او برعکس پر بخت باندې باور لري.

کېدای شي چې نور فکتورونه هم وي خو دغه هغه فکتورونه وه چې موږ تر څېړنې وروسته لاسته راوړل.

**وړاندیزونه**

**د انلاین تجارت او کاروباریانو ته:**

- که چیرې یو شخص ابتدائیه زده کړې ولري او یایې هم هیڅ ونه لري، نو باید کوښښ وکړي چې انلاین تجارت ته داخل نشي یاهم د مسلکې شخص سره خپله سرمایه یوځای کړي.
- که چیرې شخص خپلې زده کړې تر عالي لېسې یا هم لیسانس پورې سرته رسولې وي بیاهم باید کوښښ وکړي چې د دې مارکېټ او تجارت په اړه هر اړخیزه پراخه مطالعه ترسره کړي.
- په دغه مارکېټ کې د پیسو مدیریت د خطر کچه کموي او باید په جدي توگه مراعت کړل شي.
- د نوي پیل کوونکو تجارانو لپاره DEMO ACCOUNT زیات مهم دي ترڅو خپل ځان پرې وآزمویي لږ تر لږه د دریو میاشتو لپاره.
- که چیري یو شخص پرخپلو احساساتو واکمن نه وو او نه یې شوو کولای چې په ډېر وخت کې هم په DEMO ACCOUNT کې مثبت ریکارډ خپل کړي، دا به بهتره وي چې د دغه کاروبار څخه لیرې واوسي.
- په دې مارکېټ کې باید هرڅوک پر گټې قناعت ولري او د حرص څخه ځان وساتي یعنې هڅه دې نه کېږي چې د مارکېټ د هر کښته او پورته تگ څخه گټه واخیستل شي.
- د معاملاتو تصمیم باید د اساسي او تخنیکي تحلیل پر اساس ونیول شي.
- د مارکېټ په خطري حالت کې دې د کمې سرمایې په لرلو سره څوک مارکېټ ته د معاملې په نیت نه داخلیږي.

- د معاملې اړوند اسبابونه لکه د ګټې او تاوان حد څخه دې استفاده وشي ترڅو د زیات تاوان او یا افلاس کېدلو څخه وژغورل شئ.
- د اټکلي سوداکولو څخه باید ډډه وشي.
- د مارکېټ د حالت څخه باید هر ورځ ځان خبر کړي.
- څرنګه چې د دې مارکېټ ساحه ورځ تر بلې په پراخېدو ده نو باید زموږ مطالعه هم دوامداره ورسره واوسیږي.
- هغه خلک چې کاري مصروفیتونه یې زیات وي او فارغه وخت نه لري نو باید د دې کارڅخه ډډه وکړي ځکه چې دا یو لوی مارکېټ دی او بې ثباتي په کې زیاته ده نو پراخ تعقیب ته ضرورت لري.

## اخځلیکونه


THE TRIENNIAL CENTRAL BANK،2007، TRIENNIAL BANK SURVEY OF FOREIGN EXCHANGE AND DERIVATIVES MARKET ACTIVITY IN 2007 AVAILABLE AT WWW.BIS.ORG

EUROMONEY، 2017، 39TH ANNUAL SURVEY OF LIQUIDITY CONSUMTION WITHIN THE GLOBAL FX MARKET.

AVAILABLE AT HTTPS://WWW.EUROMONEY.COM/ARTICLE/B1348TJHNV7H99/EUROMONEY-FX-SURVEY-2017-RESULTS-RELEASED

MORGEN STANLEY،2011 DEC 1،EUR/US FUNDAMENTAL ANALYSIS AVAILABLE AT MORGEN STANLEY RESEARCH، BLOOMBERG.COM

MASOOD NASIMI،YASHA SAZMAND،ASFARANJAN،ALIRAZA KISHVARSIMA،

FATEMEH BARADARI،2014 MARCH، TRADING IN THE FOREIGN EXCHANGE MARKET (FOREX)، INTERNATIONAL JOURNAL OF SCIENTIFIC AND RESEARCH PUBLICATIONS، VOLUME 4، ISSUE 3. ISSN 2250-3153

VANDANA KOTAI، 2014 NOVEMBER، AN EMPIRICAL STUDY ON CURRENCY VOLATILITY IN FOREIGN EXCHANGE MARKET، GLOBAL JOURNAL OF MANAGEMENT AND BUSINESS STUDIES. ISSN 2248-9878 VOLUME 3، NUMBER 8(2013)، PP. 897-904

BARBER، LEE، ODEAN (2010): DO DDAY TRADERS RATIONALLY LEARN ABOUT THEIR ABILITY?

ODEAN (1998)، VOLUME، VOLATILITY، PRICE، AND PROFIT WHEN ALL TRADERS ARE ABOVE AVERAGE.

BARBER، ODEAN، (2001)، BOYS WILL BE BOYS: GENDER، OVERCONFIDENCE AND COMMON STOCK INVESTMENT.

DE، S.، GONDHI، N.R. &POCHIRAJU، B. (2010). DOES SIGN MATTER MORE THAN SIZE? AN INVESTIGATION INTO THE SOURCE OF INVESTOR OVERCONFIDENCE.

ELECTRONIC BOOKS

GOFOREX24 TEAM، 2017، FOREX TRADING MINUTE-۱۵ TURBOCOURSE ULTIMATE COLLECTION، PP. 40-55

AVAILABLE FROM GOFOREX24.COM

FOREX GODFATHER TEAM،2009 SEPT، FOREX GODFATHER ELITE، PP. 15-23

AVAILABLE FROM WWW.FOREXGODFATHER.COM

FOREX.COM TEAM، 2017، LET'S GET TO KNOW FOREX، PP. 12-18

A FOREX.COM EDUCATIONAL GUIDE

**پوهنوال محفوظ الله عارفي**
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه
لارښد استاد: پوهنوال محمد ایمیل حقمل

# د اسلامي شريعت او افغانستان د قوانينو له نظره پټ کشفي اقدامات

**لنډیز**

التجسس او التحسس دواړه د خبر ترلاسه کولو معنا ورکوي، خو التحسس په نېکو کارونو کې پلټنه یاخبر ترلاسه کول دي او التجسس په بدو کارونو دخبرطلب یا ترلاسه کول دي د دواړو مفهوم داسې بیانوو چې په پټ ډول دخبر ترلاسه کولو څخه عبارت دی. دافغانستان دجزایي اجرآتو قانون هم پټ کشفي اقدامات داسې تعریف کړي: دټلیفون، کمپیوتر، انټرنټ یا د هرې تکنالوژیکي وسیلې له لارې د مظنونو او تورنو اشخاصو خبرې اورېدل، ثبتول، څارل او د هغه ځای ثبیتول خصوصي اماکنو کورونو عامه ځایونو کې د اشخاصو الکترونیکي پته څارنه، د مالي معلوماتو پته څارنه، د سوداګریزو مؤسسو مالي اوبانکي معلوماتو څارنه، د افغانستان له قلمرو څخه دیوه یا څونورو هېوادونو قلمروته، د عدلي اوقضایي واکمنومراجعو په خبرتیا او ترڅارنې لاندې دغیرقانوني یا مشکوکو محمولو لیږد رالیږد، ته اجازه ورکول دي.

د موضوع اهمیت دا دی چې د دې موضوع مطالعې سره به دپټو کشفي اقداماتو په هکله اسلامي شریعت او قوانینو کې معلومات مو زیاد او د هغې مشروعیت باندې پوهېدنه ده.

د څېړنې هدف د پټو کشفي اقداماتو پېژندل، د هغې مشروعيت د سرته رسولو شرایط او داسې نور دي، پټ کشفي اقدامات په پټ ډول د تکنالوژۍ وسایلو په واسطه په عمومي او خصوصي اماکنو کې د مظنون تعقیب او دجرم مولد وسایلو څارل دي، ترڅو د دې په وسیله مجرمین مهارشي او د نظام ساتنه وشي. پټو کشفي اقداماتو ته په اسلامي شريعت او زموږ د هېواد قوانينو کې د ضرورت په حالت کې جواز ورکړل شوی او د هغې اجرا کوم مسؤلیت نه لري. دا څېړنه کتابتوني بڼه لري او د مهمو او لومړي لاس موادو څخه پکې استفاده شوې.

**کلیدي اصطلاحات**: پټ کشفي اقدامات، تکنالوژیکي وسایل، الکترونیکي پټه څارنه .

**سریزه**

الحمدلله رب العالمین والصلواه والسلام علی رسوله محمدوعلی آله واصحابه اجمعین ،امابعد

دا یوه څرګنده خبره ده چې جرم داسې یوه په دېده ده چې د نړۍ له پیدایښت سره او حتی د هغې نه پخوا یې هم شتون درلود لکه دشیطان جرم چې کله الله تعالی آدم علیه السلام خلق کړ، نو ټولو ملایکو ته او شیطان چې د ملایکو استاد هم وو د سجدې کولو امرو کړ ټولې ملایکې په سجده پریوتلې، خو شیطان د الله تعالی ﷻ امرڅخه سرغړونه او سرپیچې وکړه، آدم علیه السلام ته یې سجده ونکړه او الله تعالی د تل لپاره د خپل رحمت نه لیرې کړ. په همدې توګه په انساني ټولنه کې د جرایمو ارتکاب دوام پیدا کړی، خو هغه وخت چې انساني ټولنه ابتدایي حالت کې وه، نو د جرمونو لړۍ هم څه ناڅه ساده حالت کې وه او جرمونو ته رسیده ګي هم صرف اخلاقي معیارونو په اساس کېده داسې ارګان شتون نه درلود چې په انساني

لحاظ هغې ته رسیده ګي وکړي او صرف الله تعالی نه ویره وه او د ټولنې اخلاقي معیارونه د اعتبار وړول.

بیا انساني ټولنې پراخې شوې د ټولنو نه قومونه د قومونو نه خیلونه د هغې بیا دولتونه بیا د دولتونو د ساتنې، لپاره حکومتونه رامینځ ته شول، دغه حکومتونو د انساني ټولنو کارونه انسجام او رهبري کول، که چېرې په ټولنه کې کوم جرم رامینځ ته کېده بیا همدې حکومتونو ورته رسیده ګي کوله، په ډېر تاسف باید وویل شي د انساني ژوند پیل څخه تر اوسه پورې د جرمونو لړۍ روانه ده او لکه څرنګه چې انساني ټولنو کې امراض له مینځه تلونکي نه دي همداشان جرمونه هم د انساني ټولنو څخه لرې کول ستونزمن کار دی یعنې ترڅو انساني ټولنې شتون لري جرمونه به خامخا شتون لري.

د انساني ژوند پرمختګ سره د جرمونو لړۍ هم متاسفانه پرمختګ وکړ او داسې جرمونه هم رامینځ ته شول چې د هغې صدمه او ضرر نه یواځې یوشخص ته نه یواځې یو هېواد ته بلکې د هغې صدمه او ضرر ټولو انساني ټولنو ته اکثره هېوادونو ته حتی ټولې نړۍ ته رسېږي لکه د انسان قاچاق، نسل وژنه، د بشر ضد جرمونه اوداسې نور.

اوس وخت کې جرایم دومره پیچلي اومجرمین حرفوي شوي چې داسې جرایم تر سره کوي چې د هغې کشف هم ستونزمن بریښي د همدې جرایمو لپاره پټ کشفي اقدامات په اسلامی شریعت کې او د هېوادونو قوانینو کې یادونه شوې او د هغې د سرته رسولو اجازه یې کړي. زموږد هېواد قوانینو هم دغه موضوع ته مشروعیت ورکړي او قانون کې تصریح شوي اودې ډول جرایمو لپاره یې جواز ورکړی.

### د څېړنې ستونزه

پټ کشفي اقدامات اصل کې داسلامی شريعت اوقوانينو له نظره غير مشروع دي، خو د ضرورت پربنا دې ته په اسلامي شريعت او قوانينو کې اجازه ورکړ شوې، دا چې په اسلامی شريعت کې د منعې با وجود پټو کشفي اقداماتو ته په ځانګړو حالاتو کې اجازه ورکړل شوې ده، غواړم همدغه موضوع روښانه کړم.

### دڅېړنې اهميت

د دې موضوع اهميت په دې کې دی چې اوس وخت کې مجرمين دومره حرفوي شوي چې دعادي شخص سره يې تفکيک ګران کار دې همدارنګه د ټکنالوژۍ پرمختګ سره داسې جرايم مينځ ته راغلي چې د هغې صدمه نه يوازې يوشخص يو هېواد بلکې د هغې صدمه اکثره هېوادونو حتی ټولې نړۍ او ټولې بشري ټولنې ته دی. نو د دې په خاطر چې جرايم کشف او فاعلين يې د قانون منګولو ته وسپارل شي.

### دڅېړنې اهداف

دغه څېړنه لاندې اهدافو درلودونکې ده:

- د پټو کشفي اقداماتوپېژندل.
- د مشروع او غير مشروع پټو کشفي اقداماتو جلاوالی.
- د پټو کشفي اقداماتو رول د مجرمينو او جرايمو مخنوي کې.
- د پټو کشفي اقداماتو تاثيرات په ټولنه کې.

### تېرو ليکنو ته کتنه

د پټو کشفي اقداماتو په اړوند مختلفې ليکنې شوې دي چې د لته موږ له څو ليکنو څخه يادونه کوو، دا چې د افغانستان قوانين چې لويه سرچېنه يې د اسلام مبارک دين

دې پټو کشفي اقداماتو په هکله څه وايي دغه موضوع د اسلام په مبارك دين او قوانينو کې څه حکم لري هغه چې مور له کوم کتاب نه ډېره ګټه اخيستې په اسلامي شريعت کې د ليکنې لپاره د التجسس واحکامه فی شريعة اسلاميه کتاب نه ډېره ګته اخيستې، نو هغې کې د تجسس تعريف اقسامو او احکامو ترڅنګ د جاسوس پېژندل د جاسوسۍ اقسام او جاسوس احکام هم بيان کړي چې ما د هغې نه صرف نظر کړی دی او په قوانينو کې د جزايي اجراتو قانون څخه همدارنګه د پوهاند دوکتور حفيظ الله دانش صاحب کتاب جزايي محکماتو اصول چې په هغې هم ډېر مسايل ذکر دي ما د هغې نه صرف کشف او د کشفي ارګانونو څخه بحث کړی او نورو څخه مې صرف نظر کړی.

## د څېړنې پوښتنې

## د څېړنې اصلي پوښتنې

1. د تجسس يا پټ کشفي اقداماتو کول په نا مشروع والي اصل ولاړ دي د کومو دلايلو په اساس تجسس يا پټ کشفي اقداماتو ته مشروعيت ورکړشوی دی؟

## د څېړنې فرعی پوښتنې

1. د پټو کشفي اقداماتوحکم څه شي دی؟
2. د پټو کشفي اقداماتو شرايط کوم دي.؟
3. د پټو کشفي اقداماتو دراز افشاء باندې آيا مويدات شته کنه؟

# لومړی څپرکی

# د پټو کشفي اقداماتو پېژندنه د اسلامي شریعت له نظره

په دې بحث کې د پټو کشفي اقداماتو معنا اومفهوم، د پټو کشفي اقداماتو اهمیت، د پټو کشفي اقداماتوشالید، پټو کشفي اقداماتو مشروعیت، د پټو کشفي اقداماتو احکام، په اسلامي شریعت کې په همدې موضوعاتو باندې بحث کول غواړم.

## لومړی مبحث: د پټو کشفي اقداماتو معنا اومفهوم

لکه چې د عنوان څخه معلومېږي لومړي مطلب کې د تجسس لغوي معنا او مفهوم په دویم مطلب کې د تجسس اصطلاحي معنا اومفهوم تاسو ته وړاندې کوم.

### لومړی مطلب: د پټو کشفي اقداماتو لغوي معنا او مفهوم

پټ کشفي اقدامات یا تجسس یوه عربي کلمه ده چې اصل یا مصدر یې(الجس) څخه اخیستل شوی او الجس ویلی شي لاس سره لمس کولوته.

التجسس په جیم سره هغه کارونه سرته رسول چې انسان یې خپل حواسو سره درک کولی شي، یا التجسس هغه کارونه سرته رسول چې په پټه سرته رسېږي.( ۱۱: ۵۴۳ )

التجسس په (جیم) سره او التحسس په (حاء) سره یوې معنا لرونکي نه دي التجسس لکه څرنګه چې قران کریم کې هم راغلي ولاتجسسو (لاتبحثوعن عورات المسلمین وتستکشفو عما ستره الله) یعنې تاسو هغه څه چې الله(ج) ستر اوپرده پرې اچولې هغه باندې بحث مه کوئ چې پایله کې د مسلمانانو پرده اوحیاء له مینځه یوسي او هغه څه مه ښکاره کوئ چې الله ﷻ پرې پرده اچولې اودا قول د الله تعالی(یابنی اذهبو فتحسسوا من یوسف واخیه) یعنې یعقوب علیه سلام خپلو زامنو ته وایي چې

ولاړ شئ ای زما زامنو د یوسف او د هغه ورور خبر ماته راوړئ یعنې د هغې حال او احوال نه ځانونه خبر کړئ. (۲۲۱:۱۰)

که په ساده ژبه ووايو تجسس د شر په کارونو کې خبر ترلاسه کول اوتحسس نيکو کارونو کې خبر ترلاسه کول دي.

**دویم مطلب: د پټو کشفي اقداماتو اصطلاحي معنا اومفهوم**

د تجسس لپاره زيات شمېر تعريفونه شوي خو داسې يوتعريف نشته چې علماء په هغې متفق وي هرعالم د تجسس لپاره خپل تعريف لري.

امام غزالي رحمة الله عليه تعريف: امام غزالي رحمة الله عليه په احياء علوم الدين کې تجسس ته داسې تعريف کړی:

التجسس هوطلب الامارت المعرفة یعنې د پېژندل شوو علاماتو او نبنانو سره د خبر ترلاسه کولو ته تجسس ويل کېږي. (۲۲۲:۱۰)

امام قرطبی رحمة الله(ج) عليه تعريف:التجسس بالجيم هوالبحث عمادېکتم عنك يعنی دهغه څه نه بحث کول خبرې کول چې تانه پټ دي ياتانه پټ ساتل شوي دي. (۲۳۲:۲)

امام بخاري رحمة الله عليه په خبل کتاب صحيح البخاري کې د دې آيت لاندې يا ايهالذين آمنولاتتخذوا عدوي وعدوکم أوليا د تجسس معنا وايي تجسس معنا د بحث نه مراد دی يعنې د يو چا په هکله بحث اومباحثه کول دي.

**یادونه:** جاسوس (هوالشخص الذی یطلع علی عورات المسلمین وینقل اخبار هم لعدو) یعنې هغه شخص دی چې مسلمانانو د پټو رازونو نه ځان خبروي او هغه دښمن ته انتقالوي. (۱۱۹:٦)

**دریيم مطلب: د پټو کشفي اقداماتو اهمیت**

پټ کشفي اقدامات سرته رسول د ټولنې په امنیت باندې زیات تاثیرات لري په اسلامی نظام کې د تجسس جواز شتون د تجسس اهمیت باندې دلالت کوي. اسلام مبارک دین په خپلو آوامرو کې مسلمانانو ته امرکوي چې دښمن لپاره هرډومره قوت وي تیار یي کړئ؛ د دې لپاره چې مسلمانانو شان اوشوکت او قوت معلوم شي او مسلمانان په دې قادر وي چې د خپل ځان اوخپل نظام دفاع وکړای شي، حدود اجراکړای شي با عزت ژوند ولري اوخپل نفس، مال او عزت باندې په امن او امان کې وي.

الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي: (واعدولهم ما استطعتم من قوة ومن رباط الخیل ترهبون به عدوالله وعدواکم وآخرین من دونهم لاتعلمونهم الله یعلمهم).

دلته د واعدولهم یعنې تیار کړئ دا هدف دی چې عسکري قوتونه برابر کړئ داسې قوت او نیرو تیاره کړئ چې د دښمن قوت تاسو ته معلوم کړي دښمن څه کوي او څه نه کوي، څه پلانونه لري د نظام لپاره څوک خطر واقع کیدلی شي او دا امکان نه لري، مګر داچې تجسس وي او جاسوسان پټ کشفي اقدامات وکړای شي.

خپله رسول ﷺ به نبوي ژوند کې د جاسوسانو نه استفاده کوله هغوي ته به یې صاحب سر ویلی یعنې دپټ راز ملګري صحابه کرام رضی الله عنهم د جنګ یا غیر جنګي حالاتو کې دښمن حال او احوال رسول الله ﷺ ته راوړه دا کړنه د رسول ﷺ

موږ لپاره عملي سنت دي، يعنې عمل پرې وشي دا خپله د تجسس يا پټ کشف باندې پر اهميت دلالت کوي.

وروسته کله چې د خلفای راشدينو وخت راغی اسلامی فتوحاتو کې هم د تجسس يا پټ کشف څخه استفاده کيدله چې خپله خالد رضی الله عنه به د دښمن حال معلوماوه بيا به يې جنګ ته مخه کوله، د آمويانو او عباسيانو پر وخت چې کله د اسلامي خلافت لمن لويه شوه د تجسس لپاره اداري رامينځ ته شوې د عباسيانو پر وخت د مخفي اقداماتو لپاره د البريد په نوم اداره جوړه شوه چې د دښمنانو حال او حوال به يې د مسلمانانو امير ته ګذارش ورکوه.

د نړۍ په سطحه لومړي ځل لپاره چې پټو کشفي اقداماتونه استفاده وشوه مصريان و او په دې برخه کې هغوي ترټولو مخ کښ دي دوي د جاسوسانو نه ميلاد څخه مخکې ګټه اخيسته، يونانيان هم چې سکندرمقدوني د هغې په سر کې واقع دی لومړي ځل لپاره دښمن مقابل کې د تجسس نه کاروا‌خيست.

د مخفي اقدماتو اهميت باره کې به ناپليون داسې ويل: په جنګ کې يو پوه اوځيرک سړي درلودل دا د زرو جنګي پهلوانانو نه بهتردی.

اوس وخت کې دې مسئلې ته د نړۍ په سطحه زياته توجه شوې هر هېواد په داخلي او نړيوالو موضوعاتو کې د تجسس يا پټو اقداماتو نه استفاده کوي. د اوس وخت د مشهورو جاسوسي ادراتو شتون لکه امريکا لپاره CIA آلمان کې دګشتاپور په نوم او اسرئيل موساد د دې اداري اهميت باندې دلالت کوي چې دوي د خپل هيواد منافعو لپاره په داخلي اوخارجي سطحه فعاليت ترسره کوي. (۱۴۸:۴)

## څلورم مطلب: پټ کشف یا مخفي اقداماتو شالید

د انسان پیدایښت سره سم د هغه د معیشت یا ژوندکولو اسباب هم الله تعالی پیدا کړل او د دې لپاره چې د طبیعت خطرونو نه ځان وساتي د هغې لپاره هم وسایل وموندل. د تاریخي لحاظه جاسوسي لومړی ځل مصر هېواد د فرعونیانو په سلسله کې رایج شوه، دوم رامس چې هغه د موسی علیه السلام د وخت فرعون وو د دې لپاره چې له دینه څوك پادشاهي او قدرت ترلاسه نه کړي خپل عساکرو کې جاسوسان مقرر کړي وو چې فوځ کې څوك د ده خلاف خبرې کوي کنه.(۵۶:۲۰)

احمدهانی یومصری تاریخ نویس وایي مصریانو د میلاد څخه مخکې د جاسوسۍ لپاره منظمې ادارې درلودې. (۲۳:۲۱)

دیونان سکندر مقدوني بیا هغه شخص وو چې لومړی ځل د دښمن په مقابل کې د جاسوسانو څخه کار واخیست د غرونو څخه د مورچلو په حیث او آسونو څخه دلیرې لیرې ځایونو د کشف لپاره استفاده وکړه. (۱۹:۱۶)

موسی علیه السلام یوه ډله خلك چې شمېرېې ۱۲ کسان وو د دې لپاره چې مقدسه ځمکه پیداکړي په قران کریم هم دغه موضوع ذکر ده:

یا قومي ادخلوا الارض المدسة التی کتب الله لکم. مخکې د هغې نه چې بني اسرائیل هلته ولاړشي دغه ډله خلك یې ولېږل او هغوی د مقدسې ځمکې په اړه معلومات حاصل کړل او موسی علیه السلام ته یې خبر راوړ چې هلته ځمکه شته بیا کله چې بني اسرئیلو ته دغه ځمکې ته د ننوتلو امر وشو هغوی اعتراض وکړ.(۲۲۷:۳)

د سلیمان علیه السلام د سبا د ملکې په اړه د هدهد مرغه په واسطه معلومات اخیستنه هم یو تاریخی دلیل دی.

دنبي صلی الله علیه وسلم د نبوت نه مخکې دوه لویو امپراطوریو شتون درلود رومیان اوفارسیان، چون رومیان د فارسیانو څخه په عربو باندې تسلط ډېر وو نوهغوي به خپل جاسوسان د تجارانو په شکل مکې ته لیږل، ترڅو دېته غوږ کېږدي چې خلک د دوي د حکومت په هکله څه وایي؛ کله چې اسلام مبارک دین ظهور وکړ، نو بیا به دغه جاسوسانو د مسلمانانو اخبارونه رومیان ته وړل . (۱۲:۲)

د رسول الله ﷺ د بعثت سره خلکو اسلام مبارک دین یو نوي دین په حیث ومونډ ځینو هغه ومانه او ځینو اعتراض وکړو، رسول اکرم ﷺ مکي ژوند کې صرف خلکو ته د الله تعالی وحدانیت او ایمان په آخرت باندې دعوت وکړ، خو کله چې مکي دوره پای ته ورسېده رسول الله ﷺ مدینې ته هجرت وکړ، نو مسلمانانو لپاره نوی ژوند اونوې ټولنه رامینځ ته شوه. کله چې مسلمانانو یوه واحده ټولنه جوړه کړه نو الله تعالی جل جلاله دوي ته د خپل نفس، مال او دین څخه دفاع اجازه ورکړه، غزواة شروع شول رسول الله ﷺ په خپل ژوندکې(۲۸) معرکو رهبري وکړه چې هغې ته غزواة ویلی شي ځینې وختونه یې یواځې صحابه کرام رضی الله عنهم دښمن مخې ته لیږل چې دېته بیا سریه وایي او نبوي ژوند کې ټولې(٤٧) سریې ترسره شوي دي.

بدر، احد، احزاب او طائف غزواة کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جاسوسانو څخه په عملي توګه استفاده وکړه. د صحابو څخه حضرت حذیفه نعیم بن مسعود، عبدالله بن انیس، خوات بن جبیر، عمرو بن امیه او سالم بن عمیر رضی الله تعالی عنهم هغه کسانو وو چې په دې برخه کې تر ټولو مشهور وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم په مختلفو غزواتو کې ترې ګټه اخیستی. رسول ﷺ په یوې غزوه کې جنګ ته تر هغې اجازه نه ورکوله ترڅو د هغې قوم تعداد د جنګ وسایل او امکانات معلوم نه کړي. (۹۲:۹)

په راشده خلافت کې هم خلفاء و د جاسوسانونه په ګټې اخیستنې خپل فتوحات مخکې وړل د هغې جملې د حضرت عمرفاروق رضی الله تعالی عنه خط چې حضرت سعد بي ابي وقاص ته لیږلی ود یادولو وړ دی. حضرت عمر رضی الله عنه داسې لیکلی وو.(ای سعده! کله چې دښمن ځکمې ته ورسېد، نوخپل جاسوسان یا العیون د دښمن مینځ ته ولیږه ته دښمن ته په کمه سترګه مه ګوره کله هغوي تاته خبر راوړي د هغې خبرمطابق بیا اقدامات وکړه.(۴۸۲:۹)

د هغې را وروسته کله چې اسلامي نظام لمنه پراخه شوه د امویانو او عباسیانو په دوره کې یوه منظمه اداره د البرید په نوم د جاسوسی لپاره جوړه شوه چې حالات به یې د خلافت هرساحې نه امیرته ګذارش ورکوه.

## دویم مبحث: د پټو کشفي اقداماتو احکام په اسلامي شریعت کې

په اسلامي شریعت کې تجسس دوه ډوله ترسره کیږي، مشروع تجسس اوغیرمشروع تجسس چې لومړي مطلب کې مشروع تجسس او دویم مطلب کې غیر مشروع تجسس درپېژنو.

## لومړی مطلب: مشروع پټ کشفي اقدامات

مشروع تجسس کې درې موضوعات دي لومړي جز کې د اسلامی نظام تجسس د وړو اشخاص د پیداکولو لپاره، دویم جز کې د اسلامي نظام تجسس په مجرمینو او مشکوك اشخاصو باندې، درېیم کې د اسلامي نظام تجسس په دښمنانو باندې چې هر یو جلا جلا مطالعه کوو.

**لومړی جز: د اسلامي نظام مخفي اقدامات د وړو اشخاصو د پیداکولو لپاره**

ځینې وختونه د اسلامي نظام امیر یو ډله خلکو یا اشخاصو په هکله تجسس یاپلټنه کوي، ترڅو د هغوي څخه وړاشخاص پیدا کړي د هغوي څخه په نظام کې کار واخلي د هغوي مشورو ته غوږ ونیسي او د هغې نه ګټه پورته کړي. ښه حکومت داري دا ده چې مناسب اشخاص په مناسبو ځایونو کې مقرر کړای شي.

د دې لپاره چې اسلامي حکومت لکه څرنګه چې قران کریم کې بیان شوي با استعداده او امین اشخاص پیدا کړي، نو پلټنې ته خامخا ضرورت دی لکه د کار کولو لپاره قران کریم کې دوه اصله ذکر شوي (ان خیرمن استأجرأت القوی الامین) داموسی علیه السلام چې په دنده وګماري، نو دوه ښیګنې پکې شته، لومړی استعداد دویم امانت. یوحاکم د دې لپاره چې د دغه دوه اصلو څخه یوچا کې ومومي نو تجسس ته حتمن ضرورت دی، آیا شخص ربښتیا هم د دې کاروړتیا لري کنه؟ آیا شخص که استعداد لري، نوڅنګ کې امین هم دی کنه؟ نو هغه څه دي چې پلټنې حتمن پکې ضرور دي. (۹:۱۱۵)

**دویم جز: د اسلامي نظام مخفي اقدامات په مجرمینو او مشکوکو اشخاصو باندې**

د دې لپاره چې یواسلامي حکومت خپله ټولنه کې ټولنیز عدالت پلی کړي د خلکو لپاره امنیت برقراره کړي، نو لازمه ده چې مجرمین وپیژني هغوي تعقیب کړي او ټولنه د هغوي د شرنه په امان کړي.

د رسول الله ﷺ ټولنه د مسلمو او غیر مسلمو ټولنولپاره یوه نمونه ده چې هلته ټولنیز عدالت او امنیت نه یوازې مسلمانانو لپاره بلکې ټولو خلکو لپاره شتون درلود؛ هغې ټولنه کې مجرمینو او مشکوکو اشخاص شتون درلود، که چېرې مسلمانان وو، نو هغې

لپاره پلټنې ته ضرورت نه وو بلکې خپله به راتلل اودنبی علیه السلام څخه به یې غوښتل چې د دې په هکله دي اسلامي شریعت احکام پلي کړي.

یواځینی شي چې مسلمانانو په مینځ کې شتون درلود هغه د منافقینو شتون وو چې دوي لپاره هم رسول الله علیه وسلم تدابیر نیولی وو اصحابو ته یې د هغوي نښانې ښودلې وې، حضرت ابودردا رضی الله عنه فرمایي، چې مانه یوشخص پوښتنه وکړه (الم یکن فیکم صاحب الوساد وصاحب السرالذی لایعلمه غیره والذی أجیرمن الشیطان علی لسان النبی؟ اماصاحب الوساد ابن مسعود وصاحب السرحذیفه والذی اجیرمن الشیطان عمار). (۴۳۸:۵)

آیا تاسوکې درسول الله ﷺ د خدمت صاحب د رسول الله ﷺ د پټو رازونو ملګري همدارنګه چې د رسول الله ﷺ د عا په اساس د ذشیطان شرنه په امان کې وو نشته؟ ماویل د رسول ﷺ د خدمت ملګری ابن مسعود دی، صاحب د سرابن یمان او د شیطان د شرنه ساتل شوی ملګری موعمار دی.

اسلامي نظام د دې لپاره چې حدود او قصاص تطبیق کړای شي ټولنې ته امن وامان راولي نو دا، هرڅه امکان نلري مګر داچې مجرمین اومشکوك اشخاص تعقیب شي هغوي د اسلامي نظام تابع کړای شي. (۱۱۵:۹)

الله تعالی قران کریم کې صراحتا ذکر کوي چې (ولاتجسسوا) تاسو تجسس مه کوئ نو دا حکم عام دی د سلطان او رعیت ټولو لپاره دی، نو دا څنګه موږ د مجرمینو تعقیب او تجسس وکړو.؟ امام ابویعلي تجسس ته په دوو حالتنو کې جواز ورکړی.

الف: د تجسس نه کول د حرام فعل سبب شي

لکه یو شخص وسایل برابرکړي او غواړي څوک په قتل ورسوي یا شخص غواړي زنا وکړي، غلا وکړي نو شخص لپاره لازم او ضروري ده چې د مشکوک شخص تجسس وکړي هسې نه دا حرام فعل مینځ ته راشي.

ب: د ضرورت په اساس تجسس کول

لکه فقهي قاعده هم شته چې الضروراة تبیح المحظورات یعني ضرورتونه منع کړي شیان مباح ګرځوي. (۱۸:۲۲۰)

زموږ قوانینو همدې ضرورت ته په کتو مخفي اقداماتو ته جواز ورکړی او داسې وایي که چیرې جرم له بلې لارې نه کشف کېده، نو بیا پټ کشفي اقدامات باید ترسره شي.

**دریيم جز: د اسلامي نظام دښمنانو باندې پټ کشفي اقدامات**

تجسس اسلامي نظام کې پر دښمنانو شرعا جایز دی، د مسلمانانو پر امیر واجب دي چې د جنګ پر وخت دښمن مقابل کې د تجسس څخه کاروا‌خلي.

رسول الله ﷺ په غزواة کې د تجسس څخه کاراخیستی د همدې کار لپاره اصحاب رضي الله تعالی عنهم یې لیږلي د هغې جملې څخه حضرت حذیفه، نعیم بن مسعود، عبدالله بن انیس، خوات بن جبیر، عمروبن امیة، سالم بن عمیر رضی الله تعالی عنهم اجمعین یادولی شو.

**دویم مطلب: د ښمنانو باندې پټ کشفي اقداماتو کولو د مشروعیت دلائیل**

پر د ښمنانو باندې تجسس کول اسلامي شریعت کې په اتفاق د علمأو جایز دی په دې هکله د قران کریم نبوي احایثو څخه دلایل ذکرکول غواړم.

**لومړی جز: قران کريم**

۱- الله تعالی ﷻ فرمايي:( وأعدوالهم ماستطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدوالله وعدوكم وآخرين من دونهم لاتعلمونهم الله يعلمهم.).( ۱: آيه ۶۱۱)

**ژباړه:** تاسې ترخپلې وسې ډېر زيات طاقت تيارکړئ آسونه، د هغوي مقابلې لپاره برابرکړئ. ترڅو چې په دې وسيله د الله تعالی پر دښمنانو، پرخپلو دښمنانو او پر هغوي نورو دښمنانو هيبت راولئ، چې تاسې يې نه پېژنئ خو الله تعالی ﷻ يې پېژني.

پر دښمنانو تجسس کول او د هغوي حال احوال نه ځان خبرول د هغوي قوت نه معلومات اخيستل د قوة اسبابو څخه يوسبب دی.

۲- بل ځای کې الله تعالی ﷻ فرمايي:( ياايهالذين آمنو خذوحذركم فانفرو اثبات أوانفزوجميعأ ).( ۱:النساء،آيه ۷۱)

ای هغو کسانوچې تاسو ايمان راوړی د دښمن مقابل کې آماده و اوسئ خپلې وسلې واخلئ ټولګي،ټولګي يا يوموټی دښمنانو مقابل کې ووځئ.

حذر په وزن د حضر د بيداری او آماده ګی په معنی دی يا د خطراتو مقابل کې ځان تيارول يا هغه وسيله ځان سره اخيستل يا ځان لپاره چمتوکول چې خطراتو څخه ځان خبر کړو يا ترې ځان بچ کړو. د دښمن مقابل تجسس کول هم ځان د خطراتو څخه خبرول او د خطراتو څخه ځان ساتل هم يوه وسيله ده چې ځان سره يي بايد ولرو.

**دويم جز: حديث شريف**

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ژوند مبارک کې ډېر غزواة شوي چې هغه مبارک ﷺ خپله رهبري کوله د غزوې څخه مخکې د ده لپاره کسان وو چې د دښمن احوال راوړي د هغوي وسلې د جنګ سامان الاتو باره کې ده مبارک ﷺ ته خبر

راوړي. د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دغه عمل چې موږ لپاره عملي سنت دي دا په ډاګه کوي چې دښمن باندې تجسس کول شرعا جایز دي.

### درېیم جز: عقلي دلیل

مسلمانان د اسلامي نظام د جوړولو او د هغې حفاظت لپاره ډېرو اسبابوته ضرورت لري، دا چې اسلامي نظام ځان لپاره بنسټونه لري د دې بنسټونو څخه یوه هم دفاعي قوه ده چې د هغې په ذریعه د کفارو، منافقینو، عهدماتوونکو مخه نیول کېږي د هغوي د اقتصادي، سیاسي او نورو چارو څارنه دې وشي په واقعت دا څارنه او مراقبت د اسلامي نظام د ساتنې په معنا ده چې دا د مهمو واجباتوڅخه ده اوعقل هم په همدې حکم کوي.

اسلامي نظام مشر باید په دې پوه شي چې د اسلامي نظام احترام اوبقأ دمسلمان د احترام اوبقأ څخه ضروري ده، ځکه که چېرې د اسلامي نظام بقأ د اسلامي نظام مشر د وژلو سره هم کېږي باید ترسره شي. دا چې د مسلمانانو امیر وینه تویونه د اسلامي نظام بقأ لپاره واجب ده، نو اسلامي نظام بقأ لپاره د تجسس کول په طریقه اولي سره واجب کېدلی شي.(۱۴۹:۴)

### درېیم مطلب: غیر مشروع پټ کشفي اقدامات

اصل کې فقها په نزد د تجسس غیر مشروع دی، په دې هکله د قران کریم آیتونه احادیث مبارکه اوصحابه کرامو عمل په دې شاهد دی چې تجسس کول مشروع ندې. دې موضوع لپاره لومړی قراني دلیل، بیا حدیث مبارکه او آخر د اصحابو رضی الله عنه عمل دلیل په توګه بیانوم.

**لومړی جز: قرآن کریم**

الله تعالی ﷻ په سوره الحجرات کې فرمايي:( يااىيهالذين آمنوا اجتنبوا كثيرمن الظن ان بعض الظن اثم ولاتجسسوا ولايغتب بعضكم بعضا أيحب احدكم أن يأكل لحم اخيه ميتا فكرهتموه، وتقوالله أن الله تواب رحيم). ( ۱: الجرات،آیه۱۲)

**لنډ تفسیر:** ای ایماندارو د ډېرو ګومانونو ځان وساتئ بېشکه ځینې ګمانونه ګناه ده په دې کې ټولو ګمانونو قسمونه داخل دي او د چا دعیب لټون مه کوئ د خپل مسلمان ورور غیبت مه کوئ د غیبت مخکې مذمت دی، چې آیا تاسو دا خوښوئ چې د خپل مړ ورور غوښې وخورې خو دا کار خامخا بدګڼئ د الله تعالی څخه ووېرېږئ بېشکه الله تعالی معاف کوونکی اومهربان دی.

**دویم جز: نبوی احادیث شریف**

عن ابى ذرالاسلمى رضى الله عنه قال خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:(يامعشر من آمن بلسانه ولم يدخل الايمان قلبه، لاتغتابواالمسلمين ولاتتبعوا عوراتهم، فانه من اتبع عوراتهم يتبع الله عورته، ومن يتبع الله عورته يفضحه فى بيته). (٥٦٨:٧)

د حضرت ابي ذرالاسلمي څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ یوه ورځ موږ ته خطبه وویله او ویې فرمایل: ای د هغې ډلې خلکو چې په ژبه مو ایمان راوړئ خو لیکن ایمان مو زړه ته ندې ننوتی شوی د مسلمانانو غیبت مه کوئ او هغوي پسې بد مه وایئ، همداشان د مسلمانانو عیبونو او پټ رازونو پسې مه ګرځئ، په تحقیق سره څوک د مسلمانانو عیبونو پسې ګرځي او د هغې ښکاره کولو کوښښ وکړي الله پاک به د هغه عیبونه ښکاره کړي.

**درېیم جز: عقلي دلیل**

په اسلامي نظام کې یا ټولنیز ژوند کې هرشخص د خصوصي حریم درلودونکی دی، ټول علماء او د عقل خاوندان د اسرارو د پټ ساتلو وجوب باندي حکم کوي. په ټولنه کې د افرادو پټ رازونه افشاکول هغې پسې جستجو کول د انساني کرامت خلاف خبره ده. دمسلمان عزت او شرافت ساتل تر ټولو مهم مسئله ده چې اسلامي نظام باید هغې ته پاملرنه وکړي. شرعي نصوص او قوانین او سالم عقل په خصوصی امورکې تجسس ناروا بللی او عقل شخصي حریم محترم شمېرلی خو د نظام د مصالحو لپاره همدې محترم حریم د تفتیش اجازه ورکړې ده. (۱۵۳:۴)

## دویم څپرکی

### د قوانینو له نظره د پټو کشفي اقداماتو پېژندنه

په دې بحث کې به پټ کشفي اقدامات د افغانستان د مختلفو وضعی قوانینو له نظره په جلا جلا توگه وڅېړل شي.

**لومړی مبحث- پټ کشفي اقدامات د افغانستان وضعي قوانینو له نظره**

دا چې موږ لومړی برحه کې پټ کشفي اقدامات د اسلامي شریعت له نظره وڅېړل، په دې بحث کې پټ کشفي اقدامات د افغانستان وضعي قوانینو له نظره ترڅېړنې لاندې نیسو. د افغانستان جزایي اجرآتو قانون چې په کال **۱۳۹۳** کې تصویب شو په دې هکله تر نورو قوانینو ډېر بحث کړی چې د همدې قانون اووم څپرکی همدې موضوع لپاره ځانگړی شوی دی، چې موږ هم د اساسي قانون څخه د مبنا په ذکر کولو سره ډېر بحث په همدې قانون کول غواړو. دلته په لاندې موضوعاتو بحث کوو، پټ کشفي اقداماتو تعریف، مشروعیت، د پټو کشفي اقداماتو مستلزم جرمونه، دپټو کشفي اقداماتو د کولو شرایط، د پټو کشفي قداماتو سرته رسولو محتوا او د هغې

نه افشاء کول، د پټو کشفي اقداماتو سرته رسولو موده، د مکالماتو او ارتباطاتو اورېدل او څارنه او د مخابرې دسندونو ساتل.

**لومړی مطلب: د پټو کشفي اقداماتو مفهوم**

په جزایي محاکماتو اصولو کې یو اصل د دلیل دلاسته راړو د څرګنوالي مشروعیت دی، په داسې شکل چې قضایي او عدلي بنسټونه په خاصه توګه محکمه په هغه دلیل ډېر استناد کوي چې مشروع لارو چارو څخه لاسته راغلي وي. په جزایي نظام کې د دلیل تحصیل لپاره دوه لارې چارې شتون لري:

لومړی دلیل لاسته راوړلو لپاره آزادې لارې چارې.

دویم دلیل لاسته راوړلو لپاره قانوني لارې چارې.

اوس مهال ډېری هېوادونو د دلیل لاسته راوړو آزادۍ اصل قبول کړی ځکه قانوني اصل ځانته د سلسله مراتبو درلودونکی او همدارنګه مؤظفین په یوه محدوده کې مقید ګرځوي په داسې حال چې آزادۍ اصل بیا دا امکان برابروي چې مؤظفین د یوې جرمي قضې داثبات لپاره هر هغه لارې او هر هغه وسیله چې قانوني وي د هغې نه استفاده وکړي.

هرکله چې جرم واقع شي نو دا چې چا جرم ترسره کړی او کوم ځای کې جرم ترسره شوی دا هر څه د ابهام د پردې ترشا وي او بله خوا مظنون او متهم دا کوشش کوي چې دا موضوع پټه پاتې شي او جرمي آثار له مینځه یوسي او مقابل کې د جرم ترسره کېدو له وجهې ټولنې امنیت او عامه ذهنیت ته صدمه رسېدلې وي، نو د قضایي او عدلي مؤظفینو توجه دې ته وي چې د هرې مشروع لارې وي اصلي متهم وپېژندل شي.

دلته چې کوم سوال واقع کېږي چې آيا مؤظفين د دليل لاسته راوړو آزادې طريقې کې هرې وسيلې نه کار اخيستلی شي کنه؟

لکه چې مخکې مو ورته اشاره وکړه مؤظفين حق نلري چې داسې طريقې يا داسې وسيلې نه کار واخلي چې هغه غيرقانوني وي.

د افغانستان اساسي قانون د اتباعو اساسي حقوقو په څېرکی کې يو سلسله حقوق او آزادي په رسميت پېژندلې چې د اسلام مبارك دين د اصولو، بشر د حقوقو نړيوالې اعلامې، د مدني، سياسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنگي کنواسينونو، د شکنچې منع ميثاق او نورو تړونونو مطابق دي.

نو د اساسي قانون احکامو ته په کتو د جزايي اجرآتو قانون کې هم دمظنون اومتهم حقوق په رسميت پېژندل شوي اومؤظفين يې د هغې اجرا او رعايت باندې مکلف گرځولي دي، په همدې منظور هر هغه اعمال چې د افرادو اساسي حقوقو او آزادۍ ته صدمه رسوي د دليل دلاسته راوړو لپاره غير مشروع او غيرقانوني دي او محکمه نشي کولی هغې باندې استناد وکړي.

هرشخص چې په يوې ټولنې کې ژوند کوي د يوسلسله حقوقو درلودونکی دی چې هغې ته خصوصي حريم وايي نور خلك د دولت مؤظفينو په شمول دا حق نلري چې دې خصوصي حريم باندې تېری وکړي لکه د شخص استوگنځي حريم، د ارتباطاتو او مراسلاتو خصوصي حريم او داسې نور.

په مقابل کې داسې موارد شتون لري چې د جرم کشف او تثبيت د ټولنې امنيت او سلامتۍ ته ډېر ضرور گڼل کېږي د همدې دليل لپاره قانون اجازه ورکړې چې د جرم

کشف کې د خاصو وسایلو څخه کار واخیستل شي چې دا کار ظاهرآ د اشخاصو یو لړ حقوقو او آزادیو سره په تضاد کې واقع دی.

یو لړ خاص جرایم شتون لري چې په قانون کې تصریح شوي او په استثنایي توګه د هغې کشف لپاره نظر دې ته چې دا جرایم اهمیت درلودنکي دي او هغه جدي خطرات چې بشري ټولنې ته يې دا جرایم متوجه کوي، ترڅو په خاصه توګه د دې جرایمو کشف ته اقدامات وشي، د دغه ټولو اقداماتو اوخاصو وسایلو نه استفاده کول قانون کې وړاندوینه شوې ده او دې وسایلو او په خاصه توګه دې جرایمو ته رسیده ګي کول ډېر جدي ضرورت دی؛ نو دغو وسایلوته پټ کشفي اقدامات ویل کېږي چې جزایي اجرآتو قانون کې د دې لپاره یو فصل اختصاص کړل شوی دی.

**لومړی جز: د مراسلاتو او مخابراتو آزادي او محرمیت**

د فرد د حقوقو څخه یو هم د مخابراتو او مراسلاتو آزادي او محرمیت او شخصي اسرارو مصؤنیت دی، هېڅ شخص د دولت په شمول حق نلري چې داحق او آزادي محدودې کړي یا د اشخاصو د لیکنو مخابراتو، مراسلاتو او مکالماتو پلټنه وکړي یا داچې د اشخاصو شخصي اسرار افشاء کول د قانون خلاف عمل دی.

**دویم جز: نوې تکنالوژي او شخصي اسرارو حفظ**

د علم پرمختګ او نوې تکنالوژۍ راتګ سره د بشر لپاره ډېرې آسانتیاوې برابرې کړي دي، نوي مخابراتي وسایل او مراسلاتو اوس محال د ډېرو ارتباطاتو سبب شوي او ورځ په ورځ دغه وسایلو سره انسانانو ترمینځ فاصلې کمې شوي او نړۍ يي د یو کلی په څېر ګرځولې ده. نو انسانان کولی شي دغو وسایلو او آسانتیاوو څخه د قانون په حدودو کې ګټه پورته کړي، نو اوس چې کوم سوال واقع کېږي هغه دا دی چې

آیا اوس هم دولتي اوخاصتآ امنیت د مخفي پولیسو په شمول او دولتي مؤظفین کولی شي چې د اشخاصو دا حق اخلال کړي او د دې حق څخه د ګټې اخیستنې مانع وګرځي یا په بل عبارت سره آیا هغوي قانونا دا حق لري، ترڅو د افرادو مراسلات او مخابرات د نظارت لاندې ونیسي او مخابراتي وسایل دآورېدلو لیدلو له لارې کنټرول کړي یا مراسلات وپلټوي؟

د افرادو اساسي حقوق ډېر مهم دي او د دولت په شمول ټول افراد د هغې په رعایت باندې مکلف دي اما ځینې خاص موارد شتون لري چې امنیتي مؤظفینو ته دنده سپارلې ترڅو د یوې موضوع سره متناسب او ضروري ولیدل شي موجه او مقعول اقدام وکړي.

**درېیم جز: د مراسلاتو او مخابراتو محرمیت د افغانستان په اساسي قانون کې**

دا موضوع د افغانستان د۱۳۸۲ ه ل کال اساسي قانون کې یادونه شوې چې داساسي قانون ۳۷ماده داسې صراحت لري:

( د اشخاصود مخابرې او لیکنو آزادي اومحرمیت که په لیکلي ډول وي یا ټلېفون او تلګراف یا نورو وسایلو له لارې، له تېري څخه خوندي دي. دولت د اشخاصو دم خابرو او لیکنو دپلټنې حق نلري، مګر د قانون له حکمونو سره سم).( ۲۲: ۱۳۷ماده)

اساسي قانون د مراسلاتو محرمیت او آزادي که هغه د ټلېفون له لارې وي، د تلګراف یا نورو وسایول د تېري څخه خوندي ګڼلي دي، نه یواځې دا چې اشخاص د دې تېري څخه منع شویو بلکې دولتي ادارې هم د هغې کنټرول او دپلټنې څخه منع شوي دي. هغه استثناء چې قانون کې د هغې یادونه شوې ده هغه د قانون حکم دی، هغه قوانین چې د مراسلاتو کنټرول او تفتیش ته اجازه ورکوي هغه جزایي قوانین خاصتآ

د جزايي اجرآتو قانون دی، چې د جرم د وقوع په صورت کې، د مجرم د لټولو او د نیولو لپاره هغه جرایمو کې چې خاص وي د دې حق څخه ګټه اخیستل کیږي. په دې کې مهمه خبره دا ده چې هغه خاص مواردو کې چې د دې حق نه ګټه پورته کیږي باید دقت څخه کار واخیستل شي او په استثنایي شکل د دې حق نه استفاده وشي کنه د اتباعو آزادي او اساسي حقوق يې تر پښو لاندې کیږي.

د اسلام مبارك دين هم د بدګمانۍ او سؤظن نه منع وضع کړې ده او هرقسم تجسس د نورو آزار او اذيت لپاره منع او دا کار د انساني حيثيت او شرافت مخالف دی د همدې لپاره اسلام مبارك دين کې غيبت او تجسس يو د لويو ګناهونو څخه شمېرل کیږي.

**څلورم جز: د مخابراتو او ليکنو مصؤنيت او آزادي په بين المللي اسنادو کې**

په بين المللي اسنادو کې دغه موضوع په ډېرو ميثاقونو او معاهدو کې ذکر شوې چې د هغې جملې څخه د بشر حقوقو نړيواله اعلاميه او د مدني اوسياسي حقوقو نړيوال ميثاق څخه يادونه کولای شو.

**د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه:** د بشردحقوقو نړيواله اعلاميه د ليکنو مصؤنيت او د شخصي اسرارو حفظ يې محترم ګڼلی، نورو ته يې د مداخلې او د هغې افشاء کولو اجازه نده ورکړې. د بشر د حقوقو نړيوالې اعلامې ۱۲ماده: (هېڅ څوك نه بايد خپل خصوصي ژوند کې، کورني اسرار، اقامتګاه ياليکنو لپاره د نورو له طرف په خود سرانه ډول د مداخلې لاندې ونيول شي، د هغې شرافت، رسم او نوم يې حملې لاندې ونيول شي، هر څوك حق لري چې د داسې مداخلو په صورت کې د قانون حمايت لاندې ونيول شي. (۲۵: ۱۲ ماده)

**د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق:** (هېڅوک په خصوصي اوکورني ژوند، استوګنځي يا د ليکنو په مواردو کې په خودسرانه ډول(پرته د قانوني مجوزڅخه) يا قانون خلاف د مداخلې لاندې ونيول شي، همدارنګه د هغه شرافت اوحيثيت نه بايد په غيرقانوني ډول د تعرض لاندې ونيول شي. هرڅوک حق لري د داسې خودسرانه مداخلو په صورت کې د قانون حمايې لاندې ونيول شي).

لکه چې وليدل شول د بشرحقوقو اعلاميه او د هغې مربوطه کنوانسيونو کې د اشخاصو خصوصي حريم په رسميت پېژندل شوی او دولتونه د هغې رعايت باندې مکلف ګڼل شوي دي.

**دويم مطلب: د مراسلاتو او مخابراتو تفتيش(پلټنه)**

دافغانستان اساسي قانون(۳۷) مادې دويم پراګراف د مراسلاتو اومخابراتو پلټنه د يواصل په توګه منلي هېڅوک د دولت په شمول داحق نلري چې هغه وپلټي مګر هغه استثنات چې خپله قانون د هغې لپاره ذکر کړی دی. (دولت د اشخاصود مخابرو اوليکنو د پلټنې حق نلري، مګر د قانون د حکمونو سره سم).

کله چې جرم واقع شي نو مستنطق دا حق پيدا کوي چې د اشخاصو لازم اسنادو او اوراقو په شمول د شخصي ليکنو، اسنادو، مراسلات او مخابراتو ته لاس رسی پيدا کړي په دې شرط چې دغه ذکرشوي اسناد او مخابرې جرم کشف او اثبات کې مرتبط وي، اما دا حق هېڅ کله نلري چې هغه مطالب هم افشاء کړي چې جرم سره اړيکه ونلري.

که چېرې د جرم اثبات او کشف دا اقتضاء وکړي مستنطق کولی شي د پيغامونو تلګرام او نور مخابراتي وسايلو دپلټنې امر وکړي. ټول هغه اسناد چې جرم پورې مرتبط وي

د مجرم د مجرميت د اثبات لپاره د پلټنې ورګرځي او د اوراقو درج ګرځي. بل محدويت چې قانون وضع کړی هغه د اضطراري يا فوق العاده حالت اعلام دی چې په دې صورت کې د مراسلاتو او مخابراتو مصؤنيت معطل کېږي.

د اساسي قانون (۱۴۵) مادې دا مقيد ګرځولي دي چې په اضطراري حالت کې د (۳۷) مادې دويمې فقرې حکم معطل کېږي يا هغې باندې قيد يا محدويت وضع کېږي.

اساسي قانون (۱۴۵) ماده: (په اضطراري حالت کې جمهور رئيس کولای شي چې د ملې شورا او سترې محکمې د رئيسانو تر تايېد وروسته د اساسي قانون لاندېني حکمونه وځنډوي يا قيود پرې ولګوي. د اوه ويشتمې مادې دويمه فقره، شپږدېرشمه ماده، د اووه دېرشمې مادې دويمه فقره، د اته دېرشمې مادې دويمه فقره.

اوس وخت کې سازمان يافته جرايم لکه ترورېزم، د مخدره موادو قاچاق، انسان تښتونه او داسې نور چې د لويو ډلو اوباشونو لخوا ترسره کېږي د دولتونو او عامه خلکو ذهنونه يې ځانته مشغول کړي. په خاصو مواردو کې بې له دې چې د آزادۍ حق او مخابراتو او مراسلاتو مصؤنيت حق په نظر کې ونيول شي هغې ته رسيده ګي کېږي. مخابراتي پوستونو پلټنه کېږي دغه موارد په قانون کې تسجيل شوي دي. حرفوي مجرمينو اوجنايت کارو باندونو سره د سرتاسري امنيت لپاره مبارزه کول يو لازمي او ضروري امر دی ولې د دې محدويتونو څخه تر هغې استفاده ونه شي چې د مخابراتو او مراسلاتو مصؤنيت تر پوښتنې لاندې راولي.

له بل پلوه د علم پرمختګ بيا په خاصه توګه د کمپيوټر او انټرنټ په ساحه کې او د هغې ناوړه ګټه اخيستنه يو بل له هغه ستونزو او چېلنجونو څخه دي چې د دولتونو او

امنيتي ارگانونو پرمخ پراته دي، خو بيا هم دا ايجابوي چې د مراسلاتو، مخابراتو او ليکنو مصؤنيت په دې زمينه کې مراعت شي او د سازمان شويو جرايمو په دې وسيله هم مخنيوی وشي. په ټولو احوالو کې هغه نکته چې قابل د ذکر ده هغه داده چې د دې وسايلو او امکاناتو نه داسې گټه وانه اخيستل شي چې شخصي اسرار افشاء شي او د اشخاصو محرميت، پر حقونو محدوديتونه وضع شي او د همدې حقونو اوآزاديو د بې مورده نقض سبب شي.

**دريیم مطلب: د پټو کشفي اقداماتو مشروعيت**

پټ کشفي اقدامات په نه مشروعيت ولاړ دي؛ مگر قانون جوړونکي د جرمي موضوع د ځانگرتياو په بنسټ ځينې مهال دوي ته اجازه ورکوي څو مخفي اقدامات ترسره شي هغه هم د قانون څرگندو حکمونو له مخې کشفي ادارې د قانوني اجرآتو د اصل پربنا د اساسي قانون د (۵۰) مادې(۲) فقرې له مخې داسې وايي چې اداره خپلې کړنې په پوره بې پلوۍ او د قانون د حکمونو له مخې عملي کوي.

د افغانستان اساسي قانون (۵۰) ماده داسې صراحت لري: (دولت مکلف دی چې د يوې سالمې ادارې او د هېواد په اداري سيستم کې د سمون د را مينځ ته کېدو لپاره، لازم تدبيرونه ونيسی. اداره خپل اجرآت په بشپړه بې طرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي).

د پورتني اصل له مخې چې قانوني اجرآتو د اصل په اړه هغه هم په پوره بې طرفۍ سره حکم کوي کشفي ادارې بايد د خپل هرډول مخفي اقداماتو مشروعيت د قانون د حکمونو له مخې ترسره کړي.

چې جزايي اجرآتو قانون هم د همدې مادې اصل پر بنسټ پټ کشفي اقدامات مشروع ګڼلي او ذیصلاح ارګانونو ته یې اجازه ورکړې، ترڅو پټ کشفي اقدامات ترسره کړي چې همدې قانون د(۱۱۲-۱۱۹) موادو کې پټ کشفي اقداماتو په هکله یادونه شوې، موږ هره ماده باندې جلا جلا بحث کوو، د جزایي اجرآتو قانون(۱۱۲) ماده کې د پټو کشفي اقداماتو تعریف:

د دې قانون په یو سلو دیارلسمه ماده کې د درج شویو جرمونو د کشف او اثبات د راټولو لپاره کشفي پټ اقدامات صورت مونډلای شي.

کشفي پټ اقدامات عبارت دي له: د تلیفون، کمپیوتر، انټرنټ یا نورو معلوماتي، مخابراتي او تکنالوژي وسایلو له لارې مظنونو او تورنو اشخاصو د مکالمو، محتویاتو او ارتباط اوریدل، څارل یا ثبتول او د مکالمو او ارتباط د ډول، ځای، سرچینې، واټن(مسافې)، تګلوری(مسیر)، زمان، نیټې، اندازې او مودې په هکله اطلاعاتو راټول.

په خصوصی اماکنو، کورونو او عامه ځایونو کې د اشخاصو الکترونیکي پټه څارنه یا د مکالمو، حرکاتو او یافعالیتونو ثبتول.

د هغومالي معلوماتو څارنه چې د بانکونو یا نورو مالي او سوداګریزو مؤسسو له لارې صورت مومي.

د مکتوب، بستې (غوټې)، کانتینر، پارسل، مادي اوتخ نیکي وسایلو پلټنه.

د افغانستان له قلمرو څخه د یوه یا څو نورو هېوادونو قلمرو ته، د عدلي او قضایي واکمنو مراجعو په خبرتیا او تر څارنې لاندې د غیر قانوني یا مشکوکو محمولو لیږد رالیږد، عبور او مرور(ترڅارنې لاندې تسلیم ورکولو) ته اجازه ورکول.(۲۳ :۱۱۲ماده)

په دغه ماده کې هغه څه چې قابل د بحث دي هغه د مخابراتي اوتکنالوژي وسایلو کارول، آورېدل او ثبتولو لپاره یا د مظنونو او تورنو اشخاصو د مکالمو ثبت یا نظارت او د معلوما تو را ټولول دي همدارنګه د اشخاصوخصوصي حریم ته داخلېدل او عامه یا خصوصي ځایونو کې د اشخاصو په فعالیتونو مخفي نظارت د مکالمو او حرکاتو ثبت هم کېدلی شي. همدارنګه د خلکو، شخصي بانکي حسابات مصؤن دي. او نور خلك د هغې نه د خبرېدلو حق نلري، سره له دې چې اوس وخت کې ځینې غیر مشروع معاملات مینځ ته راغلي لکه د مخدره موادو خرڅلاوڅخه پیسې ګټل، اداري اومالي فساد جرایم، د وسلو غیر قانوني قاچاق، د پیسو مینځلو جرایم او ورته نور جرایم اشخاصو ته دا، امکانات په لاس کې ورکوي، ترڅوخپلې تورې غیر مشروع پیسې په سپینو مشروع پیسو بدلې کړي د دې لپاره چې د دغسی غیر مشروع اعمالو مخه نیول شوې وي، نو ذیصلاح مالي مراجعو ته ترڅو په خاصو مواردو کې پدغه اعمالو نظارت وکړي، هغوي کولی شي د دا ډول غیر مشروع اعمالو راپور عدلي او قضایي ارګانونو ته ورکړي. دغه شان د اشخاصود لیږد او اړیکو آزادي او محرمیت که په لیکلي ډول وي یا د تلیفون تیلګراف او نورو وسایلو له لارې وي له تېري څخه مصؤن دي دولت د اشخاصو د لیږونو او اړیکود تفتیش حق نلري مګرد قانون د حکمونو له مخې.

دغه موضوع هم باید د کشفي او مخفي اقداماتو موضوع لاندې راولو ځکه چې نړیوال امنیت او مصلحت دا ایجابوي، هغه جرایم چې نړیوال دي یا د هغې صدمه او ضرر ټولو نړیوالو پورې تړلی وي د هغې مخنیوي چې په هره طریقه او وسیله کېږي باید وشي. جنایت کارانو ته دا موقع په لاس ور نه کړای شي، ترڅو د حقوقو اوآزادیو

نه په غير مشروع ډول ګټه واخلي او داسې اعمال ترسره کړي چې نړيوالې سولې او امنيت ته زيان ورسوي.(۲۴۸:۱۴)

آخرنى جز چې په دغه ماده کې ذکر شوى هغه د افغانستان له قلمرو څخه د بل يا نورو هېوادو قلمروته د باصلاحيته عدلي اوقضايي مراجعو ترنظارت لاندې، په آګاهۍ سره د نا قانونه او مشکوکو بارونو انتقال او وړل را وړل ترڅارنې لاندې سپارلو ته اجازه ورکړشي ترڅو د دغسى ناقانونه بارونو انتقال مخه ونيول شي.

**څلورم مطلب:ک شفي پټو اقداماتو مستلزم جرمونه**

د جزايي اجرآتوقانون(۱۱۳) ماده: د لاندې جرمونو د مظنونينو او تورنو پرخلاف پټ کشفي اقدامات ترګټې اخيستنې لاندې نيول کېږي:

- تروريستي جرمونه، د پيسو تطهير او تروريزم تمويل.
- د کورني او بهرنی امنيت پرخلاف د جرمونو په قانون کې درج شوي جرمونه.
- د مخدره موادو او مسکراتو جرمونه.
- د اداري فساد جرمونه.
- داختطاف او د انسان د قاچاق جرمونه.

دعدالت له تطبيق څخه د مخنوي په منظور، د شاهدانو، قاضيانو څارنوالانو او د هغوي د هر يو کورنيو د ګړو د تهديد جرمونه، د هغوي ترڅېړنې لاندې قضې په ارتباط د بين المللي جزايي محکمې په اساسنامه او د روم د ديپلوماتيک کنفرانس په وروستي سند کې درج شوي جرمونه.( ۲۳: ۱۱۳ماده)

لکه څرګنده چې ليدل کېږي په دې ماده کې د شديدو جرايمو يو لست ترتيب شوى نسل وژنه، د بشريت پرضد جرايم، جنګي جرايم، د تېري جرايم، د سولې پرضد

جرايم او داسې نور چې د هغې زيان يو شخص يا يوهېواد ته نه، بلکې زيان يې ټولې نړۍ ته دی، نو له همدې امله په دې قانون کې ذکرشوي دي. (۱۳۵:۱۵)

**پنځم مطلب: د پټو اقداماتو د ترسره کولو شرايط**

د جزايي اجرآتو قانون(۱۱۴) ماده: کشفي پټ اقدامات يوازې د څارنوال په وړانديز او د محکمې په اجازه، په يوه له لاندې حالاتو کې صادرېدای شي:

په هغه صورت کې چې شخص د دې قانون په يوسلو ديارلسمه ماده کې له درج شوجرمونو څخه د يوه په ارتکاب مظنون يا تورن وي يا د هغه په ارتکاب کې شريک وي.

په هغه صورت کې چې د پام وړ سندونو او مدارکو د راټولولو،امکان له بلې لارې څخه موجود نه وي او يا دا چې له بلې لارې څخه يې راټولول د ستونزو د پيدا کېدو باعث شي.

په هغه صورت کې چې شخص د دې قانون په يوسلو ديارلسمه ماده کې په درج شوو جرمونو کې د معلوماتي يا مخابراتي تکنالوژيکي وسايلوڅخه د مظنون يا تورن د ګټې اخيستنې په مورد د علم با وجود، دغه وسايل د مظنون يا تورن په واک کې ورکړي.

په هغه صورت کې چې شخص مظنون يا تورن ته په جرم پورې د اړوندو معلوماتود برابرلو يا ترلاسته کولو، وسيله شي. ۲۳- ۱۱۴ماده.

د شخص د ټليفوني او نورو الکترونيکي وسايلو ليږني خبرې اترې او ځای د اتباعو د اساسي حقوقو په ترڅ کې له هر ډول تېري څخه مصؤن شوي دي.

په اساسي قانون کې دغه حکم د (۳۷ او ۳۸) مادې په لړ کې لیکل شوي دي؛ مګر دا مصؤنیت مطلق نه دی، استثناء منونکی دی، د شخص مکالمو آورېدل د هغه د لیږونو تفتیش او د شخص کور تفتیش اوتلاشي د قانون د حکم له مخې جواز لري، مګر قانون جوړو ونکي باید په فرعی قوانینو کې د خپلو دغه رنګ اجرآتو لپاره منظم قانوني سیستم د هغه د شرایطو ترڅنګ تنظیم کړي څو هسې نه د قانون استثناء څخه سؤا ستفاده وشي او په ټولنه کې د وګړو حقوق او آزادي نقض شي. (۱۳۴:۱۵)

په جزایي اجرآتو قانون کې د مخفي اقداماتو څخه ګټه اخیستل یو لړ شرایطو پورې تړلي دي دا په دې معنا چې په عادي حالاتو کې د مخفي اقداماتو څخه ګټه نشي اخیستلای تر هغې پورې چې قانون کې ذکرشوي شرطونه پوره نه کړي.

مخفي اقدامات هغه وخت ترسره کېدای شي چې څارنوال د مؤجه دلایلو په واسطه د هغې اجرا کولو ضرورت احساس او موضوع محکمې ته پیشنهاد کړي، یا محکمه د مخفي اقداماتو د ترسره کولو اجازه ورکړي؛ بل شرط چې له هغې نه ، یادونه شوې، هغه مجرمیت باندې د شخص متهم کېدل دي یا شریک د جرم سره مرسته کول دي پداسې شکل چې د دې قانون(۱۱۳) ماده کې ذکرشوي جرمونه ترسره کړي، همداسې مخفي اقدامات هغه وخت ترسره کېدلای شي چې د جرم په اړه د دلایلو راټول په هره طریقه ناممکن وي یا دلایلو ټول ممکن وي، خو ستوزمن وي همدارنګه شخص د دې قانون یوسلو دیارلسمې مادې له پوهاوي سربیره مظنون یا متهم ته جرمي وسایل په اختیار کې ورکوي د دې شخص دا کړنه بیا دا معنا لري چې وسایل خپل جرمي همکار ته ورکوي، بلاخره که چېري شخص مظنون یا متهم لپاره د جرم اړوند معلوماتو برابرولو وسیله وګرځي نو پټ کشفي اقدامات ترسره کېدلی شي. (۲۴۸:۱۴)

**شپږم مطلب: د کشفي پټو اقداماتو د کولو (سرته سولو) محتوا او د هغې نه افشاء کول**

د جزایي اجرآتو قانون(۱۱۵) ماده: قضـایي ضـبط مامور مکلف دی، د کشـفي پټو اقداماتو د کولو اجازه د اړوند څارنوال له لارې واکمنې محکمې څخه وغواړي؛ غوښتنه باید لیکلې اولاندې موارد پکې شامل وي:

دهغه شخص بشپړ شهرت چې پرخلاف یې کشفي پټ اقدامات غوښتل شوي دي:

- د جرم ډول.
- د کشفي پټو اقداماتو ډول.
- د کشفي پټواقداماتو د اجرأ مؤجه دلایل.
- د پیل نېټه او هغه موده چې کشفي پټواقداماتو لپاره غوښتل کېږي.

د دې مادې(۱) فقره کې ددرج شویو مواردو د تحقق په صورت کې، محکمه د کشفي پټواقداماتو د کولو قرار صادروي او پرته له دې د دلائلو په یادولو سره، د غوښتنلیک په توگه ردوي.

په هغه صورت کې چې د کشفي پټواقداماتو د کولو د اړتیا حالاتو بدلون موندلی وي یا له منځه تللي وي، محکمه کولای شي له احوالو سره سم خپل قرار اصلاح یا لغوه کړي.

د دې مادې په (۳) فقره کې په درج شوي حالت کې د قضایي ضبط مامورمکلف دي په لنډه وخت کې اړوندې څارنوالۍ ته خبر ورکړي او څارنوالۍ محکمه د حالت بدلون په اړه لیکې توگه خبروي.

ټول اړوند حقیقي اوحکمي اشخاص مکلف دي، په صادر شوي قرار کې درج شوو لارښونو مطابق، په قرار کې شاملو اشخاصو د اړیکو او فعالیتونو اجازه ورکړي.

د دې مادې(۱) فقره کې درج شوي اړوند حقيقي اوحکمي اشخاص نشي کولای، د کشفي اقداماتو د حکم اجرا موجوديت(شتون) او د هغو پايلې د خپل قانوني همکار په استثنی بل شخص ته د محکمې له اجازی پرته افشاء کړي.( ۲۳ : ۱۱۵ماده)

هر ډول کشفي مخفي اقدامات چې د جرم د کشف د کارمند له خوا ترسره کيږي، بايد وساتل شي او تر يو قانوني انحصار لاندې خوندي شي او هغو د افشاء څخه ډډه وشي، د قانون د حکمونو له مخې د اړوند کارمند له خوا د مخفي اقداماتو د افشاء په صورت کې د جرم په اړه د رازنوافشاء کول وظيفوي مسؤليت ترلاسه کوي.

په دغه ماده کې قانون د مخفي اقداماتو د ترسره کولو شکليات په ګوته کړي، دولتي مؤظفين يا د قضايي ضبط مامورينو دندې او مکلفيتونه ښودل شوي؛ نوموړي موظفين مکلف دي چې د مخفي اقداماتو د ترسره کولو لپاره دلايل ولري، د مخفي اقداماتو ليکل شوی متن چې د جرم د کشف کارمند له خوا د څارنوالۍ له لارې محکمې ته د قضايي اجازې د اخيستلو په موخه وړاندې کيږي بايد د هغه شرايطو درلودونکي وي، چې قانون هغه په قيدونو واضح کړي.

په ليکل شوي متن کې دا بايد روښانه شي چې د مخفي اقداماتو د ترسره کولو لپاره شرايط برابر شوي کنه؟ يا د مخفي اقداماتو اجازه اړينه ده کنه؟ د مخفي اقداماتو پيل نېټه او هغه نېټې پورې چې مخفي اقدامات ترسره شي يادونه شوي کنه؟ آيا د بلې لارې د اطلاعاتو ترلاسه کول امکان لري کنه؟.

هغه محتويات چې په دې ماده کې ترې يادونه شوې لکه د شخص بشپړ نوم، د جرم ډول او داسې نور د مخفي اقداماتو غوښتنليک کې يې يادول اړين دي، څکه د

لیك هره برخه قاضي ته دا ذهنیت ورکوي، څو هغه د مخفي اقداماتو په اجازه کې بې عدالتي ونه کړي د اتباعو آزادۍ په ټولنه کې زیانمنې نشې.

محکمه کولی شي د خپل عدالت له مخې د قرار صادرولو سره مخفي اقداماتو ته اجازه ورکړي یا یې رد کړي، بیا که چېرې اړتیا شوه یعنې مخفي اقداماتو کې بدلون راغلی د قرار صادرېدلو سره هغه اصلاح کړي. لکه مخکې د جرمي کشف کارمند غوښتل څو ویډویي کامرې له لارې مخفي معلومات ترلاسه کړي، مګر دغه طریقه د ځینو عواملو له مخې ناممکن ګرځي یا افشاء کیږي، خو هېڅکله د کشف مامور ته د دې اجازه نشته چې دغه تغیرات په خپل سر په مخفي اقداماتو کې راولي، ترڅو چې محکمې څخه په دې اړه اجازه ترلاسه نه کړي لکه د ویډویي ثبت پرځای د ټلیفوني خبرو اترو د آورېدولو وړاندیز وکړي، آن تر دې که چېرې مخفي اقداماتو کې تغیر راځي، نو محکمه خپل مخکینی قرار اصلاح یا لغو کړي.

که چېرې د محکمې قرار لغو شو بیا د کشف مامور نشي کولی د محکمې مخکیني قرار باندې تکیه وکړي او مخفي اقدامات ترسره کړي، همدارنګه کله محکمه په خاصو حالاتو کې د کشفي اقداماتو لپاره پیشنهاد امر تاید کړي، نو ټولې ادارې مکلفې دي چې د محکمې په دستورنو عمل وکړي.

په دغه ماده کې بله موضوع چې قابل د بحث ده، هغه د مخفي اقداماتو او د هغو د نتایجو پټ ساتل دي، هیڅ څوك حق نلري (پرته د قانوني همکار څخه) چې د محکمې د اجازې پرته پټ کشفي اقدامات یا د هغې پایلې افشاء کړي، ځکه د پټو کشفي اقداماتو افشاء کولو سره دغه اقدامات بې اثره کیږي او مطلوب نتایج د هغې نه، نه اخیستل کیږي. (۱۴:۲۵۰)

**اووم مطلب: د کشفي پټو اقداماتو د ترسره کولو موده**

د جزايي اجرآتو قانون(۱۱٦) ماده: د کشفي پټو اقداماتو د سرته رسولو موده تر(۹۰) ورځو پورې وي او د اړتیا په صورت کې تمدیدیدای شي.د کشفي پټو اقداماتو اجراء یوازې د کشف او تحقیق په وخت کې عملي کېږي.

د قضایي ضبط مامور له هر (۳۰) ورځو وروسته په لیکلې توګه د کشفي پټو اقداماتو د اجراء د پرمختګ او لاسته راغلو پایلو رپوټ څارنوالی ته ورکوي، څارنوالي هغه محکمې ته وړاندې کوي. د کشفي پټو اقداماتو د کولو حکم د تمدید وړاندیز د لزوم په صورت کې هغه پایلې چې د مخه اقداماتو له اجراء څخه لاسته راغلي یا د اړونده پایلو د نه ترلاسته کېدو دلایل، په وړاندیز کې درجېږي.( ۲۳: ۱۱٦ماده)

هغه مخفي اقدامات چې د محکمې لخوا د قرار له لارې ورته اجازه ورکول کېږي، د محکمې دغه قرار تر یو ټاکلې مودې پورې د اعتبار وړ دی، هر کله د جرم د کشف کارمند په همدغې موده کې چې قانون یې ټاکي د کشفي اقداماتو په اړه اجراآت وکړل، نو صحت لري هر کله چې د جرم د کشف کارمند له قانوني مهاله ها خوا اجراآت وکړل؛ دغه اجراآت باطل دي او قانوني اعتبار نلري؛ مګر دا چې په خپل وخت کې له محکمې څخه د کره دلیلونو په اساس د مهال تمدید اخیستی، سره له دې هم یوازې په هغې موده کې اعتبار لري چې محکمې تمدید کړی دی. پټ کشفي اقدامات د کشف د پاڼو او تحقیق پورې اړوند دي، ځکه هغه څه چې د یوې جرمي قضېي د اثبات لپاره اړین دي په همدې پاڼو کې ترتیبېږي، په بل عبارت د کشف او تحقیق پر مهال تثبیت کېږي چې جرم چېرته، د چا لخوا او څه ډول واقع شوی یا دا چې د واقع کېدو په حال کې دی چې باید مخنیوی یې وشي.

کشفي پټ اقدامات نامعلومې مودې پورې ادامه نه پیدا کوي، بلکې یوې ټاکلې مودې تابع دي قانون کې دغه موده (۹۰) ورځې ښودل شوې او دا هم ذکر دي چې دغه موده د تمدید قابلیت لري، دا چې تمدید څومره وخت کېدای شي دا هغه څه دي چې قانون کې ورته اشاره نه ده شوې او که چېرې په دغه ساحه کې دقت ونشي دسؤ استفادې امکانات پکې شتون لري؛ ښه خبره دا وه چې، د تمدید موده قانون کې ذکرشوې وی چې تمدید د کومې مودې پورې کېدای شي خو هغه څه چې ذکر دي او د تمدید مودې ساحه یې محدوده کړې هغه د محکمې د غور او د قت مسئله ده، محکمه د ضرورت او کافي دلائیلو نه موجودیت په صورت کې دغه اقداماتو ته اجازه نه ورکوي.( ۱۴: ۱۵۱ )

په هغه صورت کې چې پورته ورته اشاره وشوه، د کشف کارمند اجرآت په هغه مواردو پورې تړاو پیدا کوي، چې د جرم کشف پورې تړاو ولري، نه د شخص په نورو خصوصي سري مسایلو پورې چې کشفي اقداماتو سیوري کې شتون لري، ځکه محمکه یوازې یوې ټاکلې برخه کې د جرم کشف کارمند ته اجازه ورکړې ده، دغه ټکی هم د کشفي مخفي اقداماتو په جدي کنټرول چې د محکمې تر څارنې لاندې دي ور زیاتوي.

د قضایي ضبط مامور له هر (۳۰) ورځو وروسته په لیکلي ډول د کشفي مخفي اقداماتو له ترسره کېدو څخه د پرمختګ او لاسته راغلو پایلو راپور د څارنوالۍ له لارې محکمې ته وړاندې کوي. (۱۵:۲۳۸)

**اتم مطلب: د مکالمو او ارتباطاتو (اړيکو) اورېدنه اوڅارنه**

د جزايي اجرآتو قانون (۱۱۷) ماده: د قضيې د ضبط مامور، يوازې جرمي مکالمو ته غوږ ږدي. کله چې اړخونه غير جرمي مکالمې کوي، هغه مکلف دی اورېدنه بنده کړي. ( ۲۳: ۱۱۷ ماده)

د خصوصي حريم رعايتولو ته په پام سره د قضيې د ضبط مامور دنده لري، ترڅو د مکالماتو د اورېدو د امر په شتون سره سره يواځې هغه مکالمې واوري چې ځانګړې قضيې پورې اړوند دي، هر کله چې دواړه لوري وغواړي د خصوصي موضوعاتو په اړه خبرې وکړي، د قضيې د ضبط مامور مکلف دی، ترڅو د دې مکالمو اورېدل قطع کړي. ( ۱۵ : ۱۳۸)

اما په عمل کې دغه کار رعايتول ستوزمن دی ځکه د قضيې ضبط مامور څنګه کولای شي دغه مکالمې کنټرول لاندې راولي په داسې شکل چې کله شخص د خصوصي موضوعاتو په اړه خبرې کوي هغه قطع کړي د دې خبرې رعايتول دي. قضيې ضبط مامور مهارت او دقت ته ضرورت دی، قضيې ضبط مأمور به هڅه کوي هغه خبرې وا نه وري چې جرمي قضيې پورې تړاو نلري او د اشخاصو خصوصي حريم دې رعايت کړي؛ د اشخاصو خصوصي حريم رعايتول د بشري حقوقو يو قبول شوی معيار دی مؤظفين دې د هغې رعايت ته توجه وکړي او ډېر ضرورت چې ورته نه وي، هغې ته دې نه داخلېږي.(۱۴: ۲۵۲)

**نهم مطلب: د مخابرې د سندونو ساتل**

د جزايي اجرآتو قانون (۱۱۸) ماده: د اورېدل شويو مکالمو ريکارډ يا د ارتباط سندونه محفظه کې مهرلاک کېږي او د اوريدنې يا څارنې د ټاکلې دورې له پای ته رسېدو وروسته د (۳۰) ورځو په ترڅ کې، له لاس وهنې يا ويجاړولو او له غير قانوني

افشاء څخه د ساتنې په منظور، د اوریدنې یا څارنې د حکم صادروونکې محکمې ته ورتسلمیږي.( ۱۴ : ۲۵۲ )

هغه خبرې چې اوریدل شوي، ریکارډ شوي په حقیقت کې یو راز دی چې نور اشخاص هغې نه باید خبر شي او ترې سؤ استفاده وکړي د همدې منظور لپاره قانون مقید گرځولی چې لومړی دغه ضبط شوې خبرې په یوه محفظه کې وساتل شي او د (۳۰) ورځو په ترځ کې هغې محکمې ته تسلیم شي چې د مخفي اقداماتو امر یې صادر کړی دی، داهم د دې لپاره یو خو دا شخصي خصوصی اسناد دي چې نه باید په غیر قانوني توگه د نورو لاس رسي وړ شي له بلې خوا دا اسناد د جرمي قضیې اثبات لپاره مدارك دي چې نباید ضایع شي او محکمې ته تسلیم شي.

**پایله**

بلاخره دې نتیجې ته رسیږو، چې د تجسس لفظ چې پښتو معنا یې پټ کشفي اقدامات دي، د التجسس عربي توری دی؛ چې معنا یې په پټ ډول د خبر ترلاسه کول دي او زموږ قوانینو کې هم همدا معنا اخیستل شوې، خو هلته د تنکالوژیکي وسایلو نه ډېره یادونه شوې، داسې وایي د ټلیفون، کمپیوټر یا نورو مخابراتي وسایلو سره د مظنونینو څارل، د هغوي خبرې ثبتول، د هغوي په هکله اطلاعات راټولول، په خصوصي او عمومي اماکنو د هغوي څارنه او د هغوي مالي او بانکي چارو نظارت دی همدارنگه د افغانستان د قلمرو څخه د نا قانونه محمولو د عدلي او قضایي واکمنو په خبرتیا د هغوي مخنوی دی.

د دې موضوع جواز په هکله اسلامی شریعت کې هم دلایل شته، لوی دلیل همدا دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دښمنانو مقابل کې عملا د تجسس څخه کار اخیستی زموږ د هېواد قوانینو خصوصی حریم محترم شمېرلی، خو دا چې څوك

دغه حريم ماتوي د هغې نه ناوړه استفاده کوي د نورو خصوصی حريم جريحه داره کوي، نه تنها د يوې ټولنې نظم بلکې د ټولو انساني ټولنو نظم مختل کوي، نو هغې مخه په هره وسيله او هره طريقه چې کېږي بايد ونيول شي او پټ کشفي اقدامات نه تنها اسلامي هېوادونو کې بلکې د نړۍ ټولو هېوادونو کې مجوز دي ؛د پټو کشفي اقداماتو لوی هدف د نظام دفاع ده د دښمنانو مقابل کې د ټولنې دفاع، د مجرمينو مقابل کې همدارنگه د جرايمو څخه پاکه ټولنه ده، همدارنگه د هغه جرايمو مخنيوی دی چې هغه د ټولو انساني ټولنو نظم جريحه داره کوي هغې ضرر ټولو انساني ټولنو ته رسېږي. دغه اقدامات د خطرناکو مجرمينو او خطرناکو جرايمو او حرفوي مجرمينو مقابل کې کېږي داسې خطرناك چې په بله لاره دغه جرايم او مجرمين نه مهاريږي، نو د پټو کشفي اقدامات يو لوی هدف د داسې خطرناکو جرايمو او خطرناکو مجرمينو مهارول دي.

بلاخره دانتيجه حاصله شوه چې د مجرمينو، دښمنانو او منافقينو مقابل کې د نظام دفاع لپاره لازمه ده د هغوي مهارول په هره طريقه چې کېږي بايد وشي او دښمن او مشکوکو اشخاصو باندې تجسس يا پټ کشفي اقداماتو کول، د هغوي څارل هم اسلامی شريعت او هم قوانينو کې جايز عمل دی.

**مناقشه**

اوس وخت کې جرايم دومره پېچلي او مجرمين حرفوي شوي چې داسې جرايم تر سره کوي چې د هغې کشف هم ستونزمن برېښي، د همدې جرايمو لپاره پټ کشفي اقدامات په اسلامی شريعت کې او د هېوادونو قوانينو کې يادونه شوې او د هغې د سرته رسولو اجازه يې ورکړې. زموږ د هېواد قوانينو هم دغه موضوع ته مشروعيت ورکړی، قانون کې تصريح شوي او دې ډول جرايمو لپاره يې جواز ورکړی . التجسس

او التحسس دواړه د خبر تر لاسه کولو معنا ورکوي، خو التحسس په نېکو کارونو کې پلټنه یا خبر ترلاسه کول دي او التجسس په بدو کارونو کې د خبر طلب یا ترلاسه کول دي. د دواړو مفهوم داسې بیانوو چې په پټ ډول د خبر ترلاسه کولو څخه عبارت دي. د افغانستان د جزایي اجرآتو قانون هم پټ کشفي اقدامات داسې تعریف کړي: د ټلیفون، کمپیوتر، انټرنت یا هرې تکنالوژیکي وسیلې له لارې د مظنونو او تورن اشخاصو خبرې اورېدل، ثبتول، څارل، د هغه ځای ثبیتول، خصوصی اماکنو کورونو عامه ځایونو کې د اشخاصو الکترونیکي پټه څارنه، د مالي معلوماتو پټه څارنه، د سوداګریزو مؤسسو مالي او بانکي معلوماتو څارنه، د افغانستان له قلمرو څخه د یوه یا څو نورو هېوادونو قلمرو ته، د عدلي او قضایي واکمنو مراجعو په خبرتیا او تر څارنې لاندې د غیر قانوني یا مشکوکو محمولو لېږد رالېږد، ته اجازه ورکول دي.

پټ کشفي اقدامات اصل کې د اسلامي شریعت او قوانینو له نظره غیر مشروع دي، خو د ضرورت پر بنا دې ته په اسلامی شریعت او قوانینو کې اجازه ورکړل شوې، دا چې د الله تعالی د منعې با وجود پټ کشفي اقدامات سرته رسول جایز دي، پټ کشفي اقدامات سرته رسول د ټولنې په امنیت باندې زیات تاثیرات لري په اسلامي نظام کې د تجسس جواز شتون د تجسس اهمیت باندې دلالت کوي. اسلام مبارک دین په خپل آوامرو کې مسلمانانو ته امر کوي چې دښمن لپاره هر څومره قوت وي تیار یې کړئ د دې لپاره چې مسلمانانو شان او شوکت او قوت معلوم شي او مسلمانان په دې قادروي، چې د خپل ځان او خپل نظام دفاع وکړای شي، حدود اجرا کړای شي، با عزته ژوند ولري او خپل نفس، مال اوعزت باندې په امن او امان کې وي.

## وړاندیزونه

تجسس او پټ کشفي اقدامات دې باید په داسې شکل ترسره شي چې دانسانانو انساني کرامت او خصوصي حریم پکې خوندي وي.

د پټو کشفي اقداماتو څخه دې د امکان تر حده استفاده ونه شي، ځکه دغه اقدامات په نه مشروعیت اصل ولاړ دي، خو که چیرې د جرم پورې اړوند سندونه او مدارک له بلې لارې راټول ستونزمن یا ناممکن وه؛ نو بیا د ضرورت په اساس ترسره شي.

د قضیو د ضبط مامورین یا هغه څوک چې پټ کشفي اقدامات ترسره کوي باید مسلکي شخص وي په داسې شکل چې کله مظنون یامتهم جرمي مکالمې کوي، هغه واوري خو کله چې هغه غیر جرمي مکالمې کوي باید قطع یا یط بند کړي.

## ماخذونه


۱- القران کریم.
۲- دتفسیرکتابونه.
۳- الاندلسی، محمدبن یوسف.(۱۴۰۳ق) تفسیرالبحرمحیط جلد ۸. بیروت:المکتبه الاسلامی.
۴- قرطبی، محمدبن احمد.(۶۷۱ق). تفسیرقرطبی الجامع للحکام القران.القاهره : مطبعه عیسی البابی، جلد(۱٦).
۵- احادیثو کتابونه.
٦- النیشاپوري،ابی الحسین مسلم بن حجاج.(۱۳۵۷ش).صحیح مسلم، تحقیق محمد فوادعبدالباقی.قاهره: مطبعه عیسی البابی.
۷- السجستاني، سلیمان بن الاشعث.(۱۳۷۱ش). سنن ابی داوود . القاهرة: مطبعة مصطفی البابی حلبی.
۸- حنبل ،الامام احمد. (۱۳۷۱ش). مسنداحمد. بیروت: المکتبة الاسلامی.
۹- بیهقي، ابوبکرأحمدبن الحسین.(۱۳۵٦ش). سنن بیهقی. حیدرآبادهند: مطبعه دارالمعارف العثمانیه.

۱۰- مبارکپوری، صفی الرحمن.(۱۳۸۷ش) الرحيق المختوم.تهران: کتاب خانه ملی ایران، شيخ الاسلام احمد جام.

۱۱- النجار،عبدالوهاب.(۱۹۶۴م).قصص الانبيأ.تهران: کتابخانه ملی ایران.

۱۲- امين،احمد.(۱۹۶۴م). فخرالاسلام. قاهره: المکتبه عين الجامعه.

۱۳- الغزالی،ابوحامد محمدبن محمد.(۱۴۳۲ق). احياعلوم الدين. القاهرة: المكتبة دارالسلام، جلد(۲).

۱۴- الخرشي، ابوعبدالله محمد.(۱۱۰۱ق). شرح الخرشي على مختصرخليل. قاهره: المکتبه دارالسلام،جلد(۳).

۱۵- اصغری، سيدعلی.(۱۳۹۶ش).جوازجاسوسی برای نظام سیاسی درفقه شیعه.تهران: کتابخانه ملی ایران.

۱۶- محمد نصر، صلاح الدين.(۲۰۰۳م). الحرب نفسية. قاهره: المکتبه مصطفی البابي، جلد(۳).

۱۷- هانی،احمد.(۱۹۷۴م).الجاسوسية الوقايه والعلاج. قاهرة:المکتبه دارالسلام.

۱۸- دانش،حفيظ الله.(۱۳۹۵ش). دجزا عمومي حقوق. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

۱۹- دانش، حفيظ الله.(۱۳۹۸ش). دجزايي محاکمات اصول. کابل:مستقبل خپرندویه ټولنه.

۲۰- رسولی، محمداشرف.(۱۳۹۴ش). شرح وتوضيح قانون اجراآت جزايي. کابل: انتشارات مستقبل.

۲۱- عارفی، محفوظ الله.(۱۳۹ش). کريمنالستيک. جلال آباد:يارخپرندويه ټولنه.

۲۲- عدلی وزارت. دافغانستان اساسي قانون ۸۱۸ رسمی جريده.۱۳۸۲ ش.

۲۳- عدلی وزارت .دجزايي اجرآتوقانون ۱۱۳۲رسمي جريده. ۱۳۹۳ ش.

۲۴- عدلې وزارت .دپوليسو قانون ۹۹۴رسمی جريده. ۱۳۸۸ ش.

۲۵دبشرحقوقونړيواله اعلاميه.۱۳۲۷ ش.

**حبیب الله لوراند**
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، اداري او دیپلوماسۍ څانګه
لارښود استاد: پوهاند شاه ولي خان

# په سیاسي ډګر کې د خوشحال خان متضاد فکر

**لنډیز**

خوشحال خان خټک د خپلو سیاسي مبارزو ترڅنګ د پښتو شعر او ادب لپاره هم هلې ځلې کولې پښتو ژبه پر خپلو هنري افکارو د ژوند، خوند او رنګ ژبه کړه او پښتون یې د پوهې او هنر په ګانه سمبال کړ، چې اوس د پښتو ادب زیاته برخه د خان ادبي، هنري او فرهنګي هڅې او اثار جوړوي.

د پښتو ادب مینه والو او محصلینو سره همېشه دا پوښتنه وي، چې ولې خوشحال خان یو ځای یو څه رد کړي او بل ځای یې بیا تایید کړي دي، چې دا پوښتنه تر دا مهاله ناسپړلې پاتې وه، د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې د پښتو ادبیاتو لارویان او زده کوونکي به د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کې پر موضوعي تضادونو یو اندازه پوهه ترلاسه کړي او په دې برخه کې شته غوټه به ورته پرانیستل شي.

په دې مقاله کې په سیاسي ډګر کې د خوشحال خان متضاد فکر په هر اړخیز ډول سپړل شوی دی د موضوع د څېړنې لپاره مې د خوشحال خان خټک د ژوند، ټولنیزو او سیاسي حالاتو په اړه یو شمېر کتابونه ولوستل او له هې وروسته مې د موضوع اړوند متضاد بیتونه په پوره غوره او دقت سره وسپړل، هیله لرم، چې زما دغه هڅه به وکړای شي د خوشحال خان په دېوان کې د موضوعي تضادونو په پېژندنه او د هغې عواملو په برخه کې د یو ماخذ په توګه ثابته شي او همدارنګه د پښتو ادبیاتو د ماسترۍ او

لېسانس دورې د محصلینو هغه پوښتنې به ورسره ځواب شي، چې ولې خان یو ځای یو څه تاییدوي او بل ځای یې بیا ردوي.

**سریزه**

خوشحال خان د یو ستر شاعر او مفکر په توګه د ډېر اثارو خاند شخصیت دی، خوشحال نه یوازې شاعر بلکې یو غوره پښتون سیاستوال، زعیم، ټولنپوه اوقومي مشر و، په خپل ژوند کې یې ډېرې تودې سړې لیدلي او له دغو تودو سړو یې انتباه اخیستې او په خپل شعر کې یې رانغاړلي دي، خان په ریښتیا هم د پښتون قام داسې یو ننګیالی، توریالی، جنګیالی او پوهیالی شخصیت و، چې بېلګه یې په نوره نړۍ کې دېره لږه پیدا کېدای شي، د ده پیدایښت پر پښتو ادب د خدای ج یوه لویه لورینه وه، دغه نابغه پښتو ژبه پر خپلو هنري افکارو د ژوند، خوند او رنګ ژبه کړه. پښتون یې د پوهې او هنر په ګاڼه سمبال کړ. د شعر ولولو یې پښتو نوره هم رنګینه کړه. لکه چې وایي:

که د نظم که د نثر که د خط دی
په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه

نه پخوا پکې کتاب و نه یې خط و
دادی ما پکې تصنیف کړل څوکتابه

په رښتیا هم خوشحال خان خټک د پښتو ژبې لپاره نه هېرېدونکې کړنې ترسره کړي او پښتو یې د سیمې او ان د نړۍ د معتبرو ژبو سیاله کړې ده. په پښتو ژبه کې چې همدا پورته بیت او د خوشحال خان دېوان ژوندی وي هېڅکله به پښتو ژبه ونه مري. د خوشحال خان خټک په باب پنډ پنډ کتابونه او لیکنې شوي خو، خوشحال لا هم

زياته مطالعه او سپړنه غواړي او دا بهیر اوس هم د پښتو ادب لارویانو د لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا زده کړيالانو له خوا دوام لري او څېړل کېږي.

د ادب لیکنې سترو لیکوالو ته معلومه ده، چې په شرایطو برابره یوه وړه رساله لیکل څومره زیار او زحمت غواړي او بیا زما په شان یو څوک ، چې نوی د څېړنې لیکلو کې زیار ګالي، هرو مرو به ډېر ستړی کېږي، ځکه نوي کار کوونکي ته نه د کار د پرمختګ بندونه ورمعلوم وي او نه یې په سر او بر پوهېږي، بلکې څومره، چې بې بندوباره ځان خوځوي هومره یې کار زیاتېږي؛ خو که سړی لږ پوه وي ، له مشرانو د کار د غوټو د خلاصولو چل زده کوي او په سخته کې مشوره ترې غواړي او په پېچومو د اوښتو کوښښ کوي.

ما لومړی د خوشحال خان په دېوان کې په سیاسي برخه کې د هغو بیتونو راټولولو په موخه ، چې په یو ځای کې یو څه تایید شوي، خو په بل ځای کې بیا رد شوي دي ټول دېوان له سره تر پایه ولوست په بېلابېلو برخو کې مې داسې بیتونه، چې موضوعي ټکر په کې شتون درلود را وویستل او بیا مې د بېلابېلو کتابونو او د خپلو استادانو په مرسته وڅېړل او خپل فکر مې پرې وځغلاوه .

**د څېړنې ستونزه**

هره څېړنه د یوې ستونزې د حل په موخه ترسره کېږي، څو دې ستونزې ته د حل لار پیدا شي، تر اوسه داسې کوم ځانګړی اثر نه دی لیکل شوی، چې د خوشحال خان په دېوان کې دې یې سیاسي متضاد فکر په منظم ډول څېړلي وي.

د پښتو ادب مینه والو او محصلینو سره همېشه دا پوښتنه وي، چې ولې خوشحال خان یو ځای یو څه رد کړي او بل ځای یې بیا تایید کړي دي، چې دا پوښتنه تر دا مهاله ناسپړلې پاتې وه ، خو اوس دا دی د دې څېړنې په بشپړولو سره دا غوټه خلاصه شوې.

**د څېړنې ارزښت**

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې د پښتو ادبیاتو لارویان او زده کوونکي به د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کې پر سیاسي متضاد فکر یو اندازه پوهه ترلاسه کړي او په دې برخه کې شته غوټه به ورته پرانیستل شي.

د څېړنې په ترسراوي سره به خوشحال لوستونکي د هغه متضاد سیاسي فکر پر عواملو پوهه ترلاسه کړي.

**د څېړنې د غوراوي لاملونه**

د خوشحال خان خټک د متضاد سیاسي فکر څېړنه.

دا چې په دې موضوع کې څنګه، چې ښایي په هغه شان څېړنیز کار نه دی شوی، نو پر همدې بنسټ ما وغوښتل، چې یاده موضوع په منظم ډول وڅېړم.

**د څېړنې شالید**

د خوشحال خان خټک پر بېلابېلو اړخونو کار شوی، خو یو څه منظم کار په دې لاندې اثارو کې ترسره شوی دی.

۱- نابغه خوشحال (دبېلابېلو مقالو ټولګه) : دغه کتاب دوکتور پوهاند لالا پاچا ازمون په۱۳۹۷ل کال کې په ۹۵٦ مخونو کې لیکل شوی، په دې اثر کې د خوشحال خان په اړه د درېیو بېلابېلو سیمینارونو لیکنې او یو شمېر هغه لیکنې، چې په بېلابېلو کتابونو

او رسنیو کې خپرې شوې راټولې شوي او د علومو اکاډمۍ او د کابل پوهنتون لخوا د چاپ په ګاڼه سمبالې شوې دي.

۲- خوشحال پېژندنه: دا اثر استاد پوهاند شاولي خان له لورې په ۱۳۹۲ل کال کې په ۲۹۶ مخونو کې لیکل شوی، په دې کتاب کې د خان د پېژندنې سربېره د ده د ژوند بېلابېل اړخونه هم روښانه شوي دي او د ختیځ خپرندویه ټولنې له لورې په جلال اباد کې د چاپ په ګاڼه سمبال شوی دی.

۳- د پوښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره: دغه اثر د پوهاند دوکتور زېورالدین زېور دی، چې په ۱۳۸۹ل کال کې ۳۳۸ مخونو کې د میهن خپرندویه ټولنې له خوا په پېښور کې چاپ شوی دی، چې ده هم په یاد اثر کې د خوشحال خان د افکارو څخه په لنډه توګه یادونه کړې ده.

۴- ننګیالی پښتون: دا د خان په اړه د لومړي سیمینار د مقالو غونډ دی، چې د داخلي او بهرنیو پوهانو او چارواکو له پیغامونو سره په ( ۱۳۴۵ل )کال کې خپور شوی دی.

۵- توریالی پښتون: دا په کابل کې د خوشحال خان په اړه د دویم نړیوال سیمینار د مقالو ټولګه ده، چې په (۱۳۵۰ ش )کال کې په پلازمېنه کې چاپ شوې ده.

٦- فرهنګیالی پښتون: دا د خوشحال خان په اړه د درېیم نړیوال سیمینار د مقالو ټولګه ده، چې په (۱۳۵۸ ش) کال کې په کابل کې جوړ شوی و، خو له بده مرغه د وخت د ناوړه حالاتو له امله په ځانګړې توګه نه دی چاپ شوی.

۷- د خوشحال په اشعارو کې د تاریخي پېښو انعکاس: دا د عبداللطیف جلالي مقاله ده ، چې د خوشحال خان د دویم نړیوال سیمینار لپاره یې په (۱۲) مخونو کې لیکلې او په نابغه خوښحال کې چاپ شوې ده.

**د څېړنې پوښتنې**

۱- د خوشحال خان په دېوان کې سیاسي متضاد فکرشته؟

۲- د کومو لاملونو پر بنسټ خوشحال خان ختټک یوځل یوڅه رد کړي او بیا یې تایید کړي دي؟

۳- دغه موضوعي تضادونه(تکرونه) د خان په شاعرۍ څه اغېز لري؟

**د څېړنې کړنلاره( میتود)**

هره څېړنه د یوې ځانګړې کړنلارې(میتود) له مخې ترسره کیږي، له دې پرته څېړنه له ستونزو سره مخ کیږي، ځکه میتود څېړونکي ته د لارې د مشال حیثیت لري، ما په دې څېړنه کې د کتابونو پر مټ له تشریحي میتود څخه کار اخیستی، لومړی مې د موضوع اړوند اثار راټول او یادښتونه مې ترې واخیستل او وروسته مې د همدې او نورو اثارو په مرسته وڅېړل.

## په سیاسي ډګر کې د خوشحال متضاد فکر

کــــل ګـــــتــــه ده د تـــــورې کـــه کابــل دی کـــه کشمیر

زه یې چا لره وهم، قدر یې چا زده؟ په اور وسېځه دا تورې قلمونه!

(۴: ۴۴۳)

**سپړنه**

کله چې خوشحال خان د پښتنو په ګټه تورو وهلو ته شروع وکړه او وې ویل چې ((یا مغلو سره رزم)) نو د مغلو سره په مقابله کې یې که له یوې خوا قرياني ورکړه؛ ډېر فتوحات یې هم وکړل، د افغانستان په شمول یې اوسنۍ پښتونخوا د مغلو له شتون پاکه کړه، همدغه وخت خوشحال خان په دې باور دی چې: (پښتانه چې بل څه فکر کا ناپوه دي ـــ بې له تورې خلاصی نشته په بل کار) نو په پورته بیت کې هم خوشحال خان په دې نظر دی چې کابل او کشمیر موږ له مغلو ګټو او د دوي له شره ځان خلاصول غواړو؛ نو دا کار به په توره وهلو کوو او د جګړې میدان به ګټو. خو کله چې حالات د خوشحال خان په تاوان وڅرخېدل، خپل زامن یې د مغلو په منصبونو وغولېدل او د مغلو لپاره د خپل پلار په وړاندې ودرېدل؛ نو خوشحال خان ډېر نهیلی شو، خپلې تورې وهل، د پښتنو لپاره جګړې کول او دوي ته د قلم له لارې خدمت کول ورته بې معنی ویسېدل، ځکه یې وویل چې د بې قدرۍ پر وخت دې زما جنګداره توره او قلم په اور وسوځي او لمبې دې پرې پورې شي.

لومړي بیت کې ستر خوشحال په توره وهلو کلک معتقد، خو په ورپسې بیت کې له توره وهلو بېزاره دی چې د تورې د ستاینې او غندیې معنوي تضاد او ټکر یې په شعر کې راغلی دی.

| | |
|---|---|
| هـره چـار د پښـتانـه تر مـغل ښـه ده | اتفاق ورڅخه نشته ډېر ارمـــان |
| که په نورو خلکو ښه سړی موندل شي | ولې ښه سړي به لږ وي افغانان |

(۱۲۳:۴)

**سپړنه**

پښتنو همېشه په دې اتفاق کړی، چې اتفاق به نه کوو، پښتانه که په یو اتفاق وای؛ له شک پرته به یې تاریخي ستونزې هومره نه وای، خوشحال خان پښتانه په زیست او روزګار کې تر مغلو غوره او افضل ګڼي، څو یوازینی څېز، چې خوشحال خان یې خپه کړی؛ هغه د پښتنو بې اتفاقي ده. خو په ورپسې بیت کې له جمله پښتانه (افغانان) بد یادوي او دا ځکه، چې خوشحال خان له خپلو پښتنو او خپلو خلکو نهلی شو!

دا چې یو ځای خوشحال خان یو ځل پښتانه ستایلي او بل ځای یې غندلي؛ همدا زموږ د کار اصلي غایه جوړوي.

که ښه وایم و چا ته هم یې بد نیسي پـه زړه کې
یا بـخت دی د مغلو یـا زمـا څـه عقل کـم دی

نـه بحت دی د مغلو، نـه زمـا څه عقل کم دی
دا کل واړه پیري ده چې مې کار درهم برهم دی
(۲۳۴:۴)

**سپړنه**

کله چې په خوشحال بابا د سیاسي بې ثباتۍ او سیاسي جعرافیې کړۍ محدوده شوه، له یوه طرفه مغلو ده سره خیانت وکړ، له بل طرفه مغلو هغه زوی بهرام د ده په مقابله کې ودراوه چې له همدې امله خوشحال له خپلې خیلخانې او سرای نه دافریدیو سیمې ته لاړ او هلته د غره په ډډه مسکن شو، نو دی چې د غره په ډډه ناست د خپل تنګ تاریخ، تورې وهلو، کړاونو زغملو او نورو منډو تړو ته وګوري او بیا دغسې سیاسي نا انډوله شرایطو ته؛ نو ځان سره متردد شي چې ګنې د ماتې لامل یې د مغلو بخت دی، یا زما د عقل د کمزورۍ علت دی، خو کله چې هوش کوی سمدستي

خپله خبره بېرته اخلي، خپل ځآنته ګوري، خپله تېره ځواني یادوي او اوسنۍ زربودي، نو خرابه ثمره په بوډاتوب تاوانوي او د خپلو ماتو اصلي لامل یې ګڼي.
پورته بیتونو کې د موضوع ټکر همدا دی چې یو ځل د خپلې ماتې لامل په بې عقلۍ او بیا بیرته په خپلې زربودۍ اړوي چې همدا ټکر زموږ د څېړنې اصلي موخه هم ده.

ازادي تـر بادشاهیه لا تیری کا چې و بل تر حکم لاندې شي زندان شي
په ناحق مې ازادیه ته هوس کړ پـه زنـدان د اورنګ زیب ښــه وم تـړلی
(۴۳۲:۴)

**سپړنه**

د خوشحال په قول: ازادي له بادشاهیه لوړه ده او که دا بادشاهي د بل تر حکم لاندې شوه. په زندان تبدیلیږي، یانې ازادي یو داسې ارزښت دی، چې پاچاهي ورته کمزورې ده! ځکه خوشحال بابا د ازادۍ بیرغ د رېپېدلو لپاره له زندانه د جنګ په نیت راوتلی و او د ژوند تر وروستۍ ورځې یې مبارزه ورسره وکړه، خو کله چې د ده خپل همتونه د خپلو زامنو او اهل و عیال د بې ننګۍ په وجهه پرې کیږي، یا د ده دغیرت کار ته خنډونه ور اچوي، یا د خپلو ختکو نامردۍ ته وګوري؛ نو بیا خوشحال د ازدای په هغه تعلیم نا راضه ښکاري؛ کوم چې ده له زندانه د راوتلو پر مهال له خپل ځان سره کړی و.
د موضوع ټکر په پاسنیو بیتونو کې دا دی، چې لومړی ازادۍ ته یو لوړ معنوي ارزښت ورکوي خو په بل بیت کې ناسم او خراب حالت له دغه لوی ارزښت راګرځوي او د اورنګزیب په بند خوشحالیږي.

په ډهلي باندې ګواهي د جنت وله
که راغلی په دنیا چېرې جنت و
(۴:۴۲۳)

هند په ما باندې دوزخ شو
که په نور عالم جنت دی
(۴۴۸:۴)

**سپړنه**

ډهلی او له ډهلي سره زموږ تعامل تاریخي دی، پخوا چې زموږ په وطن فقر منګولې لګولې وې نو خلک به لکه د اوسني اروپا غوندې د هند سیمې ته د پیسو په ګټلو پسې تلل او له هغه ځایه به یې خپله کورنۍ په مالي لحاظ تمویلوله.

ورشـــه لــه هـــنــده روپۍ راوړه
په کورنۍ روپو مې پلارنه درکوینه

ډهلی د کر کېلې، معیشیت او د کاري فرصتونو په لحاظ یوه تر ټولو پراخه او مالدار ترینه سیمه وه، هندۍ روپۍ مهمې وې او چې د چا به لږ هم لاس په غوړو کې و، نو د هغوی د ګټې وټې یو سرۍ به د هند پر ځمکه موجود و.

د هند د سیمې یو ښکلاییز اړخ دا و، چې هندۍ اانجونې د هغه وخت د ښکلا سېمبول ګرځېدلې وه او د همدې ښکلا په وجه یې زموږ د کلاسیکې دورې په ادبیاتو کې د شاعرانو پام ځانته اړولی دی، د خان بابا د شعر یوه نیم بیتي څه داسې هم وه:

(د هند په ملک کې واړه خوبانې دي)

بل د هند سیمه په دې خاطر هم د پښتو د کلاسیکې دورې په ادبیاتو کې په کافي اندازه ځکه مشهوره وه، چې د هند په سیمه سلطان سکندر لودي، سلطان ابراهیم لودي، سلطان شېرشاه سوري، نواب محبت خان، نواب رحمت الله خان، سلطان محمود غزنوي او احمد شاه بابا خپلې بادشاهۍ کړي دي.

خان بابا فرمايي:

شپږ اووه پېړۍ يې هسې بادشاهي وه
چې پـه هنـد کې پښتانه وو بادشاهان

خان بابا چې د هند سیمه په دې دنیا جنت ګڼي؛ وجه يې دا ده چې يو هند دکر کېلې، کار او ابادۍ او د ښکليو انجونو ځمکه ده، په دنیا کې خو د خوشحال بابا په نظر درې مينې ډېرې ښې دي چې يو ښکار مینه، بله د انجونو او بله د اَس وه، د هند په سیمه دا درې واړه مينې موجودې وې او همدغه شیانو د خوشحال په ذهن کې دغه سیمه جنت ګرځولې وه .

خو په ورپسې بيت خوشحال د خپل ژوند يوې تورې دورې ته چې خوشحال هند پر ځمکه د رتنبور زندان ته وبوړل شو او د اورنګزېب په امر هلته دوه کاله او څلور مياشتې نظر بند شو، نو دغه دوه کلونه د خوشحال پر شخصي ژوند، د هغه پر مفکوره او د هغه په احساساتو مثبت تاثيرات لرلي، خان بابا ځای، ځای په خپلې شاعرۍ کې د رتنبور يادونه کړې ده:

ننګـيالي قبلوي ګور
ګور خو نه وي رتنبور

خوشحال د هند سیمه په وروستي بیت کې هم جنت ګڼي خو په دومره توپیر چې دا ځل یې په خپل ځان باندې دوزخ ګڼي او په ځان د دوزخ ګڼلو وجه داده، چې دی رتنبور ته بندي بېول شوی دی.

همدا چې یو ځل د هند سیمه جنت ګڼې او بیا بېرته د جنت ګڼلو په خبره بېرته د ځان د نظر بندۍ په سبب د هند سیمه دوزخ ګڼې؛ دوه موضوعي تضادونه دي چې همدا موضوعي تضاد زموږ د څېړنې اصلي غایه ده.

**پایله**

د خوشحال د مبتغي فکر (ابداغي او د فکر بدلون) د وخت د شرایطو په رڼا کې لکه د سیند اوبه بهیدلی او په خپلو لومړنیو فکري او فزیکي کړنو پښېمانه شوی، خو په دې لار کې یې (د خپلې لومړنۍ خبرې اخیستلو کې) له هیڅا هیڅ ډول عار او ډار نه دی کړی او په اسانه یې نوی فکر خپل کړی دی.

د دې مقالې په اساسي متن کې په سیاسي ډګر کې د خوشحال متضاد فکر په هر اړخیز او بشپړ ډول روښانه شوی دی، ما د خپل کار په جریان کې د خان بابا د دېوان په بېلابېلو برخو کې داسې ډېر بیتونه پیدا کول، چې ظاهري او معنوي تضادونه په کې موجود و، پښتو ادب ته د خوشحال خان د کړي خدمت له امله هغه اوس د یو ستر ادیب، فرهنګپال او نابغه په نامه هم یادېږي، نو زه د خپلې څېړنې په پای کې دې پایلې ته ورسېدم، چې انسان یو محترك او متغایر توکي(موجود)دی، په رواني لحاظ د انسان له اړتیا سره سم د هغه فکر او اډیالوژي تغیر کوي، دا تغیر په انسان کې له ماشومتوبه را روان وي، یو وخت چې انسان خبرې نه شي کولی نو خپلې اړتیاوې د

ژړا له لارې حاصلوي، خو کله چې ماشوم په خبرو راشي، بیا ضرورتونه په ژړا نه بلکې په خبرو کولو پوره کوي.

د خوشحال خان په ژوند کې د فکري بې ثباتۍ او متضادو فکرونو علتونه د ده دعمر(سن) او سیاسي پخګتګۍ او ناپخګتګۍ، قومي او ټولنیز ژوند په موقف، په دیني کم علمۍ او باعلمۍ، د ده د شخصي ژوند او د ده د ژوند د پېښو په رامنځته کېدا، د عاشقۍ په دنیا کې پستۍ او بلندۍ او د شاعرانو پر علمي حیثیت د ترازو په ایښودلو کې موږ په دې څېړنه کې موندلي دي.

خان بابا چې د ځوانۍ په هوس کې د دنیا په دد و دام نه دی بند، نو په هیچا رایه نه وهي، څه چې یې زړه غواړي؛ هغه کوي، دی په ځوانۍ کې د چا د ښو او بدو ډېر پرواګیر نه دی، ناصح غندي او محتسب ته خو ښکاره وایي چې زه ستا نعره نه اورم، خپله باده خورم.

**مناقشه**

لکه څرنګه، چې د خوشحال خان په اړه ډېرو لیکوالو او ادیبانو څېړنې او لیکنې کړي او د هغه د ژوند ډېر تیاره ګوټونه یې روښانه کړي دي .

که زه دلته د هغو اثارو او لیکنو یادونه کوم بویه، چې ډېر وخت او ځای ته به اړتیا وي، خو زه د لته د نومونې په توګه له څو لیکنو څخه یادونه کوم:

۱- نابغه خوشحال(دبېلابېلو مقالو ټولګه) :دغه کتاب دوکتور پوهاند لالا پاچا ازمون په۱۳۹۷ل کال کې په ۹۵۶ مخونو کې لیکل شوی، په دې اثر کې د خوشحال خان په اړه د درېیو بېلابېلو سیمینارونو لیکنې او یو شمېر هغه لیکنې، چې په بېلابېلو کتابونو

او رسنیو کې خپرې شوي راټولې شوې او د علومو اکاډمۍ او د کابل پوهنتون لخوا د چاپ په ګاڼه سمبالې شوې دي.

۲- خوشحال پېژندنه: دا اثر د استاد پوهاند شاولي خان په **۱۳۹۲**ل کال کې په **۲۹۶** مخونو کې لیکل شوې، په دې کتاب کې د خان د پېژندنې سربېره د ده د ژوند بېلابېل اړخونه هم روښانه شوي دي او د ختیځ خپرندویه ټولنې له لورې د چاپ په ګاڼه سمبال شوی دی.

۳- ننګیالی پښتون: دا د خان په اړه د لومړي سیمینار د مقالو غونډ دی، چې د داخلي او بهرنیو پوهانو او چارواکو له پیغامونو سره په کې د خان د ژوند د بېلابېلو اړخو په تړاو مقالې خپرې شوې دي، داکتاب په (۱۳۴۵ل) کال کې خپور شوی دی.

۴- د خوشحال خان خټک په اشعارو کې د ټولنیزو ادبي انتقادي افکارو څېړنه: د ښاغلي زاهد الله(ج) جبارخېل څېړنه ده، چې په کې یوازې د خوشحال خان ټولنیز ادبي انتقادي فکر څېړل شوی دی.

په ډاډ سره ویلی شم، چې زما دغه څېړنه د پورته یادو څېړنو او د نورو لیکونکو او څېړونکوله لیکنو او څېړنو سره بشپړ توپیر لري، ځکه چې ما په دې څېړنه کې (په سیاسي ډګر کې) تضادونه په تفصیل سره څېړلي، چې تر دې وړاندې په دغه برخه کې چا د پام وړ، ځانګړی او منظم کار نه دی کړی، که خدای ج کول زما دا هڅه به د ادب مینه والو او زده کړیالانو سره په دې برخه کې شته پوښتنې ځواب کړای شي او دا تشه به ډکه کړي.

**پایله اخیستنه**

که د انسان فکر په یوه حال پاتې شي؛ لکه ولاړې اوبه سخا کېږي، وخت سره د یوه جدي ضرورت په توگه مناسب تعامل د لویو انسانانو کار وي، خوشحال خان که څه هم ډېر بوخت ژوند درلود، خو د دې بوخت ژوند په دوران کې یې فکر هم متغایر او بدلېدونی لیدل شوی.

د خوشحال د مبتغي (ابداغي او د فکر بدلون) د وخت د شرایطو په رڼا کې لکه د سیند اوبه بهیدلی او په خپلو لومړنیو فکري او فزیکې کړنو پښېمانه شوی، خو په دې لار کې یې (د خپلې لومړنۍ خبرې اخیستلو کې) له هیچا هیڅ ډول عار او ډار نه دی کړی او په اسانه یې نوی فکر خپل کړی دی.

د خوشحال خان په ژوند کې د فکري بې ثباتۍ او متضادو فکرونو علتونه د ده دعمر(سن) او سیاسي پختگۍ او ناپختگۍ، قومي او ټولنیز ژوند په موقف، په دیني کم علمۍ او باعلمۍ، د ده د شخصي ژوند او د ده د ژوند د پېښو په رامنځته کېدا، د عاشقۍ په دنیا کې پستۍ او بلندۍ کې موږ په دې څېړنه کې موندلي دي.

په سیاسي ډگر کې د ده د متضادې ایډیالوژۍ علت دادی چې دی یو وخت د خپل پلار سپاهي دی، مسولیت یې کم دی، توره وهل ورته له پلاره په میراث ور پاتې یو مجبوریت ښکاري، خو کله چې دی په ولس کې ځان ویني چې د تورې او مېړانې سړی دی، د خپلو نیکونو جاگیردارۍ ته خیال کوي، خاني او خپله دبدبه ویني، د سیاسي زعامت لپاره په ځان کې راجمع شوې تومنه ویني، نو د پښتنو لېډرشیف او مشرولۍ ته ور وړاندې کېږي چې تر ډېره پکې بریالی هم دی، خو کله چې له ده پسې ولاړ پښتانه له خپل هوډه اوړي او د وخت د سیاسي مداریانو په لومه کې کېوځي؛ نو دا سیاسي گډوډي د دې علت گرځي چې د خوشحال پر سیاسي فکر

سیوری وغوړوي او له هغه خبرو یې پسې شا کوي، یا یې انعطاف ته اړ باسي؛ کومې چې ده د سیاسي زعامت او رهبرۍ لپاره پښتنو ته وړاندې کړې وې، خوشحال خان مجبور شوی دی چې له خپلو وروستیو تجربو وغبرګو او هرڅه په شف، شف نه بلکې په شفتالو سپین د خپل شعري دیوان برخه ورګرځوي.

**وړاندیزونه**

۱- د ننګرهار پوهنتون د پښتو ماسترۍ بورډ دي خپلو محصلینو ته د خوشحال خان په اړه بېلابېل علمي سیمینارونه برابر کړي، څو هغوی په دې برخه کې څېړنو ته وهڅېږي.

۲ -که د خوشحال متضاد فکر تر کره څېړنو او تحلیل لاندې ونیول شي او ارزیابي شي؛ نو ځوانانو ته به د وخت د غوښتنو او شرایطو سره سم یو متغایر فکر او لیدلوری ورکړي او له چاپېریال سره به یې یو مناسب تعامل او چلند ته راوبلي.

۳ -دا چې خوشحال خان خپله لومړۍ په نظم ویل شوې خبره څنګه دویم ځلي ردوي او د وخت یو سیاسي تعامل ته غاړه بږدي؛ که د دارواپوهنې او اوسنۍ ټولنپوهنې له نظره وڅېړل شي، ډېرې جالبې او نوې خبرې به ترې راووځي.

**ماخذونه**


۱ـ ازمون، لعل پاچا.( ۱۳۹۷ل). نابغه خوشحال. د افغانستان علوموأکاډمي او کابل پوهنتون. کابل: بهیر مطبعه.

۲- حبیبي، عبدالحی.(۱۳۱۷ل).د خوشحال خټک مرغلرې، کندهار: د طلوع افغان اداره.

۳- خټک، خوشحال خان.(۱۳۴۵ هـ ـ ش). طب نامه، کابل: پښتو ټولنه.

۴- خټک،خوشحال خان.( ۱۳۶۹ل ) د خوشحال خان کلیات. کابل: پښتو ټولنه.

۵- رسا، سید رسول.(۱۹۴۶ع). ارمغان خوشحال، پېښور: یونیورسټي بک اجنسي.

٦- رښتین، پوهاند صدیق الله.(۱۳۴۵ هـ ـ ش). ننګیالی پښتون، کابل: پښتو ټولنه.

۷- روهي، محمد صدیق.(۱۳۸٦ل). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۸- زاهد مشوانی، عبدالقیوم. ( ۱۳۸۴ل). د خوشحال خان خټک کلیات. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۹- زیور، پوهاند ډاکټر زیورالدین.(۱۳۸٦ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره، کابل: ساپي د پښتو څېړنو اوپراختیا مرکز.

۱۰- شاولي خان. ( ۱۳۹۲ل). خوشحال پېژندنه. جلال اباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

۱۱- شمشاد.(۱۳۹۵ هـ - ش). د خوشحال فرهنګي ټولنې شپږ میاشتنۍ مجله، دویمه نشراتي دوره، دویم کال.

**عبدالحمید سیرت**
حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه
لارښود استاد: وحید صافي

# د افغانۍ بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې

**لنډیز**

افغانۍ د افغانستان د پولي واحد نوم دی، د لومړي ځل لپاره د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاهۍ په دوره کې د مسکوکاتو تر څنګ په راکړه ورکړه او معاملو کې لار پیدا کړه. په( ۱۲۹۸ ) هجري لمریز کال کې د افغانستان لومړنی بانکنوټ د کابلۍ روپیۍ په نوم خپور شو چې وروسته د افغانۍ په نوم ونومول شو، د( ۱۲۹۸- ۱۲۹۹ ) کلونو تر منځ د یوې افغانۍ، پنځه افغانۍ، پنځوس افغانۍ او سل افغانۍ بانکنوټونه خپاره شول، چې په په تاریخي لحاظ تر اوسه پورې په مختلفو زمانو کې څو ځلې تغیر را تغیر شوي دي، اوسني بانکنوټونه په ( ۱۳۸۱) هجري لمریز کال کې د ښاغلي حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د موقتي ادارې له جوړېدو سره سم، د افغانستان بانک پولي ریفورم تر لاس لاندې ونیوه او په افغانۍ کې د دریو صفرونو په لرې کولو سره د ( ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ ) بانکنوټونه چاپ او خپاره شو چې اوس مهال د هېواد د واحدې او دودیزې پیسې په توګه ارزښت لري، چې په کال ۱۳۸۱ هـ ش کې یو امریکایې ډالر په ( ۴۷ ) افغانیو سره تبادله کېده، چې د وخت په تېرېدو سره د افغانیو ارزښت په کمیدو شوو، چې بلاخره اوس مهال یو ډالر په ملي او نړیوالو بازارونو کې په (۸۹) افغانیو تبادله کېږي، داچې ولي افغانۍ دومره بې ثباته شوې عمده عوامل یې (افغانستان یو مصرفي هېواد دی، په مختلفو طریقو سره له افغانستانه څخه د ډالرو قاچاق، د بهرنیو مرستو بندېدل، په افغانستان کې سیاسي بې

ثباتي، په هېواد کې د اقتصادي منابعو تزلزل، د پانګې فرار، د پانګونې پر وړاندې ذهني او امنيتي خنډونه، پولي سياست (Monetary Policy) او مالي سياست (Fiscal Policy) برخه کې بې کفايتي، په نړيوال مارکېټ کې د امريکايې ډالرو د نرخ لوړوالی او د افغانستان د اسعارو د تبادلې په مراکزو کې د مافيايي ډلو حاکميت او هغوي دوکه اميزه تبليغات) دي، که غواړو چې افغانۍ همېشه با ثباته اوسي نو دا اقدمات (وارداتو په نسبت د صادارتو بيلانس لوړول، د افغانستانه څخه د ډالرو قاچاق مخنيوی کول، د بهرنيو بلاعوضه مرستو د ترلاسه کولو هڅې، په افغانستان کې سياسي ثبات لپاره زمينه سازي کول، داخلي او خارجي پانګونې ته عيني او ذهني شرايط برابرول، د افغانستان بانک لخوا مدبرانه مالي او پولي سياست تدوين، د افغانستان د اسعارو د تبادلې په مراکزو کې د مافيايي ډلو او د هغوي دوکه اميزه تبليغاتو مخنيوی کول او د کنګل شويو زيرمو روښانه ارقام ښودل او د هغې پوره حفاظت او مصونيت ) بايد ترسره شي، دا چې افغانۍ زموږ د ګران هېواد په اقتصادي برخه کې يو مهم هويت دی او د اقتصادي ودې او نما لپاره يو اساسي منبع ده، کله چې د دې منبع د بې ثباتۍ او ثبات لپاره ليکنې او څېړنې کېږي او د بې ثباتۍ مخ يې نيول کېږي او ثبات لپاره يې لارې چارې ښودل کېږي دا په خپل ذات کې د پوره آهميت څخه برخمنه دی، موخه يې داده، چې د افغانۍ ثبات او رزښت ته زمينه سازي وشي، د موضوع په څېړلو کې ميداني او هم کتابتوني تګلارو څخه استفاده شوې او متوقعه نتيجه دا ده، چې افغانۍ ثبات په فرعي لارو ساتل شوی او اساسي لارو باندې کار نه دی شوی.

**کليدي کلمې**: ارزښت، افغانۍ، بانکنوټ ،ثبات او سکه.

**سریزه**

د افغانستان بانک مسوولیت لري چې پولي سیاست تطبیق کړي، دا مسوولیت ورته د افغانستان بانک قانون ورکړی چې داسې صراحت لري : (دافغانستان بانک، د هېواد د پولي سیاست د طرحې، تر لاس لاندې نیولو او اجراء مسول دی)( ۲: ماده ۶۲ مه) چې دا پولي سیاست داسې پالیسۍ ته اشاره کوي، چې د افغانستان بانک د قانون لخوا د ټاکل شویو موخو ترلاسه کولو لپاره تر کنټرول لاندې پولي ابزارونو د کارونې په اړه تر لاس لاندې نیول کیږي، د افغانستان پولي سیاست د هېواد په اقتصاد کې د پیسو په عرضې باندې د اغېزو په موخه د افغانستان بانک د ابزارونو کارول رانغاړي چې موخه یې د ټولیزه بیو او د مالي نظام ثبات ګڼل کیږي، ټیټ او ثابته انفلاسیون، دوامداره ودې او شغل لپاره د مطلوبه شرایطو زمینه برابروي، دا کار د توکو د بیو او په راتلونکي کې د خدمتونو په برخه کې شته نا ډاډمنتیاوې کموي او له کورنیو او تشبثاتو سره مرسته کوي څو خپلې مهمې اقتصادي پرېکړې لکه؛ لګښت، سپما او پانګه اچونه په خورا ډاډ او پاملرنې سره وکړي، دا کار په خپل وار سره د زیاتې ودې بهیر اسانه کوي او په منځمهاله توګه شغلي فرصتونه چې په هېواد کې د ټولیزه اقتصادي سلامتیا او هوساینې لامل کیږي پیدا کوي، د افغانستان بانک د پولي سیاست وضعیت بازار ته د پیسو د عرضې په بهیر کې د بدلونونو د راوستلو له لارې ټاکي، د پیسو د عرضې په بهیر کې بدلونونه تقاضا اغېزمنه کوي، د افغانستان بانک د کورنیو بیو د ټیکاو د لومړنۍ موخې د ساتلو لپاره یو چوکاټ تر لاس لاندې نیولی چې د نقدینه ګۍ د حجم د کنټرول د چوکاټ( Monetary Aggregate Targeting Framework) په نوم یادیږي، د نقدینه ګۍ د حجم کنټرول په اقتصاد کې ډېر ارزښت لري، له همدې امله د سیالیت په کچه کې هر ډول بدلونونه د هېواد په ټولیزه اقتصادي کړنو باندې په مستقیمه توګه اغېزه لري. د همدې لپاره، د سیالیت/ نقدینه

ګۍ په نرخ کې بدلونونه باید د اقتصادي ودې له نرخ او همدا ډول ملي پیسو لپاره تقاضا سره جوړښت ولري. له تېرې څه مودې راهیسې د افغانستان کرنسي (افغانۍ) د نورو هېوادونو د پولي واحدونو، په ځانګړې توګه د ډالر په مقابل کې په دوامداره توګه خپله ارزښت له لاسه ورکوي، چې علتونه یې هم تر ډېره څرګند دي.(۸: ۲۱۹-۲۲۵).

د پولي واحد د ارزښت لوړوالی او ښکته والی دواړه د یو هېواد ا قتصادي پیاوړتیا ته په کتو سره د هېواد په ګټه دي، یعني که د چېن هېواد د پولي واحد ارزښت ښکته دی نو دا یوه اداري موضوع ده، ډېری وخت نړیوالو کنټرول کوونکو ادارو په چېن باندي فشارونه راوړي ترڅو د خپلو پیسو ارزښت لوړ کړي، خو د چېن ګټه په دې کې ده چې خپله کرنسي په ټیټ ارزښت کې وساتي، دا ډېره څرګندده خبره ده چې دا ډول هېوادونه ولې خپله کرنسي ټیټه ساتي؟ که وروسته پاتې هېوادونه د خپلو پیسو ارزښت په قصدي او یا غیرې قصدي ډول ښکته کړي، نو د پیسو د پړسوب (inflation) د رامنځته کېدو باعث ګرځېدلی شي. خو د چېن په څیر پرمختللي هېوادونه دا ډول کارونه په قصدي توګه کوي او هدف یې دا وي ترڅو د خپل هېواد تولیدات په کم قیمت نورې نړۍ ته وړاندې کړي او د تولیداتو د خرڅلاو مارکېټ یې ګرم پاتې شي. که چېن په داسې شرایطو کې د خپلو پیسو ارزښت لوړ کړي چې نړدي ټوله نړۍ ته صنعتي او خوراکي توکې صادروي نو د تولیداتو د خرڅلاو د کموالي جدي ویره یې وجود لري.(۱۰: ۸۱)

بله خوا هغه هېوادونه چې وروسته پاتې دي او تر ډېره د اړتیا وړ تو کي له نورو هېوادونو واردوي، باید خپله کرنسي په لوړ ارزښت کې وساتي. که افغانستان د خپلو پیسو ارزښت ټیټ کړي، نو د یاد هېواد د مالي پالیسو د جوړونې اداري سره دوه

ویرې پیدا کېدای شي یوه ویره د پیسو د پړسوب (Inflation )ده چې دا ډول هېوادونو ته تر هر څه ډېره ګواښوونکې وي او دوهمه ویره دا ده چې که له نورې نړۍ تولیدات واردوي، نو باید د واردشویو تولیداتو په مقابل کې هماغه هېواد د خپلو پیسو زیاته اندازه تادیه کړي، ترڅو د تولیداتو مناسب قیمت پوره کړي، نو د واردولو څخه وروسته یې باید په خپل هېواد کې په لوړه بیه خرڅ کړي، ترڅو د تادیه شوو پیسو جبران ترڅنګ په مناسبه اندازه ګټه هم پلورونکي ته په لاس ورشي. (۲:۹)

نو همدې ته په کتلو سره د افغانیو بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې تر عنوان لاندې دغه لیکنه کې به موږ ته روښانه شي چې افغانۍ د کومو عواملو په اساس بې ثباته شوې او څنګه کولای شوو، چې افغانۍ د ثبات طرف ته یوسو، خو مخکې تردې چې اصلي موضوعاتو ته داخل شوو، لازمه ده، چې لاندې عناوین روښانه کړو:

## څېړنې آهمیت

دا چې افغانۍ د هېواد په اقتصادي برخه کې یو مهم عنصر دی او د اقتصاد ودې او نما لپاره یو اساسي منبع ده، کله چې د دې منبع د بې ثباتۍ او ثبات لپاره لیکنې او څېړنې کېږي او د بې ثباتۍ مخه یې نیول کېږي او ثبات لپاره یې لارې چارې ښودل کېږي دا په خپل ذات کې د پوره آهمیت څخه برخمنه ده.

## څېړنې موخې

د دې لیکنې موخې عبارت دي له:

- د افغانۍ په اړه د افغانستان بانک پولي سیاست روښانه کول.
- افغانیو د بې ثباتۍ لاملونه روښانه کول.

- د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو د ثبات لارې چارې په ګوته کول.

## د څېړنې پوښتنې

1. د افغانۍ په اړه د افغانستان بانک پولي سیاست څه ډول دی؟
2. د کومو عواملو په اساس افغانۍ بې ثباته شوې ده؟
3. څرنګه کولای شوو، چې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو ثبات ته زمینه سازي وکړو؟

## د څېړنې تګلاره

څرنګه چې د موضوع له عنوان: ( د افغانۍ د بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې) له ورایه ښکاري چې د څېړلو لپاره يې میداني، استقرایي او هم کتابتوني تګلارې ته ضرورت درلود، نو موږ هم د موضوع د غوښتنې په اساس یادې موضوع په څېړلو کې د میداني، استقرايې او کتابتوني تګلارې څخه استفاده کړې، ترڅو لوستونکو ته موضوع په حقیقي معنی سره روښانه شوې اوسي، همدرانګه د نمونې په ډول اهل مسلک، اړونده برخې مجرب اشخاص او هم د عامو خلکو څخه مو (۳۰) تنه ټاکلي وو، خو دا چې افغانۍ د ټول هېواد پورې مربوط کېږي، نو ننګرهار او کابل ولایتونه مې ورته ساحه ټاکلي وه.

## پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه

په دې عنوان ( د افغانۍ د بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چاري) تر اوسه پورې کوم څېړونکي څېړنه نه ده کړې، ترڅو د یوې علمي مقالي حیثیت ځانته اختیار کړي، خو یو شمېر لیکوالانو په خپلو کتابونو کې د یو مبحث په ډول چې تر ډېره د هغوی خپل نظریات دي ورته اشاره کړې ده، دا چې یوې څېړنیزې مقالي په توګه یا یو

کتاب په څېر تر اوسه پورې پرې کومه لیکنه نه ده شوې، نو ویلای شوو، چې دا څېړنه په حقیقت کې نوي، تازه او ګټوره څېړنه ګڼل کېږي.

دغه څېړنه په ټولنه کې کومه ستونزه هواروي: څرنګه چې د یو هېواد د پولي واحد ثبات او بې ثباتي د هغه هېواد د خلکو په اقتصادي ژوند فوق العاده تاثیرات لري، په دې معنی کله چې پولي واحد یې بې ثباته شي نو بیا هغه هېواد او خلك یې په اقتصادي لحاظ زیانمن کېږي او کله چې پولي واحد یې با ثباته شي نو د خلکو او دولت اقتصادي حالت یې ښه کېدو طرف ته درومي، په اوس وخت کې افغانستان کې یوه لویه ستونزه اقتصادي حالت خرابوالی دی چې د دې یو علت افغانیو بې ثباتي دی، په دې لیکنه کې د یو څېړونکي په توګه خپل دولت او ملت ته د افغانیو د بې لاملونه او ثباتۍ لارې چارې ښودلي چې ترڅو یادو ستونزې په حل کې له دولت او ملت سره مرسته وشي.

بناً اصلي موضوع ته راځو د افغانۍ د بې ثباتۍ لاملونه او دثبات لارې چارې په دوو مبحثونو او بیا مبحثونه په مطلبونو ویشوو او اړونده نور ضروري عناوین یې پکې روښانه کوو:

## د افغانۍ د بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې

د دې لپاره چې لوستونکو ته موضوع ښه روښانه شوې اوسي، نو دغه عنوان به دوو مبحثونو کې مطالعه کوو، چې لومړی مبحث د موضوع اړوند عمومیات دي او دویم مبحث کې د افغانۍ د بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې تر بحث لاندې نیسو:

## لومړی مبحث: عموميات

په دې مبحث کې به د افغانيو پېژندنه، ځينو مهمو اصطلاحاتو پېژندنه او افغانيو لنډه تاريخچه تر څېړنې لاندې نيسو، نو همدا عناوين په جلا جلا مطالبو کې روښانه کوو:

### لومړی مطلب: افغانيو پيژندنه

د مسکوکاتو او بانکنوټونو له پيدايښت څخه مخکې ټولې معاملې او راکړې او ورکړې د جنس په وسيله تر سره کېدلې چې جنس په جنس يا بارتر مبادله نوميده. له هغه ځايه چې د بارتر مبادله له زياتو ستونزو سره مخ وه او د محصولاتو د تنوع، پرمختگونو او نويو لاسته راوړنو په پام کې نيولو سره د عامه خلکو د اړتياوو تأمينوونکې نه وه، قيمتي فلزاتو لکه مسو، سپينو او سرو زرو د مبادلې د وسيلې په توگه په راکړې ورکړې کې لاره پيدا کړه او د مبادلې بهير يې لا اسانه او اغېزناکه کړ. دې بهير د راز راز مسکوکاتو په ضربولو او د بانکنوټونو په چاپولو او خپرولو سره دوام موندلی چې له مالي پر مختللو محصولاتو سره يو ځای شوی او د مبادلې بهير يې له بل هر وخت څخه گړندی کړی دی، په افغانستان کې معاملې او راکړې ورکړې په بارتر توگه پيل شوې او په بيلا بيلو دورو کې له مختلفو مسکوکاتو څخه په معاملاتو کې گټه اخيستل شوې ده. له دې سکو څخه يو شمېر د افغانستان له پولو بهر او يو شمېر هم د هېواد دننه ضرب شوي دي(۷:۱۲)

اوسنې بانکنټونه په ( ۱۳۸۱ ) هجري لمريز کال کې د ښاغلي حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د موقتې ادارې له جوړيدو سره سم، د افغانستان بانک پولي ريفورم تر لاس لاندې ونيوه او په افغانۍ کې د دريو صفرونو په لرې کولو سره د ( ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ ) بانکنوټونه چاپ او خپاره شو چې اوس مهال د هېواد د واحدې او دوديزې پيسې په توگه ارزښت لري او نسبي ثبات څخه برخمنه ده. همدا

ډول په دې دوره کې یو ځل بیا د ۱، ۲، ۵، افغانیګۍ مسکوکاتو د بانکنوټونو تر څنګ د خلکو په راکړه او ورکړه او سوداګریزو او اقتصادي معاملو کې لاره پیدا کړه.(۳: ۱،۲،۵۹،٦۵،۱۰۱،۱۰۵)

**دویم مطلب: ځینو مهمو اصطلاحاتو پېژندنه**

په دې مطلب کې هغه مهم او ضروري اصطلاحات چې په دې څېړنه کې کارول شوي په لنډ ډول روښانه کوو.

**لومړی جز. ارزښت:** ارزښت ته په انګلیسي کې (value) وایي او په دري کې ورته ( .بها، ثمن، قیمت، نرخ ارج ،اهمیت اعتبار، استحقاق، شایستګی، قابلیت، لیاقت، منزلت...) په پښتو کې ورته ارزښت او قیمت، مقام او منزلت وایي او په اصطلاح کې هغه حالت دی، چې یو څیز ته د هغې د خاصو او ښو ځانګړنو په اساس په آهمیت قایل شوو.(۱۱:۹)

**دویم جز. افغانی:** د افغانستان رأیج قانوني پولي واحد دی، چې مخفف توري یې (AFN) سره ښودل کیږي.(۱:دریمه ماده لومی بند)

**دریم جز. بانکنوټ:** په لغوي لحاظ بانکنوټ (Banknote) خپله انګلیسي کلمه ده، په فارسي کې ورته پول، په دري کې ورته پَیسه او پښتو کې ورته پیسې وایي او په اصطلاح کې هغه وسیله ده، چې انسانان یې د سهولت په موخه د خدماتو، توکو او خپلو ضروریاتو د رفع لپاره ترې استفاده کوي.(۱۲: ۷)

**څلورم جز: ثبات:** ثبات ته په انګلیسي کې (stability) وایي په دري ورته مختلفې مترادفې کلیمې (آرام، استحکام، استقامت، استقرار، استواری، پابرجایې، پایداری، دوام، قدم استقامت، قیام...) کارول کیږي او په پښتو کې د دوام، په خپل حال پاتې

کېدل، خپل حالت ساتنې په معنی سره راځي او په اصطلاح کې عبارت د هغه حالت څخه دی چې یو څېز په خپل حالت کې په پوره ارزښت سره په دوامداره توګه پاتې کېږي.(۱۶: 2022/09/09/ Time: 11:53:29 AM)

**پنځم جز: سکه:** سکې ته په انګلیسي کې (Coin) وایي په دري کې ورته سکه او پښتو کې مسکوك وايي، چې په حقیقت کې یوې دایرې ته ورته کوچنی فلز دی، چې دولتونو لخوا د اقتصادي راکړې او ورکړې لپاره رامنځ ته شوې ده، چې ډېره پخوانۍ تاریخي سابقه لري او په لومړیو وختونو کې د سرو زرو، سپین زرو او مسو څخه جوړېده، خو اوس وخت کې اکثرو هېوادونو کې د نیکل څخه جوړیږي. (۱۴: 2022/09/09/ Time: 10:33:23 AM.)

**دریيم مطلب: افغانیو لنډه تاریخچه**

د مسکوکاتو او بانکنوټونو له پیدایښت څخه مخکې ټولې معاملې او راکړې ورکړې د جنس په وسیله تر سره کېدلې چې جنس په جنس یا بارتر مبادله نومیده، هخامنشیان، باختری، یونان، ساکانو، کوشانیانو، کېداریانو، ساسانیانو، د اسلام ظهور، غزنویانو، سلجوقیانو، غوریانو، احمد شاه ابدالی، امیر عبدالرحمن خان، امیر حبیب الله خان، غازی امان الله خان، حبیب الله کلکاني، محمد نادر خان، محمد ظاهر شاه، محمد داوود خان، د خلق دموکراتیک ګوند، د افغانستان اسلامی دولت، د افغانستان اسلامی جمهوریت او... دورو سکې د هغو سکو له ډلې څخه دي چې د تاریخ په مختلفو دورو کې د راکړې او ورکړې لپاره کارول شوي دي.(۴: ۵۵)

بانکنوټونو د لومړي ځل لپاره د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاهۍ په دوره کې د مسکوکاتو تر څنګ په راکړه او ورکړه او معاملو کې لار پیدا کړه. په( ۱۲۹۸ ) هجري لمریز کال کې د افغانستان لومړنۍ بانکنوټ د کابلۍ روپیۍ په نوم خپور شو چې

وروسته د افغانۍ په نوم ونومول شو، د( ۱۲۹۸- ۱۲۹۹ )کلونو تر منځ د یوه افغانۍ، پنځه افغانۍ، پنځوس افغانۍ او سل افغانۍ بانکنوټونه خپاره شول. څېړونکي باور لري له هغه ځایه چې د اماني دورې په بانکنوټونو کې، د بانکنوټ ارزښت په څلورو (پښتو، دري، اردو او ترکي) ژبو لیکل شوی دی، دا د دې ښکارندوي دی چې دا بانکنوټونه د افغانستان له پولو بهر هم د چلند وړ او په راکړه او ورکړه کې ترې ګټه اخیستل کېده.

انځور:۱



د حبیب الله کلکاني په دوره کې، نوي بانکنوټونه چاپ نه شـــول، خو د امان الله خان د دورې یو شمېر بانکنوټونه هم د حبیب الله کلکاني له مهر سره مبادلې په بهیر کې شامل ول. د نادر خان د پاچاهۍ په دوره کې د بانکنوټونو چاپ ودرول شو او د تېر په شان سرو او سـپینو زرو او نورو فلزونو له مسـکوکاتو څخه په راکړه او ورکړه کې کار اخیستل کېده. د نادر خان په دوره کې د ګراف او چاپ نوي ما شینونه وارد شـــول خو د محمد ظاهر خان د پا چاهۍ پورې بانکنوټو نه خپاره نشـــول. (۳: ۱،۲،۵۹،۶۵،۱۰۱،۱۰۵)

په( ۱۳۱۲ ) کال کې محمد ظاهر خان پاچاهۍ ته ورسېده او په( ۱۳۱۵ ) کال کې د بانکنوټونو د چاپ او خپرولو لپاره په دوه څپرکو او( ۲۱ ) مادو کې اصولنامه خپره کړه چې د دې اصولنامې پر بنسټ بانکنوټونه یو ځل بیا د مسکوکاتو تر څنګ په راکړې او ورکړې کې وکارول شول. د داوود خان د جمهوریت په دوره کې (۱۳۵۲-۱۳۵۷ ) د بانکنوټونو ډیزاین بدلون وموند او د محمد ظاهر شاه پر ځای د محمد داوود خان عکس او د شاهي نښان پر ځاي د جمهوري نښان په کې ثبت شو. په دې دوره کې د ټولو بانکنوټونو ډیزاین واحد، خو په مختلفو رنګونو سره چاپ او خپرېدل. د( ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ ) افغانۍ بانکنوټونه په دې دوره کې په ګردښت کې و.( ۱۱: ۹)

د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت له جوړېدو سره سم، د نور محمد تره کې او حفیظ الله امین د واکمنیو په پړاونو کې د " خلق" نښان په بانکنوټونو کې ثبت شو. خو د لومړي ځل لپاره په( ۱۳۵۸ ) کال کې د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د پرچم ډلې په واکمنۍ کې د افغانستان بانک نښان په بانکنوټونو کې درج شو. د افغانستان د اسلامی دولت په تأسیس سره د افغانۍ ارزښت په بې ساري توګه ټیټ شو او دا حالت د پیسو د لازیات چاپ او د بانکنوټونو د تراکم لامل شو. د افغانیو د ارزښت دا ټیټوالی د( ۵۰۰۰ ) ګون او(۱۰۰۰۰) ګون بانکنوټونو د چاپ او خپریدو سبب شو او په مسکوکاتو راکړه ورکړه په عملي توګه له منځه لاره. د طالبانو د اسلامي امارت په دوره کې، نوي بانکنوټونه چاپ نه شول، او د تېرو دورو بانکنوټونه په راکړه ورکړه کې د منلو وړ او په ګردښت کې و.(۴: ۵۷)

اوسني بانکنتونه په ( ۱۳۸۱ ) هجري لمریز کال کې د ښاغلي حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د موقتې ادارې له جوړیدو سره سم، د افغانستان بانک پولي ریفورم تر لاس

لاندې ونیوه او په افغانۍ کې د دریو صفرونو په لرې کولو سره د ( ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ ) بانکنوټونه چاپ او خپاره شو چې اوس مهال د هېواد د واحدې او دودیزې پیسې په توګه ارزښت لري او نسبي ثبات څخه برخمن دي همدا ډول په دې دوره کې یو ځل بیا د ۱، ۲، ۵، افغانګي مسکوکاتو د بانکنوټونو تر څنګ د خلکو په راکړه، ورکړه او سوداګریزو او اقتصادي معاملو کې لاره پیدا کړه. (۳: ۱،۲،۵۹،۶۵،۱۰۱،۱۰۵)

**دویم مبحث: د افغانۍ د بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات لارې چارې**

په وروستیو کې د افغانۍ ارزښت په بې ساري ډول ښکته شوی دی، چې لا هم د دې ویره شته چې تر دې وروسته نور هم ښکته شي او د نورو اسعارو په وړاندې ارزښت وبایلي دا حالت خورا دردونکی او ډېر ناهیلي کوونکی دی، ناهیلی کوونکی په دې معنی، چې په دې تړاو د ژغورنې او سمبالونې هیڅ هوډ نه لیدل کېږي، دا اقتصادي رکود له سیاسي رکود څخه راپیل شویدی او دا په دېده لاهم د غښتلتیا خواته روانه ده ، لومړی باید په دې پوه شو، چې د اسعارو د تبادلې نرخ څه ته وایي؟ د اسعارو د تبادلې نرخ د نورو هېوادونو د اسعارو پر وړاندې د هېواد د پولي واحد ارزښت ته ویل کېږي. په ساده ژبه که ووایو، په بهرنیو اسعارو د کورنیو پیسو پیرل او پلورلو څخه عبارت دی، دلته یوازې د یوې کرنسۍ پورته کېدل او د بلې د غورځېدلو فلسفه نه ده بلکې، دلته د نرخونو لوړوالی او اقتصادي رکود رامنځته کېدل هم مهم بحث دی که په لنډ ډول ووایو ستونزې نه یوازې د افغانیو په با ارزښته یا بې ارزښته کېدو سره رامنځته کیږي، بلکې دلته د نرخونو لوړېدلو ستونزې په مستقیمه توګه او مخامخ ډول د بهرنیو اسعارو له ارزښت سره غوټه شوې دي او همدا ستر سرخوږی ګڼلی شو .

البته اوس دلته دوه مهم اقتصادي څرخونه تاویږي ، لومړی خپله په نړیوال مارکېټ کې د نورو کرنسیو په وړاندې د ډالرو لوړېدل او دوهم خپله د افغانۍ ارزښت د نورو ټولو کرنسیو په مقابل کې را ښکته کېدل دي، نو په دې مانا چې دلته دوه محورونه او تحولات وجود لري، چې په دې توګه د افغاني ارزښت ورسره په چټکۍ سره را ښکته کیږي، البته د ډالرو لوړېدل په هېوادونو کې توپیر کوي او بېلابېل عوامل لري لکه په پاکستان کې اقتصادي رکود، بودیجوي او سوداګریز کسر او د سودي قرضونو په راتګ سره کلداره په بې ساري ډول را ښکته شوې، همدارنګه له امریکا متحده ایالاتو سره د ترکې سیاسي ترینګلتیا له امله د لیرې (Lira) راغورځېدل هلته یو سبب وګرځیده ، ایراني تومن هم د امریکا او نړیوالې ټولنې د بندیزونو او سیاسي فشارونو او هم په افغانستان کې هم د سیاسي ثبات نشتون له امله افغانۍ ارزښت لویدلی دی.(۱۳: ۱۲)

نو په دې توګه ویلی شو، چې افغانۍ یواځینی پولي واحد نه دی، چې د وخت په تېرېدو سره یې ارزښت ټیټ شوی دی. لکه څنګه چې یادونه وشوه، د اسعارو نرخ د کورنیو او نړیوالو اقتصادي بدلونونو له امله ټیټیږي او لوړیږي نو په همدې اساس افغانۍ هم را غورځیدلې د دې لپاره چې د افغانیو د بې ثباتۍ لاملونه او د ثبات په لارې چارو پوه شوو، نو دا په دوو مطلبونو کې تر بحث لاندې نیسو:

**لومړی مطلب: د افغانۍ د بې ثباتۍ لاملونه**

د دې مطلب د روښانتیا لپاره موږ د استبیان پاڼې له لارې د یادې برخې له متخصصینو څخه معلومات او د هغوي نظریات راټول کړي دي، چې د هغوي ټول نظریات مو په پایله کې ترتیب او توحید کړي دي، چې نوموړو خپلو نظریاتو کې د افغانیو د بې ثباتۍ لپاره لاندې عوامل ښودلي دي:

**لومړی جز: افغانستان یو مصرفي هېواد دی**

د یو هېواد د کرنسي د ثبات لپاره دا لازمي ده، چې هغه هېواد په خپلو صادارتو کې زیاتوالی او وارداتو کې کموالی راولي، ترڅو د نړیوال بازار څخه هغه کرنسي چې نړیوال بازار کې د زیات چلښت په حال کې ده، د توکو د صادرولو په مقابل کې خپل هېواد ته وارد کړي، خو متاسفانه چې افغانستان د خپل ضرورت وړ توکي د بهر څخه واردوي او د صادراتو په مقابل کې د وارداتو بیلانس ډېر لوړ دی، نو همدا د دې سبب شوی دی، چې د وارداتو له امله اوسنۍ نړیوالې کرنسۍ تقاضا زیاتیږي او په نتیجه کې افغانۍ خپل قمیت ښکته او ثبات یې کمیږي. (۵: ۱۴۰۱: ۱)

**دویم جز: په مختلفو طریقو سره له افغانستانه څخه د ډالرو قاچاق**

دا چې اوس وخت کې امریکایي ډالر د نړیوال بازار د چلښت لپاره یو تر ټولو مخکښه کرنسي شمېرل کیږي، نو هر هېواد کوشش کوي چې د خپلو ملي پولي واحدونو د ثبات لپاره د ډالرو ذخیره ولري، هڅه یې دا وي چې په مختلفو طریقو سره د نورو هېوادونو څخه خپل هېواد ته ډالر قاچاق کړي، چې په دې برخه کې د افغانستان څخه ایران او پاکستان ته ډالر زیات قاچاقیږي، ځکه پاکستان د پورونو له امله او ایران د بندیزونو له امله د امریکایي ډالر له کمبود سره مخامخ دی. (۵: ۱۴۰۱: ۲)

**دریيم جز: د بهرنیو مرستو بندېدل**

په تېرو (۲۰) کلونو کې یواځې ( ۴۸ ) سلنه کلنۍ بودیجه د بهرنیو مرستو لخوا تمویل کېده، د پخواني نظام د سقوط سره بهرنۍ مرستې په هغه قسم چې مخکې راتللې اوس بندې شوې او یو محدوده اندازه د ملګرو ملتونو سازمان له طریقه هېواد ته داخلیږي، چې دې هم یو څه د افغانیو د ثبات ساتلو کې مرسته کړې ده، خو په کل

کې ویلای شوو، چې د نړیوالو مرستو راتګ هېواد ته د افغانیو تقاضا زیاته وي، خو اوس په هغه قسم نشته نو افغانیو اخیستلو تقاضا کمه شوې ده او پایله کې ثبات ته صدمه رسولې ده. (۵: ۱۴۰۱: ۳)

**څلورم جز: په افغانستان کې سیاسي بې ثباتي**

سیاسي ثبات د یو هېواد د ټولو برخو د تضمین کیلي ده، که چېرې یو هېواد کې سیاسي ثبات له منځه لاړ شي، نو هره برخه کې ستونزې واقع کېږي، همدې ته په کتلو سره افغانستان په خپل معاصر تاریخ کې په ډېرو لږو دورو کې سیاسي ثبات درلوده او اکثرو دورو کې یې بیا خپل ثبات د لاسه ورکړی دی، نو اوس مهال هم افغانستان په سیاسي لحاظ ثبات (عدم رسمیت پېژندنه، داخلي او بهرنۍ مشروعیت، د نظام تعریف، قدرت انتقال او دوام...) نه لري او خپله افغانان او نړیوال د سیاسي بې ثباتۍ له امله په هیڅ برخه کې پوره باور او اعتماد نه لري، نو له همدې امله اقتصادي بې ثباتي رامنځ ته شوې ده، او بیا دغې اقتصادې بې ثباتۍ له امله افغانۍ خپل ثبات د لاسه ورکړی دی. (۵: ۱۴۰۱: ۴)

**پنځم جز: په هېواد کې د اقتصادي منابعو تزلزل**

د یو هېواد لپاره اقتصادي منابع د هغه جغرافیوي موقیعت ته په کتلو سره تعریف شوې وي، که په اوس وخت کې د افغانستان لپاره اقتصادي منابع عبارت دي له: طبعي ذخایر، مرکزي اسیا او جنوبي اسیا ترمنځ وصلولو په اساس د انرژۍ او توکو د ترانزیټ مرکز، سوداګري، صنعت، اوبه، زراعت او داسې نور، خو که یادو اقتصادي منابعو ته وکتل شي نو داخلي او بیرونۍ پانګې اچونې شرکتونه ترې ویره لري او داسې فکر کوي چې که موږ پانګه اچونه وکړو، نو د دې منابعو په استفاده کې ثبات نشته او د تزلزل په حالت کې دي نو کله چې د یو هېواد اقتصادي منابعو څخه استفاده ونه شي،

نو په دې صورت کې بیا د هغه هېواد پولي واحد هم په مارکېټ کې په دوران کې نه اچول کېږي، او هم ورته تقاضا کمیږي او ثبات ته یې صدمه رسېږي. (۵: ۱۴۰۱: ۳)

**شپږم جز: د پانګې فرار**

پانګه اچونه د یو هېواد د پرمختګ او صادارتو د زیاتوالي سبب ګرځي، ولې متاسفانه چې تېرو شلو کلونو کې د امنیتي ستونزو له امله او په دې ورستیو کې سیاسي بدلون د پانګې اچونې بې ثباتي د دې لامل شوي چې سوداګر او پانګه وال خپله سرمایه له هېواده وباسي او افغانیو اقتصادي څرخ د خپلې عالي درجې څخه کمزروی کړي. (۵: ۱۴۰۱: ۱)

**اووم جز: د پانګونې پر وړاندې ذهني او امنیتي خنډونه**

پانګه اچونه د یو هېواد د پرمختګ او صادارتو د زیاتوالي سبب ګرځي ولې متاسفانه، چې داخلي او خارجي بانګوالو لپاره د افغانستان وضعیت هم په ذهني او په امنیتي ډول د خنډونو سبب شوی دی او خپلو مطالعاتو له مخې ذهني اماده نه دي چې افغانستان کې پانګونه وکړي، له بلې خوا که وکتل شي نو پانګه وال خپل شخصي امنیت ته ډېره توجه کوي، ولې بدبختانه چې افغانستان کې په ډېرو امنیتي قضایاو کې پانګه والو زیاته صدمه لیدلې ده، نو کله چې پانګه وال سرمایه ګذاري نه کوي، نو افغانیو په ارزښت پوره منفي تاثیرات غورځوي. (۵: ۱۴۰۱: ۳)

**اتم جز: پولي سیاست (Monetary Policy) او مالي سیاست (Fiscal Policy) برخه کې بې کفایتي**

په تېرو شلو کالو کې که وکتل شي، نو د افغانستان پولي سیاست (Monetary Policy) او مالي سیاست (Fiscal Policy) برخه کې معیاري کار ترسره نه شوو او

تر ډېره بې کفایتۍ سره مخامخ وو، د یو هېواد د پولي واحد د ارزښت ساتلو لپاره دا لازمي ده، چې خپل پولي سیاست او مالي پالیسي داسې عیار کړي، چې په اوږد مهاله کې د خپلو اسعارو ارزښت پرې ثابت وساتي، خو متأسفانه چې داسې ونه شوو او دا چارو د افغانیو د ارزښت کمیدو او په نهایت کې د بې ثباتۍ سبب شوو. (۵: ۱۴۰۱: ۴)

**نهم جز: په نړیوال مارکېټ کې د امریکایي ډالرو د نرخ لوړوالی**

دا چې اوس وخت کې امریکایي ډالر د نړیوال بازار د چلښت لپاره یو تر ټولو مخکښه کرنسي شمېرل کېږي، نو هر هېواد کوشش کوي چې د خپل ملي پولي واحد د ثبات لپاره د ډالرو ذخیره ولري.( ٦: ١٢)

له بلې خوا د ډېر پخوا څخه امریکا د نړۍ لومړی اقتصادي هېواد په توګه د نړۍ په هره برخه کې اقتصادي کنټرول لپاره په مستقیم او غیر مستقیم ډول اقدامات کوي او د نورو هېوادونو په نسبت خپل هر اړخیز ثبات یې نړۍ ته ثابت کړی دی، نو اکثره هېوادونه ترې متاثره دي او ډالر یې د خپل پولي واحد د ثبات لپاره ذخیره کوي، چې دا د دې لامل شوی دی چې په نړیوال بازار کې د ډالرو تقاضا زیاته شي او قیمت یې نور هم لوړ شي چې دې کار هم د ډالرو پر وړاندې افغانیو د ارزښت کموالي سبب شوی دی.( ۷: ۱۷)

**لسم جز: د افغانستان د اسعارو د تبادلې په مراکزو کې د مافیایي ډلو حاکمیت او د هغوي دوکه امیزه تبلیغات**

څرنګه چې په افغانستان کې د بانکونو ترڅنګ د صرافیو په نامه د اسعارو د تبادلې لپاره یو لوی کارو بار روان دیو چې د افغانستان د بانکونو په نسبت صرافانو سره د

افغانستان د خلکو زیاته سرمایه په چلښت کې روانه ده، که په حقیقي ډول دې ته نظر وکړو، نو ویلای شوو، په دغه برخه کې یوه لویه اقتصادي مافیایي کړۍ د افغانستان د اقتصاد رګونو په بندولو مصروف دي او هر ورځ د یوې پلمې، دوکې او فریب امیزه تبلغاتو په اساس د خپلو شخصي ګټو په خاطر د افغانیو په ارزښت کې د لوړوالي او ښکته والي لپاره کار کوي، ترڅو دوي زیاته ګټه ترلاسه کړي. چې همدې دوکه امیزه اقداماتو په اساس خلك کوشش کوي چې افغانۍ پرځای امریکایي ډالر د ځان لپاره ذخیره کړي. (۵: ۱۴۰۱: ۴)

## دویم مطلب: د افغانۍ د ثبات لارې چارې

د دې مطلب د روښانتیا لپاره موږ د استبیان پاڼې له لارې د یادې برخې له متخصصینو څخه معلومات او د هغوي نظریات راټول کړي دي، چې د هغوي ټول نظریات مو ترتیب او توحید کړي دي، چې نوموړو خپلو نظریاتو کې د افغانیو د ثبات لپاره لاندې لارې چارې ښودلې دي:

### لومړی جز: وارداتو په نسبت د صادارتو بیلانس لوړول

د افغانیو د ثبات لپاره دا لازمي ده، چې د افغانستان په صادارتو کې زیاتوالی او وارداتو کې کموالی راړول شي، ترڅو د نړیوال بازار څخه هغه کرنسي چې نړیوال بازار کې د زیات چلښت په حال کې ده، د توکو د صادرولو په مقابل کې خپل هېواد ته وارد کړو، چې په پایله کې به د افغانیو د اخیستلو تقاضا زیاته شي او خپل ثبات به اوساتي. (۵: ۱۴۰۱: ۳)

**دويم جز: د افغانستان څخه د ډالرو قاچاق مخنيوي کول**

دا چې اوس وخت کې امریکایي ډالر د نړیوال بازار د چلښت لپاره يو تر ټولو مخکښه کرنسي شمېرل کېږي، نو هر هېواد کوشش کوي چې د خپل ملي پولي واحد د ثبات لپاره د ډالرو ذخیره ولري، هڅه يې دا وي چې په مختلفو طریقو سره د نورو هېوادونو څخه خپل هېواد ته ډالر قاچاق کړي، چې په دې برخه کې د افغانستان څخه ایران او پاکستان ته ډالر زیات قاچاقیږي، ځکه پاکستان د پورونو له امله او ایران د بندیزونو له امله د امریکایي ډالر له کمبود سره مخامخ دی، نو که چېرې د قاچاق مخه يې ونیول شي او افغانستان کې ډالر موجود وي بیا به افغانیو لپاره ثبات حتمي شي(۵: ۱۴۰۱: ۴)

**درېيم جز: د بهرنيو بلاعوضه مرستو د ترلاسه کولو هڅې**

په تېرو (۲۰) کلونو کې یواځې( ۴۸ ) سلنه کلنۍ بودیجه د بهرنیو مرستو لخوا تمویل کېده، د پخواني نظام د سقوط سره بهرنۍ مرستې په هغه قسم چې مخکې راتللې اوس بندې شوي او یو محدوده اندازه د ملګرو ملتونو سازمان له طریقه هېواد ته داخلیږي، چې دې هم یو څه د افغانیو د ثبات ساتلو کې مرسته کړې ده اوسني نظام ته پکار دي، هغه مرسته شوې پیسې چې په نومبر ( ۲۰۲۰ ) کې د جنیوا کنفرانس کې د څلورو کلونو په جریان کې له افغانستان سره ( ۱۳ ) ملیارده ډالره مرسته اعلان شوه هغه مرستې درول شوې دي په دې تړاو زیاته لابي پکار ده چې بیاهم د رسمیت پېژندنې لپاره د شرایطو پوره کولو خبره کېږي، داچې اوس نړیوال مني، چې افغانستان له بحران سره مخامخ دی دوي ته قناعت ورکول پکار دي چې پورته ژمنه شوې د مرستو پیسې افغانستان ته ورکړي، نو ویلای شو، ترڅو چې افغانستان د خپلو منابعو په اساس په پښو ودریږي، نو لازمه ده، چې باید بلاعوضه مرستو په ترلاسه کولو کې ماهر اوسي او ترلاسه يې کړي. (۵: ۱۴۰۱: ۵)

**څلورم جز: په افغانستان کې سیاسي ثبات لپاره زمینه سازي کول**

سیاسي ثبات د یو هېواد د ټولو برخو د تضمین کیلي ده، که چېرې یو هېواد کې سیاسي ثبات له منځه لاړ شي، نو هره برخه کې ستونزې واقع کېږي، نو اوس مهال هم افغانستان په سیاسي لحاظ ثبات نه لري او خپله افغانان او نړیوال د سیاسي بې ثباتۍ له امله په هیڅ برخه کې پوره باور او اعتماد نه لري، نو لازمه ده، چې اوسني مسولین د سیاسي ثبات لپاره اساسي اقدامات وکړي، ترڅو اقتصادي ثبات رامنځ ته شي او کله چې اقتصادي ثبات ته لاره پرانیستل شي نو بیا د افغانیو د ثبات سبب گرځي، په دې ورستیو کې سیاسي بدلون د پانگې اچونې بې ثباتي د دې لامل شوي چې سوداگر او پانگه وال خپله سرمایه له هېواده وباسي او د افغانیو اقتصادي څرخ د خپلې عالي درجې څخه کمزروی کړي. (۵: ۱۴۰۱: ٦)

**پنځم جز: داخلي او خارجي پانگونې ته عیني او ذهني شرایط برابرول**

پانگه اچونه د یو هېواد د پرمختگ او صادارتو د زیاتوالي سبب گرځي، د دې لپاره چې داخلي او خارجي پانگه والو لپاره د پانگې اچونې زمینه مساعده شي، نو پکار ده چې د افغانستان وضعیت هم په عیني او هم ذهني ډول برابر شي، چې پانگه والو ته په عیني شرایطو کې په هر برخه کې سهولتونه او ذهني شرایطو کې هر ډول امنیتي خنډونه ورته له منځه لاړ شي او هغوي مطمین شي چې د دوي پانگونه په عیني او ذهني لحاظ د ستونزو سره نه مخ کېږي، نو کله چې پانگه وال سرمایه گذاري وکړي، دا چاره به د افغانیو په ارزښت پوره مثبت تاثیرات وغورځوي. (۵: ۱۴۰۱: ۳)

**شپږم جز: د افغانستان بانک لخوا په مدبیرانه توگه د مالي او پولي سیاست تدوین**

په تېرو شلو کالو کې که وکتل شي، نو د افغانستان پولي سیاست (Monetary Policy) او مالي سیاست (Fiscal Policy) برخه کې معیاري کار ترسره نه شوو او

تر ډېره له بې کفایتۍ سره مخامخ وو، د یو هېواد د پولي واحد د ارزښت ساتلو لپاره دا لازمي ده، نو په همدې خاطر افغانستان بانک ته پکار ده، چې په اوږد مهاله کې د نړیوال بازار محوري اسعار، د سیمې هېوادنو پولي واحدونه، مالي او اقتصادي سیاستونو په رڼا کې داسې یو سیاست چې ټول داخلي او بیروني عوامل پکې را ونغاړي تدوین کړي، ترڅو د هماغې نقشې په اساس مخ ته لاړ شي او افغانیو ثبات ته زمینه سازي وکړي. (۵: ۱۴۰۱: ٦)

**اووم جز: د افغانستان د اسعارو د تبادلې په مراکزو کې د مافیایي ډلو او هغوي دوکه امیزه تبلیغات مخنیوی کول**

څرنگه چې په افغانستان کې د بانکونو ترڅنګ د صرافیو په نامه د اسعارو د تبادلې لپاره یو لوی کارو بار روان دی چې د افغانستان د بانکونو په نسبت صرافانو سره د افغانستان د خلکو زیاته سرمایه په چلښت کې روانه ده، که په حقیقي ډول دې ته نظر وکړو، نو ویلای شوو، په دغه برخه کې یوه لویه اقتصادي مافیایي کړۍ د افغانستان د اقتصاد رگونو په بندولو مصروف دي او هر ورځ د یوې پلمې، دوکې او فریب امیزه تبلغاتو په اساس د خپلو شخصي گټو په خاطر د افغانیو ارزښت کې د لوړوالي او ښکته والي لپاره کار کوي، ترڅو دوي زیاته گټه ترلاسه کړي. چې همدې دوکه امیزه اقداماتو په اساس خلك كوشش کوي چې افغانۍ پرځای امریکایي ډالر د ځان لپاره ذخیره کړي، د دې لپاره باید ټولې صرافۍ خپل قانوني جوازونه د یو ټاکلي متوسط تضمین په مقابل کې ترلاسه او مافیایي کړۍ ختمې او افغانستان بانک پرې پوره نظارت ولري. (۵: ۱۴۰۱: ۷)

**اتم جز : د کنگل شوو زیرمو روښانه ارقام ښودل او د هغې پوره حفاظت او مصونیت**

د کنگل شـــووو زیرمو په تړاو کم ارقام یادېدل، ډېری رســـنۍ په قصـــدي یا هم په سهوې سره دا زیرمه شوې شتمني اووه میلیارده ډالرو په ارزښت ښایي خو د نړیوال بانک د رسمي ارقامو له مخې دا زیرمه شوې شتمني د ( ۲۰۲۰ ) میلادي کال تر پایه (۹،۶۹٤،۹۸۹،۳۸ ) امریکایي ډالره کېږي. د افغانســـتان بانک د کنگل شـــوو زیرمو څخه یې ( ۷ ) میلیارده ډالر د امریکا فدرالي بانک کې دي ، چې د دې له جملې څخه یې (۳ ،۱ ) میلیارده ډالر د بل او بانډ په بڼه دي، ( ۲ ،٤ ) میلیارده ډالر د نړیوال بانک د Reserve Advisory and Management Partnership (RAMP) دي، ( ۱ ،۲ ) میلیارد ډالر په ارزښت سره زر دي او درې سوه میلیون امریکایي ډالر نغدي پیسـې دي . د دې ترڅنګ ( ۱ ،۳ ) میلیارده ډالر په نړیوالو حسابونو کې شتون لري او ( ۷ ) ســـوه میلیون ډالر د ســـویزرلینډ بـانـک Bank for International Settlements کې ذخیره شـو، نو باید په روښـانه ډول د افغانسـتان بانک او نړیوال بانک لخوا و ښودل شي او ترڅنګ د افغانیو د پ شتوانې په توگه په دا سې یو نړیوال معتبر اسـلامي بانک چې حلاله گټه ترې لاسـته راځي کېښـودل شي او حفاظت یې وشي. (۱۵: ۲۰۲۲ ۱٤۰۱/۰۹/۰٦.Time: 10:33:23 AM )

**پایله**

پایله واضحه ده، چې د کرنسۍ راښکته کېدل مستقیما په سیاسي اړیکو، سیاسي نظام او د هغې ثبات پاندې ولاړه ده، نه یوازې د کرنسۍ ثبات بلکې ټول اقتصادي څرخ او اقتصادي فعالیتونه د سیاسي لیډلورۍ پر بنسټ پاندې څرخیږي او د همدې له مخې مقایسه کېږي او اقتصادي پیاوړتیا یا هم رکود رامنځته کېږي، ترڅو پورې چې د رسمیت پېژندنې، نړیوالې سیاسي اړیکې، د نړیوالو اصولو رعایت او سیاسي ثبات نه

وي رامنځته شوی د افغانۍ په شمول به ټول اقتصادي حالت د خرابۍ خواته روان وي او متأسفانه چې دې خبرې ته اوس څوک غوږ هم نه نیسي، بلکې په ټولو مسایلو کې د خپلې خوښې مطابق چلیدل زموږ د ډېرو ستونزو د زیږیدو لامل ګرځیدلي دي، په سمدستي ډول د مخکني نظام په څېر د بیړنیو او موسمي تګلارو څخه استفاده وشي مارکېټ ته د افغانۍ د ساتلو په موخه ډالر وړاندې شي، د ډالرو د قاچاق مخنیوی وشي او په لوړه کچه د اقتصادي پیاوړتیا لپاره له وړو او مسلکي کسانو سره ناستې ترسره شي او د اقتصادي رکود څخه د خلاصیدو لپاره یې مشورې واورېدل شي، داهم باید ووایو، چې د افغانیو را غورځېدلو خطر له ډېر پخوا را پیل شویدی او لاملونه یې هم په کور دننه سیاسي بې ثباتي، نړیوالو مرستو بندېدل یا محدودېدل ، د کورنیو تولیداتو او صادراتو کموالی، نړېوال اقتصادي بحران په ځانګړې ډول د کرونا وایروس او په ټوله کې اقتصادي نا انډولي د دې سبب شوي چې افغانۍ خپل ارزښت له لاسه ورکړي، په پای کې باید وایو ترڅو چې اقتصادي زیربناوې ونه رغول شي، سوداګریزې راکړې ورکړې ترسره نه شي، بهرنۍ پانګونې ته زمینه برابره نه شي او سیاسي ثبات رامنځته نه شي، نو د افغانۍ غورځېدلوته باید ذهنا اماده اوسو او په داسې ډول یې مدیریت کړو، چې ډېر زیان اوره نه وي.

**مناقشه**

کله چې د پایلې مناقشې ته داخلیږو نو ویلای شوو، چې د کرنسۍ راښکته کېدل مستقیماً په سیاسي اړیکو، سیاسي نظام او د هغې ثبات باندې ولاړه ده، نه یوازې د کرنسۍ ثبات بلکې ټول اقتصادي څرخ او اقتصادي فعالیتونه د سیاسي لیډلورې پر بنسټ باندې څرخیږي او د همدې له مخې مقایسه کېږي او اقتصادي پیاوړتیا یا هم رکود رامنځته کېږي، ترڅو پورې چې د رسمیت پېژندنې، نړیوالې سیاسي اړیکې، د

نړیوالو اصولو رعایت او سیاسي ثبات نه وي رامنځته شوی د افغانۍ په شمول به ټول اقتصادي حالت د خرابۍ خواته روان وي، د اوسني نظام د اړونده برخو ټول مسولین مسولیت لري چې د خپلې برخې مکلفیت اداء او داخلي او نړیوال مشروعیت ته زمینه سازي وکړي، ترڅو افغانۍ خپل ثبات او اصلي حالت ته داخل شي.

**پایله اخیستنه**

د معلوماتو د تحلیل په اساس ویلای شوو چې افغانۍ چې دومره بې ثباته شوې عوامل یې عبارت له: افغانستان یو مصرفي هېواد دی، په مختلفو طریقو سره له افغانستانه څخه د ډالرو قاچاق، د بهرنیو مرستو بندېدل، په افغانستان کې سیاسي بې ثباتي، په هېواد کې د اقتصادي منابعو تزلزل، د پانګې فرار، د پانګوني پر وړاندې ذهني او امنیتي خنډونه، پولي سیاست (Monetary Policy) او مالي سیاست (Fiscal Policy) برخه کې بې کفایتي، په نړیوال مارکېټ کې د امریکایي ډالرو د نرخ لوړوالی او د افغانستان د اسعارو د تبادلې په مراکزو کې د مافیایي ډلو حاکمیت او د هغوي دوکه امیزه تبلیغات دي، که غواړو چې افغانۍ با ثباته اوسي نو دا اقدمات لازمي دی، چې د وارداتو په نسبت د صادارتو بیلانس لوړول، د افغانستانه څخه د ډالرو قاچاق مخنیوي کول، د بهرنیو بلاعوضه مرستو د ترلاسه کولو هڅې، په افغانستان کې سیاسي ثبات لپاره زمینه سازي کول، د داخلي او خارجي پانګونې ته عیني او ذهني شرایط برابرول، د افغانستان بانک لخوا مدبرانه مالي او پولي سیاست تدوین، د افغانستان د اسعارو د تبادلې په مراکزو کې د مافیایي ډلو او هغوي دوکه امیزه تبلیغات مخنیوی کول او د کنګل شوو زیرمو روښانه ارقام ښودل او د هغې پوره حفاظت او مصونیت باید ترسره شي.

**وړاندیزونه**

تر ټولو مهم بحث د سیاسي ثبات دی ، څومره ژر چې کېږي باید حکومت د رسمیت پېژندلو مرحله پاس کړي، ترڅو سیاسي ثبات رامنځته او ورسره اقتصادي پیاوړتیا رامنځته شي زه شخصا په دې باور لرم ترڅو چې سیاسي ثبات نه وي رامنځته شوی له دې د بدتر حالت شاهدان به اوسو.

اقتصادي راکړه ورکړه(Economic Activity) دې ترسره شي ، سوداګري دې پراختیا پیدا کړي، د صادراتو لپاره دې زیات کار وشي ځکه د یوې کرنسۍ لپاره تر ټولو مهم فکټور سوداګریزه راکړه ورکړه او صادرات دي همدارنګه د کورنیو تولیداتو پیاوړي کول ، د انکشافي پروژو پیلیدل او په افغانستان کې د بهرنیو بانګه والو لپاره د پانګونې زمینې برابرول چې اوس وخت کې د امنیت د نشتون موضوع هم حل شوې ، ډېر مهم بحث دی چې حکومتي مسولین ورته متوجه شي .

د ډالرو د قاچاق مخنیوی، د افغانستان دواړه ګاونډي هېوادونه پاکستان او ایران اقتصادي ستونزو او بندیزونو له کبله د ډالرو له سختې اړتیا سره مخامخ دي ، دوی مجبوره دي چې په نړیواله سوداګرۍ کې له ډالرو څخه کار واخلي ځکه د دوی کرنسي نړیوال اعتبار نه لري نو له افغانستان سره کېدونکې مرستې هم ډېرۍ یې په ډالرو ترسره کېږي ، چې بازار ته د وړاندې کېدو سره همدا ډالر قاچاق کېږي او په دې سره بیا په مارکېټ کې د ډالرو لپاره عرضه زیاتیږي او اوس وخت کې چې نړیوالې مرستې بندې شویدي او افغانستان مرکزي بانک ډالر لیلام ته نه شي وړاندې کولی نو ورسره د افغانۍ ارزښت هم ښکته کېږي او د ډالرو قاچاق په لویه پیمانه ترسره کېږي.

د ډالرو لیلام ، د لیلام سیاست که څه هم بنسټیز حل نه دی ، خو د موقتي حل لارې په توګه ترې استفاده کېدای شي خو یوازې د ډالرو لیلام بسنه نه کوي بلکې د ډالرو

په وړاندې کېدو سره بايد د همدې پمپ شوي ډالرو د قاچاق مخنيوی هم ترسره شي چې په دې سره به يې د ليلام پاليسي هم زيانمنه شي يانې په دې توګه ويلی شو، چې ليلام د کرنسۍ د پايداره کېدو لپاره زموږ ستونزه نه شي حلولی .

خو دلته دا ستونزه هم شته چې اکثره يې مافيايي بڼه غوره کړې ده ، صرافان تل دافغانيو د ضعف په وخت کې يا د ټيټيدو په وخت کې د مرکزي بانک د اسعارو ليلام ته په تمه وي او همدا حالت د خپلې ګټې مطابق را څرخوي چې بيا مرکزي بانک مجبوره کيږي ، تر څو بازار ته ډالر وړاندې کړي چې په دې سره مافيايي صرافان همدا ډالر هم هضم کوي او په ځای يې بيرونۍ کرنسي (کلدارې او تومن ) اخلي او په مارکېټ کې يې د چلښت لپاره وړاندې کوي ، زه خپله د ډالرو زيات ليلام کېدو سره موافق نه يم ځکه چې دې چارې يوه اقتصادي مافيا رامنځته کړې او د ټول پولي بازار واګې يې په لاس کې اخيستي دي .

البته په اوس وخت کې دا چې د افغانستان ريزرف شوې پانګه کنګل ده نو په هغه پخوانۍ اندازه د افغانستان بانک نه شي کولی چې ډالر ليلام ته وړاندې کړي ، کنګل کېدل هم يوه ستونزه ده چې د حل لپاره يې بايد حکومتي مسولين پرلپسې کاروکړي.

په مارکېټ کې د پولي او مالي پاليسيو څارنه ، په دې برخه کې د ټولو نافذو شويو قوانينو او پولي پاليسيو په تطبيق باندې ځانګړې کنټرول هم د کرنسۍ د پايداره پاتې کېدو لپاره مهم بحث دی ، په دې تړاو د افغانستان بانک په رسمي ويب سايټ کې ډېر څه شته دلته يې يادول مهم نه دي .

البته د افغانستان بانک دقانون د دويمې مادې لومړي بند پر اساس، دهېواد مرکزي بانک اساسي هدف دقيمتونو کنټرول او ثبات دی، د دې هدف لاسته راوړلو لپاره

مرکزي بانک د پیسو چلښت وسیله گرځولې البته چلښت څخه مراد دټولو افغانیو چې د ( Reserve ) اصطلاح ورته استعمالیږي گڼل کیږي، نه د پیسو دوران.

**ماخذونه**


۱- د افغانستان بانک، خارجي اسعارو د لیلام مقرره.( ۱۳۹۹) ناشر: د افغنستان بانک تقنین ریاست.

۲- عدلیې وزارت رسمي جریده. د افغانستان بانک قانون.( ۱۳۸۲) پرله پسې گڼه (۸۱۹).

۳- عفیف. یما، عبدالطلیف بایانی، خالد احمد، فیضی.( ۱۳۹۳). سیر سکه و بانکنوت ها در افغانستان. ناشر: امریت عمومی اسناد و ارتباط د افغانستان بانک.

۴- غبار، غلام میر محمد(۱۳۷۹) افغانستان در مسیر تاریخ. ناشر : میوند، کتابخانه سبا، امریکن سپه دې هرندن، ویرجینا، امریکا.

۵- لومړی لاس ډیټا، استیان پاڼې. ( ۱۴۰۱ ) د دولت او بانکونو کلیدي اشخاص. تعداد (۳۰)

*6-Blogspot (2006-11-15).* "Update - Afghanistan". *Retrieved 2006-11-20.*

7-Da Afghanistan Bank. "Capital Notes Issuance and Auction." Accessed 26 Feb 2011.

8- Fry، Maxwell J. (1974) "The Afghan Economy: Money، Finance، and the Critical Constraints to Economic Development"، Brill Publications، Leiden، Holland

Fry، Maxwell J. (1976) "A Monetary Approach to Afghanistan's Flexible Exchange Rate"، *Journal of Money، Credit and Banking*، Vol. 8

9-Gebauer، Herbert Daniel. 2004. Resources on the Speleology of Afghanistan. Berliner Hoehlenkundliche Berichte. Band 14. ISSN: 1617-8572.

10- *Krause، Chester L.; Clifford Mishler (1991).* Standard Catalog of World Coins*: 1801–1991 (18th Ed.). Krause Publications.* ISBN 0873411501.

*11-Schuler، Kurt.* "Tables of Modern Monetary History: Asia". *Retrieved 2007-08-27.*

12-Sources: Fry، Maxwell (1976); and "World Development Indicators" database of the World Bank

13-https://fa.wikipedia.org/wiki//2022/09/09/ Time: 10:33:23 AM.

14-https://www.dab.gov.af/2022/09/06/ Time: 10:33:23 AM.

15-https://www.vajehyab.com/moein//2022/09/09/ Time: 11:53:29 AM.

**پوهنمل نور انور فاروقي**
حقوقو سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه
لارښود استاد: پوهنوال محمد ایمیل حقمل

# د اسلامي او مروجې بانکدارۍ ترمنځ توپیرونه

**لنډیز**

اسلامي بانکداري هغه سیستم ته وایي چې په اسلامي اصولو او اسلامي اقتصاد باندې ولاړه وي او په مشخصه توګه د سودي راکړې ورکړې مخالفت کوي. اما مروجه بانکداري بیا هغه سیستم ته وایي چې په وضعي اصولو او سودي اقتصاد باندې ولاړه وي او په مشخصه توګه د سودي راکړې ورکړې مطابق فعالیت کوي. عمده فرقونه یې داسې بیانولی شو دواړه بانکدارۍ مالونه په امانت اخلي، خو اسلامي بانکداري بیا همدا امانتونه په قرض باندې اړوي، ترڅو ورته د تصرف زمینه برابره شي. مګر مروجه بانکونه بیا همدا مالونه په امانت اخلي په هغې کې تصرف کوي. یعنې سود ورباندې کوي، چې له یوې خوا سود ناروا عمل دی اوله بلې خوا په امانت اخیستل شوي مالونو کې د مالك له اجازې پرته تصرف کول غیر مشروع دی.

اسلامي بانکداري د سود نه پاك معاملات ترسره کوي. مګر سودي بانکونه بیا په سود باندې ولاړدي، د اسلامي بانکدارۍ ټول تجارتي فعالیتونه د اسلامي اصولومطابق ترسره کېږي مګر مروجه بانکداري ټول تجارتي فعالیتونه دوضعي اقتصاد پراساس ترسره کوي. اسلامي بانکداري لوړ هدف او عبادت ګڼل ګیږي، مګر سود بیا د مروجې بانکدارۍ اساسي هدف دی، نوله همدې امله ویلای شو چې موږباید خپلې سرمایې اسلامي بانکونوته وسپارو، ترڅو هم موږ ته او هم یې ټولنې ته فایده ورسېږي اوپه دې برخه کې نورخلك هم باید تشویق کړو. د سودي بانکدارۍ په وړاندې باید

جدي مبارزه وکړو، ترڅو له يوې خوا نوموړې مروجه بانکداري کمزورې او له بلې خوا به موږ خپله ديني وجيبه هم اجراء کړې وي او ترڅنګ يې بايد هڅه او کوښښ وکړو چې د هغو ناوړه تبليغاتومخه ونيسوکوم چې دمروجې بانکدارۍ دپيشرفت او د اسلامي بانکدارۍ د کمزوري کېدو لامل ګرځي.

**کليدي کلمې**: اسلامي بانکداري، مروجه بانکداري، مضاربت، مشارکت، مرابحه او سود.

**سريزه**

نحمده ونصلي علي رسوله الکريم اما بعد فا اعوذبا الله من الشيطان الرجيم ط بسم الله الرحمن الرحيم.

داچې نړۍ نن ورځ دومره پرمختګ کړی چې د بشريت په تېر تاريخ کې يې ساری نه ليدل کېده، د نړۍ دغه پرمختګ په سياسي، نظامي، فرهنګي اقتصادي او داسې نوروبرخو کې مشاهده کولای شو، ولې د دې ټولو پرمختګونو لوی او اساسي لامل اقتصاد دی؛ داځکه چې نړۍ نن ورځ د يو کلي شکل اختيار کړی اوپه دې کلي کې بې شمېره ټولنې ژوند کوي، نو دغه ټولنې مجبوره دي چې د خپل ژوند د بقاء لپاره يو له بل سره اړيکې اوهمکارۍ ولري. چې يو هم له دغو اړيکو او همکاريو څخه اقتصادي او سوداګريزه همکاري ده. نوهمدا وجه ده چې نن ورځ اقتصاد او سوداګريزو چارو دومره پرمختګ کړی چې د ټولې نړۍ د خلکو تجارت يو له بل سره تړلی او دغه اقتصادي پرمختګ هغه څه دي چې قوي هېوادونه يې داستعمار لپاره پرمخ وړي اواکثره وختونه ظالمو هېوادونو دمظلومو هېوادونو اقتصادي زيرمې د خپل تسلط لاندې راوستي ترڅو له دې لارې وکولای شي خپل اقتصاد ته وده ورکړي.

په همدې اساس ویلای شو چې نن ورځ د دې ټولو تاو تریخوالو، شخړو او جنګونو یو لوی لامل ضعیف بانکي سیستم او کمزوری اقتصاد دی، چې په عمل کې یې هم نن ورځ بې شمېره مثالونه لرو، د دې ترڅنګ د اقتصادي پیاوړتیا لپاره بله مهمه وسیله بانکونه دي او د نړۍ هیڅ داسې ښار اوسیمه به پیدا نه کړو چې هلته بانک نه وي. ولې دغه بانکونه نن ورځ ډېر زیات ډولونه لري، بیا هم موږ کولای شو دغه بانکونه په لومړي قدم کې یعنې په مجموع کې پر دوو برخوباندې وویشو، چې یو یې اسلامي بانکونه اوبل یې مروجه یا سودي بانکونه دی. چې دغه دواړه بانکونه نن ورځ یو د بل مقابله کوي او هر یو هڅه کوي چې خپل مشتریان ډېر کړي، ترڅو له دې لارې وکولای شی زیاته فایده او ګټه ترلاسه کړي. له همدې امله دا لازمي ده چې د دې بانکونو په فعالیتونو او توپیرونو باندې بحث وشی، ترڅو دا معلومه شي چې کوم بانکونه مفید او ګټور دي او تو پیر یې په څه کې دی، نو بناءً څېړونکي په دې څېړنه کې د اسلامي او مروجې بانکدارۍ ترمنځ توپیرونو باندې بحث کړی.

## د لیکنې/ څېړنې اړتیا

هره څېړنه باید د ټولنې د جدي اړتیاو په بنیاد ترسره شي څکه د څېړنې عمده موخه د ټولنې د اړتیاو رفع کول دي. په همدې بناء یاده څېړنه هم د ټولنی د اړتیا په بنیاد ترسره شوې هغه په دې دلیل که موږ د افغانستان اوسنی بانکي سیستم په جدي ډول ترڅېړنې لاندې ونیسو نو دې پایلي ته به ورسیږو چې اکثره بانکونه په سودي معاملاتو ولاړ دي او ترکمې اندازې پورې د دوی معاملات د اسلامي بانکدارۍ د اصولو مطابق دي، نو څکه د رکود سره مخ دي، په داسې حال کې چې نوره نړۍ په ځانګړې ډول اسلامي نړۍ چې اوسمهال یې مخه اسلامي بانکدارۍ ته کړې او په دې برخه کې ښې لاسته راوړنې هم لري، چې موږ د مالیزیا او قطر له اسلامي بانکدارۍ څخه یادونه

کولی شو؛ چې دا بانکونه په اوسني وخت کې د نورو اسلامي هېوادونو سره په بېلا بېلو برخو کې مرستې هم کوي. لکه د زراعت او صنعت په برخه کې، فلهذا لازمي ده چې د افغانستان بانکي سیستم نور له سودي راکړې ورکړې څخه وژغورل شي او اسلامي بانکدارۍ ته یې مخه کړې چې په دې سره به د هېواد بحراني اقتصادي وضعیت تر زیاتي اندازې پورې بهبود پیداکړي او په زیاته اندازه اقتصادي فرصتونه به رامنځته شي.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې اساسي موخې او اهداف په لاندې ډول دي:

1. د بانکدارۍ په اړه د اسلام د مبارک دین احکام د مروجې بانکدارۍ د وضعي اصولو او قوانینو سره مقارنه شوي.
2. د اسلامي او مروجې بانکدارۍ ترمنځ په اساسي توپیرونو باندې بحث تر سره شوی او له دې توپیرونو څخه وروسته دامعلومه شوې چې اسلامي بانکداري نظر مروجې بانکدارۍ ته غوره ده.
3. دا موخه ترلاسه شوې چې اسلامي بانکداري په حقیقت کې د اقتصادي پیاوړتیا لامل گرځي.
4. همدارنگه خلك دې ته متوجه کول، ترڅو خپلې سرمایې په اسلامي بانکونو کې ذخیره کړي نه په سودي بانکونوکې.

## مواد او کړنلاره

د دې کتابتوني څېړنې په لیکلو کې د څېړنې له تحلیلي او توصیفي میتود څخه استفاده شوې او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## تېرو لیکنو ته کتنه

د اسلامي او مروجې بانکدارۍ د توپيرونوپه نوم کومه مشخصه ليکنه په افغانستان کې نه وه موجوده،او يا هم کېداي شي شوې وي، خوما به ورته لاس رسی نه وي پيداکړی، البته د اسلامي او مروجې بانکدارۍ په برخه کې د دې موضوع نه علاوه په نورو برخو کې زيات کتابونه ليکل شوي چې له هغې جملې څخه د قدرمن استاد د دوکتور مصطفي نيازي مختلف کتابونه، تقي عثماني او داسې نورو علماو کتابونه يادولای شو، مگر د افغانستان نه علاوه په نورو هېوادونو کې بيا د نوموړې موضوع په اړه ځيني مقالې ليکل شوي، لکه د ماليزيا د اسلامي بانک انستيتوت د مروجې او اسلامي بانکدارۍ ترمنځ (۱۰) او ياهم (۱۲) دولس توپيرونه کړي، چې څېړونکي نوموړي توپيرونه د انگليسي ژبې څخه پښتو ته ژباړلي او په دې څېړنه کې ځای پرځای کړي، ترڅنگ يې په دري ژبه هم ځيني توپيرونه شوي مگر هغه کمه وه چې له هغې څخه مې بيا استفاده نه ده کړې، ترڅنگ مې د نورو کتابونو څخه هم استفاده کړې ده، په دې کتابونو کې هم مشخصاً زياتو توپيرونوته اشاره نده شوې يواځې د اسلامي او مروجې بانکدارۍ د کړنلارې ترمنځ يې ځينې توپيرونه کړي، مگر په هغه شکل چې څېړونکي څېړلې يادونه نده شوې.

## د اسلامي او مروجې(Conventional) بانکدارۍ ترمنځ توپيرونه

شرعي قوانين د اسلامي بانکدارۍ اصول دي، چې په مقايسوي ډول اسلامي بانگداري د مروجې بانکدارۍ سره خورا توپير لري.

اوسنۍ بانکداري چې د ډېبيټ او کرېډيټ له مخي رامنځته شوې چې ارتباط يې د Credit د قيمتونو د سود په معنی دی چې پيسې پکې يو لوی تجارتي جنس گڼل کيږي، دا چې مالي ارتباطات په طبعي ډول په اسلام کې وجود لري، لکه: د مشارکت او مرابحې اصول او يا هم د تړون او تعهد په اساس تجارتي معاملات کول. سربېره

پردې ګټه او تاوان د ټولینزو اقتصادي اصولو په بنیاد تقسیمیږي، چې د ښه وضاحت لپاره د اسلامي او مروجې بانکدارۍ توپیرونه په لاندې ډول ترڅېړنې لاندې نیسو.

(I B& M P I. 2015/9/15_4:45PM)

**لومړی توپیر**: په اسلامي بانکدارۍ کې ټول اقتصادي مسایل او موضوعات د اسلامي اصولو او احکامو په رڼاء کې ترسره کېږي اما په مروجه (اوسنۍ) بانکدارۍ کې بیا همدغه اقتصادي مسایل دانسان په لاس جوړ شویو قوانینو(وضعي قوانینو) سره سم ترسره کېږي.(I B& M P I. 2015/9/15_4:45PM)

نو له همدې امله پکار نه ده چې اسلامي اقتصاد او اسلامي بانکداري له دین او عقیدې څخه جدا و لوستل شی، ځکه چې اسلا مي اقتصادي نظام د اسلامي شریعت یوه بنیادي برخه تشکیلوي او بیا اسلا مي بانکداري د اسلامي اقتصاد یوه مهمه برخه جوړوي او د دین او عقیدې سره ژوره اړیکه لري، چې د اسلامي اقتصاد اړیکه د دین او عقیدې سره په دې کې ده چې اسلام کائناتو ته په دې نظر ګوري چې دا ټول الله تعالی د انسان د خدمت لپاره مسخر کړي، دا موضوع د حلالو او حرامو او د هغه د مراقبت په مسئله کې هم څرګندېږي او هم مسلمان یې له عالم الغیب څخه درک کوي چې د اسلامي اقتصاد اړیکه د اسلامي عقیدې یا ایډیالوژۍ سره د دغه اقتصاد فعالیتونه له نورو اقتصادي نظامونوڅخه بېلوي چې د ښه وضاحت لپاره په لاندې ډول ورباندې لنډ بحث کوو. (مصطفی نیازي، ۲۰۱۴م، ۱۸).

هر هغه عمل چې مسلمان یې سرته رسوي که هغه اقتصادي وي اوکه غیر اقتصادي، خوشوني ده چې صرف له مادیت څخه هغه عبادت ته وګرځي چې مسلمان په هغې سره ثواب لاسته راوړي، هغه په دې شرط چې د مسلمان هدف له دغه عمل څخه

دالله جلا جلا له رضایت وي. ځکه چې په پاک نیت سره ډېرې عادتي کړنې عبادتونه گرځي چې الله پاک پرې مسلمان ته ثواب ورکوي، دغه کړنه درسول الله صلي الله علیه وسلم په دې وینا سره تائیدیږي (إِنَّما الأَعمال بالنيَّاتِ ). (مُخْتَصَر صَحِيحُ الإِمَامِ البُخَارِي، حدیث رقم: ۱٦۳، ۱۵).

**ژباړه:** عملونه په نیتونو پورې تړاو لري. د هر سړي کړه وړه هغه دي چې نیت یې کړی وي.

د عامې قاعدې پربنسټ اقتصادي کوښښونه په اسلام کې د نورو وضعي اقتصادي نظامونو لکه پانگوال او سوسیالیستي نظامونو څخه توپیر لري، ځکه چې په اسلامي نظام کې چې کوم کوښښ کېږي مقصد یې یواځې دالله جل جلاله رضاوي نو دغه عمل یې عبادت گرځي او الله پاک به ورته اجر ورکړي.Alexakis) ، C.، Izzeldin، M.، Johnes، J.، & Pappas، V. (2019)، ( 1-14).

له دې څخه جوته شوه چې اقتصادي هلې ځلې دنورو کړنو په شان دي که چېرې نیت پاک او مقصد یې سپیڅلې وي بیا دعبادت معنی پکې خوندي کېږي، برابره خبره ده که له دې څخه وروسته یې گټه فرد ته رسېږي اوکه ټولنې ته.

**دوهم توپیر**: په اسلامي بانکدارۍ کې گټه او تاوان په دواړو لورو باندې راتللی شی، مگر په(Conventional) بانکدارۍ کې تاوان یواځې او یواځې د مشتري په غاړه دی او هغه څوک چې پیسې(سرمایه) لري هغه له تاوان څخه مستثنی دی. I B& ) M P I، 2015/9/15_4:45PM)

د اسلامي بانکدارۍ اصول داسې دي کله چې یوڅوک غواړي د اسلامي بانک سره کومه تجارتي معامله وکړي یعنې دا شخص بانک ته پیسې یا کوم بل څیز ورکړي او

یا دا شخص له بانک څخه د سوداګرۍ په خاطر څه واخلي، نو په دې صورت کې که کارکوونکی بانک وي یعنې د شخص په پیسو باندې بانک کوم تجارتي فعالیت کوي او یا هم د اشخص د بانک په پیسو باندې تجارتي فعالیت کوي، نو په دې صورت کې چې کومه ګټه او تاوان دی هغه په دواړو راتلی شی، مګر په مروجه بانکدارۍ کې بیا اصل دا دی چې تا وان یواځې او یواځې یولوري ته متوجه کیږي او دا ځکه چې نوموړې بانکداري په سود باندې ولاړه ده که بانک له چا سره معامله کوي هغه هم په سود باندې ولاړه ده یعنې بانک خپله معینه فیصدی لري چې کله یې وخت پوره شو، نو بانک ته به همغه خپله معینه فیصدی ورکوي که تاوان یې کړی وي او که ګټه او همدارنګه که شخص له سودي بانک سره کومه معامله کړې وي نو په دې صورت کې شخص له بانک څخه معینه فیصدی اخلي. که بانک تاوان کړی وي او که ګټه.

**دریيم توپیر**: په اسلا مي بانکدارۍ کې بانک کولای شی چې د شرعي اصولو او احکامو په نظر کې نیولو سره ګټه وکړي. مګر په مروجه بانکدارۍ کې د تجارتي اصولو پر بنیاد (وضعي تجارتي اصول) هرڅوک کولای شي چې څومره ګټه یې زړه غواړي هغومره ګټه و کړي لکه: آزاد بازار. (I B& M P I، 2015/9/15_4:45PM)

اسلامي بانکداري چې کله کومه تجارتي معامله ترسره کوي، نو هغه معامله به له یوې خوا د شرعي قانون مطابق وي یعنې مشروع به وي او له بلې خوا په نوموړې تجارتي معامله کې چې کومه ګټه کوي هغه به هم د اسلامي اصولو مطابق وي چې په حنفي فقه کې د ګټې اندازه ۷٪ ده ،مګر په سودي بانکدارۍ کې چې څومره ګټه کول غواړي؛ هغه کولای شي؛ چې دا عمل ظلم او زیاتی دی.

**څلورم توپیر**: په اسلامي بانکدارۍ کې بانکونه د زکات د را ټولو لو وظیفه پرغاړه لري او کله چې دغه اسلامي بانکونه دزکات او عشر مالونه راټول کړي نو بیا یې بیرته په مستحقو خلکو او مناسبو ځایونو (عام المنفعه ځایونو) کې په مصرف رسوي. په داسې حال کې چې په مروجه بانکدارۍ کې د زکات او عشر مسایل نشته؛ بلکې ټول نظام یې په سود باندې ولاړدی .Samad )،2004 .A ،(2

**پینځم توپیر**: په اسلا مي بانکدارۍ کې تجارتي مشارکت د اسلامي اصولو له مخې جواز لري او د اسلامي شریعت له نظره مشارکت له ډېرو مهمو تجارتونو څخه ګڼل کېږي چې له امله یې د مشتري ضرورتونه پېژندل کېږي او هم د تجارت د تاوان اوزیان د کمي لامل ګرځي. مګر اوسنۍ بانکدارۍ د مرکب (دوه چنده سود) سود په بنیاد رامنځته شوې او پیسې د تجارت او ګټې د راټولولو لپاره یوه ښه وسیله ګڼي. ) Hamid)،.A ،Nordin & ،(2001) .N ،(3-11

اسلامي بانکدارۍ د تجارت لپاره مختلف اصول وضع کړي چې یو له هغې څخه تجارتي مشارکت دی. یعنې اشخاص کولای شي چې په مشترك ډول خپله سرمایه په کار او فعالیت باندې واچوي او کله چې ګټه اوتاوان منځ ته راځي نو بیا نوموړې ګټه او تاوان نظر سرمایې او فعالیت ته ویشل کېږي، مګر په مروجه بانکدارۍ کې تجارتي مشارکت چې څه ډول په اسلام کې وجود لري نشته. بلکې په دې ډول بانکدارۍ کې د تجارتي معاملاتو اکثره برخه په مرکب سود باندې ولاړه ده او مرکب سود په دې معنی کله چې یوشخص له بانك او یا بانك له شخص څخه تر یوې معینې نیټې پورې یوڅه پیسې واخلې نو که په همغه معینه نیټه ورته پیسې وسپارې نو یوڅه اضافي پیسې به ورکوي، خو که په هغه معینه نیټه یې ورته پیسې ونه سپارلې نو بیا دوه چنده سودورباندې راځي چې دیته مرکب سود وایي: مثلاً غواړي چې له

بانک څخه (۱۰۰۰) افغانۍ واخلي نو بانک تا ته نومورې افغانۍ درکوي، خو په سود باندې هغه هم تر يو معين وخت پورې چې هغه سود يې (۱۰۰) افغانۍ دی او کله چې همغه معين وخت را ورسېږي نو بيا به بانک ته د(۱۰۰۰) افغانيو په عوض (۱۱۰۰) افغانۍ ورکوي، خو که په همدې معين وخت دې ورته (۱۱۰۰) افغانۍ ورنه کړې نو بيا به په دې صورت کې ته ورته دوه چنده سود ورکوي يعنې د (۱۱۰۰) افغانيوسود به ورکوي نه د (۱۰۰۰) افغانيو.

سود په مروجه با نکدارۍ کې د ملا د تېر حيثيت لري. ټول معاملات او نظام يې په سود باندې ولاړدی او پرته له سود څخه مروجه بانکداري نه چلېږي، مګر د اسلام په مبارك دين کې سود مطلقاً حرام دی، نود اسلامي او مروجې بانکدارۍ ترمنځ توپير دا دی چې اسلام سود حرام کړی او سود خوړونکي سره يې دجنګ اعلان کړی، چې حتي اسلامي حکومت د سود مخه په زور او قوت سره نيسي او دا د اسلامي حکومت ستر مسوليت دی.( عبدالواسيع صابر ، ۲۰۰۷م، ۷۱).

**شپږم توپير**: په اسلامي بانکدارۍ کې دا اصول او مقررات نشته که څوك په خپل ټاکل شوي وخت د قرض اداينه ونه کړي نو اضافی پيسې به د جريمي(سود) په ډول ورکوي. مګر په اوسنۍ بانکدارۍ کې دا يو منل شوی اصل دی که څوك په خپل وخت د قرض اداينه ونه کړي، نو اضافي پيسې به د جريمې په ډول ورکوي. (Hamid، A.، & Nordin، N. (2001)، 3-11)

الله تعالی فرمايي: وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا:(البقرة: ۲۷۵اية)
ژباړه: الله پاك بيعه روا کړې او سود يې حرام ګرځولی.

د اسلام مبارك دين خپلو پيروانوته حکم کوي چې له فقيرانو او مظلومانو سره مرسته وکړئ که هغوي له تاسې نه يوڅه قرض و غوښتو، نو هغه ورکړئ او کله چې بيا نوموړې قرض له هغه خلکو نه تاسې بيرته غواړئ او هغوي د قرض دورکړې توان نه لري نوهغوي ته مهلت ورکړئ او يايې ورته وبخښئ چې دا يو نيک عمل دى اما زيادت يې سود ګڼلي. مګر په مروجه بانکدارۍ کې بيا قرض په مقابل د سود کې دى او بيدون له سوده قرض نشته، چې دا کار هم د دولتونو په سطحه کېږي او هم دافرادو په کچه ترسره کېږي، لکه نن ورځ چې پاکستان، سريلنکا، اندونيزيا له سودي بانکونو څخه قرض اخيستى. همدارنګه پاکستان چې د چېن او د (IMF) څخه قرض اخيستى دا قرض ټول د سود په مقابل کې دى، نو ځکه دوي نن ورځ د سختو اقتصادي بحرانونو سره مخ دي.

**اووم توپير**: اسلامي بانکونو کې د اقتصادي او تجارتي معاملات ترسره کول مقيد او محدود دي اما د سودي بانکونو له لورې چې کوم تجارتي او اقتصادي معاملات ترسره کېږي هغه بيا مطلق او آزاد دي، يعنې اسلامي بانکداري هر ډول بانکي معاملات سرته نه شي رسولی بلکې هغه ډول معاملات به کوي کوم چې د شرعي نصوصو او احکامو مطابق وي. مګر سودي بانکونه بيا ازاد دي چې هر نوعه اقتصادي او تجارتي معاملات ترسره کړي او د دوي لپاره هغه حد نشته کوم چې اسلامي شريعت تعين کړي دي.(Hamid، A.، & Nordin، N. (2001)، 3-11)

له ټولوڅخه اول شی دا دی چې اسلام خپلو پيروانو ته د مال د ګټلو پوره او کامله ازادي نه ورکوي بلکې د مال د ګټلو طريقې د عمومي او ټولنيزو مصلحتونو په نظر کې نيولوسره سم تعينوي او پر هغې ځيني بنديزونه لګوي، دا تو پير د هغې عمومي قاعدى مطابق دى کوم چې ديو شخص فايده او د بل شخص په نقصان باندې وي

هغه ناجائز اوناروا دی او په مقابل کې هر هغه کوښښ روا اوجائز دی کوم چې فايده يې ټولوته رسيږي چې دليل يې د قرآن کريم دا آيات دی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ: (النساء: ٢٩ اية).

**ژباړه:** ای مومنانو! په ناحقه سره خپلې شتمنی په خپلو منځونو کې مه خورئ مگر دا چې تجارت وي چې ستاسې په خوښی سره سر ته ورسيږي.

په دې آيت کې په عوض سره دتجارت مقصد د شيانو او خدماتو تبادله ده، درضاء او خوښې شرط يې چې ورسره يوځای کړی د هغې مطلب دا دی چې پرته له رضاء څخه چې څومره تبادله صورت نيسي هغه نا مشروع ده،که چېري په معامله کې کوم فشار او چل موجود وي هغه هم حرامه ده.

عن أبي سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رضي الله(ج) عنه قَالَ : قال رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْبَيْعُ عَنْ تَرَاضٍ.

**ژباړه :** له ابي سعيد الخدري رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : بيع به د طرفينو په خوښه تر سره کيږي (که د کوم طرف خوښه نه وي بيع نه صحيح کيږي ).( ابن ماجة، حديث رقم: ٢١٨٥).

لنډه دا چې د اسلام په مبارک دين کې په ناروا توگه د مال گټل منع دي او ټولې هغه طريقې چې د لوريو ترمنځ د عدم رضايت سبب گرځي ناروا دي او له دې ډول معاملو څخه اسلامي بانکداري منع شوې، حال دا چې په سودي بانکي نظام کې هر سړي کولای شي په کومه طريقه چې وغواړي خپل مال زيات کړې او هيڅوک دهغه مخه نه شي نيولی.( عبدالواسيع صابر، ٢٠٠٧م، ٧٠).

**اتم توپير**: اسلامي بانکداري زياته توجه پرمختيا يې پروژو ته کوي ځکه چې په اسلامي بانکدارۍ کې ګټه او تاوان شريک وي،. په داسې حال کې چې په مروجه بانکدارۍ کې عايد په کې د قرضونو محدود وي، نو ځکه پرمختيايي پروژو ته لږه پاملرنه کيږي او ټول خطرات پکې د پيسو د ريټ په اندازه تقسيميږی.Johnes ) ، V. 2014)., & Pappas، M.، Izzeldin،J.

اسلامي بانکداري اکثره پاملرنه پرمختللو پروژوته کوي. که څه هم په نوموړو پروژو کې د بانک ګټه کمه وي، بلکې زياته ګټه يې خلکو او ټولنې ته رسيږي يعنې اسلامي بانکداري د ټولنې او خلکو ضروريات په نظر کې نيسي نه خپله ګټه، خو مروجه بانکداري بيا پرمختيايي پروژوته دومره پاملرنه نه کوي بلکې يواځې او يواځي خپله ګټه په نظر کې نيسي او د ټولنې اړتياوې په پام کې نه نيسي، يعنې هغه اقتصادي فعاليتونه سرته رسوي چې ګټه يې صرف بانک ته وي نه ټولنې او افرادوته. لکه دمسکره موادو (نشه راوړونکي توکي) کارخانې جوړول يا د مسکره موادو کارو بارکول او داسې نور. نو په دې اساس ويلای شو په دې ډول بانکدارۍ کې دټولنې ضرورتونه نه مطرح کيږي، بلکې يواځې د بانک لپاره پيسه اوګټه مطرح کيږي اوبس. ( تهانوی، ۲۰۱۶، ۳۷۸).

**نهم توپير**: اسلامي بانکونه د پروژو په دوام تا کيد کوي، ترڅو چې حلاله ګټه لاس ته راوړي. مګر مروجه بانکداري بيا د پروژو په دوام تاکيد نه کوي، بلکې په مروجه بانکدارۍ کې هدف يواځې پيسه ده که هغه په هره وسيله اوطريقه وي. I B& M P) 2015/9/15_4:45PM)،I

د اسلامي بانکدارۍ ټينګار په دې دی چې مشروع ګټه ترلاسه کړي او په نورو انسانانو باندې ظلم اوتېری ونه شي اوله بلې خوا د داسې پروژو په دوام تاکيد کوي چې په

هغې کې دولت او افرادو ته زیاته ګټه نغښتې وي، مګرپه اوسنۍ بانکدارۍ کې موخه یواځې پیسه ده که هغه په مشروع طریقه وي او که په نامشروع. همدارنګه که زیان یې ټولنې ته زیات وي اوکه کم؛ هغه په پام کې نه نیسي.

**لسم توپیر**: د اسلامي بانکدارۍ ټول تعلق له تاجرانو، پانګوالو، اخیستونکو او خرڅونکو تر منځ دی، چې په دې سره کولای شي خپلې اقتصادي وضعې ته پرمختګ ورکړي، مګر په اوسنۍ بانکدارۍ کې بیا ټول ارتباط د قرض اخیستلو او قرض ورکولو پر بنیاد باندې ولاړدی.(I B& M P I. 2015/9/15_4:45PM)،

د اسلامي بانکدارۍ هدف په مشروع طریقه اقتصادي وضعې ته پرمختګ ورکول دي، له دې امله هڅه کوي ترڅو له سوداګرو، پانګوالو، اخیستوونکو اوخرڅوونکو سره یوه اړیکه ټینګه کړي او له دوي سره په کارو بار کې مرسته او همکاري وکړي، مګر د مروجې بانکدارۍ هدف بیا دانه دی، بلکې هلته ټوله اړیکه په قرض باندې ولاړه ده، که پانګوال او یا هم تاجر ترې قرض واخیستو او یا هم کومه تجارتي معامله ورسره وکړي، نو له هغه څخه سود اخلي یعنې دا یواځې خپل اقتصادي وضیعت پیاوړی کوي نه عمومي .

**یوولسم توپیر**: په اسلامي بانکدارۍ کې خلک د مرابحې په ا صولو پیسې جمعه کوی او بیرته یې اخلي چې سود په کې په هیڅ صورت نه لازمیږي، مګر اوسني بانکونه د ټولو حسابونو ذمه واري کوي.،(Durrani، B ،2016،(2 (10)

یعنې په مروجو بانکونو کې اصول داسې دی چې کله دی ورته پیسې اویاهم کوم اشیاء وسپارل نوکه هغه ضائع هم شی بانک یې ذمه واردی،ځکه چې په دې بانکونوکې سود دې او ټولې معاملې په سودباندې روانې دي اوکله یې چې وخت

پوره شی،که بانک پکې تاوان کړی وي او که ګټه او یا هم مال تلف شوي وي نوپه دې صورت کې بانک په دې مکلف دی چې هغه تادیه کړي، مګر اسلامي بانکداريچې کومه ګټه کوي هغه معینه اوکمه وي اوکومه تجارتي معامله چې کوي په هغې کې سود نه وي بلکې دسرمایې اوفعالیت په اساس ګټه او تاوان ویشل کیږي.

**دولسم توپیر**: په اسلامي بانکدارۍ کې پیسه په خپله تجارتي مال نه دی، بلکې تجارتي سامان الات او خدمات وربانديې اخیستل کیږي؛ همدارنګه په اسلامي بانکدارۍ کې پیسه په خپله فایده نه ده بلکې د فایدې لپاره یوه وسیله او ذریعه ده،چې د دې په واسطې سره مالونه او خدمات اخیستل کیږي او فایده لاسته راځي. مګر په مروجه بانکدارۍ کې پیسه په خپله تجارتي مال دی. پیسه یوه فایده ده چې په قیمت اخیستل کیږي؛ زیاتوالی پکې راځي همدارنګه په کرایه ورکول کېدای شي او داصل قیمت نه په لوړه بیه خرڅېدلای شي.(I B& M P I. 2015/9/15_4:45PM)،

په اسلامي بانکدارۍ کې پیسه یوه وسیله ده، په کرایه نه ورکول کیږي او نه هم په قیمت اخیستلای او خرڅولای شي. یعنې (۱۰۰) افغانۍ په (۹۰) او یا هم په (۱۱۰) افغانۍ نشی خرڅیدلی، بلکې یواځې کولای شي چې یو جنس پرې واخلې او هغه بیاخرڅ کړې او په هغه کې بیا ګټه وکړې، خو هغه ګټه هم په عدالت سره، مګر په مروجه بانکدارۍ کې بیا پیسه تجارتي مال دی، فایده ده، په قیمت اخیستل کیږي او هم خرڅول کیږي او همدارنګه زیاتوالی اوکموالی پکې راتلی شی، یعنې کولای شي چې له اصل قیمت نه یې په ټیټ او یا هم په جګ قیمت واخلي او یا یې خرڅه کړي یعنې (۱۰۰) افغانۍ په (۸۰) او یا هم په (۱۲۰) افغانۍ واخلې او یایې خرڅې کړې.

**دیارلسم توپیر**: اسلامي بانکدارۍ لپاره اساس مضاربت دی او کوم فعالیتونه چې سرته رسوي هغه ډېر مهم دی؛ که تاجر تاوان وکړي نو په دې صورت کې به بانک او هم

تاجر تاوان لنډوي، مګر په مروجه بانکدارۍ کې بیا د مضاربت اصول نه شته، ګټه او تاوان شریک نه دي بلکې تاجر مجبور دی چې پیسې به لنډوي. که تاوان یې کړی وي او که ګټه او داځکه چې مروجه بانکداري په سود باندې ولاړه ده. (I B& M P I،(2015/9/15_4:45PM

په اسلامي بانکدارۍ کې ګټه او تاوان شریک دي او دا ځکه چې دایوه تجارتي معامله ده چې په مضاربت باندې ولاړه ده، چې په مضاربت کې ګټه او تاوان مشترک دي، په دې معنی که چېرې تاجر له بانک نه پیسې په مضاربت اخیستې وي او تاجر تاوان وکړي، نو په دې صورت کې به تاوان د بانک د سرمایې نه ګرځول کیږي، نه له تاجرنه، خو دا په دې معنی هم نه ده چې تاجر ګوندې تاوان ندی کړی، بلکې تاجر هم تاوان کړی چې د هغه تاوان د هغه تجارتي فعالیت او کار دی کوم تجارتي فعالیت چې تاجر کړی د هغه فعالیت په مقابل کې به ګټه نه اخلي بلکې یواځې د هغه فعالیت په تاوان کې حسابیږي، ځکه چې هغه د خپل فعالیت عوض(اجوره) وا نه خیسته، چې دغه اجوره نه اخیستل په دې دلیل دي چې تاجر هم په تاوان کې شریک دی، مګر په مروجه بانکدارۍ کې بیا تا وان یواځې په تاجر باندې دی او بانک د تاوان ذمه وار نه دی ځکه بانک خپله فیصدي سود لري همغه اخلي که تا جر تاوان کړی وي که ګټه چې دا ظلم اوبي عدالتي ده.

**څوارلسم توپیر**: په اسلامي بانکدارۍ کې تاجر د قرار داد ذمه وار دی چې په کوم شکل یې قرارداد کړی وي د همغه قرارداد مطابق به ګټه او تاوان ویشل کیږي، مګر په مروجه بانکدارۍ کې تاجر په خپلو تجارتي فعالیتونوکې آزاد دی او د بانک له طرفه کوم ممانعت نلري، ځکه چې بانک د پیسو په سر معامله کړې او سود یې اخیستی دی.(I B& M P I، (2015/9/15_4:45PM

اسلامي بانکدارۍ د یو تعهد په اساس ولاړه ده، خو هغه تعهد (قرارداد) به د اسلام د مبارك دین مطابق وي، نو که په دغه قرارداد کې دوي په څومره فیصدی گټه او تاون توافق وکړو همغه به عملي کیږي، مگر په سودي بانکونو کې بیا تاجر ازاد دی او د بانک له طرفه کوم ممانعت نلري او سوداگر کولای شی چې هر ډول تجارتي فعالیتونه سرته ورسوي، ځکه چې بانک په سود پیسې ورکړي او د سود او پیسو سره یې کار دی نه دکارو بارسره.

**پینځلسم توپیر**: اسلامي بانکداري د تجارتي فعالیتونو په اساس فشار واردوي ترڅو داقتصادي سیستم او واقعي سکتور ترمنځ یو ارتباط قایم کړي او پیسې دواقعي دارایې سره تړلې دي، مگر په سودي بانکدارۍ کې بانکونه دپیسو فایده اخلي چې دغه کار په نهایت کې انفلانسیون رامنځته کوي چې د ملک داقتصاد د رکود باعث کیږي. I)
2015/9/15_4:45PM)،B& M P I

شپاړسم توپیر: د اسلامي او مروجې با نکداري ترمنځ بل توپیر دادی چې کوم مال په روا ډول سره گټل کیږي هغه باید جمع نه شی ځکه چې د دې مال له جمع کولو څخه د دولت توازن خرابیږي، د مال او دولت جمع کوونکي په بدو اخلاقو باندې اخته کیږي او د ټولنې لپاره هم ورڅخه یو لوی مجرم جوړیږي چې له همدې وجې داسلام مبارك دین بخل او احتکار حرام کړی او هغې ته یې سخته سزا ورکړې. چې په دې اړه الله جل جلا له په قران کریم کې داسې فرمایلي: قوله تعالی : .... وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (التوبه: ۳۴ اية).

او هغه کسان چې خزانه کوي سره زر او سپین زر (مال او دولت ) او هغه د الله جل جلاله په لار کې نه لگوي نو دوي ته په دردناك عذاب زیری ورکړه.

چې همدا په سودي بانکدارۍ باندې سخت ګذار دی، مال جمع کول او بیا په همدې جمع شوي مال باندې نور دولت او سرمایه پیداکول د مروجې بانکدارۍ اصلي بنسټ او بنیا د دی، خو د اسلام مبارک دین بیا د دې عمل سخت مخالف دی. (عبدالواسیع صابر، ۲۰۰۷، ۷۱).

**اوولسم توپیر**: اسلام د مال د مصرفولو او نه جمع کولو حکم ورکوي، مګر سودي بانکداري بیا د مال او دولت د جمع کولو لپاره هلې ځلې کوي، همدارنګه داسلام د مبارک د ین مقصد دانه دی چې مال لرونکی دې خپل مال په بې ځایه کارونو او عیش او نوش باندې مصرف کړي بلکې د مصرف سره یې دفي سبیل الله شرط لګولی چې د هغې مقصد دا دی: کوم مال او دولت چې ستاسې له اړتیاو څخه زیات وي هغه د ټولنې د فایدې لپاره مصرف کړئ. چې په اړه یې قران کریم لاندې حکم فرمایلی: (يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ واليتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ). ( البقره: ۲۱۵ اية)

**ژباړه:** هغوي له تا څخه پوښتنه کوي چې څه مصرف کړو؟ ورته ووایه چې دضروریاتو څخه زیات شیان مصرف کړئ.(مصرف نه موخه نفقه اوصدقه ده).

**اتلسم توپیر**: په مروجه بانکدارۍ کې سرمایدار فکر کوي چې زما په مال کې له ما پرته بل څوک حق نلري اونه د چا برخه اوحصه پکې شته؛ خو اسلام د دې برخلاف دسرمایدارانو په مال کې د محروم او مختاجو خلکو حق او برخه معلومه کړې او هغوي یې په دې خبره پوهولي چې ستاسې مال یواځې ستاسې ندی بلکې په دې مال کې د ټولنې غریب، محتاج او محروم خلک هم برخه لري او د هغوي برخه باید تاسې ورکړئ. چې په دې اړه قران کریم داسې فرمایلي: (وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ). (المعارج: ۲۴-۲۵اية)

**ژباړه:** او هغه کسان چې په مالونوکې يې معلومه برخه د سوال کوونکو او محرومو لپاره وي.

**نولسم توپير**: په اسلامي اومروجه بانکدارۍ کې دسرمايدار نظريه هم سره توپير لري ځکه چې په سودي بانکدارۍ کې سرمايدار فکر کوي چې د مال په مصرف سره به زه مفلس او غريب شم او که مال جمع کړم نو دولت مند به شم، اسلام وايي چې په مصرف کې برکت دی، په مصرف باندې مال نه کميږي، بلکې زياتيږي. په دې اړه قران کريم داسې فرمايلي دي: (الشيطانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَ يَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشاءِ وَ الله(ج) يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَ فَضْلاً وَ أللهُ واسِعٌ عَليمٌ): (البقره: ۲٦۸اية).

**ژباړه:** شيطان تاسې له غريبۍ او فقر څخه ويروي او د بخل په شان د شرمناک کار حکم درته کوي خو الله تعالی تاسې ته دمغفرت او زياتې ورکړې وعده درکوي.

**نولسم توپير**: د دې ترڅنګ په سودي بانکدارۍ کې سرمايدار فکر کوي کوم مال چې مصرف شو هغه بې ځايه لاړو او تلف شو. خو اسلام وايي کوم مال چې په سمه لاره کې مصرف شو هغه باقي دی او د هغه ښه او غوره فايده به تاسې ته درکړل شي. په قران کريم کې الله جل جلاله داسې فرمايي: ...وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنْفُسِكُمْ وَمَا تُنْفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ( البقره: ۲۷۲ آية)

**ژباړه:** تاسې چې په نيک کار کې کوم مال مصرفوئ هغه به تاسې ته پوره درکړل شي او په تاسې به هيڅکله ظلم نه کيږي.

**شلم توپير**: له بلې خوا په سودي بانکدارۍ کې سرمايدار غواړي چې خپل جمع شوی مال په سود باندې ورکړي او د هغه په ذريعه خپل مال ډېر کړي، خو اسلام وايي چې

مال په سود باندې نه ډېرېږي بلکې کمېږي، کوم مال چې په نیک کار کې مصرف شی هغه مال ډېر والی پیداکوي. چې په اړه یې قران کریم داسې فرمایلي دي: (يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ): (البقرة : ۲۷۶ ایة) .

**ژباړه :** الله(ج) سود له مینځه وړي او خیراتونه زیاتوي او الله(ج) نا شکره گناهگار نه خوښوي. یعنې الله جل جلا جله سود ختموي او محوه کوي یې او صدقاتوته وده او نمو ورکوي. محمد صلي الله علیه وسلم فرمایلي« *إِنَّ الرِّبَا وَإِنْ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيرُ إِلَى قُلٍّ*»( مسند الإمام أحمد بن حنبل ، ۱۹۹۵ م، حدیث شمېره:۳۷۵۴، جلد ۴، ۱۹).

**ژباړه:** سود که هرڅومره زیات وي خوباالاخره دکمېدو په طرف درومي.

**یو ویشتم توپیر**: له بلېخوا د سرمایدار په زړه کې داخبره هیڅ نه ځایږي چې هغه دې چاته پرته له سود څخه قرض ورکړي، هغه نه یواځې له قرضدار څخه سود غواړي بلکې کله چې د هغه وخت او نېټه پوره شي، نو د هغې داخیستلو لپاره دقرضدار د کور سامان او شیان هم تښتوي او په هغه باندې هیڅ قسم رحم اوزړه سوی نه کوي، خو اسلام دا وایي چې تاسې نه یواځې اړمنو او مختاجو خلکوته قرض ورکړئ، بلکې د قرض په اخیستلو او نېټه کې ور سره سختي مه کوئ، حتي که چېرې قرضدار نادار او طاقت د ورکولو ونه لري هغه ورته معاف (بخشش) کړئ .( عبدالواسیع صابر، ۲۰۰۷م، ۷۳).

او قران کریم د پورته خبرې په تائید داسې فرمایلي: وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ ۖ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ: ( البقره: ۲۸۰ ایة)

**ژباړه:** که چېرې قرضدار تنګ لاسي وي، نو هغه ته د پراخۍ پورې مهلت ورکړئ او که چېرې قرض ورته معاف کړئ دابه ستاسې لپاره ښه وي د دې فايده معلومولی شئ که چېري علم ولرئ.

**دوه ويشتم توپير**: سودي بانکداري او سودي سرمايدار چې هرڅه مصرفوي هغه د خلکو دليدلو او رياء لپاره مصرفوي ترڅو له خپل مال او دولت څخه داګټه واخلي چې په ټولنه کې يې نوم وشي که نه نو په نيک کار کې هغه مال نه مصرفوي، اما اسلام خلك له رياء څخه منع کوي او په نيکو کارونو کې په پټ ډول د مال د مصرفولو او لګولو ترغيب ورکوي البته کولای شي چې په ښکاره ډول يې هم په نيکو کارونوکې مصرف کړئو خو په دې شرط چې په ځان مطمئن وي چې داکار زه له رياء لپاره نه کوم. چې په اړه يې قران کريم داسې فرمايلي دي: إِن تُبْدُواْ الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاء فَهُوَ خَيْرٌ لُّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ :(البقره: ۲۷۱ اية).

ژباړه : که تاسې خيراتونه ښکاره ورکوئ نو دا هم ښه دی او که خيراتونه پټ ورکوئ او اړو خلکو ته يې ورکوئ دا ستاسې لپاره غوره دی او له تاسې څخه ځنې ګناهونه لري کوي او الله(ج) جل جلا له په هغو ټولو کارونو چې تاسې يې کوئ خبر دی .

**در ويشتم توپير**: سودي بانکداري او سودي سرمايدار چې په نيک کار کې کوم مال ورکوي هغه د زړه له اخلا صه نه ورکوي، بلکې په جبر، زور او د زړه دپاسه يې ورکوي چې هغه هم تر ټولو خراب او د کار نه وي، بل داچې که چېرې وريې هم کړي، نو بيا ترشا داسې خبرې او سترګکونه پسې وهي چې له هغې مال څخه خلك پښيمانه کړي، خو اسلام وايي چې تاسې په خپل مال کې هغه مال مصرف کړئ کوم چې هغه ډېرغوره او تاسې ته ډېر محبوب وي، چاته چې مال ورکړئ په هغه باندې

احسان مه باروئ او د هغه څخه دنیکی او احسان طمع او امید هم په زړه کې مه ساتئ او نه به د احسان یادونه کوئ. قران کریم کې الله جل جلا له فرمايي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ). ( البقره: ۲٦۷ اية )

ای مومنانو! لګوئ ! له حلالو، پاکو هغو مالونو چې ( په کسب سره ) تاسې ګټلي. یعنې داسې نه چې خپل بدتر مال چاڼ او بیایې ورکړئ.

**پایله**

په پایله کې ویلی شو چې دواړه بانکداری په اکثرو برخو کې توپیرونه لري: اسلامي بانکداري د اسلام د مبارك دین یوه قوي او پیاوړې برخه ګڼل کیږي او د اسلامي قانون پر اساساتو ولاړه ده، اما مروجه بانکداري بیا دوضعي تجارتي قانون پر اساساتو ولاړه ده او د وضعي تجارتي قانون یوه برخه ګڼل کیږي، په اسلامي بانکدارۍ کې د زکات مسایل مطرح دي او د زکات راټولول د اسلامي بانکونو دنده او مسئولیت ګڼل کیږي، مګر په مروجه بانکدارۍ کې د زکات مسایل نه مطرح کیږي او هم نوموړي بانکونه د زکات د راټو لولو وظیفه او مسئولیت هم پرغاړه نه لري، په اسلامي بانکدارۍ کې دوکه(غرار) قمار، په عیش او عشرت دمال مصرفول، پچه اچول، داسې اعلانات کول چې هغه د شریعت د اصولو خلاف وي، درياء په خاطر د مال مصرفول او داسې نور په اسلامي بانکدارۍ کې جواز نه لري، په داسې حال کې چې په مروجه بانکدارۍ کې بیا داپورته ټولې ناروا کړنې جواز لري او حتی تر دې چې د مروجې بانکدارۍ اساسي او بنسټيز اصول ګڼل کیږي او پرته له دې څخه مروجه بانکداري پرمخ نه شي تلای، اسلامي بانکداري احتکار منع کوي؛ مګر مروجه بانکدارۍ کې بیا احتکار جواز لري، اسلامي بانکداري په اسلامي اصولو ګټه کوي او مروجه بانکدارۍ بیا په ګټه کې ډېر زیات افراط کوي، په اسلامي بانکدارۍ کې د

مال جمع کول نشته مګر په مروجه بانکدارۍ کې بیا شتون لري، په اسلامي بانکدارۍ کې مال په جایزو کارونو باندې مصرفیږي مګر دا اصل بیا په مروجه بانکدارۍ کې نه مراعت کیږي، اسلامي بانکونه خلکوته ریښتیني خدمات وړاندې کوي او داسې پروژې پلی کوي چې د خلکو ستونزې ورسره حل شی مګر په مروجه بانکدارۍ کې بیا دا اصل په پام کې نه نیول کیږي. ځکه چې په مروجه بانکدارۍ کې یواځې ګټه په نظر کې نیول کیږي نه خدمات. اسلامي بانکونه چې کوم اموال په خیریه کارونو کې مصرفوي له هغې څخه یې یواځینی هدف دالله جل جلا له رضاء وي مګر مروجه بانکدارۍ کې بیا دالله جل جلا له رضاء نه مطرح کیږي، بلکې هغوي یې دنوم او ریاء کارۍ په خاطر کوي ترڅو شهرت پیداکړي، په اسلامي بانکدارۍ کې ګټه او تاوان مشترك دي او دواړه اطراف د قرارداد مطابق پرمخ ځي مګر دا طریقه بیا په مروجه بانکدارۍ کې په نظر کې نه نیول کیږي، اسلامي بانکداري ځانته خپل اصول لري لکه: مضاربت، مرابحه، مشارکت، سلم او داسې نور مګر په مروجه بانکدارۍ کې بیا نوموړې معیارونه په پام کې نه نیول کیږي، بل مهم او اساسي فرق چې د دواړو بانکونو ترمنځ موجود دی هغه سود دی یعنې اسلامي بانکونه چې کوم تجارتي معامالات ترسره کوي هغه له سود څخه پاك دي مګر په مروجه بانکدارۍ کې بیا سود د نوموړې بانکدارۍ د ملا دتیر حیثیت لري.

**مناقشه**

زموږ د معلوماتو او عملي تجربې په اساس په افغاني ټولنه کې د اسلامي بانکدارۍ او د هغه د اصولو په اړه کمه آګاهي موجوده ده حتي که ووایو په نشت حساب ده همدا وجه ده چې له پخوا راهیسې زموږ ټولنه او د دې ټولنې انسانان له بېلا بېلو اقتصادي ستونزو سره مخ دي. اقتصادي فرصتونه شتون نه لري، ځوانان مو د بیکارۍ له وجې

له زده کړو څخه محروم، په نشه يي موادو معتاد، بهرنيو هېوادونو ته د کاري فرصت د پيداکولو په موخه مهاجر کېږي چې اکثره يې د لارو په اوږدو کې خپل ژوند هم له لاسه ورکوي.

دا چې په اوسني وخت کې مو بانکي سيستم له رکود او ديوالي کېدو مخ ته روان دی يو عمده لامل يې د اسلامي بانکدارۍ د اصولو په اړه عدم پوهاوی دی ځکه چې اسلامي بانکداري د ټولو ښکېلو اړخونو په خير ده هم فردي مصالح په نظر کې نيسي او هم ټولنيز، اسلامي بانکداري د اقتصادي پروژو په رامنځ ته کولو او دوام باندې تاکيد کوي چې د دې کار په پايله کې ټولنيزې اقتصادي پروژې منځ ته راځي او ځوانانو ته کاري فرصتونه مهيا کېږي او هم د ملك اقتصادي وضعيت بهبود پيداکوي.

**پايله اخيستنه**

که اسلامي بانکدارۍ ته پاملرنه وشي نو د بشريت ستونزې به تر زياتې اندازې پورې حل شي، نو له همدې امله بايد د ټولو هغو لاملونو په وړاندې جدي مبارزه وشي کوم چې د اسلامي بانکونو د کمزوري کېدو او يا هم د لمنځه تلو سبب کېږي او ترڅنګ يې بايد د هغو تبليغاتو مخه هم ونيول شي کوم چې مروج بانکونه يې د اسلامي بانکونو په وړاندې پرمخ وړي. اسلامي بانکداري د اسلامي ټولنې د اقتصادي پراختيا او ثبات لپاره اساسي رکن ګڼل کېږي هغو ټولنو چې اسلامي بانکدارۍ ته مخه کړې هغوي نن ورځ پرمختللي او په ځان متکي اقتصاد لري، اتباع يې د نورو مرستو او سوال ته اړتيا نه لري؛ فقر او غربت شتون نه لري دا ځکه چې د اسلامي اصولو په تطبيق سره هم دنياوي او هم اخروي نيکمرغي منځ ته راځي او دا دالله تعالي تعهد دی.

**وړاندیزونه**

د دې  لیکنې په اخر کې له لاندې وړاندیزونو څخه یادونه کوو هیله ده چې دی وړاندیزونو ته ځانګړې پاملرنه وشی او په عمل کې پیاده شی:

1. په اسلامي ټولنو کې حاکم نظامونه چې د اسلامي نظام دعوې کوي باید اسلامي بانکدارۍ ته ځانګړې پاملرنه وکړي او د شرعي اصولو په چوکاټ کې ورته منظمي پالیسۍ او قوانین جوړ کړي او بیا دا اصول په عمل کې پیاده کړي.
2. د اسلامي بانکدارۍ په اړه باید په پراخه پیمانه عامه پوهاوی په متواتر او مسلسل شکل تر سره شي څکه چې په دې اړه زموږ د ټولنې وګړو ته معلومات نه شته او که ځینو سره وي هغه هم په کمه پیمانه دي.
3. اسلامي امارت باید د اسلامي بانکدارۍ د ایجاد او تقوی په برخه کې خپل مکلفیت په داسې شکل اداء کړي لکه څنګه چې نورو اسلامي هېوادونو اداء کړي، لکه د قطر او مالیزیا حکومتونو چې د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې اداء کړي.
4. اسلامي شریعت کې اقتصادي امور او معاملات بنیادي مسایل ګڼل کیږي او دا د اسلامي حکومتونو مکلفیت دی چې د دې  برخې د غنامندۍ په موخه خپل مکلفیت اداء کړي، پداسې حال کې چې زموږ حکومتونه د اسلام دعوه کوي، خو هغه څه چې د اسلامي نظام د تحکیم او تقویت لامل ګرځي هغه نه ترسره کوي، چې یو هم اسلامي بانکداري ده چې زموږ په ټولنه کې ورته هیڅ پاملرنه نه ده شوې.

**ماخذونه**

قرآن کريم.

۱ـ أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين، بن الحاج نوح بن نجاتي بن آدم،(۱٤۲۲ هـ - ۲۰۰۲ م)، مُخْتَصَر صَحِيحُ الإِمَامِ البُخَارِي، الطبعة: الأولى، الناشر: مكتَبة المَعارف للنَّشْر والتوزيع، الرياض، لومړي جلد، د حديث شمېره: ۱٦۳.

۲ـ ابن ماجة - وماجة اسم أبيه يزيد - أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني، (۱٤۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م) سنن ابن ماجه ت الأرنووط، المحقق: شعيب الأرنووط - عادل مرشد - محمَّد كامل قره بللي - عَبد اللّطيف حرز الله، الطبعة: الأولى،الناشر: دار الرسالة العالمية، د حديث شمېره: ۲۱۸۵، جلد ۳.

۳ـ أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني،(۱٤۱٦ هـ - ۱۹۹۵ م)، مسند الإمام أحمد بن حنبل، المحقق: أحمد محمد شاكر، الطبعة: الأولى، الناشر: دار الحديث – القاهرة، حديث شمېره:۳۷۵٤، جلد ۴.

۴- تهانوي، مولوی محمد اشرف علي، ژباړن: مولانه شاه فيصل،(۲۰۱٦م)کال، تسهيل الهدايه (د هدايې پښتو شرحه)، علمي کتاب پلورنځی، پکتيا، افغانستان.

۵ـ محمود الخطيب، ژباړن: محمد شريف رحماني،(۱۳۹۰هـ ش)کال، د اسلامي اقتصاد اساسات، دويم چاپ، نقيب کتاب پلورنځي، جلال آباد، افغانستان.

٦ـ نيازی، محمد مصطفی، (۲۰۱۴م) کال، اسلامي اقتصاد او دهغې اصول او مبادی، دويم چاپ، مستقبل خپرندويه ټولنه، کابل، افغانستان.

۷ـ نیازي، مصطفی ، (۱۳۸۹هـ ش) کال، اسلامي بانکداري، لومړي چاپ، النور کتاب پلورنځي، ننگرهار، افغانستان.

۸ـ صابر، عبدالواسیع،(۲۰۰۷م) کال، نړیوال اقتصادي نظامونه، نیو کابل کتاب پلورنځي ،کابل، افغانستان.

9 _Alexakis، C.، Izzeldin، M.، Johnes، J.، & Pappas، V. (2019). Performance and productivity in Islamic and conventional banks: Evidence from the global financial crisis. *Economic Modelling، 79*.

10 _ISLAMIC BANK MALAYSIAN PRESS INSTITUTE (I B& M P I) DATE 2015/9/15_4:45PM.

11-Samad، A. (2004). Performance of Interest-Free Islamic Banks VIS-Ã€-VIS Interest-Based Conventional Banks of Bahrain. International Journal of Economics، Management and Accounting، 12(2).

12- (Hamid، A.، & Nordin، N. (2001). A study on Islamic banking education and strategy for the new millennium-Malaysian experience. International journal of islamic financial services، 2(4).

13-Hamid، A.، & Nordin، N. (2001). A study on Islamic banking education and strategy for the new millennium-Malaysian experience. International journal of islamic financial services، 2(4).

14-Johnes، J.، Izzeldin، M.، & Pappas، V. (2014). A comparison of performance of Islamic and conventional banks 2004–2009. Journal of Economic Behavior & Organization، 103، S93-S107.

15- (Durrani، B. (2016). Islamic Concept and Contemporary Corporate Social Responsibility: Comparative Study between Islamic Banks and Conventional Banks in Pakistan. Journal of Managerial Sciences، 10(2).

16-Www. Wikipedia. Com DATE 2015/11/30 TAME 2:00 PM.

17-https://www.nunn.asia/129782. 2022/11/9. 12:00 PM.

**پوهاند احمدگل واثق**

حقوقو سياسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانگه.

لارښود استاد: پوهنوال محمد ايمل حقمل

# په اسلامي هېوادونو کې د وضعي قوانينو اطاعت

**لنډيز**

قانون يوه عربي کلمه ده چې مقياس او اندازې ته وايي، ځينو کتابونو کې راغلي چې قانون د يوناني ژبې canon له کلمې څخه اخيستل شوی دی، د اندازه کولو په معنی دی او قانون د قواعدو او مقرراتو له مجموعې څخه عبارت دی چې د قدرت لرونکي مقام لخوا وضع کېږي، اجباري جنبه لري، هدف يې د ټولنې د ټولو اړيکو تنظيمول او ټولو موضوعاتو ته د حل لارې پيدا کول دي، دا چې په اسلامي هېوادونو په تېره بيا په افغانستان کې د افاقي حقوقو دويمه اصلي منبع ده او د ټولنې د ملا د تير حيثيت لري، چې اطاعت کول يې په ټولو اتباعو باندې لازمي او اجباري دي، دليل يې د سورت النساء ۵۹ نمبر آيات دی چې په متن کې ذکر شوی دی.

دا چې په اسلامي هېوادونو کې اساسي احکام په قرآنکريم او د نبوي صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې راغلي دي، د دې ترڅنگ قانون هم شتون لري، دا چې د دې قانون اطاعت واجب او لازم دی او کنه؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره نوموړې څېړنه ترسره شوې ده.

نوموړې څېړنه ميداني او کتابتوني دواړو برخو ته شامله ده.

د څېړنې موندنې دا ښيي چې په اسلامي هېوادونو کې د اسلامي شريعت د احکامو ترڅنگ د وضعي قوانينو اطاعت هم لازمي

دی؛ دا ځکه چې اهميت او اطاعت يې د الله (جل جلاله) حکم دی، ولې شرط يې دا دی چې د قانون په جوړېدو کې بايد هغه اصول مراعت شي چې وضعي قانون د اسلامي شريعت د احکامو سره مطابقت ولري.

کليدي ټکي: اسلامي شريعت، وضعي قانون، اطاعت، اسلامي هېواد.

**سريزه**

قانون د يوې منظمې او پرمختللې ټولنې لپاره د ملا د تير حيثيت لري، د کاميابۍ، پرمختللي، متمدنې، سوکاله ارامه او منظمې ټولنې ته د قانون موجوديت يو اشد ضرورت دی چې بايد يو قانون ولري او په هره ټولنه کې چې قانون موجود وي، نو دا دويم لازمي امر دی چې ټول اتباع بايد د قانون اطاعت او فرمانبرداري وکړي او که چېرې قانون مرعي الاجراء نه وي يا داچې د ټولنې دولتي او عادي اشخاص يې اطاعت ونه کړي، په هغې ټولنه کې قانون خپل اصلي هدف چې د ټولنې نظم، سکون، پرمختګ او ... دي له لاسه ورکوي او په ټولنه کې ګډوډي، بې نظمي او عدم سکون رامنځته کېږي، له پرمختګ او انکشاف څخه پاتې کېږي.

همدا سبب شوی دی چې له ابتدايي ټولنو څخه شروع تر نن ورځې پورې هره بشري سياسي ټولنه ځانګړي قوانين لري، خو په هره ټولنه کې د قانون اساس او مبنی فرق لري؛ په اسلامي هېوادونو کې د قوانينو لپاره اساس او مبنی د اسلامي شريعت د احکامو سره مطابقت درلودل دي. چې د قوانينو ضرورت په اړه يوه مستقله څېړنه ترسره شوې او په حق مجله کې نشر شوې، په دې ځای کې پرې بحث نه کېږي.

**پرابلم(ستونزه)**

په اسلامي هېوادونو کې خاصتاً په افغانستان کې چې له ۹۹ سلنې څخه زیات اتباع یې مسلمانان دي، د اسلامي شریعت احکام پرته لدې چې قوي دنیاوي او اجرائیوي ضمانت ولري په سر سترګو مني، خو له بده مرغه چې د ناسم پوهاوي له وجې اکثره وګړي قانون ته په اهمیت قایل نه دي او په دې دلیل چې موږ مسلمانان یو، قرآن او سنت موجود دي او اطاعت یې کوو، نو د یو مسلمان په صفت د قانون احترام او اطاعت یو لازمي امر نه دی او اطاعت یې نه کوي چې له همدې وجې په ټولنه کې ګډوډي او بې نظمي رامنځته کېږي، نو په همدې اساس مو د وضعي قانون پر اطاعت څېړنه وکړه تر څو دغه ناسم پوهاوی ختم شي او د قانون اطاعت هم د شرعي احکامو ترڅنګ پر ځان لازم او اجباري وګڼي.

**د اختیار عوامل**

دا چې زه د حقوقو او قانون سره د مسلک له مخې تړاو لرم نو اکثره خلک داسې پوښتنه کوي چې اسلامي شریعت د ژوند شامل او کامل نظام دی او اطاعت یې د الله(ج) حکم دی، موږ یې منو، هغه قانون چې د انسانانو پر لاس جوړېږي موږ یې پر اطاعت مکلف نه یو، نو د همدې پوښتنې تکرار دې ته وهڅولم تر څو په اړه یې څېړنه ترسره کړم.

**د څېړنې اهمیت**

دا چې انسانان ټولنیز مخلوقات دي، په ټولنه کې شریک ژوند کوي، نو د شریک منظم ژوند درلودلو لپاره د احکامو او قواعدو موجودیت ته ضرورت دی، ولې د دغو قواعدو یوازې شتون د مشکل حل نه دی، د منظم ژوند، سوکاله او پرمختللې ټولنې لپاره د قواعد اطاعت هم باید وشي چې نن ورځ ځینې خلک د دې وجې چې انسانانو

لخوا ټاکل شویو قواعدو عدم رعایت کوم اخروي مکلفیت نه لري یا دا چې الهي حکم نه دی د همدې وجې د قوانینو د احکامو اطاعت نه کوي او په اساس یې ټولنه کې بې نظمي، ګډوډي رامنځته کېږي او ټولنه له پرمختګ شاته پاتې کېږي، نو په دې څېړنه کې دا ثابته شوې ده چې د وضعي قوانینو اطاعت واجب او د قرآن حکم دی، ناسم پوهاوی به ختم او خلک به قانون پرخپل ځان حاکم ګڼي او نظم، سکون، پرمختګ به رامنځته شي.

## د څېړنې موخې

هره څېړنه ځانګړي اهداف لري د دې څېړنې په اهدافو کې قانون پېژندنې، اقسامو او اهدافو ترڅنګ په دې پوهېدل چې قوانین د اولی الامر حکم دی او د اولی الامر د حکم اطاعت لازم او واجب دی، او دا خبره به هم ترلاسه شي چې د هغه قانون اطاعت لازم او واجب دی چې د اسلامي شریعت د احکامو سره طابقت ولري.

## کړنلاره

د دې څېړنې زیاته برخه کتابتوني بڼه لري او د پوښتنو ځواب له متعبرو کتابونو څخه ترلاسه شوی خو میداني برخه هم لري او هغه دا چې د افغانستان وضعي قوانینو د اولی الامر په حکم کې راځي او کنه؟ د پوښتنپاڼې له لارې ترلاسه شوی او د فیصدۍ په شکل لیکل شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

دا څېړنه لاندې پوښتنې ځوابوي:

1. قانون څه اهمیت لري؟
2. د قانون اطاعت واجب او لازم دی؟

3. قانون بايد په کومه طريقه جوړ شي يا دا چې د قانون جوړونې په وخت کې کوم معيارونه مراعت شي چې د اولی الامر په حکم کې شامل شي؟

**پخوانيو اثارو ته کتنه**

د قانون د اهميت او د اولی الامر د اطاعت په اړه په مختلفو کتابونو کې ځينې ليکنې شوي دي، ولې په دې اړه چې په اسلامي هېوادونو کې د قرآنکريم او نبوي صلی الله عليه وسلم د سنتو د موجوديت په صورت کې وضعي قانون څه اهميت لري؟ او حکم يې لازم او واجب دی؟ يا دا چې اطاعت يې واجب او لازم الاجراء دی؟ کومه ځانګړې څېړنه نه وه ترسره شوې، نو دا يوه نوې ليکنه ده.

د موضوع د ښه پوهېدو لپاره لومړی عمومي مفاهيم او په دويم قدم کې اصلي موضوع باندې چې د قانون اهميت او اطاعت دی، څېړل کېږي.

**الف: عمومي مفاهيم**

لکه مخکې چې هم دې خبرې ته اشاره شوې وه چې په عمومي مفاهيمو کې به د قانون پېژندنه، د قانون غرض، د قانون ځانګړنې، د قانون اقسام توضيح او تشريح شي.

لومړی: د قانون پېژندنه: د دې لپاره چې د قانون په اړه ښه پوه شو، نو لومړی د قانون لغوي او دويم بيا اصطلاحي تعريف جلا جلا څېړل کېږي.

**لومړی: د قانون لغوي معنی**

قانون د يوناني ژبې د Kanon يا Konon (Conon) له کلمې څخه اخيستل شوی او بيا له سرياني ژبې څخه عربي ته ننوتی چې د خط په معنی کارول شوی او قاعدې ته اوښتی ده. (۱:۱۵۷)

چې د روم په حقوقو کې د قانون په عوض د Lex کلمه او د فرانسې د حقوقو په اصطلاح کې ورته Lio کلمه استعمال شوې چې د لوستلو او ویلو په معنی ده یا دا چې لیکلی او لوستلی شي . (۱۷۴:۱۸).

**دویم: د قانون اصطلاحي تعریف**

د قانون لپاره په اصطلاح کې هم مهم تعریفات شوي چې په لاندې ډول ترینه یادونه شوې.

قانون د ټولنیز کُلي لازمي سلوك د قواعدو له مجموعې څخه عبارت دی چې دولت د هغې اجراء تضمینوي. (۸:۲۰)

یا په بل عبارت قانون هغه رشته ده چې د وګړو روابط او مناسبات ترتیب او تنظیموي دا چې حاکم یا محکوم او همدارنګه د شاه او رعیت ترمنځ متقابل روابط ترتیب او تنظیموي. (۴۳:۲۸) یا په بل عبارت قانون له هغو قواعدو څخه عبارت دی چې دعمومي قدرت په واسطه وضع شوی وي د الزام، اذن او اباحت سره مدلول وي. (۴۴:۲۸)

**دریيم ـــ د قانون ځانګړتیاوې**

د پورته تعریفاتو په نظر کې نیولو سره بیا هم د حقوقو کلمه دقیقه او په مکمل ډول پېژندل مشکل کار دی نو په همدې خاطر د قانون لپاره یو سلسله ځانګړتیاوې او مشخصات ذکر کړي دي چې ځینې مهم یې په لاندې ډول دي.

۱ ـ د اجباري والي ځانګړنه: قانون اجباري جنبه لري چې دغه د اجباري والي جنبه یې له دوه جهتو څخه ده لومړی دا چې مستقیماً د اجرائیه قوې لخوا تطبیقیږي او دویم اجباري والی یې د حکم د تطبیق له حیثه دی. په دې هکله چې په یوه موضوع

کې محکمه د قانون په اساس حکم کوي اجرائيه قوه همدغه حکم تطبيقوي او د ټولنې د افرادو لپاره کوم اختيار نه دی ورکول شوی. (۱۵۲:۲۴)

۲ـ مستقيماً ترينه استفاده کېږي: کله چې مقننه قوه قانون تصويب کړي او د جمهور رئيس لخوا توشيح شي د دې قانون په اړه لومړی محکمه مکلفه ده چې د همدغه قانون په اساس حکم وکړي او له بلې خوا اجرائيه قوه هم مکلفه ده چې د همدغه قانون حکم مستقيماً تطبيق کړي. (۱۵۲:۲۴)

۳ـ د حقوقي قواعدو د اجرا د ضمانت له حيثه: هره حقوقي قاعده چې تطبيق يې د دولت لخوا الزامي شوی نه وي او د اجرا تضمين يې نه وي شوی هغه بيا اجباري حقوقي قاعده نه ګڼل کېږي. (۵۵:۲۴)

**دريیم: د کلي والي قاعده:** حقوقي قاعده يا قانون د يو خاص ځای او خاص خلکو لپاره نه وضع کېږي، بلکې حقوقي قاعده د ټول قلمرو او ټولو اتباعو لپاره ده او آن تردې چې هر خارجي تبعه چې په افغانستان کې مقيم وي، يو شان تطبيقيږي چې په دې اړه ځينې استثنات شتون لري خو د هغه ذکر کول دلته ضروري نه دي. (۷۵:۲۴)

۴ــ قانون مختلف اقسام لري چې دا موضوع په راتلونکې عنوان کې تشريح کېږي نو ځکه يې دلته د ذکر کولو څخه صرف نظر کوو.

۵ــ قانون ماده وار او جزوار وضع کېږي.

۶ــ قانون د قدرت لرونکې مقام لخوا وضع کېږي چې دا موضوع په تعريفاتو کې وڅېړل شوه.

۷ــ قانون غير جانب داره وي.

۸ـ قانون په مستند ډول وضع کېږي قانون یوه عادي د نظم او نثر لیکنه نه ده بلکې له دې څخه قواعد منځته راځي او اجباري جنبه لري نو په همدې اساس د قانون د انفاذ لپاره یو سلسله مراحل لازمي دي لکه د تسوید مرحله، د تصویب مرحله، د توشیح مرحله، د نشر مرحله، د مهلت مرحله او بالاخره انفاذ چې په دې ځای کې نوموړی موضوع نه ده توضیح شوې.

۹ـ قانون باید لیکلی وي: لکه مخکې چې ذکر شول د قانون د انفاذ له مراحلو څخه یوه مرحله دا ده چې په یوه رسمي جریده کې باید نشر شي او په جریده کې نشر لپاره لیکل لازمي دي.

۱۰ــ د قانون مندرجه مواد باید روښانه وي.

۱۱ــ قانون باید د ټولنې ټولو برخو ته ځواب ویلی وي.

۱۲ــ قانون په ټولنه کې نظم او عدالت راولي.

۱۳ـ قانون همېشه د امري والي خاصیت لري (۱۲۲:۲۵) (۱۸:۲۰) (۱۴۸:۱۸) او زما خپل معلومات.

**څلورم: د قانون اقسام**

څرنګه چې مخکې هم ذکر شول چې قانون مختلف اقسام لري او د مختلفو وجوهاتو له مخې په مختلفو کټه ګوریو باندې طبقه بندي شوی دی، د شکلي والي او متني والي له حیثه په متني او شکلي قانون. د وضع کولو ذیصلاح مراجعو له مخې په اساسي قانون، ارګانیکي قانون او عادي قانون باندې تقسیم شوي دي چې د حقوقو پوهنځي

په درسي موضوعاتو کې په تفصیل سره بحث شوي دلته یې له ذکر کولو څخه صرف نظر شوی دی.

## د قانون اهمیت او اطاعت

د افاقي حقوقو لپاره ډېره مهمه او اساسي منابعو یوه مهمه اصلي منبع قانون دی؛ یواځې په دې تفاوت سره چې په اسلامي هېوادونو کې اولینه منبع د اسلامي شریعت مصادر دي او دویم اصلي منبع قانون دی خو په غیر اسلامي هېوادونو کې بیا اولینه اصلي منبع قانون دی. افغانستان هم اسلامي هېواد دی او مختلف قوانین یې هم مخکې او هم اوس شتون لري چې د قوانینو په لاندې پوښتنې مطرح کیږي او د تحقیق په پایله کې به ځواب شي.

۱ـ قانون څه اهمیت لري؟ یا دا چې د قانون اهمیت څه شی دی؟

۲ـ د افغانستان د اسلامي هېواد قوانین د اسلامي شریعت سره مطابقت لري او که نه؟

۳ـ په کومه طریقه قانون جوړ شي چې د اسلامي شریعت د احکامو سره یو شان وي؟

۴ـ د افغانستان اسلامي امارت د قوانینو اطاعت او منل د اسلامي شریعت(قرآن او سنت) له مخې څه حکم لري؟

۵ـ د افغانستان د قوانینو اطاعت د اولی الامر په حکم کې راځي او که نه؟

پورته پنځه پوښتنې په دې بحث کې څېړل کیږي چې د هرې پوښتنې په اړه لومړی د کتابتوني میتود له مخې ځواب څېړو او ځواب ورته پیدا کوو او په دویم قدم کې ورته د میداني میتود له مخې چې د قضاتو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو، د شرعیاتو پوهنځي

استادانو او د حقوقو پوهنځي استادانو او ځينې نورو پوهانو د نظرياتو له مخې ځواب وايو.

د قانون د اهميت په اړه بايد ووايو چې: قانون د ټولنې د نظم او دسپلين، د ترتيب، تنظيم، پرمختگ انکشاف او مصالحو د تامين لپاره او همدارنگه د افرادو د حقوقو د حمايت او ساتنې لپاره يو لازمي او ضروري امر دی او دا په دې معنی که چېرې په کومه ټولنه کې قانون موجود نه وي په هغه ټولنه کې نظم او دسپلين نه وي او کله چې نظم او دسپلين نه وي نو په هغه کې سکون، اطمنان، امنيت پرمختگ او انکشاف يو هم منځته نه راځي، نو ځکه وايو چې قانون د ټولنې لپاره دومره اهميت لري لکه د ژوند لپاره اکسيجن، ولې د دې پورته ذکر شوو ټولو اهداف له تحقيق څخه د قانون اساسي او مهمترين اهميت په دې کې دی چې د قانون د اطاعت په اړه الله تبارک و تعالی امر کړی دی لکه چې فرمايي:

يايها الذين امنوا اطيعو الله و اطيعو الرسول و اولی الامر منکم١ (النساء: ٥٩)

ژباړه: ای د ايمان خاوندانو حکم ومنئ د الله(ج) او حکم ومنئ د هغه د رسول او له حاکمانو ستاسو څخه. (٣: ٢٥٦)

په دې ايت کريمه کې چې د (اولی الامر منکم) حکم راغلی دی په دې اړوند صحابه کرامو، تابعينو او فقهاوو بېلابېل توجيهات او تفسيرونه کړي دي ولې په مجموع کې چې کومه نتيجه لاسته راځي هغه دا ده چې له اولی الامر څخه حاکمان، باچاهان او امران دي او د قران او سنت مجتهدين او علماء دي. البته د دغه دواړو مشرانو (اولی الامر) اطاعت مطلق او کُلي ډول نه دی، د حاکمانو، بادشاهانو او امرانو امر او نهي بايد په شرعي دليل بنا وي نو اطاعت لازم دی او که چېرې د اسلامي شريعت د

احکامو سره په ټکر باندې حکم ولاړ وي او کوم شرعي دلیل ونلري نو په دې صورت کې اطاعت لازم نه دی.

د دې ایت د نزول په اړه ټول مفسرین وایي چې دا ایت کریمه د عبدالله بن خلافه الهیمي رضي الله عنه د واقعې په اړه نازل شوی دی، نوموړي چې کله اسلامي لښکر ته امر وکړ چې اور ته داخل شي نو صحابه وو د هغه اطاعت ونه کړ؛ رسول الله وفرمایل: ابو داود کتاب الجهاد، ۷۸باب، الطاعه حدیث نمبر ۲۶۲۶.

عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه رسول الله قال: السمع والطاعه علی المرء المسلم فیما احب وکره مالم یومربمعصیه، فاذ امر بمعصیه فلا سمع ولاطاعه.

خلاصه د حدیث دا ده چې رسول الله فرمایي چې اطاعت او اوریدل په هغه صورت کې چې معصیت نه وي لازم دی او که په معصیت باندې وي نو اورېدل او اطاعت یې لازم نه دي.

پورته تفسیر قرطبي په ۳ جلد ۲۲۷ مخ، تفسیر قاسمي په پنځم جلد ۲۵۷/۲۵۶ مخونو کې تفسیر ابن کثیر په اول جلد ۵۶۶ او ۵۶۷ مخونو کې تفسیر فتح البیان په دویم جلد ۹۹ مخ، تفسیر سراج المنیر په اول جلد ۴۷۸ مخ او تفسیر مدارك اول جلد ۳۶۸-۳۶۷ مخونو کې ذکر کړی ده.

چې اوس د دغه ایت کریمه په اړه مکمل تشریح او توضیح ستاسې حضور ته تقدیموم:

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په خپل کتاب( الحسبه فی الاسلام) کې داسې وایي البته دغه موضوع د مسند دلامی مقدمه ۲۳ او تفسیر قاسمي ۵ جلد ۲۵۷- ۲۵۸مخونو کې رانقل کړی دی.

ژباړه: الله تعالی پخپل کتاب کې پخپل اطاعت د خپل رسول په اطاعت او د مسلمانانو د امرانو او پاچاهانو او عالمانو په اطاعت امر کړی دی چې له همدې وجې نه اولی الامر په دوه ډوله دی علماء او باچاهان(حاکمان) او کله چې دا دواړه اصلاح وي نو ټول خلك به اصلاح وي او که چېرې دا دواړه فاسد او په تخريب يې شروع وکړه نو ټَول خلك به فاسد او په شر شروع وکړي په دې اساس کله چې احمسيه نومې ښځې له ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه، تر کوم وخت پورې د حاکمانو امر منل په موږ لازم دی، ابوبکر صديق رضي الله عنه داسې وفرمايل: د حاکم او امر اطاعت تر هغه وخت پورې فرض دی چې اسلامي شعايرو او احکامو ته ژمن وي.

مخکې دې خبرې ته اشاره وشوه چې له اولی الامر څخه مراد علماء او حاکمان دي ولې بيا ځينې علماء وايي چې په دې اړه دوه قوله دي.

لومړی قول د ابن عباس رضي الله عنه، جابر رضي الله عنه، حسن بصري رضي الله عنه، ضحاك رحمه الله او مجاهد رحمه الله دی. دوي وايي چې له اولی الامر څخه مراد علماء او فقهاء دي چې هغوي خلکو ته د دين تعليم ورکوي او له امر څخه مراد د دين علم دی.

دويم قول له ابو هريره رضي الله عنه څخه نقل دی او هغه وايي چې د دې نه مراد حاکمان، امراء او واليان دي او د امر نه مراد اختيار د حکومت دی او له علی رضي الله عنه څخه روايت دی چې حق دی په امام باندې چې حکم به کوي په ما انزل الله سره او امانت به ادا کوي او کله چې دا کار کوي نو ملت (رعيت) باندې اطاعت لازم دی. (۱۵: ۳۵۴)

تفسیر ابن کثیر او تفسیر مظهري دغه دواړه ډلو (عالمان او حاکمان) ته اولی الامر ویلی او دا ځکه چې دواړه سره د امر او نهی نظام تړلی دی. (۳۰: ۱۱۹)

همدارنگه په فتاویه حقانیه دویم جلد کې راغلي دي چې په جمهوریت یا شاهنشاهیت کې چې کوم خلك د حاکمیت دعوه کوي ایا دا خلك د اولی الامر په حقیقت کې داخل دي او که نه؟

تر څو د هغوی اطاعت د رعیت لپاره لازم شي او د هغې په خلاف اواز پورته کول بغاوت وبلل شي.

ځواب: د شریعت له مخې د اولی الامر حقیقت د خلافت پورې خاص نه دی بلکې امیران، حاکمان او باچاهان هم که چېرې د خپلو اتباعو د حقوقو د حفاظت ذمه واري په صحیح توگه ادا کړي. دا چې د اوسني عصر د هر قسم ټاکنو له مخې انتخاب شوي وي او د خلکو د تائید وړ گرځیدلي وي، دا که په جمهوریت کې وي یا د حکومت کوم بل ډول نظام کې وي نو دا خلك هم په اولی الامر کې گڼل کیږي.(۲۱: ۱۱۹)

دا خو د هېواد او مملکت په سطحه خبره ده که چېرې د یو قوم، کلي او قبیلي خبره وي بیا هم اطاعت لازم او اسلامي شریعت کې ستایل شوی دی په دې معنی که چېرې د یو قوم خلك یو عالم په اتفاق سره خپل امر وټاکي د هغې اطاعت هم د اسلامي شریعت ستایلی دی؛ دا په سفر کې وي او که په حضر کې او د دې خبرې دلیل له ابي سعید الخدري څخه روایت دی چې بېشکه رسول الله وفرمایل:

(عن ابي سعید الخدري عن النبي قال: اذا اخرج ثلاثه فی سفر فلیومروا احدهم) (ابو داود د کتاب الجهاد ۳۵۲) (۲۱: ۱۲۲)

ژباړه: رسول الله صلی الله فرمایلي دي که چېري تاسې درې نفره سفر ته ووتئ نو یو خپل امر وټاکئ.

همدارنګه په فتاویه یوسفیه کې داسې یوه پوښتنه مطرح شوې او د هغې ځواب وویل شو، د پاکستان د مقننه قوې له خوا نافذ کړی شوی قانون چې اسلامي نظریاتي کونسل د هغو د صحت تصدیق کړی. اطاعت یې د اولی الامر حکم کې راځي او که نه؟ او دهغې قوانینو نافرمانی د الله تعالی او د رسول الله نافر ماني ګڼلی شي او که نه ؟ بل دا چې د حکومت اطاعت تر کومه حده پورې اطاعت کول ضروري دي؟

په نوموړې فتاوی کې نوموړی پوښتنې داسې ځواب ورکړی دی:

د پاکستان د مقننه قوې نافذه شوي قوانین چې د هغوی تصدیق د اسلامي نظریاتی کونسل له خوا شوی وی، اطاعت یې لازم او واجب دی او نافرمانی یې اسلامی شریعت د الله تعالی او د رسول الله ص نافرماني ده خو شرط به یې دا وي چې د اسلامی شریعت له احکامو سره به مغایرت نه لري او هر هغه قانون چې د اسلامی شریعت سره مغایرت (ټکر) ولري اطاعت یې لازم نه دی. (۷۹٤:۲۷)

د دې ایت کریمه په تفسیر کې مولانا ابوالاعلی مودودي په تفهیم القران اول جلد کې داسې وایي: دا ایت د مکمل مذهبي ، تمدني او سیاسي نظام بنسټ او د اسلامی حکومت لوړه ماده ده چې لاندې ځانګړنې لرې:

۱. په اسلامي حکومت کې اساسي واجب الاطاعت الله تعالی دی.

۲. د اسلامی نظام دوهم بنسټ د پیغمبر ص اطاعت دی.

۳. د پورته دوه اطاعتونو تر څنګ وروسته دریم بنسټ د اولی الامر اطاعت دی.

خو دا والی الامر اطاعت مشروط په دې پورې دې چې د اسلامی شریعت سره به ټکر نه لري او که ټکر ولري بیا اطاعت لازم نه دی. (۳۰: ۴۷۹ـ۴۸۰)

په دې ایت کریمه کې د الله تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اطاعت وروسته د اصحابو کرامو او خلفا راشدینو او د هغوی نماینده ګانو د اطاعت حکم شوی دی له دې څخه معلومیږي چې د کومو احکامو لارښوونه الله تبارك و تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم کړې ده په هغې به د هغو اطاعت کیږي چې د آمر او حاکم په ګډون پر ټولو واجب دی ، چې له همدې وجه د آمر او حاکم د یو مباح کار حکم وکړي نو د هغه کار اطاعت په شر عي توګه په امت واجب ګرځي، له همدې وجې علماء وایي که چېرته آمر ووایي چې نن ورځ ټول ملت روژه ونیسئ نو په ټول ملت روژه لازم او واجب ده. (۳۳۶:۲۲)

علامه ابن عابدین شامی رحمه الله د ځینو فقهاوو په حواله وایي چې :

طاعة الامام فی غیر معصیة واجبة فلوا مربصوم یومة وجب. (۴۲۲:۲)

د امام اطاعت په غیر له معصیت پرته واجب دی ولو که د یوې ورځې د روژې امر وکړي واجب دی او که چېری یو آمر د مباح کار څخه څوك منع کړي نو له هغې څخه لاس اخیستل هم واجب دي، معنی دا چې اوس دغه روا کار ناروا شو، د دې مطلب دا نه دی چې شرعی حیثیت یې بدل شوی بلکې د شریعت له مخې هغه کار اوس هم مباح دی خو د امام د حکم د اطاعت له وجې ناروا دی. (۳۳۷:۲۲)

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

عن ابی هریرة رضي الله عنه قال رسول الله ص من اطاعنی فقد اطاع الله ومن عصانی فقد عصی الله ومن اطاع امیری وفی روایة من اطاع الامیر فقد اطاعتي ومن عصی امیری وفی روایة من عصی الامیر فقد عصانی. (۱۰۵۷:٦)

**ژباړه:** چا چې زما اطاعت وکړ نو هغې د الله تعالی اطاعت وکړ او چا چې زما نافرمانی وکړه نو هغه د الله تعالی نافرمانی وکړه او چا چې زما د امیر یا د مسلمانانو د امیر اطاعت وکړ نو هغه په حقیقت کې زما اطاعت وکړ او چا چې زما د امیر یا د مسلمانانو د امیر نافرماني وکړه نو هغه زما نافرماني وکړه. (۱۷۳:۲٦)

ابن حجر عسقلاني رحمه الله وايي هغه امير چې حق سره حکم کوي، د عدل او انصاف له مخې پرېکړه کوي نو هغه د رسول الله آمیر او نایب دی او دا په دې خاطر چې هغه د رسول الله حکم او د شریعت مطابق امیر جوړ شوی دی. (۱۷۴:۲٦)

په بل حدیث شریف کې له عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی چې موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم راوغوښتو او وعده یې را څخه واخیسته چې موږ به د خپلو امیرانو خبره (حکم) اورو او د هغوی اطاعت او فرمانبرداري به کوو، که زموږ طبیعت یې غواړي او که نه د سختۍ او نرمۍ په دواړو حالاتو کې، په دې شرط چې د هغې حکم به د شریعت مطابق وي او بل دا چې د حکومت مسئولینو سره به نه نښلو، مګر که ښکاره کفر وي چې دا حدیث شریف، ٦جلد او ۲۲۸ مخ کې ذکر شوی دی.

همدارنګه په بخاري، کتاب الصلاة دویم جلد ۱۰۵۷ مخ او کتاب الاحکام اول جلد ۹٦ جامع الاصول څلورم جلد ٦۱ مخ کې له انس بن مالك رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله فرمایلي دي چې د خپلو امیرانو اورئ او د هغوی اطاعت وکړئ

که څه هم پر تاسې یو داسې حبشي غلام مقرر شوی وي چې د هغې سر د ممیز د دانې په اندازه وي. (٦: ١٠٥٧)

همدارنگه بخاري دویم جلد کتاب الاحکام، باب مسلم الامارة ١٠٥٧ او جامع الاصول ۴جلد ٦٥ مخ کې له عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله فرمایلي: د امیر خبره اورېدله او د هغه اطاعت کول په مسلمانانو فرض دی تر هغه پورې چې پر گناه یې حکم نه وي کړی او کله چې په گناه حکم وکړي نو بیا یې نه اورېدل روا دي، اطاعت روا نه دی. (٦: ١٠٥٧)

د پورته دلایلو تر څنگ ډېر زیات دلایل موجود دي، خو موږ د نورو دلایلو له ذکر کولو څخه صرف نظر کوو. خو له پورته ټولو دلایلو څخه موږ دې نتیجې ته ورسېدو چې بې له قانون پرته حکومت او امارت منځته نه راځي او آن تر دې چې قانون نه وي خلافت هم منځته نه راځي او بیا د همدغو قوانینو اطاعت او فرمانبرداري کول الهي امر دی نو دا یې ډېر اهم او اساسي اهمیت گڼل شوی دی، په دې معنی چې قانون ډېر زیات اهمیت لري. ځکه چې الله تعالی په قران کریم کې د اولی الامر د اطاعت حکم کړی او هغه یې واجب گرځولی او قانون د اولی الامر حکم دی.

د پورته ټولو احادیثو او آیت کریمه په اړه چې د مفسرینو څومره دلایل ذکر شوي دي، له ټولو دا معلومه شوه چې د اولی الامر اطاعت واجب دی او قانون د اولی الامر حکم دی.

همدارنگه د نوي عصر د اسلامي مفتیانو څرگندونې مو په دې اړه ولوستلې چې د پاکستان د مقننه قوې د نافذه قوانینو اطاعت یې واجب او لازمي گرځولی وو، موږ له

هغه شخه په قياس سره دا حکم کوو چې د افغانستان د قوانينو اطاعت يا دا چې د اولی الامر په حيث قبلول هم لازمي دی.

له بلې خوا ما د ۱۵۰ تنو قضاتو، څارنوالانو، مدافع وکيلانو د ننګرهار پوهنتون او الفلاح پوهنتون د شرعياتو پوهنځي استادانو، د عامه ادارې مشرانو استادانو، د ننګرهار پوهنتون، الفلاح پوهنتون، اريانا د لوړو زده کړو موسسې، التقوی د لوړو زده کړې موسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استادانو شخه په دې اړه د پوښتنپاڼې له لارې پوښتنې کړی وې، د هغوی نظريات مو په دې اړه چې د افغانستان قانون د اولی الامر حکم کې داخل دی. مخالف نظريات د افغانستان قانون د اولی الامر حکم کې داخل نه دی. او هغه چا چې سکوت اختيار کړی يا دا چې دې پوښتنې ته يې ځواب د مختلفو دلايلو له وجه نه دی ويلی په لاندې جدول کې ذکر کړی دي.

د افغانستان قانون د اولی الامر په حکم کې راځي او که نه د متخصصينو د نظرياتو نتيجه له ۱۰۰ شخه د فيصدی په اساس.

| موافق د افغانستان قانون د اولی الامر حکم دی | غير موافق (مخالف) د افغانستان قانون د اولی الامر حکم کې نه راځي | سکوت (پوښتنه يې نه ده ځواب کړې) |
|---|---|---|
| ۷۳,۳۳٪ | ۱۰٪ | ۱٦,٦٦٪ |

**د موافقينو نظريات او دلايل**

موافقين نظر لري چې د افغانستان قوانين د اسلامي شريعت د احکامو په رعايت سره جوړ شويدي او آن دا چې د جمهوريت د وخت اساسي قانون دريمه ماده حکم کوي چې، «په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام سپېڅلي دين د

احکامو او معتقداتو سره مخالف وي.» له بلې خوا د جزا قانون لومړۍ ماده او د جزا کوډ دوهمه ماده صراحت لري چې «دا قانون يوازې تعزيري جرايمو ته رسيده ګي کوي، حدود، قصاص او ديت د اسلامي شريعت حنفي فقهې د احکامو له مخې ترتيب او تنظيمېږي.» دلته هم د اسلامي شريعت حکم قبول شوی دی، نو په دې صورت کې که څوک وضعي قانون ته د قانون کليمې استعمالولو پر ځای د اسلامي شريعت کلمه هم استعمال کړي، کولای شي. په همدې اساس اطاعت يې واجب دی او منل يې د اولی الامر په حکم کې شامل دي.

## د مخالفينو د نظرياتو دلايل

مخالفين يې اکثره هغه خلك دي چې هغوی وايي د قانون جوړولو ته ضرورت نشته، نو دا چې قانون ته ضرورت نشته، نو اطاعت خو يې خپله قابل د قبول نه دی.

اوس راځو دې پوښتنې ته چې په هر حالت کې د قانون اطاعت واجب يا د اولی الامر په حکم کې راځي که کوم خاص شرايط ورته ذکر شوي دي؟ يا دا چې د امير امر تر کوم وخت پورې لازمي او اطاعت يې واجب دی؟ په دې اړه هم لومړی د کتابتوني ميتود له مخې دلايل ذکر کوو او وروسته د ميداني ميتود له مخې د استبيان نتيجه ذکر کوو.

د مخکېنۍ پوښتنې د ځواب په ترڅ کې چې کوم دلايل ذکر شول په هغه کې هم دا خبره په ضمني ډول تشريح او توضيح شوه چې د امير اطاعت واجب دی خو شرط به يې دا وي چې د آمير امر به د اسلامي شريعت د احکامو سره ټکر ونه لري او که مغايرت يې درلود نو په هغه صورت کې اطاعت واجب نه دی.

په دې اړه په یو آیت کې راځي چې رسول اللّه صلی الله علیه وسلم د یو لښکر د لېږلو په وخت کې صحابوو ته وفرمایل چې د خپل امیر اطاعت به کوي، د سفر په وخت کې عبدالله ابن خذافه رضي الله عنه چې د لښکر امیر وو، په څه خبره خواشینی شو نو خلکو ته یې وویل چې آیا تاسې ته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه وو ویلي چې د آمیر اطاعت به کوي؛ صحابه کرامو وویل چې هو! همداسې ده نو هغه لښکر ته امر وکړ چې لرګي را ټول کړئ او اور بل کړئ کله چې اور ولګیده او یو څه ګرم شو نو امر یې وکړ چې اوس ورته ورټوپ کړئ، صحابه حیران شول چې اوس څه وکړي نو ویې ویل چې موږ خو له اور څخه راتښتېدلي یو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مو پناه راوړې ده. دوي په همدې بحث کې ول چې اور مړ شو او د امیر غوښتنه هم سړه شوه. کله چې رسول الله صلی علیه وسلم له دې پېښې څخه خبر شو نو داسې یې وفرمایل: (ولو دخلوها ماخربو منها ابداً انما الطاعة فی المعروف) که تاسې دې اور ته وردانګلي ول، نو کله به هم بېرته نه وئ راوتلي، اطاعت خو په نیکو کارونو کې دی. (۷۱۴۵:٦).

پورته حدیث صحیح البخاری، کتاب الاحکام، ۷۱۴۵ شماره حدیث او کتاب المغازی باب سریة عبدالله بن خلافة حدیث شماره(۴۳۴) کې رانقل کړی دی.

همدغه یو حدیث شریف د دلیل په حیث ذکر شو او په همدې یو حدیث شریف مو اکتفاء کړې ده.

نتیجه دا شوه چې هر هغه قانون او د امیر امر واجب او لازمی دی چې شریعت سره ټکر ونه لري او بل دا چې د امیز امر به د خلکو د خیر او مصلحت لپاره وي او کوم امر چې د ټولنې د مصلحت لپاره مفید نه وي د هغه اطاعت واجب نه دی، همدارنګ کوم قانون چې د اسلامي شریعت له احکامو سره ټکر ولري په هېڅ صورت کې د

هغه اطاعت لازمي نه دی بلکې د هغه مخالفت باید وشي نو خلاصه دا شوه چې د امیر امر او قانون باید له اسلامي شریعت، د ټولنې او افرادو د مصلحت او احکامو سره مغایرت ونه لري.

په دې اړه چې کومه میداني څېړنه شوې ده، ۱۰۰٪ د استبیان ځواب همدا وه چې په اسلامي هېوادونو کې هر هغه قانون چې له اسلامي شریعت(قرآن، سنت) سره ټکر ولري هغه د منلو وړ نه دی او کوم قوانین چې پخوا نه جوړ شوي او پکې داسې کوم حکم ولیدل شي چې له اسلامي شریعت سره ټکر ولري هغه باید تعدیل شي او نوي قوانین چې جوړیږي باید د شریعت بورډ یا د اهل و حل و عقد شورا موجوده وي او د هغه مطابقت باید د اسلامي شریعت سره وګوري او هر حکم چې له شریعت سره ټکر ولري هغه اصلاح کړي.

اوس راځو د هغو اصلي او اساسي پوښتنو ځواب ته چې قانون څوک جوړوي؟ او په اسلامي هېوادونو کې قانون په څو طریقو جوړیدای شي؟

د قانون جوړونې په وخت کې کوم اصول مراعت شي؟ چې اطاعت یې واجب وګڼل شي.

پورته ذکر شوې پوښتنې که اساساً ولیدل شي یوه ډېره مهمه خبره موږ ته روښانه کول غواړي او هغه دا چې د اسلامي شریعت د قرآن، سنت، اجماع، قیاس په صورت کې قانون ته څه ضرورت دی چې د ضرورت موضوع خو په لومړي بحث کې وڅېړل شوه ولې دلته دا خبره څېړل غواړي چې په کومو مواردو کې څه ډول او په څو طریقو قانون جوړول پکار دي، کله چې دا موضوع وڅېړل شوه له هغې څخه وروسته بیا بله موضوع چې کوم اصول باید مراعت شي، څېړل کیږي.

دا چې لومړی مو د دې موضوع په اړه اشاره وکړه چې د قانون ضرورت سره نږدې والی لري نو په همدې خاطر بیا هم هماغه د سورت النساء ۵۹ نمبر ایت په اړه د فقهاوو تفسیر ته مراجعه کوو تر څو د حل لاره په قرآن کریم کې ولټوو.

د پورته ذکر شویو ایاتونو په تفسیر کې مفتي محمد شفیع په معارف القران کې د حکم د کولو او منلو لپاره درې صورتونه ذکر کړي دي.

۱. ځینې احکام دي چې په اسلامي شریعت کې ډېر په صراحت او تفصیل سره ذکر شوي چې هېڅ کومې تشریح او توضیح ته اړتیا نه لري لکه شرك، کفر چې ډېر زیات لوی جرایم دي یا عقیدوي موضوعات ، عبادات ځینې محرمات لکه قتل، زنا، حرابت، بغاوت او نور یا هغه احکام چې په اسلامي شریعت کې د هغه لپاره ټاکلي احکام شتون لري لکه حدود، قصاص، دیت او کفارات چې په دې اړه مستقیما اسلامي شریعت احکام لري او په مستقیم ډول همغه احکام منل کېږي، نو په دې هکله هېڅ قانون ته ضرورت نه لیدل کېږي.

۲.هغه احکام دي چې په قرآن کریم کې په اجمال سره ذکر شوي دي خو بیا همدغه احکام د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې تشریح او توضیح شوي دي، چې دا هم په حقیقت کې د الله تبارك و تعالی حکم دی چې رسول الله د وحې په ذریعه هغه توضیح کړي دي .په پورته ذکر شوي آیت کریمه کې الله تبارك و تعالی د خپل حکم منلو سره سم د رسول الله د حکم د منلو امر هم کړی دی چې په دې ډول احکامو کې هم د قانون موجودیت ته ضرورت نه لیدل کېږي.

۳. دا هغه احکام دي چې په قرآن کریم او د نبوي صلی الله علیه وسلم احادیثو کې په ډاګه نه دي ذکر شوي یا دا چې احادیث شتون لري خو په دې اړه په احادیثو کې

اختلاف ليدل کيږي يا داسې موضوعات شته دي چې ظاهراً په قران کريم او سنت نبوي کې په ډاگيزه نه معلوميږي ولې فقها او مجتهدين له ژور غور او فکر کولو څخه وروسته د قرآن کريم او نبوي سنتو څخه د ځينو مسايلو د حل لپاره احکام استنباط کوي چې د دې حکم منل هم په حقيقت کې د الله تبارك و تعالی د حکم منل دي او دا ځکه چې دغه احکام يې له قرآن او سنت څخه استنباط کړی دی چې دې ته د مجتهدينو فتاوی وايي.

د پورته ذکر شوو درې قسمه احکامو تر څنگ دوه قسمه احکام شتون لري يو دا چې په اسلامي شريعت کې د قرآن کريم او سنت نبوي د هغې په اړه کوم صراحت شتون نه لري چې د دې کول او نه کول لازمي دي يا نه يا دا چې د کولو او نه کولو اختيار يې خلکو) ټولنې (ته پرېښی، يا دا چې د کولو او نه کولو اختيار يې خلکو سره دی، چې ديته مباح ويلی شي، چې د دې ډول مسايلو حل و فصل اهل حل و عقد شورا او د امير المومنين واک دی او د وخت حاکمان کولای شي د خپل هېواد د شروطو او ظروفو په نظر کې نيولو سره قوانين وضع کړي .لکه دا چې د جلال آباد په ښار کې بايد څو آمنيتي حوزې وي؟ په هره حوزه کې څومره تشکيلات وي؟ ترافيک بايد خپلې چارې څرنگه تنظيم کړي؟ ماليات په کوم ډول را جمع کړي؟ او په کوم سيستم ماليات وټاکل شي؟ د ښار جوړونې رياست څه ډول نقشه او ښاري انکشاف لپاره پلان ترتيب کړي. د لوړو زده کړو په وزارت کې کومې، کومې رشتې جوړې کړي؟ هره رشته کې د محصلينو جلب و جذب ظرفيت به څومره وي او داسې نور چې دي او دېته ورته نورو موضوعاتو د ترتيب او تنظيم لپاره حاکم ته سپارل کيږي.

يا دا چې ځينې موضوعات بالکل نوي او جديد دي چې د ټکنالوژۍ پورې تړاو لري او په قران کريم او نبوي سنتو کې کوم صراحت شتون نه لري .لکه مصنوعي القاح، چې ايا دا جواز لري او که نه چې په دې اړه بايد مجتهدين اجماع ترتيب کړي او يو حکم صادر کړي.

د سورة النساء د ۵۹ نمبر ايت کې د اولی الامر اطاعت واجب او لازم دی، چې په فقهي تحقيقاتو کې د علماوو او فقهاوو اطاعت کول لازم او واجب دي او د نورو ټولو چارو د ترتيب او تنظيم لپاره د حاکمانو، پاچاهانو او آميرانو اطاعت او حکم منل واجب دي چې په حقيقت کې دا هم د الله تبارك و تعالی د حکم منل دي او دا ځکه چې په قرآن کريم کې د اولی الامر اطاعت واجب گڼل شوی دی .د نوموړي بحث اساس د معارف القرآن څخه اخيستل شوی دی. (۳۰ :۱۱۹_۱۲۱)

د پورته بحث خلاصه دا شوه چې احکام چې په قرانکريم کې صراحت لري او الله تعالي مستقيماً په قرانکريم کې ذکر کړي وي نو په دې صورت کې د قرآن حکم اطاعت واجب او که په قران او سنتو کې په ډاگه نه وي ذکر شوي نو په دې صورت کې د فقهاوو، حاکمانو او اميرانو اطاعت واجب وي په دي اړه يوازې په همدي توضيح اکتفاء کړي نه مي کوم استنبيان ته مراجعه کړې او نه مي نور اضافي دلائل ذکر کولو ته او دا ځکه چې نوموړي موضوعات ډېر ساده او روښانه ول.

دا چې قانون په کومه طريقه جوړ شي چې د اسلامي شريعت د احکامو سره مطابقت ولري او اطاعت يې واجب او لازم وي؟

د دې پوښتنې ځېړنه غواړم د مفتي محمد تقي عثمان له کتاب (اسلام او سياسي اندونه) څخه په استفادې سره ځواب کړم:

تر دې ځایه چې څه وڅېړل شو دې نتیجې ته ورسېدو چې د اسلامي دولت لپاره تر ټولو عالي قانون قرانکریم او د رسول الله احادیث دي نو دا چې وضعي قوانینو ته هم ضرورت دی نو په کار دی چې دا قوانین هم تر څو اسلامي هېوادونه یو عالي وضعي قانون لرونکې هم شي چې هم د خلکو او هم د سیاسي نظامونو بقا په همدې قوانینو کې نغښتي ده.

بهتره او غوره قانون چې د اسلامي شریعت د احکامو سره مطابقت ولري د جوړونې لپارهله  لاندې درې طریقو څخه په استفادې سره شونې ده:

۱ .هغه احکام چې په قرانکریم او سنتو کې موجود وي نه په کې کوم اختلاف موجود وي او نه کوم توضیح او تفسیر ته ضرورت ولري نو دا دی د اسلامي دولت د قانون په حیث نافذ شي، ایا اوس دا کار شونی دی خو په لاندې دوه طریقو باندې:

لومړی دا چې اسلامي شریعت ټول صریح احکام دې په ملي ژبو د قانون په ډول په ماده وار او جزوار ډول تدوین کړي او په ټول نظام کې دې د هغه اطاعت لازم وګرځول شي.

دویم دا چې پر محکمو او ټولو اداراتو دې دا لازم کړي چې ټولې پرېکړې به د قرآن او سنت په رڼا کې وي.

د پورته دوه ذکر شوو طریقو څخه زما په اند لومړی طریقه غوره ده او دا ځکه که چېري نن ورځ ادارات او محاکم د قرآن د احکامو په تطبیق مستقیما مکلف کړي، نو نن ورځ بیا په محاکمو او نورو اداراتو کې په دې کچه عالمان نشته دي چې په قران او سنت علم ولري، په عربي پوه شي او د خپل روزمره پریکړو او اجرآتو لپاره له قرآن کریم او سنتو څخه موضوعات استنباط کړي.

او په عمل کې د دې احکامو په دې طريقه تطبيق ناشونی ښکاري چې د همدې خبرې بل دليل دا هم کېدای شي چې د افغانستان د ۱۳۵۵ ه.ش کال جزا قانون په لومړۍ ماده کې د حدود، قصاص او ديت احکام مستقيما اسلامي شريعت او په اسلامي شريعت کې اجتهادي موضوعات حنفي فقهې ته محول کړي دي، ولې تر نن ورځ پورې چې تقريبا ۴۰ کاله حدود، قصاص او ديت په محاکمو کې نه تطبيق شو او نه پرې پرېکړه وشوه او د دې اصلي سبب همدا دی چې څارنوالان او قضات په دې اړه احکامو باندې په کافي اندازه تسلط نه لري.

له بلې خوا نه قضات او څارنوالان وخت هم دومره نه لري چې اسلامي احکام دې ولټوي او حکم دې ترينه استنباط کړي، نو ځکه وايو چې لومړۍ طريقه بهتره ده خو د جمهوريت په مقننه قوه کې هم د سيم او زر په درلودلو سره هغه څوک معرفي کېدل چې علما، پوهان او فقها نه و او هغوی هم زما په اند دومره علم او پوهه د قرآن او سنت په اړه نه درلوده چې د شريعت احکام دې په ماده وار او جزوار ډول تدوين کړي. ولې نن ورځ چې اسلامي امارت رامنځته شوی دوي بايد اهل حل و عقد شورا جوړه کړي چې اعضاوو کې يې لاندې اشخاص شامل شي. د شرعياتو او حقوقو پوهنځيو مشران استادان، د عالي مدارسو، علماوو شورا او ځينې مفتيان او جيدو علماوو څخه جوړه کړي تر څو د شرعي قانون لپاره يوه مسوده او طريقه جوړه کړي.

۲ــ دا هغه احکام دي چې په قرآن کريم او احاديثو کې په دې اړه صريح او ډاګيز احکام شتون نه لري يا دا چې احاديثو کې اختلاف ليدل کېږي يا دا چې مجتهدينو او فقهاوو له قرآن او سنت څخه مختلف موضوعات استنباط کړي وي يا دا چې د څېړنې او اجتهاد پورې تړلي وي په دې ډول احکامو کې هم يو قانون ته ضرورت

ليدل کېږي خو دا چې دلته به څرنگه يو قانون جوړ شي يا په څو طريقو د قانون جوړېدل شوي دي ، په دې اړه هم کېداى شي له درېيو طريقو استفاده وشي.

**لومړۍ طريقه:** يو ليکلی قانون ترېنه تدوين او جوړ شي او هغه نافذ شي.

**دويمه طريقه:** قضاتو او محاکمو ته دې صلاحيت ورکړل شي چې په خپله خوښه ترينه يو ته ترجيح ورکړي او دريځ غوره کړي.

**درېيمه طريقه:** د فقهاوو له بېلابېلو مذاهبو څخه دې يو انتخاب او قضات له ټولو څخه په يو باندې په حکم کولو مکلف کړي. دا کار په پخوانيو قوانينو کې شوى دى او حنفي فقه انتخاب شوې وه. په دې اړه هم غوره طريقه دا ده چې يو قانون ترينه جوړ کړي او همغه دې نافذ کړي او د دې د غوره والي دليل دا دی چې له يوې خوا په محاکمو کې د پرېکړو وحدت او يوشانوالی منځته راشي. دويم دا دی چې د نن ورځې قضات، څارنوالان، مدافع وکيلان او نور اشخاص په دې کچه په شرعي علومو حاکميت نه لري چې د فقهاوو او مجتهدينو ټول نظريات راجمع او د هغوی څخه د دلايلو په شتون کې يو ته ترجيح ورکړي.

له بلې خوا په دې اندازه وخت هم نه لري چې دا ټول مسايل وڅېړي او غوره او راجحه رايه ترې استنباط کړي او دا هم يو دليل کېداى شي چې په کافي اندازه منابع او مصادر هم شتون نه لري چې دا ډول موضوعات ترېنه استنباط کړي او که يو مذهب ورته وټاکې بيا هم د قضاتو اونورو ذيدلخو اشخاصو د کافي علم نه لرل، د وخت نه لرل، د حکم عدم او حسرت والې دا چې دا ټول موضوعات بايد د يو قانون په څېر په ملي ژبه په ماده وار او جزوار ډول تدوين او تصويب شي آيا دا کار شونی دی که

موجوده پارلمانونه وليدل شي خو هلته هم ستونزه موجوده ده، خو د حل لاره يې هماعه ده چې په لومړۍ طريقه کې مو وړانديز کې ځای پر ځای کړې.

درېيمه طريقه: دا هغه مباح احکام دي چې په اسلامي شريعت کې واک د هر ځای خلکو ته ورکول شوی چې د خپلو شرايطو او ظروفو په نظر کې نيولو سره يې ليکې او تدوين شوي قوانين وضع کړي لکه د ترافيکو قانون، د مامورينو د تقاعد قانون، د استخدام قانون، د کار قانون، د انتخاباتو قانون، د مدافع وکيلانو د چارو د تنظيم قانون، د بيان د آزادۍ قانون او نور قوانين.

ولې د دې قوانينو لپاره هم بايد اساس اسلامي شريعت وګرځول شي او داسې قوانين بايد وضعه نه کړي چې د اسلامي شريعت د احکامو سره ټکر ولري لکه د ترافيکو قانون لپاره ټول عراده جات بايد د جادې په ښي طرف کې حرکت وکړي.

**پايله**

څېړنه بايد پايله او نتيجه ولري چې له دې څېړنې څخه هم ځينې نتايج لاسته راغلي. غواړم د لنډوالي لپاره يې په شماره وار ډول ذکر کړم.

په ټولو انساني ټولنو کې قانون د ستون فقرات حيثيت لري او د ټولنې ټولو برخو ته ترتيب او تنظيم له قانون پرته شونی نه دی؛ همدارنګه د اتباعو حقوق، آزادي او وجايب بې له قانون څخه نه تاکل کيږي، چې د دغه ټولو د موجوديت په صورت کې ټولنيز نظم، پرمختګ او انکشاف منځته راځي او دا يې اساسي اهميت ګڼل کيږي. خو له دې څخه ډېر قيمت لرونکې او ډېر لوړ ارزښت لرونکې اهميت يې دا دی چې د قوانينو د اطاعت په اړه الله تعالی امر کړی يعنې د قواانينو اطاعت او پيروي

الهي امر دی چې زما په نظر او د دې څېړنې د پایلې په اساس دا یې تر ټولو لوړ اهمیت دی.

د قوانینو اطاعت واجب او لازم دی او کله چې د قانون د اطاعت خبره کوو له دې څخه هدف اولی الامر دی او د اولی الامر اطاعت واجب دی په دې څېړنه کې مشخصاً دې نتیجې ته ورسېدو چې د افغانستان د وضعي قوانينو اطاعت په ټولو واجب دی.

د اهل حل و عقد په شورا کې باید د هغو اوصافو لرونکې اشخاص انتخاب شي چې واقعاً په راتلونکې کې هم د افغانستان وضعي قوانین د شریعت سره مطابقت ولري، یادونه وشوه او دې نتیجې ته ورسېدو چې ملت خپل مسولیت درک او امانت باید خپل اهل ته وسپاري او اهل خلک، علماء، فقهاء او د نورو ټولو علومو متخصصین دي.

د جمهوریت د وخت په قوانینو باندې نیوکه کېده چې د نورو هېوادونو څخه کاپي کیږي په داسې حال کې چې د افغانستان هېڅ قسم شرایط، ظروف، عرف او عادات حتی دین او مذهب کې سره توپیر لري نو ځکه قوانین په ټولنه کې د عکس العمل او عدم تطبیق موجب ګرځي.

بله نیوکه داسې کېده چې د افغانستان قوانین یوازې د کاغذ پر مخ دي او عملي جنبه یې کمزورې ده چې همدغه عدم تطبیق د قوانینو اعتبار ته صدمه رسولې ده.

بل دا چې په افغانستان کې د قوانینو ډېر زیات اقسام موجود وو چې مطابقت او عدم مطابقت هغه معیار په کې عملي کول د عدم امکان تر حد رسېدلي دي نو په کار دی چې د مشابه ارګانونو قوانین باید سره یوځای شي.

**وړاندیزونه**

لومړی دا چې د قوانینو د جوړېدو په وخت کې باید خامخا د اسلامي شریعت احکام مراعت شي او دا هغه وخت کېدای شي چې مقنن په شرعي احکامو پوهه ولري نو وړاندیز دا دی چې اهل حل و عقد شورا کې باید واقعي علما او د دین او نورو علومو متخصصین وټاکل شي.

دویمه دا چې د قوانینو د جوړېدو په وخت کې د نورو هېوادونو د کاپي کولو څخه ډډه وشي.

د قوانینو د زیاتوالي مخه ونیول شي تر څو قضاتو او محاکمو ته په تطبیق کې ستونزه ونه لري او له بلې خوا د قوانینو ترمنځ د مطابقت څېړنه او موجودیت له منځه لاړ نه شي.

**ماخذونه**


القرآن الکریم

۱- ابوداود، کتاب الجهاد، اول جلد.

۲- ابن عابدین، محمد آمین بن عمر بن عبدالعزیز، رد المختار علی دارالمختار، پنځم جلد، بیروت، طبع دارالفکر.

۳- ابن کثیر، عماد الدین، تفسیر ابن کثیر، دویم جلد، پیشاور، تاج کتب خانه.

۴-ابن منظور، محمد بن مکرم، لسان العرب، المجلد الثالث العشر، بیروت، دارالمصادره

۵- انصاري، مولانا حمد .(۱۳۷۰ ه ش). د اسلام حکومتي نظام .ژباړن :ق، ح، صافی .د الهدی خپرندویه ټولنه.

٦- بخاري، کتاب الاحکام، حدیث شماره (۷۱۴۵)
۷- تایب، برکت الله.(۱۳۹۴). فقهي قواعد .حکمت خپرندویه ټولنه، جلال اباد.
۸- جانباز، سرفراز، ټکې په ټکې او روانه ترجمه.
۹- حضرت ګل، حسامي.(۱۳۹۰). روند سیستم ګذاری در افغانستان .کابل :انشتارات سعید.
۱۰- حقاني، فقیر عبد الباقي.(۱۴۲۷ه.ق). السیاسة والدارة الشرعیه فی ضوء الرشادات خیر البریه .اول جلد، خپرونکې :المکتبه الحقانیه للعلوم الشریعه والسیاسیه.
۱۱- حکمتیار، ګلبدین، د قرآن پلوشې .اول جلد .تاریخ او مطبعه نه لري.
۱۲- د عدلیې وزارت، رسمي جریده.(۱۳۸۲ه.ش) اساسي قانون، پرلپسې ۸۱۸ مه ګڼه.
۱۳- د عدلیې وزارت رسمي جریده .(۱۳۵۵ه.ش) .جزا قانون ۳۴۷ پرلپسې ګڼه.
۱۴- د عدلیې وزارت.رسمي جریده .(۱۳۹٦ه ش).جزا کوډ.۱۲٦۰ پرله پسې ګڼه.
۱۵- الرستمي، ابي ذکریا عبدالسلام. احسن الکلام. دریيم جلد،ناشر: جامعة عربیة الاشاعه التوحید والسنة.
۱٦- الزحیلي. وهبة، الفقه الاسلامی و ادلته. اووم جلد، مکتبه فریده پیشاور.
۱۷- سبحاني، ګلاب شاه. (۱۳۹۱ه ش). مبادي حقوق. جلال اباد: ګودر خپرندویه ټولنه.
۱۸- ستانکزی، نصر اللّٰه. (۱۳۸۷ه ش). مبادي حقوق.ناشر :مرکز کتاب فروشی کابل.
۱۹- صالح ،عالي پاشاه.(۱۳۸٦ه ش).تاریخ، تهران :ناشر انتشارات دانشګاه تهران.
۲۰- ظریفي.ډاکټر شیر علي.(۱۳۹۴ه ش ). مبادي حقوق ،کابل: ناشر انتشارات مستقبل.

٢١- شيخ الحديث مولانا عبدالحق او دارالعلوم حقانيه نور مفتيان ،فتاوى حقانيه ،دويم جلد ،غزني : ناشر جديد کتب خانه

٢٢- عثماني ،محمد تقي. (١٣٩٢هـ ش). اسلام او سياسي اندونه ،ژباړن:نورالله عزام،ناشر :د افغانستان بنسټ څېړنيز او بلنيزه څانګه.

٢٣- قيومي،ابو العباس، احمد بن محمود بن على الحموي المتوف نحو .(٧٧٠هـ ق).المصباح المنيد،بيروت مکتبة اللبنان.(١٩٨٨م).

٢۴- کارتوزيان، ډاکتر ناصر.(١٣٨٢هـ ش).مقدمه علم حقوق.ناشر :شرکت سهامى انتشار.

٢۵- مولانا ګوهر رحمان .(١٩٨٣م). اسلامي سياست ،لاهور،المنار بک سنټر،المنصوره.

٢٦- لدهيانوي،محمد يوسف شهيد،فتاوي يوسفيه(ستاسي جديد مسايل او د هغي حل)اووم جلد، پيشاور قصه خواني ،جديد مکتبه رشيديه.

٢٧- مبارز عبدالحميد. (١٣٣٧هـ ش).کابل: د نشراتو سلسلي دولتي مطبعه، نشراتو سلسله مالي وزارت په مرسته.

٢٨- مفتي محمد شفيع ،معارف القران، اول جلد، زيب ارت پبلشرز.

٢٩- مفتي محمد شفيع ،معارف القرآن ،دويم جلد ،زيب ارت پبلشرز.

٣٠- مودودي، مولانا ابو الاعلي، تفهيم القرآن ،ژباړن: مولانا قيام الدين کشاف، اول جلد، احيا العلوم صوبه سرحد پيښور.

٣١-مودودي، مولانا ابو الاعلى (١٣٩٣ هـ ش). اسلامي رياست ژباړن قريب الرحمن سعيد.دويم جلد. پيغام خپرندويه ټولنه

**پوهنوال محمد ایمل حقمل**
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، اداري اوو دیپلوماسی څانگه
لارښود استاد: پوهنوال منگل شېرزاد

# د کامن لا حقوقي نظام کې د حقوقي قواعدو په ایجاد کې د محاکمو نقش

**لنډیز**

د کامن لا د حقوقي نظام د پیدا کیدو اصلی ځای د انگلستان هېواد دی، داحقوق په تاریخي لحاظ د وستمینستر(شاهي) محاکمو او د صدراعظم د(انصاف) د محاکمو لخوا ایجاد شوي دي .

د پوهنتونو او دوکتورینو اغېز د انگلستان په حقوقو کې کم دی او حقوق په عمومی لحاظ په دې هېواد کې هڅکله هم د قانونگذار اودتدوین دتخنیك په وسیله نه دي نوي شوي.

د انگلستان حقوق دخپل جوړښت او منابعو په برخه کې خپلې پخوانۍ ځانگړتیاوي تر نن ورځې پورې ساتلې دي . دا حقوق د قضایي فیصلو (Case Law) دحقوقو یوه بارزه نمونه ده .

په انگلستان کې د محاکمو او قضاتو وظیفه یواځې د حقوقي قواعدو اجرا کول او تطبیق نه دي بلکې د هغه اسـتخراج اوتعین هم دی. د دې شرایطو لاندې دا طبیعي ده، چې قضـایي رویه په انگلسـتان کې زیاته د احترآم وړ ده . په انگریزي حقوقو (کامن لا) کې د هغو قواعدو کوم چې د قضایي فیصلو په وا سطه و ضع کېږي، په وروسـتیو ورته موضـوعاتو کې باید متابعت وشي ، دا ځکه چې پرته له دې به په

قضايي فيصلو ولاړ حقوقو قطعيت له مينځه لاړشي. حتی د کامن لا موجوديت به خطر سره مخامخ شي.

**سريزه**

کله چې په انگلستان کې قاضيان گمارل کيږي، تقريباً نه عزليدونکي دي او د قضايي مقامونو لپاره هيڅ ډول ټاکنې نه دي پيش بيني شوي، قاضيان د بريالیو او تجربه کارو حقوقپوهانو له منځه ټاکل کيږي، د انگلستان په حقوقو کې د پورتنيو محاکمو فيصلې دلاندينيو محاکمو لپاره الهام بخش او د اصولو له مخې لانديني محاکم د هغه په رعايت مکلف دي. لانديني محاکم په ورته دعواو کې د پورتنيو محاکمو له حکمونو څخه متابعت کوي.

قاضی دکامن لا په حقوقي سيستم کې له پيله څخه د حقوقي قواعدو په وضع کولو کې مهم رول درلود، سره له دې چې نن ورځ د ټولنيزو مسايلو د حل لپاره مقنن (جوړونکی) نقش د قوانينو په وضع کولو کې زيات شوی دی اما اوس هم د محاکمو نقش دحقوقي قواعدو په وضع کولو کې مهم او اغيزناک دی. حقوقي قواعد اصولاً د محکمو له لورې ايجاديږي، مگر د پارلمان موضوعه قوانين هم د اجرا کيدونکيو حقوقو د برخې په عنوان د محکمو لپاره د منلو وړ دي او محکمه حق نه لري، چې د پارلمان قانون لغوه کړي، ولې بيا هم کله چې قضات وغواړي د پارلمان لخوا تصويب شوي قوانين اجرا او عملي کړي ، هغوي ته دا قواعد(قانوني قواعد) تر هغه وخته د خوښې وړ نه دي، ترڅو چې عملاً د محکمې لخوا په يوې د عوا کې تطبيق نشي، کله چې په يوې موضوع کې قانوني قاعده عملاً تطبيق شي، له هغه وروسته د کامن لا د حقوقي سيستم د حقوقپوه په عقيده په حقوقي قاعدې واوښته . په دې توگه ، انگريزي حقوق پوهان په حقيقت کې د وضع شويو قوانينو د عباراتو واقعي

مفهوم او دقیقه معنا د یوې دعوا په استنباط، استدلال او د محکمې په فیصله کې لټوي.

د کامن لا په حقوقو کې دا یو منل شوی اصل دی، چې محاکم ترهغه پورې یوه قضایي فیصله نه صادر وي، ترڅو په واقعې توګه یو اختلاف یا شخړه هغوي ته نه وي وړاندې شوې. له همدې امله محاکم حق نه لري د فرضې اختلافاتو په هکله حکم صادر کړي . هغه په دې توګه چې یوه شخړه طرفینو په خپل منځ کې سره حل کړې ده ، اما د کنجکاوۍ او یا اعلاقې له مخې د هغه د قانوني حکم لپاره محکمې ته مراجعه کوي ، په دې صورت کې محکمه په موضوع باندې غور نه کوي او هغه د بررسۍ لاندې نه نیسي . په همدې بناً، د محکمې د حکم هغه برخه قضایي رویه جوړه وي چې مستقیماً د شخړې د حل او فصل کولو پورې اړه لري .

که چېرته محکمه په موضوع باندې د غور کولو په ترڅ کې ځینې نور مهم موارد او جالب مطالب هم بیان کړي، دا موارد او مطالب به ممکن ګټو، عالي او قانع کونکي وي، ولې نشی کېدای چې الزامي وي، یا په ساده اصطلاح د قضایي رویي برخه وي.

په همدی اساس ((د فیصلې هغه برخه چې ضرورتاً د مطرح شوې موضوع د حل او فصل کولو پورې اړه لري او د فیصلې د صدور بنسټ شمېرل کېږي)) الزامي دي، قضایي رویه رامنځته کوي او لاندیني محاکم په ورته موضوعاتو کې د هغې په متابعت مکلف دي او د هغې په مقابل کې ((د فیصلې هغه برخه چې د صادر شوي حکم پورې اړه نلري )) الزامي نه ګڼل کېږي .

په دې حقوقي سیستم کې د پورتنۍ محکمې فیصله په راتلونکو ورته قضایاو کې د حقوقي منبع په توګه د استفادې لاندې نیول کېږي اوهمدې ته په انګریزي کامن لا

حقوقو کې پخوانۍ قاعده(Stare decisis) او زموږ په اصطلاح ((قضايي رويه )) ويل کيږي .

**کليدي کلمې**: حقوقي قاعده ، د تفکيک فن ، قضايي رويه، پخوانۍ قاعده ، قضايي سازمان ، عالي محاکم.

## د څیړنې موخې

نوموړې ليکنه د لاندې موخو لپاره شوې ده :

۱. د حقوقو د مسلک مينه والو او نورو علاقمندانو ته د کامن لا په حقوقي نظام کې د حقوقي قاعدې د مفهوم وضاحت .

۲. د حقوقي قواعدو په ايجاد کې د انکلستان په قضايي سازمان کې د محاکمو په ځانګړي ډول د عالي محاکمو کليدي نقش د څرنګوالي روښانه کول.

## تېر ولیکنو ته کتنه

د دې موضوع په اړوند په پښتو ژبه کومه ليکنه تراوسه نه ده شوې.

## مواد او کړنلاره

په دې علمي مقاله کې د څیړنې له ګڼو میتودونو او تګلارو څخه د کتابتوني څیړنې طريقه غوره شوې او له باوري اواعتبار وړ مأخذونو او سرچينو څخه مې استفاده کړې ده .

## د انګلستان قضايي سازمان جوړښت

مخکې مو په سريزه کې يادونه وکړه چې انګريزي حقوق (کامن لا ) اصلاً د محاکمو د فيصلو په اساس جوړ شوی حقوقي نظام دی. کله چې موږ د انګلستان په حقوقو

کې د حقوقي قاعدې د مفهوم په اړوند څېړنه کوو په لومړي قدم کې باید د محاکمو فیصلو ته مراجعه وکړو، ځکه چې د دې حقوقي نظام د حقوقو لومړنۍ اصلي منبع د محاکمو فیصلې دي.

قانون، چې په انګریزي اصطلاح ستاتوت (Statute) یا د پارلمان عمل (Act of Parliament) ورته ویل کیږي د کامن لا د حقوقو دویمه درجه منبع ده (۶۴:۵)

په انګلستان کې لیکلی اساسي قانون وجود نه لري او هغه څه ته چې په انګلستان کې اساسي قانون وایي په حقیقت کې د هغو قواعدو مجموعه ده چې په عادي قوانینو او یا اکثراً په هغو قضایي فیصلو (قضایي رویو) مشتمله ده چې د افرادو اساسي حقوق او ازادي تضمینوي او د دولتي مقاماتو خود سري محدودوي.

د کامن لا د حقوقي سیستم د کلاسیکې نظریې پر اساس په عامه معنی قانون یواځې د حقوقو د یوې دویمې درجې منبع په حیث ګڼل کیږي، د دې نظریې پر اساس قانون په انګریزي (کامن لا) حقوقو کې چې د قضاء له خوا جوړ شوي حقوق دي، یواځې تکمیلات (errata) او تصحیحات (addenda) راوړي، یعنې د قانون وظیفه یواځې د حقوقو اصلاح او تکمیل دی؛ نو په قانون کې باید حقوقي قواعد ونه لټول شي؛ بلکې په قانون کې یواځې هغه حل لارې ولټول شي کوم چې د هغه په واسطه، له قضایي رویې څخه راوتي اصول او حقوقي قواعد مشخص، روښانه او تصحیح کړي (۲۵:۳) .

د دې لپاره چې پوه شو په اوسنی انګلستان کې کوم محاکم د حقوقي قاعدې د جوړولو صلاحیت لري او د هغوی هره فیصله (قضایي قاعده) د حقوقي قاعدې په حیث ګڼل کیږي او په راتلونکو ورته موضوعاتو کې د دې فیصلو متابعت الزامي

دی، د دې لپاره ضروري ده چې د انګلستان د قضایي نظام په تشکیلاتو ځان پوه کړو.

**د محاکمو مختلف ډولونه**

د انګلستان قضایي سازمان تر اوږدې مودې پورې ډېر پېچلی و او نن ورځ هم د هغه اصلاحاتو باوجود چې (۱۵۰) کالونو څخه راپه دېخوا په دې تشکیلاتو کې راوستل شوي او تر ډېره حده ساده او عقلي شوي دي، آما بیا هم د انګلستان څخه بهر نورو حقوقي نظامونو د حقوقپوهانو لپاره د حیرانتیا وړ ده.

یو بنسټیز ډول تقسیمات چې په انګلستان کې وجود لري او په نورو نظامونو کې نه لیدل کیږي، هغه د لوړ عدالت (عالي قضا) چې د عالي محاکمو (Superior Courts) په واسطه سرته رسیږي او د لاندیني عدالت (لاندینۍ قضا) چې د یو شمیر تالې (لاندینیو) محاکمو څخه حاصلیږي، ترمنځ توپیر دی . (۴:۱۳۲).

د حقوقپوهانو توجه خصوصاً د عالي محاکمو فعالیتونو ته معطوفه ده، دا محاکم یواځې د دعوې په حل او فصل کولو بسنه نه کوي، بلکې د هغوی تصمیمات او فیصلې هر اړخیزې دي او په اکثره وختونو کې د هغوی فیصلې قضایي رویه تشکیلوي، چې په راتلونکي مشابه موضوعاتو باندې لازم الاجرا ګرځي او د همدې فیصلو په مطالعې سره کولی شو انګریزي حقوق وپېژنو.

آما د مسایلو او دعواو غالب اکثریت له عالي محاکمو څخه بهر د لاندینیو محاکمو له خوا حل او فصل کیږي، مګر دا محاکم د قضایه قوې جز نه دي او د هغوی تصمیمات او فیصلې یواځې د حل شوې دعوې په ګټې پورې محدود دي.

**عالي قضایي محاکم**

د انگلستان په تاریخ کې ډېر شمېر عالي محاکم موجود و مثلاً وستمینستر محاکم (چې عبارت و له عمومي عرایضو محاکم، د خزانه دارۍ محاکم او د استیناف محاکمو) څخه، چې د دې محاکمو په واسطه د کامن لا حقوق استعمالېدل. د انصاف محاکم چې د انصاف حقوق په کې اجرا کېدل، د بحري مسایلو محاکم ( Courts of Admiralty) چې د بحري حقوقو پورې مربوط مسایلو ته یې رسیدگي کوله، د طلاق محاکم چې د کلیسایي حقوقو له مخې یې دعواوو ته رسیدگي کوله، د وصیت محاکم چې د وصایاوو پورې اړوند مسایلو ته یې د رسیدگۍ صلاحیت درلود.

آما د(۱۸۷۵-۱۸۷۳) د محاکماتي پرېکړو له مخې د انگلستان قضایي سازمان تشکیلات ډېر ساده شول . دې پرېکړو ټول یاد شوې محاکم لغوه کړل او نوي محاکم یې د عالي قضایي محاکمو تر نامه لاندې ایجاد کړل، چې د هغه په راس کې په استثنایي ډول د لارډانو(اعیان) مجلس استینافي کمېټې د نظارت وظیفه په غاړه درلوده . (۵۹:۱)

هغه قضایي سازمان چې د قضایي قوانینو په واسطه منځته راغلی دی، څوځلې په تېره بیا په (۱۹۷۱) م (۱۹۷۲) میلادي کالونو کې د محاکمو د قوانینو له خوا اصلاح شوي دي، ولې موږ د حقوقي قواعدو د ایجاد په اړوند دلته یواځې د انگلستان نني قضایي سازمان په څېړنه اکتفا کوو.

**لومړی: حقوقي محاکم**

حقوقي محاکم په لاندې برخو ویشل کېږي:

**۱. اداري دیوانونه**

د ځینو اداري پرېکړو اړوند اختلافات لومړی په اداري دیوانونو کې څېړل کېږي، لکه د مهاجرت، مالیاتو ټولنیز تامین او تقاعد په پرېکړو باندې نیوکه دغه دیوانونه محدود

صلاحیت لري او د ځانګړو موضوعاتو په برخه کې رسیدګی کوي، په دغو دیوانونو کې موضوعاتو باندې غور له دې نه زیات، چې قضایي اړخ ولري، اداري اړخ لري. د اداري دیوانونونو د بیا کتنې مرجع د د عدالت عالي محکمې دي. (۱۱:۳۳)

د اداري دیوانونو فیصلې پخوانۍ قاعده (قضایي رویه) نه رامنځته کوي او په راتلونکو ورته موضوعاتو کې ترې پیروي الازمي نه ده.

**۲. ناحیوي محاکم(County Courts)**

د مدني موضوعاتو په برخه کې تر غوره لاندیني محاکم ناحیوي محاکم ( County Courts) چې د(۱۸۴۶)میلادي کال د قانون په اساس تاسیس شوي دې .(چې دا محاکم د هغه قدیمې ناحیوې محاکموسره چې د انګلوساکسون په دوره کې موجود و هېڅ رابطه نه لري). په انګلستان کې ناحیوې محاکم چې قانون هغوي ته پراخه اختیارات ورکړي، د قضا په برخه کې ډېر اساسي کردار ترسره کوي . په اکثرو مدني دعواوو کې فیصلې له هغې جملې څخه د قرضونو ورکړه، بدني صدمات، د قرارداد نقض، کورني مسایل او د تصرف اعاده، د ناحیوي محکمو په وسیله سرته رسېږي، چې هم د ماهیت له نظره اوهم د دعوا د مبلغ له نظره محدود صلاحیت لري، د دغو محکمو له جوړېدو څخه هدف په کم اهمیته حقوقي دعواوو کې په ساده او کم مصرفه ډول د فیصلې ترلاسه کول دي . (۶۷:۵)

په ناحیوي محکمو کې د رسیدګی ډول د مدعابها د ارزښت په تناسب توپیر لري، چې په لاندې ډول یې تر څېړنې لاندې نیسو:

**کوچنۍ دعواوې:** په هغه دعواوو کې چې د مدعابها قیمت له پنځو زرو پونډو څخه کم وې قضیه په کوچنیو دعواوو کې طبقه بندي شوې ده او رسیدګي ورته په اختصاري، غیر تشریفاتي او اصولاً له وکیل او حقوقي مشاور پرته صورت نیسي

**چټکې دعواوې:** هغه دعواوي چې دمدعا بها قیمت یې له (۵۰۰۰) څخه تر (۱۵۰۰۰) پونډو پورې وې حد اکثر د یوې ورځې په جریان کې رسیدګي ورته کیږي.

**پیچلې دعواوې :** له ۱۵ زرو پونډو څخه لوړې دعواوې یا له ۱۵ زرو پونډو څخه کمو پیچلو دعواوو ته په قضایي ډول او د قاضیانو په وسیله رسیدګي کیږي. (۱۷۲:۲)
د دې محاکمو فیصلې قضایي رویه(پخوانۍقاعده) یا حقوقي قاعده نه ایجادوي او د نومړو محاکمو فیصلې نه خپریږي.

**۳. د عدالت عالي محکمه (High Courts of Justice)**

د عدالت عالي محکمه په لندن او د انګلستان او ویلز په ۲٤ نورو مرکزونو کې موقعیت لري، دغه محکمه په دریو برخو باندې ویشل کیږي.

**ملکي محکمه:** دغه محکمه د کامن لا د زړې محکمې ځای ناستې ده او د مدني مسوولیت، د قراردادونو نقض او جبران د خسارې اړوند دعواوو په اړه صلاحیت لري.
دا ملکي محکمه دوه نورې فرعي محکمې لري، یوه یې بحري محکمه او بله تجارتي محکمه (Commercial Court) ده . (۲۴:۱۳)

**د مهرداري محکمه:** غه محکمه د انصاف محکمې ځای ناستې ده، د دربار محکمه د تړونونو د اجرا موضوع، ترسټ، د قانوني یا تړوني حق له نقض څخه د مخنیوي په اړوند حکمونه او قرارونه صادروي او د سوداګریزو شرکتونو او معنوي ملکیتونو اړوند دعواوو په برخو کې صلاحیت لري. د مهرداری د محکمې په داخل کې یوه د شرکتونو محکمه (Companies Court) او یوه د بانکي تخلفاتو محکمه (Bankruptcy Court) وجود لري. (۸:۲۰۱)

**فامیل محکمه:** په کورنیو چارو پورې اړوند مسایل لکه، واده، طلاق، د ماشومانو حضانت، په کوچنیانو باندې ولایت د دغې محکمې په صلاحیت کې دي. (۷:۴۲)

د دغو عالي محکمو هر یوې (درباري، کورنۍ، ملکه) فیصلې د هماغه محکمې لپاره قضایي رویه یا حقوقي قاعده ایجادوي او په پایله کې د هغوی مهمې فیصلې هم خپرېږي. د هرې محکمې قضایي فیصله د موازي محکمې لپاره قضایي رویه نه ایجادوي، مګر د موازي محکمو ډېرو مواردو ته احترام کېږي او په ډېر لږ یې په صراحت سره نقض کېږي.

**٤. استیناف محکمه (Court of Appeal)**

د استیناف محکمه دوه څانګې لري یعنې مدني څانګه (Court of Appeal Civil Division) او جزایي څانګه (Court of Appeal Criminal Division). دغه محکمه د ناحیوي محکمو او د عدالت د عالي محکمو له لورې صادرو شویو فیصلو ته د رسیدګۍ مرجع ده، په دغه محکمه کې هم موضوعي مسایل او هم حکمي او قانوني مسایل تر بیا کتنې او څېړنې لاندې نیول کېږي. په دغه محکمه کې رسیدګي د دریو قاضیانو په حضور کې سرته رسېږي. (۹:۳۸)

د استیناف محکمې فیصلې خپله د همدې محکمې او د لاندینیو محاکمو لپاره قضایي رویه یا حقوقي قاعده ایجادوي او زیاتره دغه رایې خپرېږي.

### ۵. عالي دیوان

عالي دیوان په انګلستان کې د قضایي رسیدګۍ د ترتیب په لړۍ کې لوړه مرجع ده ، دغه د یوان په ۲۰۰۹ میلادي کال د (اساسي قانون د اصلاحیي ) د قانون پربنسټ د لاردانو د مجلس د استینافي کمېټې (Appellate Committee) ځای ونیوه . د قضایي قوې استقلالیت او د هغې توپیر د نورو قواوو سره د دې تغیر اساسي هدف و. د دیوان غړي ۱۲ قاضیان دي، چې له ریس، نایب او لسو غړو څخه تشکیل شوي دی. (۳۲۸:۱۵)

عالي دیوان د استیناف د محکمې د ځانګو د مهمو فیصلو په اړوند د تجدید نظر مرجع ده . یوازې د قانون په تفسیر یا اعمال (قانوني او حقوقي مسایلو) اړوند د نظر اظهار کوي او د دعوې ماهیت ته له تلو څخه ډډه کوي. (۳۲:۱۴)

عالي دیوان د ټولې لویې برتانیا (انګلستان ، ولز، شمالی ایرلینډ او اسکاتلینډ ) فیصلو د تجدید نظر مرجع ده. همدارنګه په جزایي مسایلو کې په استثنا د سکالینډ، د ټولې لوي برتانیا د تجدید نظر مرجع ده.

تقریباً هر کال ۵۰ موضوعګانې د عالي دیوان په واسطه څېړل کېږي او دغه چارې، چې دوی یې څېړي عمدتاً په هغو مهمو قانوني او حقوقي مسایلو پورې اړه لري، چې د هغوی په اړه فیصله په کوم ځانګړې دعوا پورې نه محدودېږي. بلکې هدف یې ټول هېواد کې د حقوقي وحدت تضمین دی . (۶۸:۲)

د عالي دیوان فیصلې د ټولو تالي یا لاندینو محکمو لپاره قضایي رویه یا حقوقي قاعده ایجادوي، مګر د خپل ځان لپاره قضایي رویه نه ایجادوي، که څه هم ډېر کم داسې حالت پیښ شوی دی چې دغې محکمې خپلې پخوانۍ فیصلې په صراحت سره نقض کړې وي. د دغې محکمې زیاتره فیصلې خپرېږي.

٦. د مشترکو منافعو(ګډو ګټو) هېوادونو په اړه د تجدید نظر شورا( Judicial Committee of the Privy Council)

د عالي دیوان قضات په یواځې ډول اویا له هغو قضاتوسره یوځای چې د مشترك المنافع هېوادونو څخه راځې، د خصوصي شورا قضایي کمېټه ( Judicial Committee of the Privy Council) تشکیلوي .

د مشترکو منافعو هېوادونو پورې اړوند د تجدید نظر شورا د هغه رایو د تجدید نظر مرجع ده، چې په پخوانیو وختونو کې په مستعمراتو کې او په اوس وخت کې د مشترکو منافعو هېوادونو د عالي محاکمو له لوري صادرېږي. یوازې کم شمېره د مشترکو منافعو هېوادونو په دغه رویه باندې پابند دي او دغه شورا یې د خپلو رایو د تجدید نظر شورا په توګه قبوله کړې ده ، سنګاپور، غربي هند(West Indies)، نیو زیلنډ، ګامبیا، سیرالئون او داسې نور ... په ځېر هېوادونه د هغې هېوادونو له جملې څخه دي، چې تر اوسه پورې په دې روش باندې پابند دي، مګر د استرلیا، کاناډا، هند، پاکستان په ځېر هېوادونو دغه نظام لغوه کړی دی،(۸۸:۹) دغه شورا په هېواد کې د روانو قوانینو پر بنسټ چې د کامن لا په کُلي اصولو پورې اړوند دي د صادرو شویو فیصلو په اړه د تجدید نظر اقدام کوي، د دغې محکمې رایې هم د مشترکو منافعو هېوادونو لپاره او هم د خپل ځان لپاره قضایي رویه یا حقوقي قاعده ایجادوي.

**ب: جزایي محکمې**

د جزا اړوند ارګانونه او محاکم لاندې سلسله مراتب لري.

**سلطنتي څارنوال:** په ډېرو جزایي موضوعګانو کې متهمین د سلطنتي مقام (ملکه یا بادشاه) به نوم د يو دولتي بنسټ لوري د (سلطنتي څارنوال) په نوم تر تعقیب لاندې نیول کېږي. هغه وخت چې پولیسو د جرم د ارتکاب لپاره لازم دلایل راټول کړل، موضوع د متهم د تعقیب لپاره سلطنتي څارنوال ته استوي، سلطنتي څارنوال په هغه صورت کې د متهم د تعقیب امر صادروي، چې باور ولري، چې د متهم د محکومیت احتمال د ده له برائت څخه زیات دی.(۷: ۱۳۰)

د سلطنتي څارنوال د تعقیب له امر څخه وروسته اړوند موضوع د سولې په محکمه (Magistrates Court) کې مطرح کېږي او کله چې موضوع د سولې محکمې په صلاحیت کې وي، رسیدګي ورته کوي او که موضوع یې په صلاحیت کې نه وي د پوره دلایلو د موجودیت په صورت کې جزا لیک صادروي او موضوع د نور غور او رسیدګۍ لپاره سلطنتي محکمې (Crown Court) ته استول کېږي.

**د سولې محکمه (Magistrates Court ):** د سولې محکمه د کم اهمیته او کوچنیو جرمونو په اړه د رسیدګۍ صلاحیت لري، دغه جرمونه په اختصاري ډول او د منصفه هئیت له حضور پرته څېړل کېږي، د دغو جرمونو حد اکثر جزا شپږ میاشتې زندان یا هم تر دوه زرو پونډو پورې نغدي جریمه ده، د متهم د رضایت په صورت کې د سولې محکمې متوسطو جرمونو ته د رسیدګۍ صلاحیت هم لري.

د دغې محکمې پرېکړې په سلطنتي محکمه کې د تجدید نظر وړ دي او یوازې متهم کولی شي چې د تجدید نظر غوښتنه وکړي په هغه صورت کې چې تجدید

نظر یواځې قانوني اړخ ولري او له موضوعي نظره متهم د نوي څېړنې غوښتنه ونه لري، نوموړی کولی شي د ملکې له محکمې څخه د بیا کتنې غوښتنه وکړي.

همدارنګه د ماجیستریټ محکمه د مهمو او متوسطو جرمونو په اړه د څارنوال په عنوان باندې مقدماتي څېړنې بشپړوي او کله چې وارد شوی اتهام موجه وبولي د اتهامنامی په صادرولو سره موضوع د جزایي تعقیب لپاره سلطنتي محکمې( Crown Court) ته استوي.

که چېرې د سلطنتي محکمې له نظره د جرم د ارتکاب لپاره پوره دلایل وجود ونه لري محکمه د متهم پر برائت باندې فیصله کوي او دغه فیصله په لوړو مراجعو کې بیا نه تجدید نظر کېږي.

د سولې ځینو محکمو دا صلاحیت ترلاسه کړی دی، چې د هغو ماشومانو، چې عمر یې له (١٤) کلونو نه لاندې وي او د هغو ځوانانو، چې عمرونه یې (د ١٤-١٧ترمنځ) وي جرمونو ته رسیدګي وکړي او په دې ترتیب سره د ماشومانو د محکمو رول ادا کوي. (٨:١١٠)

په هغه صورت کې چې محکمه د جلسې له تشکیل او رسیدګي وروسته متوجه شي، چې ارتکاب شوی جرم د هغوي د صلاحیت په ساحه کې نه دی، په دې صورت کې موضوع د رایې صادرولو لپاره سلطنتي محکمې (Crown Court) ته استوي.

د سولې محکمې عمده قاضیان غیر حقوقي او غیر موظف وګړي تشکیلوي (هغه کسان، چې د خدماتو په کولو سره حقوق او مزد نه ترلاسه کوي) دغه قاضیان د هغې منشي له مشورې نه چې حقوقي زده کړې لري او په موظف ډول په محکمې کې په

خدمت بوخت وي گټه اخلي، د دې باوجود د سولې محکمو يو کم تعداد قاضيان حقوقي زده کړې لري او په موظف ډول په دې محکمو په کار بوخت دي.

د سولې په محکمو کې فيصلې قضايي رويه يا حقوقي قواعد نه ايجادوي.

## ۲- سلطنتي محکمه (Crown Court)

دا محکمه (۱۹۷۱)م کال د محاکمو د قانون په اساس تاسيس شوې، سلطنتي محکمه هغه يواځينۍ محکمه ده، چې د( ۹۰ ) په حدودو کې مراکز په انگلستان او ويلز کې لري، په دغه محکمه کې درې ډوله قاضيان وجود لري، عالي قاضي، سيمه ييز قاضي او د محکمې مرستيال قاضي (Recorder)، د انگلستان په جزايي حقوقو کې هغه جرمونه، چې د جزا ليك مستلزم دي(Indictable offences)، په څلورو ډولونو باندې وېشل کېږي.(۳۸:۱۱)

لومړی ډله جرايم ډېر جدي جرايم دي، لکه عمدي قتل، جاسوسي او امنيتي جرايم، چې د عالي قضاتو له لورې ورته رسيدگي کېږي.

دويمه ډله جرايم، لکه شبه عمد قتل، جنسي تجاوزات، د ماشومانو څخه سوی استفاده او د ماشومانو زورونه، چې عالي قضات يا سيمه يېز قضات ورته رسيدگي کوي.

درېيمه ډله جرمونه هغه جرمونه دي چې د عالي او سيمه ييز قاضي سربېره د محکمې منشي په وسيله هم رسيدگي ورته کېږي، لکه انسان تښتونه، حيثيت ته سپکاوی او غلاوې.

څلورمه ډله هغه جرمونه دي چې معمولاً د سيمه ييز قاضي يا د محکمې منشي له لوري ورته رسيدگی کېږي، لکه: دسيسه، جعل، غلا، د بدن سخت زخم...(۴۵:۹)

په پورتنیو ټولو مواردو کې د محکمې په څنګ کې، منصفه هئیت اقرار لري، چې د محکمې د قضایي حوزي له (۱۲) عادي اوسېدونکو څخه جوړ شوی دی، کله چې متهم د جرم په ارتکاب باندې قرار ونه کړي او ادعا وکړي، چې بې ګناه دی، منصفه هئیت تشکیلېږي او د نوموړي د ګناهګارۍ(guilty) یا بې ګناهۍ (not guilty)په اړه نظر ورکوي.

د سلطنتي محکمې فیصلې قضایي رویه یا حقوقي قاعده نه ایجادوي.

**٤. د ملکې محکمه (Queen's Bench)**

د ملکې محکمې امکان لري د سلطنتي محکمې د رایو د تجدید نظر مرجع وي، مګر دغه محکمه یوازې موضوع ګانې د قوانینو د رعایت یا د قانون د تفسیر ډول له نظره او یا هم د مربوطه صلاحیت له حیثه بررسي کوي ((د تمیز صلاحیت)) د ملکې محکمه هم د سلطنتي محکمې او هم د سولې د محکمې د تجدید نظر مرجع ده.

د ملکې د محکمې فیصلې د لاندینیو محاکمو او په خپله د همدې محکمې لپاره قضایي رویه یا حقوقي قاعده ایجادوي.

**۵. د استیناف محکمې جزایي څانګه (Court of Appeal Criminal Division)**

لکه څنګه چې مو مخکې یادونه وکړه ، د استیناف محکمه دوه څانګې لري ، جزایي څانګه او مدني څانګه. استیناف د محکمې جزایي څانګه د سلطنتي محکمې له لوري صادرو شویو رایو ته د رسیدګۍ مرجع ده او دعواوي هم له موضوعي نظره او هم له قانوني او حکمې نظره بررسي کوي(۳۷:۱۳)((داستیناف صلاحیت)).

د استیناف غوښتنه یوازې د متهم په وسیله مجاز دی او شاکې یا مدعي العموم د بیا کتنې د غوښتنې حق نه لري. د استیناف محکمه په رسیدګۍ کې، له دریو تنو قاضیانو څخه جوړېږي، فیصله له قاضیانو نه د یو قاضي له لوري، چې د جلسې د رئیس نقش په غاړه لري د نورو قاضیانو سره په مشوره صادرېږي، مګر امکان لري د قانوني مسایلو په برخه کې در یوارو نظر په موضوع یا قضیه کې منعکس شي.

د استیناف د محکمې د جزایې څانګې فیصلې د هغو محاکمو لپاره چې له دې محکمې څخه په ټيټه سطحه کې قرار لري قضایي رویه یا حقوقي قاعده ایجادوي، اما د دې محکمې فیصلې په خپله همدې محکمې ته په راتلونکو ورته موضوعاتو کې قضایي رویه نه ایجادوي.

**٦. د عالي دیوان**

څرنګه چې یادونه وشوه، چې مهمې قانوني او حقوقي چارې هغه که جزایي وي او یا هم د مدني چارو په برخه کې وي امکان لري، په نهایت کې د عالي دیوان له لوري ورته رسیدګي وشي، له همدې امله که چېرې د استیناف د محکمې له لورې د قانون په اعمال یا تفسیر باندې نیوکه وجود ولري، متهم کولی شي، چې له عالي دیوال څخه غوښتنه وکړي، چې د موضوع په اړه پرېکړه وکړي، معمولاً دغه چاره په مهمو حقوقي او قانوني چارو کې سرته رسیږي، په عالي دیوان کې کم تر کمه درې قاضیان باید په رسیدګۍ کې ګډون ولري او هر یو خپل نظر بیان کړي چې په نهایت کې د رایو په اکثریت سره پرېکړه کېږي.

څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه ، چې د عالي دیوان ټولې فیصلې له عالي دیوان څخه لاندې ټولو محاکمو لپاره قضایي رویه یا حقوقي قاعده ایجادوي.

### ۷. نورې جزایي محکمې

د عمومي جزایي محکمو سربېره ځانګړي جزایي محکمې هم موجود دي، لکه نظامي محکمه، چې د وسلوال فوځ جرایمو او سرغړونو ته رسیدګی کوي.

د انګلستان د جزایي حقوقو د اصولو یوه برخه، چې په دغه محکمو او نورو جزایي محکمو کې رعایت کېږي په لاندې ډول دي:

متهم بې ګناه بلل کېږي، مګر دا چې مجرمیت یې ثابت شي.

محکمه په متهمینو پورې اړوند حقوق په دقت سره سرته رسوي ترڅو د مجرمیت د حکم له صادرېدو څخه مخکې، د متهم په وړاندې رسانه ییزه او مطبوعاتي فضا جوړونه سرته ونه رسېږي او منصفه هئیت وکولی شي د مخکې له مخکې قضاوت نه د متهم د مجرمیت په اړه تصمیم ونیسي.

له ۱۹۶۷م کال څخه را په دې خوا منصفه هئیت کولی شي، چې د رایو په اکثریت سره د متهم په مجرمیت باندې رایه ورکړي او د منصفه هئیت نورو غړو ټولیز نظر ته اړتیا نشته.

د ۱۹۶۵م کال څخه را په دې خوا اعدام لغوه شوی دی.

تقریباً په ټولو سنګینو جزایي قضیو کې چې په سلطنتي محکمو کې مطرح کېږي، د متهم په وسیله د وکیل مصرف او حق الزحمه د عمومي بودیجې له لوري تامینېږي.

پولیس موظف دي چې د ۳۶ ساعتونو په دننه کې متهم د ماجیستریت (سولې) محکمې د قاضي په وړاندې حاضر کړي.

د ماجیستریت (سولې)محکمې قاضي کولی شي، چې متهم په اتهام باندې له پوهېدو پرته تر ۹۶ ساعتونو پورې توقیف کړي.

د یو سلنې په حدودو کې متهمین له ۲٤ ساعتونو نه زیات او د اتهام له پوهېدو پرته په توقیف کې پاتې کیږي.

د متهم د آزادۍ په برخه کې پرېکړه د وثیقې په اخیستو یا د نوموړي په توقیف سره د محکمې په غاړه ده.

**د قضایي فیصلو خپرول**

په هغه حقوقي نظامونو کې چې په قضایي فیصلو باندې متکي دي اړتیا ده چې د قضایي فیصلو د خپراوي لپاره یوه منسجمه تګلاره وجود ولري، ترڅو قضایي فیصلو ته لاسرسی په دقیق او د اعتماد وړ ډول تضمین کړي. البته د هغو محکمو د فیصلو خپرولو ته چې قضایي رویه نه ایجادوي اړتیا نشته، همدارنګه د هغو محکمو په برخه کې چې قضایي رویې ایجادوي اړتیا نشته چې د هغوي ټولې فیصلې خپرې شي، ځکه د هغوی زیاتره فیصلې د پخوانیو فیصلو تطبیق او تکرار دی، د دې باوجود د لاندې قضایي فیصلو خپرول اړین دي.

ټولې هغه قضایي فیصلې چې په ظاهر کې یوه نوې حقوقي قاعده یا اصل ایجادوي.

ټولې هغه قضایي فیصلې چې په عمده ډول یې یوه حقوقي قاعده یا اصل تعدیل کړی وي یا یې تغیر ورکړی وي.

ټولې هغه قضایي فیصلې چې د اختلاف وړ یوې حقوقي موضوع څخه ابهام لرې کړي او هغه روښانه کړي.

ټولې هغه قضايي فيصلې چې په مشخص ډول ګټورې لارښوونې او اطلاعات ولري.

په انګلستان کې د رايو خپرول د څوارلسمې ميلادي پيړۍ نه د (کلنۍ يعنې سالنامې) په خپرولو سره پيل شول او تر شپاړسمې ميلادي پيړۍ پورې يې دوام وکړ.

دغه راپورونه په فرانسوي ژبه او په نورمني لهجه باندې برابر شوي ول او ډېر و يې د دعوا طرح کول تر پوښښ لاندې راوسته، دغه قضايي فيصلې د دعواوو په لړليک کې ثبت کېدلې او په محکمه کې پلټل کېدې، نن ورځ دغه متونه عمدتاً د تخصصي څېړنو لپاره په کار ول کېږي.

د کلني د خپرولو له دريدو وروسته د خصوصي افرادو په واسطه د رايو ټولګي خپري شوي، چې د دقت، کېفيت او اعتبار له نظره يې سره توپير درلود، ځينو يې ډېر لوړ دقت او اعتبار درلود، په داسې حال کې چې ځينې نورې يې بې ارزښته وې.

د اوولسمې پيړۍ په لومړي نيمايي کې (سر اډوارډ کوک) د ټولو رايو په خپرولو باندې لاس پورې کړ، چې له لوړ ارزښت څخه برخمنې وې، د حقوقي راپورونو د سازماندهۍ لپاره ( د حقوقي ګزارشونو شورا)( Introduction Council of law reporting for England and wales) تشکيل شوه او په ۱۸۷۰م کال کې د يوې غير انتقاعي اداري په توګه ثبت شو، د دغې ارګان موخه د ولز او انګلستان د محکمو د قضايي فيصلو ترتيب او خپرول و په داسې ډول چې د ګټې اخيستنې وړ وي . دغه ارګان په حاضر وخت کې له ( ۳۰) نه د زياتو برجسته وکيلانو له خدماتو څخه برخمنه ده او د دوه ټولګو په خپراوي باندې لاس پورې کوي يو ( د اوونۍ حقوقي راپورونه) او بل (حقوقي راپورونه) په نوم يادېږي ، چې په لومړی متن کې

رایه دقیقاً او پرته له کمي او زیاتي نه خپرېږي او په دویم متن کې د رایې پر متن سربېره د دواړو خواوو د وکیلانو نظر هم په کې خپرېږي.

مډرن (نوي) راپورونه په لاندې تفصیل سره د معلوماتو او اطلاعاتو درلودونکي دي،

- د دعوا دواړو خواوو نومونه.
- رسیدګي کوونکي محکمه.
- د موضوع د قاضي یا قاضیانو نومونه.
- د رسیدګی نېټه.
- د هغې قضایي فیصلې لنډیز چې راپور ورکوونکي برابره کړې ده.
- د هغو موضوع ګانو لړلیك چې په فیصله کې ترې استفاده شوې ده.
- د پېښې شرحه، چې کله واقع شوې ده.
- د دواړو خواوو د وکیلانو نومونه.
- د دواړو خواوو د وکیلانو نظریات او استدلال.
- د محکمې فیصله.
- د فیصلې د بیا کتنې وړوالی.

او د هغې حقوق پوه یا حقوق پوهانو نومونه، چې راپور یې برابر کړی دی.

**پایله**

د پورتني بحث نتیجه کولای شو په لاندې ټکو کې خلاصه کړو .

په انګلستان کې کله چې محکمې یا قاضي ته یو موضوع د حل او فصل کولو لپاره وړاندې شي، قاضي ګوري چې ایا د دمحاکمو خصوصاً د عالي محاکمو په پخوانیو فیصلو کې د مطروحه موضوع سره کومه مشابه موضوع وجود لري او که نه؟

که چېرته د محاکمو په پخوانیو فیصلو کې کومه مشابه موضوع وجود ولري، مطروحه موضوع او د پخوانۍموضوع عناصر سره پرتله کوي، که چېرته ټول عناصر یې سره مشابه وي، نو څرنګه چې د کامن لا په حقوقو کې قاعده داده چې لاندیني محاکم د پورتنیو محاکمو د فیصلو په رعایت او تطبیق مکلف دي او په راتلونکو مشابه موضوعاتو کې د عالي محاکمو د فیصلو تطبیق الزامي دی، نو محکمه مطروحه دعوا د مخکنۍ محکمې د حکم مطابق حل او فصل کوي او که چېرته محکمه وګوري چې د دواړو موضوعاتو په عناصرو کې تفکیک وجود لري او سره مشابه نه دي او یا هم د عالي محاکمو په پخوانیو فیصلو کې مطروحه موضوع سره مشابه کومه موضوع وجود نلري، نو په دې صورت کې قاضي یو نوی اجتهاد کوي، نوې فیصله صادر وي او یوه نوې حقوقي قاعده منځته راوړي.

د موضوعاتو د تفکیک فن دانګریزي (کامن لا ) دحقوقو دحقوقي قاعدې د مفهوم سره نږدې ارتباط لري. دتفکیک فن دانګریزي (کامن لا ) دحقوقو اساسي فن دی، د انګریزي حقوقدان مهارت او تخصص پدې کې ځلیږي، چې پدې فن مسلط وي او د هغه په امکاناتو او داحتمالي استعمال حدودو ته توجه ولري. انګریزي حقوق پوهان هڅه کوي چې د تفکیک د فن په وسیله د هغو قواعدوساحه په پرله پسې ډول محدوده کړي، چې د دوی په نظر په ابتدا کې ډېرعمومي افاده شوي دي .

له پخوانۍ قاعدې (قضایي رویې)څخه استفاده، له یوې خوا دحکم په صدور کې دقاضي دوخت دضایع کېدو مخه نیسي، کله چې قاضي په تیرو شوو مشابه دعوآ و کې یو حکم وګوري چې دهغه عناصر دمطروحه دعوآ له عناصرو سره مشابهت ولري، نو د پخوانۍ حکم مطابق حکم صادروي.

داعمل د کامن لا د سیستم په حقوقي نظام کې د هماهنگۍ او د خلکو ترمينځ د عدالت د برقرارۍ باعث گرځي.

**مناقشه**

د کامن لا په حقوقي سیستم د حقوقي قاعدې (پخوانۍقاعدې یا قضایي رویې ) ایجاد لپاره د تفکیك له فن څخه د استفادې په وخت کې د قضاتو په کړنو کې لاندې موضوعات د مناقشې او توجو وړ دي.

**لومړی : د فیصلې د ثابتو دلایلو صحیح استنباط**

د قاضي کوښښ په دې نظام کې دا دی چې په هغه پخوانۍدعوا کې چې دی ورته مراجعه کوي (د فیصلی ثابت د لایل) په صحیح ډول استنباط شوي اوکه نه، په هغه صورت کې چې (د فیصلې د ثابت دلایل) په صحیح ډول استنباط شوي وي نو بیا کوښښ کوي چې ثابت کړي ، چې آیا دمطروحه دعوا د عناصر دپخوانۍمشابه دعوا دعناصرو سره ورته والی لري او که نه ،که چېرته شباهت یا ورته والی وجود ولري نو له پخوانۍقاعدې څخه متابعت کوي او د مطروحه دعوا په اړه هم مشابه حکم صادروي .

**دویم: د مطروحه دعوا او پخوانۍدعوا ترمنځ د شباهت نه موجودیت:**

که چېرته تشخیص کړې ، چې په پخوانۍ دعوا کې دفیصلې لازم عناصر د قضیې د قضاتو په واسطه استنباط شوي نه دي ، په خپله اجتهاد او یا نوی استنباط کوي اوپخوانۍدعوا ته دهغه سره مطابقت ورکوي او د شباهت او د لا زمو یا ضروری عناصرو له تحقق وروسته، فیصله صادروي .

د توجه وړ نقطه داده ،که چېرته قاضي په دې قانع شی ، چې دنوو عناصرو اوپخوانیو عناصرو ترمینځ تفکیک وجود لری، پدی صورت کې پخوانۍقاعده (قضایي رویه) نه تطبیقیږي، بله طریقه چې قاضي کولی شي پخوانۍ قاعدې څخه عدول وکړي، هغه د انګلستان د لاردانو د مجلس د(۱۹۹٦) م کال فیصله ده، دا فیصله داسې صراحت لري ((په هغه صورت کې چې دپخواني حکم صدور د عقل، د حقوقي علم د پراختیا او عدالت په خلاف وي، قاضي خپل ځان د پخوانۍ قضایي فیصلې په رعایت مکلف نه ګڼي))

سره له دې چې د انګریزي کامن لا د حقوقو عنعنه د دې مانع ګرځېدلې چې انګریزي قضات په یو وار د پخوانیو فیصلو له رعایت څخه لاس واخلي او بله دا چې د تجدید نظر محاکم باید د پورتنیو محاکمو او همدارنګه د لاردانو د مجلس فیصلو متابعت وکړي، اما په هغه صورت کې چې د پورتنۍ محکمې فیصله د لاردانو د مجلس د فیصلې خلاف وي د هغه په رعایت مکلف نه دي.

دریيم: په یوې فیصله کې دټولو قضاتو یو ډول دلایل اوددعوا د حقوقي نتیجی په هکله دهغوی اتفاق یوه قوی قضایي رویه (پخوانې) منځته راوړی:

که چېرته په هغه له عوا کې چې له یوڅخه زیات قضات په قضیه کې رایه ورکوي (مثلاً دتجدید نظر په مرحله کې) ، په دې صورت کې (Reasons of Decision) که چېرته دفیصلې په دلائلو باندی ټولو قضاتوپه مشترک ډول استنادکړی وي ، پخوانۍقاعدې (قضایه رویې ) ارزښت زیاتیږې .

ولې که چېرته ټولو قضاتو تصمیم ددعوا دنتیجی اود صادر شوي حکم سره موافق وي ، ولې دهغه دلائل چې ټولو قضاتو لخوا صادرشوي یو له بل سره موافق نه وي ، صادرشوی رایه به دپخوانیقاعدی (قضایي رویې) په مورد کې کم ارزښته وي .

په صادرې شوې فیصله کې وړاندی شوي دلا ئل اوددی دلایلو سره داکثریت موافقه ، د پخوانیقاعدې (قضایي رویي) تداوم لپاره لا یو پیاوړی (Reason) دلیل منځته راوړي .

**پایلیزه**

په نتیجه کې ویلې شو چې په انگلستان کې پخوانۍ قاعده (قضایي رویه) یا حقوقي قاعده د نظري لحاظه په دریو ډېر ساده عباراتو تحلیلېږي:

۱- هغه فیصلې چې عالي دیوان صادرې کړي د ټولو محکمو لپاره پخوانۍ قاعده (قضایي رویه) ایجادوي .

۲- هغه فیصلې چې استیناف محکمې صادرې کړي د ټولو هغو محکمو لپاره چې د سلسله مراتبو له لحاظه له نوموړې محکمې څخه لاندې او هم په خپله د استیناف د محمکې لپاره (پرته له جزایي امورو څخه) لازم الاتباع دي.

۳- هغه فیصلې چې د عدالت د عالي محکمې له خوا صادرې شوي ابتدایه محکمو لپاره الزامي دي او د عدالت د محکمې د نورو شعباتو (څانگو) او همدارنگه د سلطنتي محکمو لپاره لوی معنوي ارزښت لري او په عمومي ډول هغوی د نوموړو فیصلو څخه متابعت کوي، پرته له دې چې په دقیق ډول په هغوی الزامي وي.

دلته باید یادونه وکړو، یواځې هغه فیصلې چې د عالي قضایي محاکمو او د عالي دیوان له خوا صادرېږي، الزامي قواعدایجادوي او هغه فیصلې چې د نورو (لاندېنیو)

محاکمو له خوا صادرېږي، ممکنه ده معنوي ارزښت ولري آما هېڅکله الزامي قواعد(حقوقي قواعد) نه شمېرل کېږي.

**اخځلیکونه**


١- اخوندي، محمـودی . (١٣٨٨). آیین دادرسی کیفـری .جلـد دوم . تهران : سـازمان چـاپ و انتشـارات ، چـاپ . یازدهم.

٢- بورگی، پوهاند محـمدطاهر (١٣٧٩) هـ ش د مـعاصرو لویو حـقوقي سیستمونو مبادي (کامن لا)، پېښور: د ساپي د پښتو څېړنو اوپراختیا مرکز..

٣- پیوندي، غلام رضا.(١٣٨٨) . جرم سیاسی. تهران : انتشارات پژوهشگاه فرهنگ و اندیشه، چاپ دوم.

۴- خالقی، علی.(١٣٨٧). آئین دادرسی کیفري . تهران: انتشارات شهر دانش، چاپ دوم، مجله ،

۵- ر . ك ، داکـترافشـار ،١٣٨١ه ش، کلیات حـقـوق تطبیقې _ تهران : کتابخانه ملي ایران، چاپ اول.

٦- رنه دوید - مترجم ، محمـد اشوری ،١٣٨٤ هـ ش نظامهای بزرگ حـقـوق معاصر – تهران : مرکزنشر دانشگاهی.

٧- شیروی،عبدالحسین.(١٣٩٢)هـ ش. حقوق تطبیقی. تهران : سازمان چاپ و انتشارات.

٨- صبري، نورمحمد(١٣٨۴)، مطالعه تطبیقی هیأت منصفه . تهران : انتشارات میزان . چاپ اول .

٩- عرفانی، محمود. (١٣٩٢)هـ ش. حقوق تطبیقی. تهران: انتشارات جنگل

عمید زنجانی، عباسعلی. (۱۳۶۸). فقه سیاسی. تهران : انتشارات امیر کبیر. چاپ اول .

۱۰-گاستون، استفانی، ژرژ لواسور، برنار بولوك.(۱۳۷۷). آیین دادرسی کیفري.

۱۱- موضوع و نهادهاي دادرسی کیفري، جلد اول، ترجمه دکتر حسن دادبان. تهران : انتشارات دانشگاه علامه طباطبایی چاپ اول.

۱۲- ن، آر، پولارنس. (۱۳۷۰). واقعیت وحقوق. ترجمه ، نجادعلی الماسی. تهران: انتشارات دانشگاه ملی ایران

13- Harr، J. Scott and Kren M. Hess .2008 Constitutional Law and the Criminal Justice System، Fourth Edition، publisher Thomson Wadsworth.

14- Jonakait، Randolph N. 2003 The American jury system .Yale University Press.

15- Lippman، Matthew Ross، 2010 Contemporary criminal law: Concepts.

**حیات الله اشنا او وحید صافی**

اقتصاد پوهنځی، مالي څانگه

لارښود استاد: عرفان الله(ج) ستانکزی

# په کاروبار د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې

# Business and Information Technology

## لنډیز

د نن ورځ د کاروبارونو یوه ځانگړنه دا ده، چې په معلوماتي تکنالوژۍ ولاړ دی. معلوماتي سیستم د مهمو خلکو، ځایونو او شیانو په اړه اداري ته معلومات ورکوي. له معلوماتو ( Information ) څخه هدف ټول هغه ارقام او اعداد دي چې د بشر لپاره مفهوم لرونکې او گټور دي. ترڅنگ یې ډاټا (Data) ټول هغه خام مواد او ارقام دي چې د اداري په فزیکي چاپیریال کې رامنځ ته شوي خو د نتیجه گیرۍ لپاره لا صنف بندي او ترتیب شوي نه وي. د دې توپیر د وضع کولو لپاره یوگټور مثال دا دی، چې د یو سوپر مارکیټ د ( scan ) څارونکې تخته په میلیونو کوډونو ( Bar codes ) چک او په نښه کوي څو د تولیداتو په هکله بېلابېل معلومات وړاندې کړي.

په ډاټا (Data) کې داسې شی چې راجمع او یو مفهوم لرونکی رقم (Information) ترې رامنځ ته شي شتون لري. د بېلگې په ډول په یو معلوم پلورنځي کې د یو معلوم تولید څو واحده خرڅ شوي، د کوم تجارتي مارک تولیدات ډېر ځله په کومه سیمه کې خرڅیږي، په نوموړې سیمه کې په دی تجارتي مارک څومره لگښت راغلی. د یادونې وړ ده چې د نن ورځې د کاروبارونو د ترقۍ راز په آی تي او د هغې په ښه کارولو کې دی. اوس باوري یو چې افغانستان کې آی تي سره کاروباریان بلد شوي

دي او ان شاالله ډېر ژر به دوي وکولای شي د هغی د اهميت او تخنيک په پوهېدو سره خپلو کاروبارونو ته پرمختګ ورکړي او ملي اقتصاد مو پياوړی شي.

**کليدي اصطلاحات**: کاروبار، معلوماتي تکنالوژي، په کاروبار کې د معلوماتي ټکنالوژۍ رول.

**سريزه**

معلوماتي سيستم د هغه ترلو عناصرو يو سيټ دی چې معلومات راټول، پروسېس، ذخيره او توزيع کوي. ترڅو په يوه اداره کې د کنټرول او تصميم نيونې پروسه پر مخ ولاړه شي. د دې سربيره همغږي او کنټرول ښايي له مديرانو سره د ستونزو په تحليل د پېچلو مسايلو په رابرسيره کولو او د نوي توليد په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي. معلوماتي سيستم د مهمو خلکو، ځايونو او شيانو په هکله اداري ته معلومات ورکوي. له معلوماتو ( Information ) څخه هدف ټول هغه ارقام او اعداد دي چې د بشر لپاره مفهوم لرونکیاو ګټور دي. د نن ورځې تجارت او کاروبار پرته له دغې مهمې وسيلې پرمخ نشي تللای. دا چې اداري سلوک تغير کوي نو د کارونو هماهنګي، تنظيم او اندازه ګيري هم د تغير په حال کې ده. په دوامدار ډول کار کوونکي په ټيم او پروژوي ډول کارونه ترسره کوي او د کار په ځای، تصميم نيولو او اداره کې له ټولنيزو شبکو څخه ګټه اخيستل کېږي. کار کوونکي هميشه يو بل سره په اړيکه کې وي او يو بل ګوري که څه هم په بېلابېلو ځايونو کې وي او وختونه يې تغير وي. نو ويلی شو چې د ( Cloud Computing ) او ( Digital Mobile Platform ) د اغېزمن رامنځته کېدلو مانا داده چې اداره اوس زياتره په ( Telework، Remote Work او Distributed Decision Making ) باندې اتکاء لري.

### ستونزه

اوسني عصر کې د کاروبارونو د ګړندي کولو او آسانه پرمخ بیولو لپاره معلوماتي تکنالوژي ډېره اړینه ده او په هغه پوهېدل او استعمالول یو مهم شرط ګڼل کېږي، خو له بده مرغه افغانستان کې اوس هم زموږ کمپنۍ او شرکتونه د کمپیوتر او معلوماتي تکنالوژۍ په هکله پوره معلومات نلري او کار پرې نشي کولای، نو ځکه د تجارت پرمهال دپانګې ګټه اصغري حد ته راښکته کېږي، کمپنۍ له ناهیلۍ سره مخامخ کېږي، د وخت ضایعات زیاتیږي، کاروباریان او کمپنۍ کې فعالیت سست او د ځنډ له امله د ملي عاید کچه را ټیټیږي او له روحي پلوه د کاروبار خاوند تر تاثیر لاندې راځي، نو د دې لپاره چې اقتصادي هدف ته ورسیږو، باید معلوماتي تکنالوژي تر کار لاندې ونیول شي. دغه تدابیر کولای شي چې زموږ سوداګریزې چارې ګړندۍ، آسانه او روښانه کړي.

### د څېړنې موخې

د دغې مقالې اصلي موخې دا دي:

- په کاروبارونو کې د معلوماتي تکنالوژۍ د رول پېژندنه.
- په کاروبار او تجارت کې د کمپیوتر په اهمیت او دنده پوهیدل.
- د کاروبار په برخه کې د ډیټاوو دنده پېژندنه.

### د څېړنې میتود

د دغې علمي مقالې په لیکلو کې له نویو او معتبرو ماخذونو څخه کار اخیستل شوی دی، یعنې دغه مقاله د کتابتوني میتود پر اساس بشپړه شوې ده، په وروستۍ برخه کې د افغانستان له شرایطو سره سم او د ټولنې او د افغانستان د اقتصادي حالت مطابق لازم سپارښتونه پکې شوي دي.

**تېرو ادبياتو ته کتنه**

څومره چې مو د هېواد دننه په ملي ژبو اقتصادي آثار له نظره تېر کړل، په هغو کې د کاروبارونو په ترقۍ کې د معلوماتي تکنالوژۍ په هکله کوم مستقل اثر نه و موجود. همدا ډول کومه مستقله څېړنه چې وکولای شي دغه موضوع روښانه او په علتونو او د حل په لارو چارو يې خبرې کړې وي، هم ونه موندل شوه، خو بهرنيو ماخذونو کې دا موضوع پوره مستدله شوې او مستقل تحقيقات په دې هکله موجود دي. د آلمان د رور- بوخم پوهنتون پروفيسور د انفارماتيک په نوم په ( ۱۹۹۰م ) کال يو ريډر ترتيب کړی دی. په دې اساس ويلای شو چې دا مقاله د لومړي ځل لپاره په يوه اقتصادي مسئله او معلوماتي تکنالوژۍ باندې بحث کوي، هيله ده د مقالې په پای کې راغلو وړانديزونو باندې عمل وشي، ترڅو زموږ کاروباريان او په مجموع کې ملي اقتصاد د معلوماتي تکنالوژۍ رول او اهميت ته متوجه شي او پرمختګ سره يې مرسته وکړي.

**پوښتنې**

1. آيا کاروباري کړنو اغېزمنتيا باندې د معلوماتي ټکنالوژۍ علت کېدای شي؟
2. آيا په افغانستان کې د کاروباري کړنو د ترسراوي په موخه له معلوماتي ټکنالوژۍ څخه استفاده نه کيږي؟
3. معلوماتي سيستم څه شی دی ؟

په تخنيکي لحاظ معلوماتي سيستم د هغو تړلو عناصرو يو سيټ دی چې معلومات راټول، پروسېس، ذخيره او توزيع کوي، ترڅو په يوه اداره کې د کنټرول او تصميم نيونې پروسه پر مخ ولاړه شي. د دې سربيره هماهنګي او کنټرول ښايي له مديرانو سره د ستونزو په تحليل د پېچلو مسايلو په رابرسيره کولو او د نوي توليد په رامنځ ته

کولو کې مرسته وکړي. معلوماتي سيستم د مهمو خلکو ځايونو او شيانو په هکله اداري ته معلومات ورکوي. له معلوماتو ( Information ) څخه هدف ټول هغه ارقام او اعداد دي چې د بشر لپاره مفهوم لرونکې او ګټور دي. ډاټا (Data) ټول هغه خام مواد او ارقام دي چې د اداري په فزيکي چاپيريال کې رامنځ ته شوي خو د نتيجه ګيرۍ له پلوه صنف بندي او برابرشوي نه دي. د دې توپير د وضع کولو لپاره يوګټور مثال دا دی، چې د يو سوپر مارکېټ د ( scan ) څارونکې تخته په ميليونو کوډونو ( Bar codes ) چک او په نښه کوي څو د توليداتو په هکله بېلابېل معلومات وړاندې کړي.

په ډاټا (Data) کې داسې شی چې راجمع او يو مفهوم لرونکی رقم (Information) ترې رامنځ ته شي شتون لري. د بېلګې په ډول په يو معلوم پلورنځي کې د يو معلوم توليد څو واحده خرڅ شوي، د کوم تجارتي مارک توليدات ډېر ځله په کومه سيمه کې خرڅيږي، په نوموړې سيمه کې په دې تجارتي مارک څومره لګښت راغلی.

د معمول له مخې د سازماني اړيکو په لړ کې د مديريت د معلوماتي سيستم اصطلاح کارول کيږي، که څه هم حتمي او الزامي نه ده، چې د مديريت معلوماتي سيستم دې خامخا کمپيوټري وي، خو په عمل کې بيا نن ورځ نوموړی سيستم کمپيوټري دی، نن ورځ له همدې لارې د تصديو او کاروبارونو چارې او تجارتي کارونه پرمخ ځي، د مديريت معلوماتي سيستم (MIS) په وسيله معلومات پروسيس، نشر او ليږدول کيږي.

نن ورځ د کمپيوتر د معلوماتو په ذريعه تجارتي سيستم پر مخ ځي. نوموړی سيستم نه يوازې دا چې کمپيوتر، بلکې د ارقامو او (input) لرونکی هم دی، چې هر يو له دغو څخه د يو بل سره د دوامداره تعامل په پايله کې يو هدف تعقيبوي، چې هغه د

ګټې او کاروبار د کارونو ښه کول دي. که څه هم د کاروبار معلوماتي سیستم له یوې داسې منسجمې معلوماتي شبکې سره تړلی دی چې په تجارتي او دګټو په تصمیم نیولو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي، خو په خاص ډول د آی ټي له معلوماتي سیستم څخه په ستراتیژیکې پلان جوړونه، د اړیکو او الکترونیکي سوداګرۍ له لارې د کمپیوټري خدمتونو وړاندې کولو په پیاوړتیا کې زیاته ګټه پورته کولای شو. (۸۸:۲)





معلوماتي سیستم کې درې مهم فعالیتونه او معلومات رامنځته کوي چې اداره ورته د تصـــمیم نیونې، د عملیاتو د څار، د ســـتونزو د تحلیل او د نوو خدماتو د رامنځ ته کولو لپاره اړتیا لري چې دا فعالیتونه عبارت دي له؛

( ۱-input ۲-processing ۳-out put.(3:27)).

Input: د ادارې له داخل او یا بهر څخه خام مواد دي؛

Processing: د خامو موادو په مفهوم لرونکې بڼه د اړولو پروسه ده.

Out put: د پروسېس شو یو معلوماتو انتقال د هغو خلکو فعالیتونوته چې له معلوماتي سیستم څخه استفاده کوي. همداراز ( feed back ) یا غبرګون هم ضروري دی چې د ادارې اړونده کسانو ته د ارزونې لپاره ورکول کیږي. ( out put ) د معلوماتي تکنالوژۍ مهم جز او اساسی وسیله کمپیوټر دی. کمپیوټر معلوماتي سیستم

په مفهوم لرونکو معلوماتو (Data) باندې د اړولو لپاره استعمالیږي. له یوی خوا د کمپیوټر او کمپیوټري پروګرامونو او له بلی خوا هغوي سره د معلوماتي سیستم تر منځ فاصله وجود لري. کمپیوټر او د هغه اړونده سافټ ویرونه تخنیکې دنده په غاړه لری کمپیوټرونه د معلوماتو د ذخیره کولو لپاره وسایل لري او سافټ ویر د کمپیوټر د پروسېس عملیاتی بهیر او کنټرول برابروي. په دې باندې پوهیدل چې کمپیوټر او د کمپیوټر پروګرامونه څنګه کار کوي او د ادارې د ستونزو لپاره څنګه حل وړاندې کوي د معلوماتي سیستم یوه برخه جوړوي.(3:27)

## په کاروبار کې د معلوماتي سیستم رول

## The Role of Information System in Business Today

اوسمهال د نړیوال اقتصاد په کچه کاروبار د تیر په شان نه دی، په ( ۲۰۰۸ ) کې متحده ایالتونو کې کاروبار نږدې ( ۸۴۰ ) بیلیونه ډالره په معلوماتي سیستم ، هارډویر ، سافټویر او ټیلی کمونیکېشن پورې اړونده وسایلو باندې لګولي . همدا راز له دې څخه علاوه به نور( ۹۰۰ ) بیلیونه ډالره په ادارې خدماتو ولګیږي، چې زیاتره برخه به یې له نوې تکنالوژۍ څخه د استفادې په موخه د کاروبار په دوباره ډیزانولو مصرف شي .

۱-۱.شکل: دمثال په ډول د امریکې متحده ایالاتو کې د آی.ټي. داستعمال زیاتوالی



۱- ۱ شکل کې ښکاري چې د ( ۱۹۸۰ ) او ( ۲۰۰۴ ) کلونو ترمنځ د خصوصي کاروبار پانګونه په معلوماتي تکنالوژۍ، هارډویر ،سافت ویر او ټیلی کمونیکېشن وسایلو کې له ( ۳۴ ) سلنې څخه ( ۵۰ ) ته د ټولې پانګونې په پرتله وده کړې.(3:28)

د یو مدیرپه حیث که تاسې په داسې کمپنۍ کې کار کوي چې معلوماتي سیستم کاروئ او په تشدیدي ډول په معلوماتي تکنالوژۍ کې پانګونه کوي، نوتاسې حتماً په دې پوهیدل غواړئ چې دا پانګه څنګه په کار واچول شي، که تاسې یو ښه تصمیم ونیسئ نو ستاسې کمپنۍ به له سیالو کمپنیو څخه مخکښه وي او که تاسې یو ساده تصمیم ونیسئ نو ښایي تاسو خپله ارزښتناکه پانګه له لاسه ورکړئ. دا لیکنه د دې لپاره ځانګړې شوې چې تاسو سره د معلوماتي تکنالوژۍ او معلوماتي سیستم په هکله د ښوتصامیمو په نیولو کې مرسته وکړي.

**معلوماتي سیستم څنګه د کاروبار بڼه بدلوي**

**How Information System Are Transforming Business**

تاسو کولی شئ هره ورځ په خپل شاوخوا کې خورا زیات لګښتونه ووینئ چې څنګه یې کاروباري خلک ترسره کوي. په تېرو کلونو کې د لاینې یا سیم لرونکي ټلېفون په پرتله زیات بې سیمه ګرځنده تیلفونونه د کاروبار لپاره په کار اچول شوي او ګرځنده ټلېفون ( email، I phone ،BlackBerry ) او آنلاین کنفرانسونه د یو بزنس لپاره اساسي وسایل ګڼل کېږي. د یادونې وړ ده چې ( 58% ) امریکایان خپل ګرځنده ټلېفون پرته له غربیزو موخو یا خبرو اترو څخه د نورو موخو یا خبرو اترو لپاره استعمالوي لکه لنډ پیغام لېږل، بریښنا لیک، عکسونه اخیستل، د نقشو کارول او ویډیو ریکارډ (Horrigan 2008) په جون ۲۰۰۸ کې له ( ۸۰ ) میلیونو زیاتو نړیوالو بزنسونو د ډاټ کام ویبپاڼې راجستر کړې وې چې یوازې په متحده ایالتونو کې ( ۶۰ ) میلیونونه ته رسیدلې. (۳۴۵:۴)



نن ورځ ( ۱۳۸ ) میلیونه امریکایان آنلاین خریداري کوي چې له هغې څخه ( ۱۱۷ ) میلیونه هره ورځ خریداري کوي او نږدې ( ۳۴ ) میلیونه په آنلاین ډول یوازې پلټنه کوي.

یو بزنس باید د مشتریانو بدلیدونکې تقاضا ته غبرګون وښیي. خپل ګودامونه تر ممکنې کچې راکم کړي او په ورځنیو چارو کې عملیاتي موثریت تر لاسه کړي . له همدې امله د خامو موادو عرضه ورځ تر بلې چټکتیا مومي او داضافي مصارفو دراکمولو لپاره د (Just-in-time ) ګودام په طریقه اتکأ مومي.

دا چې دورځپاڼو لوستونکي په کمېدو دي، نو ( ۶۴ ) میلیونه خلك خبر په آنلاین ډول تر لاسه کوي. تقریباً ( ٦٧ ) میلیونه خلك په متحده ایالتونو کې بلاګونه (Blogs) لولي او ( ۲۱ ) میلیونه خلك بلاګ لیکي چې دا د لیکنې په برخه کې انقلاب رامنځ ته کوي او د مشتریانو داسې ډلې یا فورمونه (Forms) رامنځ ته شوي چې کمپنیو ته خپل غبرګون استوي، کوم چې څو کاله پخوا موجود نه وو.

ټولنیزو رسنیو لکه ( Myspace ) او ( Facebook ) په میاشت کې په ترتیب سره نږدې ( ۷۰ ) میلیونه او ( ۳۰ ) میلیونه لیدونکي هڅولي او بزنس هم دغه ټولنیزې رسنۍ د خپلو کارکوونکو دنښلولو لپاره کاروي.

د اعلاناتوعوایدو په کال کې ( ۲۵ ) فیصده وده کړي چې په (۲۰۰۸) کال کې (۲۸) میلیونو ته رسېدلي.

د محاسبې نوی فدرالي قانون له کمپنیو غواړي چې د ایمیل لیکنې باید تر پنځو کلونو پورې وساتل شي. همدا راز دکسبگرو او روغتیا قوانین ټولې تصدۍ مکلفوي چې دکارگرو روغتیایي کېمیاوي معلومات تر ۶۰ کلونو وساتي چې په دې سره به په ډیجیټل ډول د معلوماتو ساتنې ساحه پراخه شي او د دغه ډول لابراتوارونو شمېر به زیات شي.

**په معلوماتي سیستم کې د مدیریت نوښتونه**

په تکنالوژیکي دوامداره بدلون او د بزنس په کامیابۍ کې د تکنالوژۍ رول د مدیریت معلوماتي سیستم په یو بزنس کې په زړه پورې موضوع گرځولې، زوړ سیستم په مطلق ډول له منځه خي او نوی سیستم یې ځای نیسي، نوې صنایع رامنځته کېږي او هغه کمپنۍ چې په نوې تکنالوژۍ سنبالې وي بریالۍ کېږي.



د ۱-۱ جدول په بزنس کې نوې راښکاره شوې بڼې ښکاره کوي چې په لنډ ډول يې تر بحث لاندې نيسو.

د تکنالوژۍ په عصر کې درې يو بل سره تړلي بدلونونه شته.

۱ – د موبايل غوړېدونکي ډيجيټل پلېټفارم، (IPhone،Blackberry Note Book)

۲ – د آنلاين خدماتو په ډول دسافټ وير وده.

۳ – په فضا کې ساتنه cloud computing چې زياتره سافټ ويرونه دانټرنټ له لارې کارول کيږي.

د يادولو وړ ده چې دا تغيرات په نورو تخنيکي برخو پورې هم تړاو لري لکه چټک او د بريښنا کم مصرفوونکي وسايل او نور تخنيکي وسايل.

يوټيوب ( Blackberry،IPhone، YouTube ) او فيسبوک يوازې عادي ډيجيټل او دساعت تېرۍ وسايل نه دي، بلکې دا د تکنالوژۍ د نوي دور نماينده ګي کوي چې په ځانګړي سافټ وير او هارډوير ولاړ او زياته پانګونه يې هڅولې ده چې نه يواځې دا پخپله کامياب توليدات دي، بلکې دکاروباري شرکتونو له خوا د يو برياليي کاروبار

په ډول پر مخ بیول کېږي، چې موږ دې ټولو پرمختیاوو ته Emerging Platform وایو.

مدیران په معمول ډول د (web 0.2) تکنالوژي د ټولنیزو رسنیو په ډول د ګډو همکاریو د وسیلې په ډول کاروي، ترڅو غوره او په وخت ژر تصامیم ونیول شي. په میلونو منیجران ګرځنده ټلیفون د کار کوونکو د تنظیم، د مشتریانو رضایت او اداري همغږۍ لپاره کاروي او د زیاترو لپاره پرته له ګرځنده ټلیفون څخه یوه کاروباري ورځ تېرول د منلو وړ نه ده.

دا چې اداري سلوک تغیر کوي، نو د کارونو هماهنګي، تنظیم او اندازه ګیري هم د تغیر په حال کې ده. په دوامدار ډول کار کوونکي په ټیم او پروژوي ډول کارونه ترسره کوي او د کار په ځای، تصمیم نیولو او اداره کې له ټولنیزو شبکو څخه ګټه اخیستل کېږي. کار کوونکي همیشه یو بل سره په اړیکه او یو بل ګوري که څه هم په بېلابېلو ځایونو او وختونو کې واقع وي، نو ویلی شو چې د( Cloud Computing او Digital Mobile Platform ) د اغېزمن رامنځته کېدلو مانا داده چې اداره اوس زیاتره په (Telework، Remote Work او Distributed Decision Making ) باندې اتکاء لري.

د غیر مرکزیت په اړه فکر وکړئ چې تصدي کولی شي د کمپنۍ له بهر څخه کارونه اداره کړي او زیاتره اتکاء نیغ په نیغه په مارکېټونو ولري. د دې مانا دا هم ده چې تصدي له عرضه کوونکو او مشتریانو سره مستقماً د نویو تولیداتو په رامنځته کولو یا د موجوده تولیداتو په لاموثریت کې ګډ عمل کولی شي.

په تکنالوژۍ کې دا ټول بدلونونه د اوسني بدلیدونکي نړیوال اقتصاد بڼه جوړوي، په حقیقت کې له معلوماتي سیستم پرته یو اقتصاد کامیابۍ ته نشي رسېدلی.

**پایله**

معلوماتي سیستم د هغه ترلو عناصرو یو سیټ دی چې معلومات راټول، پروسېس، ذخیره او توزیع کوي. ترڅو په یوه اداره کې د کنټرول او تصمیم نیونې پروسه پر مخ ولاړه شي. د دې سربېره هماهنګي او کنټرول ښایي له مدیرانو سره د ستونزو په تحلیل د پیچلو مسایلو په رابرسیره کولو او نوي تولید په رامنځته کولو کې مرسته وکړی. معلوماتي سیستم د مهمو خلکو، ځایونو او شیانو په هکله اداري ته معلومات ورکوي. د معلوماتو information څخه هدف ټول هغه ارقام او اعداد دي چې د بشر لپاره مفهوم لرونکي او ګټور دي او ډاټا(Data) ټول هغه خام مواد او ارقام دي چې د اداري په فزیکي چاپیریال کې رامنځ ته شوي خو د نتیجه ګیرۍ لپاره صنف بندي او برابرشوي نه دي. د دې توپیر د وضع کولو لپاره یوګټور مثال کافي دی. د یو سوپر مارګیټ د scan څارونکې تخته په میلیونو کوډونه Bar codes چک او په نښه کوي چې د تولیداتو په هکله بیلابیل معلومات وړاندې کوي د ډاټا(Data) دغه برخه کې ضروري موضوعات راجمع او یو مفهوم لرونکی رقم (information) ترې رامنځ ته کیږي. د بېلګې په ډول په یو معلوم پلورنځی کې د یو معلوم تولید څو واحده خرڅ شوی او د کوم تجارتي مارکیټ تولیدات ډېر ځله په کومه سیمه کې خرڅیږي او په

نوموړې سیمه کې په دې تجارتي مارك څومره لګښت راغلی. د معمول له مخې د سازماني اړیکو په لړ کې د مدیریت د معلوماتي سیستم اصطلاح کارول کېږي. (۸٦:۱)

که څه هم حتمي او الزامي نه ده، چې د مدیریت معلوماتي سیستم دې خامخا کمپیوټري وي، خو په عمل کې بیا نن ورځ نوموړې سیستم کمپیوتري دی، نن ورځ له همدې لارې د تصدیو او کاروباورنو چارې او تجارتي کارونه پرمخ ځي، د مدیریت معلوماتي سیستم(MIS) په وسیله معلومات پروسیس، نشر او لیږدول کېږي، نن ورځ د کمپیوتر د معلوماتو په ذریعه تجارتي سیستم پر مخ ځي. نوموړی سیستم نه یوازې دا چې کمپیوتر، بلکې د ارقامو او (input) لرونکی هم دی، چې هر یو له دغو څخه د یو بل سره د دوامداره تعامل په پایله کې یو هدف تعقیبوي، چې هغه د ګټې او کاروبار د کارونو ښه کول دي. که څه هم د کاروبار معلوماتي سیستم له یوې داسې منسجمې معلوماتي شبکې سره تړلی دی چې په تجارتي او د ګټو په تصمیم نیولو کې ورڅخه کار اخیستل کېږي، خو په خاص ډول د آی ټي معلوماتي سیستم څخه په استراتیژیکي پلان جوړونه، د اړیکو او الکترونیکي سوداګرۍ له لارې د کمپیوتري خدمتونو وړاندې کولو په پیاوړتیا کې ګټه پورته کولای شو.

**مناقشه**

که چېرې زموږ پانګوال، تجاران او کاروباریان خپلو چارو کې له معلوماتي تکنالوژۍ څخه کار واخلي او دغه سیستم باندې حاکمیت ولري، د دوي د وخت ضایعات به کم او له معاملاتي خطرونو به بچ شي. معلوماتي سیستم د هغه تړلو عناصرو یو سیټ دی چې معلومات راټول، پروسېس، ذخیره او توزیع کوي، ترڅو په یوه اداره کې د کنټرول او تصمیم نیونې پروسه پر مخ ولاړه شي. د دې سربیره همغږي او کنټرول

ښايي له مديرانو سره د ستونزو په تحليل، د پېچلو مسايلو په رابرسيره کولو او د نوي توليد په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي. معلوماتي تکنالوژي اومعلوماتي سيستم د مهمو خلکو، ځايونو او شيانو په هکله اداري ته معلومات ورکوي. له معلوماتو ( Information ) څخه هدف ټول هغه ارقام او اعداد دي چې د بشر لپاره مفهوم لرونکي او ګټور دي. په ډاټا (Data) کې داسې شی چې راجمع او يو مفهوم لرونکی رقم (Information) ترې رامنځ ته شي شتون لري. د بيلګې په ډول په يو معلوم پلورنځي کې د يو معلوم توليد څو واحده خرڅ شوي، د کوم تجارتي مارك توليدات ډېر ځله په کومه سيمه کې خرڅيږي، په نوموړې سيمه کې په دې تجارتي مارك څومره لګښت راغلی.

معلوماتي سيستم کې درې مهم فعاليتونه داسې معلومات رامنځته کوي چې اداره ورته د تصميم نيونی، د عملياتو د څار، د ستونزو د تحليل او د نوو خدماتو د رامنځ ته کولو لپاره اړتيا لري چې دا فعاليتونه عبارت دي له: ۱-input ۲-processing ۳-out put

Input: د اداري له داخل او يا بهر څخه د خامو موادو راټولول.

Processing: د خامو موادو په مفهوم لرونکې بڼه د اړولو پروسه ده.

Out put: د پروسېس شو يو معلوماتو انتقال هغو خلکو فعاليتونو ته چې دمعلوماتي سيستم څخه استفاده کوي. همدا راز ( feed back ) يا غبرګون هم ضروري ( out put ) دی چې د اداري اړونده کسانو ته د ارزونی لپاره ورکول کيږي. د معلوماتی تکنالوژي مهم جز او اساسي وسيله کمپوټر دی. کمپيوټر معلوماتي سيستم په مفهوم لرونکو معلوماتو (Data) باندې د د اړولو لپاره استعماليږي. له يوی خوا د کمپيوټر

او کمپیوټري پروګرامونو او له بلی خوا هغوي سره د معلوماتي سیستم ترمنځ فاصله وجود لري. کمپیوټر او د هغه اړونده سافټ ویرونه تخنیکي دنده په غاړه لري کمپیوټرونه د معلوماتو د ذخیره کولو لپاره وسایل لري او سافټ ویر د کمپیوټر د پروسېس عملیاتي بهیر او کنټرول برابروي په دی باندې پوهیدل چې کمپیوټر او د کمپیوټر پروګرامونه څنګه کار کوي او د ادارې د ستونزو لپاره څنګه حل وړاندې کوي د معلوماتي سیستم یوه برخه جوړوي.

**پایله اخیستنه**

معلوماتي سیستم د هغو ترلو عناصرو یو سیټ دی چې معلومات راټول، پروسېس، ذخیره او توزیع کوي. ترڅو په یوه اداره کې د کنټرول او تصمیم نیونی پروسه پر مخ ولاړه شي. د دې سربیره هماهنګي او کنټرول ښايي له مدیرانو سره د ستونزو په تحلیل د پیچلو مسایلو په رابرسیره کولو او نوي تولید په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. معلوماتي سیستم د مهمو خلکو ځایونو او شیانو په هکله ادارې ته معلومات ورکوي. د معلوماتو ( Information ) څخه هدف ټول هغه ارقام او اعداد دي چې د بشر لپاره مفهوم لرونکي او ګټور دي. په ډاټا (Data) کې داسې شی چې راجمع او یو مفهوم لرونکې رقم (Information) تری رامنځ ته شی شتون لري. د بیلګی په ډول په یو معلوم پلورنځي کې د یو معلوم تولید څو واحده خرڅ شوي، د کوم تجارتي مارك تولیدات ډېر ځله په کومه سیمه کې خرڅیږي، په نوموړی سیمه کې په دی تجارتي مارك څومره لګښت راغلی.

د معمول له مخی د سازماني اړیکو په لړ کې د معلوماتي سیستم د مدیریت اصطلاح کارول کیږي. (۸۶:۱)

که څه هم حتمي او الزامي نه ده، چې د مديريت معلوماتي سيستم دې خامخا کمپيوټري وي، خو په عمل کې بيا نن ورځ نوموړې سيستم کمپيوتري دی، نن ورځ له همدې لارې د تصديو او کاروبارونو چارې او تجارتی کارونه پرمخ ځي، د مديريت معلوماتي سيستم (MIS) په وسيله معلومات پروسيس، نشر او لېږدول کېږي. نن ورځ د کمپيوتر د معلوماتو په ذريعه تجارتی سيستم پر مخ ځی. نوموړی سيستم نه يوازې دا چې کمپيوتر، بلکې د ارقامو او (input) لرونکې هم دی، چې هر يو له دغو څخه د يو بل سره د دوامداره تعامل په پايله کې يو هدف تعقيبوي، چې هغه د ګټې او کاروبار د کارونو ښه کول دی. که څه هم د کاروبار معلوماتي سيستم له يوې داسې منسجمې معلوماتي شبکې سره تړلی دی چې په تجارتي او د ګټو په تصميم نيولو کې ورڅخه کار اخيستل کېږي، خوپه خاص ډول د آی ټي معلوماتي سيستم څخه په استراتيژيکې پلان جوړونه، د اړيکو او الکترونيکې سوداګرۍ له لارې د کمپيوتري خدمتونو وړاندې کولو په پياوړتيا کې ګټه پورته کولای شو.

**وړانديزونه**

۱. ډېره به غوره وي چې د کمپيوتر ساينس پوهنځی داسې پروګرامونه ډيزاين کړي چې زموږ د کاروباريانو سره په چارو کې مرسته وکړي او دوي ته په دی برخه کې روزنه ورکړي.

۲. اوسنيو شرايطو کې د معلوماتي تکنالژۍ په برخه کې اموزشي مواد په تېره بيا ملي ژبو باندې ډېر کم دي، هيله ده د روزنيزو مراکزو او موادو بډاينې ته توجه وشي.

۳. د بي بي ای د يپارتمنت کې بايد درې کريډټونه د معلوماتي تکنالوژي د زده کړی لپاره اضافه شي.

۴. د نورم او ستنندرد اداره باید د ملی تولید لپاره د پرمختللو هېوادونو په شان د معلوماتي تکنالوژۍ لاربنود وضع او معیارونه او دیتابیس یې دوي ته په واک کې ورکړي.

**ماخذونه**


۱. دودیال، محمد بشیر.(۱۳۹۴).د سازماني اړیکو مدیریت، درسی کتاب. ننگرهار پوهنتون – د عامه اداري پوهنځی : یار خپرندویه ټولنه، ننگرهار- افغانستان.

2. F،Versign.(2008) Introduction of Information Technology. McGraw Hill،USA.

3. Gabriel، Ronald. (1990)، Business Informatics. IEE، Bochum University.

4. K.Horign.(2008) Buisness and Modren Technology. McGraw Hill، USA.

5. Uwe،F.Guhl and M،Daud Alam.(2016) Project Manage ment. Springer press، Germany.

**پوهنمل محمد عرفان قریشي**

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، اداری او ديپلوماسۍ څانګه

لارښود استاد: پوهنوال منګل شېرزاد

# د رهبرۍ ځانګړتیاوو تیوري او په عمل کې ترې ګټه اخیستنه

## لنډیز

د سلوك د پوهانو د لیوالتیا له امله د رهبرۍ شخصیتي کړو وړو په اړه څېړنې او لومړنۍ مطالعې په شلمه پېړۍ کې ترسره شوي دي، د (۱۹۰۰) زېږدیز کال په لومړیو کې د رهبرانو د شخصیت په اړه څېړنې په دې سرلیك سره پیل شوي، چې (کومې ځانګړتیاوې رهبرانو ته لوړتیا ورکولای شي؟) هغو تیوري ګانو چې په دې اړه پراخوالی پیدا کړ، په (لوی سړي) سره شهرت وموند، ځکه چې د دې تیورۍ تاکید د لوی رهبر، ټولنیز، سیاسي او نظامي شخص لکه د مهاتما ګاندي د دننیو صفاتو او شخصیتي ځانګړتیاوو باندې و، باور په دې دی، چې دغه کسان د رهبرۍ د صفاتو سره یو ځای پیدا شوي دي او یواځې لوی خلك د دغو صفاتو لرونکي دي ، په دې هکله څېړنې ښاییچې په واضحه توګه شخصیتي ځانګړتیاوې، رهبران د خپلو پیروانو څخه جلا کوي، د رهبرۍ شخصیتي (خصلتي) تیورۍ تعریف داسې کېږي: د هغه تیورۍ څخه عبارت دی، چې هڅه کوي هغه ځانګړي صفات کوم چې د اغېزناکې رهبرۍ لپاره اړین دي، واضح کړي.

د (۱۹۰۰) زېږدیزې پیړۍ په منځ کې د شخصیتي ځانګړتیاوو په تکیه د رهبرۍ د طریقې د جوړولو په اړوند نړیوالې څېړنې پیل شوي، په یوې څېړنه کې استاګدیل په (۱۹۴۸) زېږدیز کال وړاندې کړه، چې یو کس په یو موقعیت کې د یو ډول ځانګړتیاوو او خصوصیاتو سره نه شي کېدای، په بل موقعیت او شرایطو کې همغه

ډول رهبر وي او مخکې له دې چې په رهبرۍ کې هغه صفات چې خلك يې لري مطرح شي، رهبري د یوې اړیکې په ډول چې خلك يې لرونکي وي، د ټولنیزو اړیکو څخه برخوردار وي، خلاصه کیږي، البته د رهبر شخصیتي ځانګړتیاوې خپله د اهمیت لرونکي دي، خو څیړونکي باور لري، چې دغه صفات د شرایطو او موقعیت پورې تړاو لري او همیشه یو ډول نه وي .

**کلیدي کلمې**: رهبري، د رهبرۍ ځانګړتیاوې، موقعیتونه، استاګدیل.

**سریزه**

رهبري د ټولنې د ټولو غړو لپاره یوه مهمه په دېده ده، یو سوداګر، بزګر، ښوونکی، د یوې کورنۍ والدین، د پارلمان یو وکیل، یو قانون پوه، د مسجد امام، د رسمي یا غیر رسمي ټولنو مشران ... هر یو له دوی څخه د ځینو کسانو مشري په غاړه لري او اړتیا ده چې په ورځني ژوند کې مشخص او ټاکلي کارونه سمبال کړي، هغوي باید د رهبرۍ په اصولو او معیارونو پوه شي.

نن ورځ رهبري یوه لویه نړیواله مسله ده، د ملت جوړونې او د یوې مدني ټولنې د پرمختګ لپاره اړینه ده ترڅو ټول نړیوال ورته پاملرنه وکړي. دا مسله زموږ د دردېدلي او ځپېدلې ټولنې لپاره هم اړینه ده، ځکه که د خپل هېواد د وروسته پاتې والي لاملونه مشاهده کړو؛ نو زموږ د بدبختیو یو لامل د نیمګړې رهبرۍ او مشرتوب شتون دی. که چېرې زموږ په اداراتو کې ښه، ماهر او هوښیار رهبران او مشران وګمارل شي او د رهبرۍ په اصولو او معیارونو باندې سمبال وي؛ نو لرې به نه وي چې موږ به هم د نورو پرمختللو هېوادونو سیال او د هغو په څېر پرمختګ وکړو.

## د څېړنې اړتیا

نن سبا که موږ خپلو سازمانونو ته ځیر شو؛ نو مدیران لرو خو متاسفانه چې نوموړي مدیران د رهبرۍ پر اصولو او ځانګړتیاوو آګاه نه دي؛ نو له همدې امله زموږ سازمانونه د ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوي دي او مدیران نه دي توانیدلي، چې خپلې دندې په اغېزناکه او ګټوره توګه ترسره کړي، ځکه چې دوي مکلف دي چې د غوره مدیریت لپاره د رهبرۍ ځانګړتیاوې پر ځان پلي کړي؛ نو دا څېړنه له همدې امله ترسره شوې چې نوموړي مدیران د رهبرۍ په اړینو ځانګړتیاوو پوه شي او سازمانونه په ښه شکل پرمخ یوسي، همدارنګه زموږ د ټولنې وروسته پاتې والي یو لامل د غوره رهبرۍ نه موجودیت دی او مشاهده کېږي، چې زموږ په سازمانونو کې هم متاسفانه داسې کسان حاکم دي چې د رهبرۍ په اصولو باندې سمبال نه دي او د هغوی په مشرتوب کې ډېرې ستونزې لیدل کېږي؛ نو په کار ده چې د رهبرۍ ځانګړتیاوې خپلې کړي، ترڅو غوره رهبران اوسي، ټولنې او سازمانونو ته مثبت تغیر ورکړي.

## موخې

۱ـ د غوره رهبرۍ لپاره د ځانګړتیاوو مشخصول.

۲ـ په رهبرانو کې مثبت بدلون راوستل.

## مواد او کړنلاره

نوموړې څېړنه د دویم لاس معلوماتو په اساس د څېړنې د توصیفي (کیفي) میتود له مخې د (کتابونو، نشر شوو مقالو او د انټرنیټ دځانګړو ویب پاڼو) څخه لاسته راوړي او لیکلي ده.

### تېرو لیکنو ته کتنه

د دې موضوع په اړه مختلفو کتابونو کې یادونه شوي ده، لکه پیټر جې نارټ هاوس (Peter. G Northouse) همدارنګه ارلي یون او ځینو نورو کتابونو کې یادونه شوې ده، خو ما د هغه کتابونو څخه د رهبرۍ ځانګړتیاوې چې کوم ډېر مهم ګڼل کیږي را ټول کړي او په منظم شکل مې پرې بحث کړی دی.

### د رهبرۍ ځانګړتیاوې

د رهبرۍ ځانګړتیاوې چې د مختلفو علماوو لکه استاګدیل (Stogdil)،مان (Mann)، کرک پاترک (Kirkpatrik)، زیګرو (Zaccaro) او نورو لخوا وړاندې شوي ډېرې دي، خو له هغو څخه مهمې ځانګړتیاوې، د یو رهبر او رهبر کېدلو لپاره ارزښتناکې دي، په لاندې ډول دي.

#### ۱- هوښیاري

د رهبر هوښیارتیا او زیرکتیا د هغې ډلې په پرتله چې دا یې مشري په غاړه لري، ډېره ده، مګر باید دې ټکي ته متوجه اوسئ! چې د هوښیارۍ اختلاف د رهبر د ډلې د نورو افرادو سره دومره زیاته نه وي، چې د تفاهم مشکل رامنځ ته کړي(۲:۱۶)

او په نتیجه کې د رهبر او د پیروانو ترمنځ روابط خراب کړي. عقل او یا د عقل قدرت د رهبرۍ سره مثبته اړیکه لري، د بیان د قدرت، پیژندلو قدرت او استدلال قدرت درلودل کولی شي، یو شخص ښه رهبر جوړ کړي، تر ټولو ښه دا ده، چې یو رهبر روښانه او ښه فکر ولري، خو څېړنو ښودلې چې د رهبر عقل او هوش باید د لاس لاندې وګړو او پیروانو سره ډېر توپیر ونه لري، په هغه صورت کې د رهبر د هوښیارتیا ضریب (I.Q) د لاس لاندې وګړو سره ډېر توپیر ولري، کولی شي په پیروانو باندې

بالعکس اغېزه وکړي. رهبران د لوړو وړتیاوو سره کېدای شي، د پیروانو سره په اړیکو کې ستونزه پیدا کړي، ځکه د هغوی نظریات به ډېر لوړ وي او پیروان به د هغوی په نظریاتو پوه نه شي او وبه یې نه مني.(۱:۲۳)

ادوین ګسلي د څو مدیرانو په اړه (لوړ پوړي، منځ پوړي او ټیټ پوړي مدیران) څېړنه ترسره کړه او دې پایلې ته ورسېدل، چې دوه عامله د موثر او غیر موثر رهبرانو په پېژندلو کې مهم رول لري، یو هوښیاري او بل د سرپرستۍ وړتیا درلودل.(۹:۱۳۳)

## ۲- په خپل نفس باور

په خپل نفس باور درلودل د رهبرانو یوه بله شخصي ځانګړتیا ده، چې د یو رهبر سره ډېره مرسته کوي. رهبري نوښت، مثبت او جوړ شوي فکر ته اړتیا لري، د مختلفو ډلو رهبران د نورو افرادو په نسبت په ځان ډېر اعتماد لري، هر څوک چې په ځان ډېر اعتماد ولري، د نور په نظر د آني او فوري ستونزو د حل لپاره د ځانګړو مهارتونو لرونکي وي او کولی شي چې په سازمان کې ستونزې په سرعت سره حل کړي.

په خپل نفس باور درلودل رهبر ته په خپلو صلاحیتونو او مهارتونو کې د اطمئنان قدرت وربښي. په خپل نفس باور درلودل د احترام او اطمینان احساس دی او یا داچې یو کس کولی شي توپیر منځته راوړي، په رهبرۍ کې په نورو اغېز ښندل او په خپل نفس باور درلودل رهبر ته توانایي ورکوي، چې د اطمینان احساس وکړي او د ده هڅې وکولی شي په نورو ښه او مناسب اغېزه وښندي.(۱:۲۴)

## ۳- عزم او اراده

ډېر رهبران عزم او اراده ښودونکې دي، عزم یوه هیله ده، د د دندې ترسره کولو لپاره او نوښت، مقاومت، محکموالی او خوځښت منځته راوړي، وګړي په اداره کې د عزم

او ارادې په ښودلو سره د ځان ثابتولو هڅه کوي، ستر فعالیتونه ترسره کوي او د موانعو له منځه وړلو وړتیاوې لري، د ارادې لرل او په خپل وخت پرېکړه کول په هغه وخت او حالاتو باندې تسلط ښودل دي، چې د لاس لاندې وګړي لارښوونې ته اړتیا ولري. (۲۵:۱)

## ۴- ریښتینولي

ریښتینولي بل د رهبرۍ مهه ځانګړنه ده، ریښتینولي د صداقت او اعتماد صفت دی، کله چې خلك یو لړ ځواکمنو اصولو ته وفادار پاتې کېږي او د خپلو کړنو مسولیت پر غاړه اخلي، نو د ریښتینولۍ ښودونکې دي، رهبران د ریښتینولۍ سره په نورو کې جرأت پیدا کوي، ځکه چې هغوی چې څه وایي، ترسره کوي یې او خلك هم پرې اعتماد کوي. دوي وفادار، د اعتماد وړ او دوکه بازه نه وي، په اساسي ډول سره د ریښتینولۍ سره یو رهبر د اعتماد او اعتبار وړ ګڼل کېږي. (۲۵:۱)

## ۵- ټولنیزتوب

بله ځانګړتیا چې ډېره اړینه ده، د رهبر ټولنیز کېدل دي. ټولنیز کېدل د یو رهبر هغه سیرت دی، چې په ټولنه کې د ښوو اړیکو ټینګولو لامل کېږي، هغه رهبران چې ټولنیز خوي لري، په ډېر دوستانه ډول رفتار کوي، ډېر صمیمي، با ادبه، بانزاکته او د نورو اړتیاوو ته د رسیدو لپاره ډېر لېواله وي او د هغوي ښېګنو په اړه خواخوږۍ ښودنه کوي. ټولنیز رهبران په شخصي اړیکو کې پوره مهارت لري او خپلو لاس لاندې وګړو سره همکارۍ او مرستې ته پراختیا ورکوي. (۲۶:۱)

لاوو ـ زو چې یو عالم دی، داسې وینا کوي:
((غوره رهبري د فکر پاکوالي ته اړتیا لري، که تاسو ډاډمن نه یاست، چې چېرته روان یاست؛ نو د خلکو مشري کولو پرځای به خلکـ تیت او پرکـ کړئ، که غواړئ خلکـ رهبري کړئ؛ نو تاسو تر شا یې چکر وهل پیل کړئ)).(۸:۱۴۰)

**۶- ټولنیز اخلاق**

یو بل خصلت چې د رهبرانو له ځانګړنو څخه دی، چې باید ټولنیز اوسي، یعنې په ګڼو ټولنیزو فعالیتونو کې ګډون ولري او په دغو مجلسونو کې بغیر د تأخیر څخه د ډېرو افرادو نظریاتو ته لاړښوونه وکړي او په ټولنه کې د افرادو سره ښه اړیکې ټینګې کړي او تل ښه اخلاق او ښه سلوک له خلکو سره وکړي؛ نو اخلاقي چال چلند مو سم کړئ، ترڅو کار کوونکي او لاس لاندې کسان په دې برخه کې ښه او غوره عمل وکړي.(۶:۱۶)

**۷- انضباط**

د یو رهبر د افکارو، ویناوو او کړنو ترمنځ همغږۍ موجودیت ته د یو رهبر د انضباط ځانګړنه وایي، پر دې سربېره د انضباط څخه هدف د یو منظم او صحي پلان له مخې کار کول دي.

بریا په اسانۍ سره نه ترلاسه کېږي، رهبران په کارونو کې له خپلو انګېزو کار اخلي، په ټوله کې ویلی شو مشران تر نورو ډېر سخت کار کوي، دوي د کار پر مهال خپل وخت په بې ځایه ګرځېدو او د فیسبوک په شان په افواهاتو نه تیروي، مشران چې کله کار ځای ته دننه شي، خپل وخت ته ډېر ارزښت ورکوي.(۷۷:۴)

رهبر که څومره با استعداده وي، پرته د نظم او شخصي انضباط څخه کوم ځاي او مقام ته نه رسېږي، پوهېږو چې رهبران معمولاً کم وخت لرونکې وي؛ نو بناء پر دې یواځې هغه څه چې له هغوی سره کولی شي، چې مرسته وکړي، د لومړیتوبونو په اړه د یو منظم پلان جوړول دي، که وکولی شو چې خپل لومړیتوبونه مشخص کړو او نور فرعي مسایل له منځه یوسو؛ نو کولی شو چې په ارامۍ سره خپل مهم او ضروري کارونه سرته ورسوو او دا هماغه د نظم او شخصي انضباط جوهر دی، د دې ترڅنګ باید ووایو چې نظم او شخصي انضباط یو موقتي او یو بار استعمال زموږ په ژوند کې نه وي، بلکې زموږ د ژوند یو تل پاتې او همېشنۍ برخه وګرځي، د دې نظم او انضباط د ایجاد لپاره باید خپل لومړیتوبونه مشخص کړو او د یو پلان له مخې باید عمل وکړو، هر رنګه توجیه، بهانې او عذرونه له منځه یوسو ځینې کارونه د ستونزو په خاطر په تعلیق کې وا نه چوو (۵۸:۴)

**۸- ځان پېژندنه**

کامیاب رهبران د هر څه څخه مخکې د خپل ځان په پېژندنه کې ډېر کوښښ کوي او د خپلو نیمګړتیاوو حل لپاره قدم پورته کوي او چې په یوه موضوع نه پوهېږي، باید ووایي هڅه به وکړم چې په اړه به یې ځان پوه کړم.

تاسو هغه څه جوړېږئ، چې د هغه په هکله فکر کوئ، کوم انځور چې تاسو په خپل ذهن کې جوړوئ، په حقیقت کې ستاسو کړنلاره مشخصوي، که چېرې تاسو د خپل ذهن انځور بدل کړئ او خپل ځان ته د یو مشر په توګه وګورئ، کولی شئ یو ښه مشر جوړ شئ.(۱۳:۴)

رهبر باید یو ربښتینی انځور د ځان په هکله ولري، داچې ته (مشر) څوک یې؟ په څه پوهېږې؟ اوڅه کولی شې؟ که چېرته تر لاس لاندې کسان د خپل مشر په اړه شکمن

او ناباوره وي؛ نو دا په دې معنا ده، چې د دوی مشر د مشرتوب جوګه نه دی، که غواړئ چې بریالي اوسئ نو خپل پلویان باید تشویق کړئ، چې تاسو د باور او پلوۍ وړ یاستئ.(۱۵:۷)

**۹- ژمنه (تعهد)**

ژمنه څه شی دی؟ دا کلمه د هر چا لپاره ځانګړې معناوې لري:

د سوك وهلو، د غورځېدلو څخه وروسته د ژر پاڅېدلو په معنا هم راځي او د ځغاستې په سیالۍ کې تیزه منډه وهل او د نورو څخه د مخکې کېدلو په معنا هم راځي، د یو سرتیري لپاره هم استعمالېږي، چې د درې هغه لور ته روان وي او په دې هم نه پوهېږي، چې د هغه شا ته څه مسئله ده.

د یو خیرخوا فرد لپاره هم استعمالېږي، چې د نورو د راحت او مصلحت لپاره خپل راحت او سکون پرېږدي.

که غواړئ، چې یو ګټور رهبر اوسئ، باید ژمن اوسئ او د مسولیت احساس وکړئ، رښتیني ژمنه خلك ترغیبوي او هغوی جذبوي. ژمنه ستاسو د اعتماد ښکاره کوونکې ده، خلك هغه وخت پر موږ اعتماد کوي، چې کله موږ د هغوی غوښتنو ته ځواب ورکوونکي اوسو، خلك لومړی رهبران ارزوي او د هغې وروسته یې خبرو ته غوږ نیسي.

ژمن رهبر هغه څوك دی، چې د سپېڅلي وجدان خاوند وي، نو همدا لامل دی چې د ځان او نورو لپاره د نیکمرغۍ دروازې پرانېزي.(۴۰:۱۰)

ته حرکت وکړه! خداي به برکت کوي، معمولاً هغه کسان چې ډېره انرژي لري، د ځان لپاره ښه فرصتونه رامنځ ته کوي، هغه ځوان چې د لمر راختو په وخت کې لاوو کوي، له ځواک او لیوالتیا څخه ډک دی، کله چې فرصت ویني، په کار پیل کوي، هېڅوک هم نه غواړي، چې داسې انسان ته موقع ورکړي، چې لټ وي، ځکه هغوی پوهېږي، چې هغه له دې موقع څخه ګټه پورته کولی نه شي؛ نو موږ کولی شو چې ووایو، هڅاند کسان خپله فرصتونه رامنځ ته کوي او د بخت په تمه نه وي، په حقیقت کې یو بریالی رهبر تل د فرصتونو په لټه کې وي، ترڅو یې ومومي، یا په اصطلاح هغه په توپ پسې ځغلي.(۵:۲۰)

په نړۍ کې داسې لوی رهبر نه دی، لیدل شوی، چې ژمن نه وي او اصولاً د ژمنې او مسولیت څخه بغیر رهبري نه کېږي. ژمنه موږ سره مرسته کوي او داسې ځواک رابښي، چې هر رنګه شرایطو او ستونزو سره مقاومت او مبارزه وکړو او د خپل هدف څخه سترګې وانه ړوو، باید په دې پوه شو، چې د ژمنې یواځېنی معیار عمل دی.

ارتورګوردن وایي: ((وینا کول اسانه نه دي او له دې څخه بل ستونزمن کار نشته چې بیا خپله وینا په عمل بدله کړئ)).

ژمنه یو داسې عامل دی، چې د ستونزو په وخت کې موږ مخ په وړاندې بیایي، دیویدم مک نالي داسې وایي: ((ژمنه د دې لامل کیږي، چې کله هم ځمکه څومره وخوځېږي؛ نو سړی په خپلو پښو ودرېدلی شي)).

که غواړو چې د خپلې ژمنې تله پورته یوسو؛ نو باید له ځانه وپوښتو چې د کوم کار لپاره خپل ځان حاضرولی شو؟ او بیا وګورو چې زموږ اعمال او فعالیتونه له دغو نظریاتو سره سمون خوري او کنه؟ نو د ځان سره د ژمنې په اړه ښه کار دا دی، چې

خپل پروګرامونه او نظریات عملي کړو. تر هغې پورې چې د هغې په اړه یواځې فکر کوو، نه شو کولی چې ښه او ګټور کارونه اجرا کړو، کله چې هغه کارونه اجرا کړو، نو بیا موږ په خپله ژمنه عمل کړی دی.

د اډیسون روش (Thomas Alva Edison) په دې مسئله کې یو مناسب روش دی، هغه چې به په کومې اختراع کولو باندې کار شروع کوو؛ نو د مطبوعاتو او رسنیو څخه یې غوښتنه کوله، چې له هغې سره مرکه وکړي او وروسته خبر ټولو ته نشر کړي او د هغې وروسته به لابراتوار ته تللو او هغه شی به یې اختراع کولو، د نظریاتو عملي کول د ژمنو د ایجاد لپاره یو مناسبه د حل لاره ده.(۵۲:۴)

## د ځانګړتیاوو تیورۍ څخه په عمل کې ګټه اخیستل

د ځانګړتیاوو تیوري د رهبرۍ په اړه ارزښتناکه معلومات وړاندې کوي، په ټولو سازمانونو کې افراد چې په هره کچه کې وي، نوموړې تیوري پر ځان تطبیقولی شي، همدارنګه د ځانګړتیاوو تیوري یواځې د ځانګړتیاوو یوه مجموعه نه ده، بلکې دا لارښوونه هم کوي، که څوک د رهبرۍ موقعیت لپاره هیله مند وي؛ نو باید کومې ځانګړتیاوې ولري، د ځانګړتیاوو ارزیابۍ او د دې په شان د نورو پوښتنپاڼو په وسیله خلك پوهېدلی شي، چې ایا هغوی هغه ځانګړتیاوې لري، چې د رهبرۍ لپاره اړین ګڼل کېږي او د رهبرۍ په اړه د خپلو پیاوړو او کمزور ټکو ته اشاره کولی شي.

لکه چې مخکې پرې بحث وشو، رهبران او مدیران د ځانګړتیاوو تیورۍ د معلوماتو په وسیله ارزیابي کولی شي، چې په سازمان کې په کوم ځای کې قرار لري او هغوی باید څه وکړي، ترڅو خپل موقعیت ته پرمختګ ورکړي، د ځانګړتیاوو تیوري هغه ټکې په ګوته کوي، چې ستاسو شخصیتي ځانګړتیاوې د سازمان لپاره ډېر ګټور وي

او هغه ټکې چې تاسو باید ډېر تمرین کړئ، ترڅو ورته پرمختګ ورکړئ، د ځانګړتیاوو تیورۍ څخه په ګټې اخیستنې رهبران او مدیران په دې پوهېدلی شي، چې هغوی څوک دي او په سازمان کې څرنګه پر نورو اغېزه ښندلی شي.

په نتیجه کې ویلی شو، چې عصر حاضر د تغیر او پیشرفت عصر دی او د تغیراتو ضامن ټولنیز سازمانونه دي، چې د رهبرانو او مدیرانو په واسطه یې مدیریت او رهبري کیږي؛ نو بناً د دې لپاره چې د مثبت تغیر په حال کې وي، نه یواځې رهبران بلکې نور افراد د سازمانونو باید په علم، نوښت او هغه خصوصیات او صفات چې ذکر شو، ترلاسه کړي او باکفایته افراد باید واوسي، ترڅو د ستونزو په مقابل کې مستحکم ودرېږي او په ټوله کې سازمان ته پرمختګ ورکړي.

**پایله**

په وروستیو کلونو کې نوي فعالیتونه د څېړونکو د علاقې له مخې د رهبرۍ اړوند د شخصي ځانګړتیاو په بناء او داچې دغه صفات څرنګه کولای شي، په رهبرۍ باندې اغېزمن وي، پیل شوي دي، د مثال په ډول د یوې نوې تجزیې او تحلیل په اساس چې د رهبرۍ د ځانګړتیاوو د پخوانۍ څېړنې په اساس سرته رسېدلي دي، (لرد، وادر او الیګر) په نامه څېړونکو وموندله، چې شخصیتي ځانګړتیاوې او خصوصیات په زیاته پیمانه د رهبرانو د ادارک پورې اړه لري، په همدې ډول (کرک پاتریک او لاک) څېړونکي تر دې اندازې مخکې لاړل او ادعا یې وکړه، چې په دقیقه توګه اغېزمن رهبران له نورو څخه جلا ځانګړنې او صفات لري.
په دې اړه نور شواهد کولی شي د څېړونکو څخه په نویو وړاندې شوو اثارو کې په ډېرو کې د رهبرۍ نښې ولیدل شي یعنې کومې ځانګړتیاوې چې څېړونکو ښودلې، کېدای شي، ځینې له هغو څخه په ډېرو انسانانو کې ولیدل شي.

په پای کې ویلی شو چې په شخصي ځانګړتیاوو او خصوصیاتو باور اوس هم ژوندی او ثابت دی، دغه نظر په لویو صفاتو پیل شوی او وروسته د موقعیت په اثر له منځه تللی او د نویو څېړنو سره بیا په هماغه لومړۍ طریقه یعنې د رهبر د شخصي ځانګړتیاوو او صفاتو په تاکید منځته راغلې، او په ډېرو څېړنو کې دا تاکید شوی چې د رهبرانو او غیرو رهبرانو ترمنځ توپیر په دغه ځانګړتیاوو سره کیږي، څوک چې غواړي رهبر شي؛ نو باید د رهبرۍ ځانګړتیاوې په خپل شخصیت کې ځای پر ځای کړي.

**پایله اخیستنه**

د رهبرۍ ځانګړتیاوې ډېرې دي، خو په دې څېړنه کې مو وموندله چې پنځه مهمې ځانګړتیاوې چې عبارت دي له: هوښیاري، په خپل نفس باور، اراده، ریښتینولي، ټولنیزتوب، ټولنیز اخلاق، انضباط، ځان پېژندنه او ژمنه له هغو ځانګړتیاوو څخه دي چې د یو رهبر لپاره ډېر اړین دي؛ ترڅو په عمل کې ترې ګټه واخلي او په غوره توګه خپل د رهبرۍ دنده پرمخ یوسي.

**مناقشه**

پخوا د رهبرۍ د ځانګړتیاوو په اړه عمومي نظریه دا وه چې رهبران نړۍ ته رهبران راځې یعنې غوره رهبران له ماشومتوب څخه د ځینو ځانګړتیاوو سره پیدا کیږي او کله چې لویږي؛ نو دا ځانګړتیاوې ورسره مرسته کوي ترڅو رهبر شي دا نظریه د لوي سړي نظریې په نامه یادېده، خو موږ په دې څېړنه کې په هغه مواردو بحث وکړ او د هغه ځانګړتیاوو په اړه مو موندنه وکړه کوم چې یو انسان کولی شي په ځان کې د مطالعې او زدکړې له لارې وروزي، ځکه وروستیو نظریاتو بنسټ هم پر همدې باور ایښودل شوی، چې داسې نه ده چې یو څوک یواځې له مور څخه رهبر زیږول کیږي

بلکې رهبري او د رهبرۍ ځانګړتیاوې په هر چا کې ځای پر ځای کېدلی شي خو چې هڅه وکړي او نوموړي ځانګړتیاوې خپل کړي او په عمل کې ترې ګټه واخلي.

**وړاندیزونه**

۱ـ د دې لپاره چې زموږ په سازمانونو کې غوره مدیریت ترسره شي؛ نو دوی باید د غوره رهبرۍ ځانګړتیاوو باندې ځان پوه او پر ځان تطبیق کړي.

۲ـ د اداره ، مدیریت او رهبرۍ استادان دې محصلینو ته د غوره رهبرۍ ځانګړتیاوو په اړه کافي معلومات ورکړي، ځکه همدوی د ټولنې راتلونکې رهبران دي.

۳ـ د رهبرۍ د ځانګړتیاوو په اړه نورو څېړنو ته هم اړتیا ده، نو د مسلک خاوندان دې باید نوموړې موضوع ته ځانګړې پاملرنه وکړي، ترڅو د رهبرۍ په اړه کومې تشې چې زموږ ټولنو کې موجودې دي، له منځه لاړې شي.

**ماخذونه**


1- northhouse Peter.G (2016). Leadership "Theory and Practice". 7th edition، London، Sage Publications.

2- Robert N. Lussier، Christopher F. Achua (2010). Leadership، fourth edition، USA، Published by LEAP publishing services.

3- Stogdill، R.M.، "Personel Factors Associated with Leadership"، Journal of Psychology، Vol، 25،1948.

۴- احمدزی ببرک (۱۳۹۱ ل). تیوریهای رهبری و مدیریت علمی، لومړی چاپ، کابل، انتشارات پامیر.

۵- ارلي ليون(۱۳۹۴ ل). د مشرتابه غوره لارې چارې، ژباړن: سمیع الله(ج) مجاهد، کابل مستقبل خپرندویه ټولنه .

٦- ټریسي، برایان، ژباړن: پاچا امین، غوره مشري، د چاپ کال ۲۰۱٦ هـ شو، کابل: اکسوس کتاب پلورنځی.

٧- ځلاند فیض محمد، لیډرشپ، لومړی چاپ ،کال ١٣٩١ لمریز، موند خپرندویه ټولنه، جلال آباد.
٨- ژباړه: حیدري شمشاد، د مشرتوب او ستراتیژۍ لارې (د چینایي ښوونکو پندونه)، لومړی چاپ، ١٣٩٦هـ ش، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.
٩- شریعتمداری مهدی (١٣٩١ ل). اصول و مباني مدیریت ، تهران: کوهسار.
١٠- قریشي محمد عرفان (١٣٩٩). رهبري له تیورۍ تر عمله، مسلم خپرندویه ټولنه، ننګرهار.

**نقیب الله** مطمین
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانگه
لارښود استاد: پوهنوال منگل شېرزاد

# د ښځو د حقوقو مقایسه د اسلام او لویدیځ (انگلیستان، فرانسې، امریکا او المان) هېوادونو له نظره

## لنډیز

د اسلام مقدس دین د نر او ښځې مساوات د انسانیت او بشري کرامت په دایره کې تضمین کړي دي. د ښځې او نر ترمنځ چې په ځینو حقونو او دندو کې توپیر ورکړل شوی دی، دا توپیر د فطري توپیرونو په نظر کې نیولو سره شوی دی، چې دا توپیرونه په قطعي توگه په ښځه او نر کې موجود دي. داسلام مقدس دین چې دښځې او نر ترمنځ د حقوقو او دندو یا وظایفو کوم وېش کړی دی ډېرعادلانه، د هر اړخیز حکمت، مصلحت او د فطري جوړښت په نظر کې نیولوسره یې کړی دی. نر یا ښځه هغه وخت خپل آساسي وظایف په کامیابۍ سره ترسره کولای شي، چې د فطري جوړښت مطابق دنده ورته وسپارل شي داچې ښځه د ترحم، عاطفې او زړه سوي لرونکې ده نو ځکه ښځې ته د مور کېدلو لوړ قابلیت، وظیفه او دنده ورو سپارل شوې ده. مثلاً ښځه نسبت نر ته لوړ قابلیت لري هغه مور وي چې کومه شپه یې اولادناارآم یا ناروغ وي تر سبا د خپل بچې لپاره شپه په رڼو سترگو سبا کوي آیا پلار به دومره حوصله وکړای شي؟ نه اسلام مشري اوقیادت یوازې دنر لپاره ټاکلی الله جل جلاله فرمایي:الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ) (سورة النساء : ۳۴) ژباړه: نارینه د ښځو د چارو سمبالوونکي دي دا ځکه چې الله جل جلاله په دویکې ځینو ته پر ځینو یعنې نارینه و ته پرښځو د

استعداد له مخې فضيلت ورکړی دی او هم د دې کبله چې نارينه د خپلو مالونو څخه خرڅ کوي.

**سريزه**

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين محمد واله وصحبه ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين ،وبعد:

د اسلام سپيڅلي دين له لارښوونو څخه څرګنديږي چې ښځه د بشري ټولنې يوه له هغو ځانګو څخه ده چې تر بل هر دين او مذهب، اسلام ځانګړی درنښت او مقام ورکړی، د ژوندانه حقوق يې ورته ټاکلي او د انساني کرامت احترام يې ورکړی دی.

څه د پاسه څوارلس سوه کاله کيږي چې موږ ته اسلام د ښځو په اړه سپارښتنې کړي چې ښځو سره په ټولنه کې نيک او ښه چلند وکړئ او بهترين په تاسې کې هغه څوک دی چې د خپل اهل سره ښه ګذران وکړي او ښځو ته يې د نارينه و ترڅنګ په مختلفو (تعليم ،صحت ،روزنه او سياسي) ډګرونو د همکارۍ غږ بدرګه کړی دی،که نننۍ انساني ټولنه ښځې ته هغه ټول حقوق چې قران او سنت ښودلي ورکړي، نو بيا به د نړۍ په هيڅ ځای کې داسې ښځه پيدا نه شي چې ځان ته د غرب سپک او له تمدنه څخه وتلي حقوق وغواړي. هغه حقوق چې نننۍ غربي او شرقي ښځه يوازې د نانځکې په ډول د جنسي غريزې د اشباع او مادي ګټو لپاره کاروي. هغه حقوق چې پتمنه او عزتمنه مور، خور او لور په بربنډ ډول د سينما په پرده او يا د هم د تلويزونو په ښيښه او د اخبارونو په پاڼو کې شتمنو د اعلاناتو لپاره په ناسم لباس او ناسم ډول ښکاره کيږي .

دا چې نن ورځ بیا هم د ځینو خودغرضه کړیو او مؤسساتو لخوا د اسلام پر ضد هغه ناوړه تبلیغات او پروپاګنډه کېږي چې په نړۍ کې د ښځې ترنامه لاندې حرکتونو ته تش په دې نامه وده او پرمختګ ورکړي چې د سرمایه دارۍ په بازارونو کې ترینه مادي ګټې پورته کړي، حال دا چې اسلام ښځې ته تل لپاره د وقار، عزت او درنښت الفاظ کارولي دي آو رسول صلی الله علیه وسلم یي په هکله خپل امت ته فرمایلي دي: (أَكْمَلُ المؤْمِنين إيماناً أحْسَنُهم خُلُقاً، وَخِيارُكم خيارُكم لِنسائهم) سورة النساء: ۳۴). ژباړه: د کامل ایمان خاوندان هغه دي چې اخلاق یې ښه وي او په تاسو کې غوره هغه څوک دي چې د خپلو ښځو لپاره غوره وي.

## د څېړنې اړتیا

